(إِنَّ ٱلَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّالِحَاتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّاتُ ٱلْفِرْدَوْسِ نُزُلاً﴿۱۰۷﴾ سورة الكهف)

# جنت

**ليكوال:**

**مولوي محمد غني فاروقي**

## دا کتاب د عقیدې د کتابخانې سایت نه داونلود شوی دی.

## www.aqeedeh.com/pa

برښنا لیک: book@aqeedeh.com

د موحدینو ګروپ ویب پاڼو

www.mowahedin.com
www.aqeedeh.com
www.videofarsi.com
www.islamtxt.com
www.zekr.tv
www.shabnam.cc
www.mowahed.com
www.sadaislam.com

مجموعه موحدين

contact@mowahedin.com

**په عقیدې سایت کې ددغه کتاب خپرول، دهغه د ټولو محتواوو سره دسایت د همغږۍ په معنا نه ده.**

بسم الله الرحمن الرحيم


د کتاب ځانګړنې:

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | **جنت** |
| لیکوال | : | مولوي محمد غني فاروقي |
| اړیکشمېره | : | ۰۷۹۹۸۰۰۹۳۵ |
| خپرندوی | : | ګودر خپرندویه ټولنه |
| کمپوز او ډیزاین | : | صادق الله صادق |
| لومړی چاپ | : | ۱۳۹۱ ل |
| دویم چاپ | : | ۱۳۹۲ ل |
| چاپشمېر | : | ۲۰۰۰ ټوکه |
| د خپرونو لړ | : | (۱۶۴) |

ګودر کتاب پلورنځی، لاندیني پوړ، اسحق زي مارکیټ، بزازي څلورلارې، جلال اباد- meenasadiqs@gmail.com



**د چاپ حقوق خوندي دي**

# ډالۍ!

- درانه پلار ته!

چې د مانیزې رڼا سپېڅلی الهي څراغ یې په لاسونو کې راکړ.

- ګرانې مور ته!

چې پر سپېڅلې جنتي عقیده یې للو للو او راستر کړم.

- د خپل درانه استاد شهید شیخ الحدیث مولانا حسن جان عالمې اروا ته!

چې د قرآن کریم او نبوي احادیثو د نوراني وړانګو په وسیله یې زما د سیرت محل ته مانیزه ښکلا او ځلا راوبښله.

- هغو ځوانو زړه ورو جنګیالیو او اتلانو ته!

چې د اسلامي او ایماني عقیدې د لوړتیا، واکمنۍ او هېوادنۍ خپلواکۍ لپاره د جهاد پر سنګرونو اسلامي بیرغونه رپانده ساتي او په دې آند دي، چې جنت د تورو تر سیورو لاندې دی.

- هغو شهیدانو ته!

چې د شهادت له خوشبویه وینو یې د افغاني مجاهدې ځمکې تپې تپې جبین ته خالونه جوړ او ډالۍ کړل.

- هغوی افغاني پتمنو پېغلو ته!

چې د ژوند او حالاتو ناوړو انقلابونو یې له غاړو نه هارونه غلا او وشلول.

- هغو ټولو ورونو او خوېندو ته!

چې په مینه (جنت) لولي او په خپلو دعاګانو کې (فاروقي) هم یاد ساتي.

م. غ فاروقي

# د خپرندويې ټولنې يادښت

ګودر خپرندويه ټولنه تل زيار باسي، چې خپلو مينه والو ته د دوی د خوښې او ذوق مناسب هر اړخيزه کتابونه د چاپ په ګاڼه سينګار کړي، تر هغې د دې لارې دين، مذهب، کولتور او انسانيت ته د خدمت جوګه شي.

پر همدې بنسټ درانه استاد مولوي محمد غني فاروقي د جنت مينه والو ته د (جنت) تر نامه لاندې مستند او ښېرنيز اثر وړاندې کړ.

دا چې الله تعالی موږ د ځانګړې لورينې له مخې پر اسلامي فطرت پيداکړي يو او د اسلام له ستر نعمت څخه يې برخمن ګرځولي يو؛ نو اړينه ده، چې د اسلام په دايره کې د پوره ورننوتلو او د ايمان د تجديد او تازه ګۍ لپاره له جنته خبر شو، جنت ولولو او جنت په ټوله مانا وپېژنو، د موضوع اهميت ته په پام سره ګودر خپرندويه ټولنه وياړي، چې د (جنت) په نوم علمي او ښېرنيز اثر د چاپ پرګاڼه پسوللی ستاسې تر لاسونو در رسوي.

له دې امله چې د دغه کتاب د لومړي چاپ نسخې لږ وخت کې په کتابپلورنځيو کې خلاصې شوې؛ نو د مينه والو د اړتيا د پوره کولو په خاطر مو له نويو زياتونو او سمونو سره دويم ځل چاپ کړ، چې دا دی اوس د الله تعالی په فضل او کرم سره تاسې له (جنت) او (جنت) له تاسې سره دی.

په درنښت

## په اخرت کې به نارې کړم--زه له دنیا نه ارمانجن راغلی یمه

انسان عجیبه مخلوق دی، عجیبه ارمانونه لري، څوک دنیا او دنیوي مزې چړچې غواړي او څوک اخروي حورې او غلمان؛ خو زما غوندې تپند بیا دواړو ته بدې وهلې وي.

ښایي ملامت مې نه کړئ، ځکه د انسان په توګه زه هم باید ارمانونه او غوښتنې ولرم. یو ارمان مې دا دی، چې خپله خوږه مورنۍ ژبه د دیني او دنیوي علومو یوې بډایه سرچینې په توګه وګورم.

د الله جل جلاله ډېر شکر ادا کوم، چې په دې وروستیو لسیزو کې له ناخوالو سره سره پښتنو خپله ژبه او ادب وپاله او لا پالي یې. د دې پالونکو ډېره برخه دیني عالمان دي، چې د اسلام خواږه او ښېګنې یې په خپله ژبه کې خپل ولس ته وړاندې کړې او هغه الهي سنت یې ادا کړل چې وايي:

((وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلاَّ بِلِسَانِ قَوْمِهِ لِيُبَيِّنَ لَهُمْ﴿٤﴾ سورت ابراهیم))

د دې پالونکو له ډلې یو هم ښاغلی محمد غني فاروقي دی، چې پر دیني علومو سربېره یې د خپلې ژبې مسلکي زده کړې ته هم ملا وتړله او دادی یو بل نوی څېړنیز اثر یې د قرآن او حدیثو په رڼا کې افغاني ټولنې ته وړاندې کړ که داسې وي، نو انشاءالله چې زما ارمان به په دنیا کې ووځي او اخرت ته به یې نه وړم.

الله جل جلاله ته د سوال لاس لپه کوم، چې د فاروقي صاحب د عمل او اخلاقو په خېر هغه ته د ادب او لیکنې په ډګر کې هم ځانګړی مقام ورکړي.

امین یا رب العالمین

خېړندوی عبدالقیوم زاهد مشواڼی

د افغانستان د علومو اکاډمي

د پښتو څېړنو نړیوال مرکز

# جنت

یو الله جل جلاله پوهېږي، چې په نړۍ کې به د انسانانو له خوا هره ورځ څومره لاسونه د نوموړي ځای د غوښتنو لپاره لپه کېږي. پر الله جل جلاله ايمان او ورسره يې پر جنت ايمان لرل د هر مسلمان لپاره د کفر بريد تاکل شوی دی.

په دې بنسټ هر مسلمان د قرآن او حديثو او هم د خپل فکر په دايره کې د جنت په اړه يو تصور لري، خو ښاغلي مولينا محمد غني فاروقي چې په ادبياتو کې يې هم زده کړې کړې دي، د (جنت) په نوم د قرآن او حديثو په رڼا کې د پښتنو لپاره په ځانګړي ډول او د مينه والو لپاره په عام ډول يو نېک زېری د جنت په نامه ډالۍ کړی دی.

نوموړي په دغه آثر کې د جنت پر لغوي او اصطلاحي معناوو سربېره (د جنت شتون، جنت چېرته دی، د جنتيانو ژبه، د ادم عليه السلام جنت، د جنت دروازې، د جنت درجې... ) په اتو څپرکو کې تر ښلابېلو وړو او څنګيزو کږو سرليکونو کې ليکلی دی.

زه درنو پښتنو او لوستونکو ته د دغه اثر د لوستو بلنه ورکوم، که دوی غواړي چې له جنت څخه ځان خبر کړي، نوموړی کتاب دې ولولي.

د کتاب په ارزښت زه څکه څه نه ليکم، چې د قرآن، حديثو او جنت ارزښت هر مسلمان ته څرګند دی، يوازې ليکوال ته يې د ليکلو مبارکي وايم او له الله تعالی څخه ورته د قلم تاندوالی غواړم، چې په ديني خوشبويي خپل ولس خوشبويه کړي.

په درنښت

پوهندوی محمد ابراهيم همکار

ننګرهار پوهنتون، د ښوونې او روزنې پوهنځی

پښتو څانګه

۲۷-۳-۱۳۹۲ل

## دا کتاب....

دا حقیقت دی، چې انساني فطرت د مذهبي غوښتنو په پام کې نیولو سره مسلمان ته د یو لړ درنو دندو سرته رسول د ایماني، اسلامي او اخلاقي مسوولیت په توګه سپاري. همدې اصل ته په پام سره ما هم وغوښتل چې د افغاني، پښتني او اسلامي خاورې د یو ژمن بچي په څېر په خوږه پښتو ژبه مسلمانانو ته څه ډالۍ وړاندې کړم. د یو شمېر دیني عالمانو په مشوره او مرسته مې هڅه وکړه چې د (جنت) تر نامه لاندې یو اثر ستاسې تر لاسونو در ورسوم.
په دې برخه کې له پیاوړي دیني عالم مولوي عبیدالله محسن څخه د زړه له تله مننه کوم، چې د (جنت) لپاره یې مستند عربي ماخذونه په واک کې راکړل، کور او ګور یې رڼا شه.
له درنو استادانو مولوي صیب سید محمد امین ځلاند، مولوي غیاث الدین حَسان او مولوي ګل رحیم نادر دې په ژوند او علم برکت شي، چې د ځینو ستونزو حل کې یې راسره مرسته کړې ده.
همدارنګه د هېواد له نومیالي لیکوال او څېړوندی عبدالقیوم زاهد مشواڼي څخه هم د زړه له کومې مننډوی یم، چې د خپلو ټولو بوختیاوو سره سره یې (جنت) په غور ولوست، ایډیټ یې کړ او بیا یې پرې سریزه وکښله، الله تعالی دې د درانه استاد پوهه ده لره جاري صدقه او نورو لپاره رڼا ورکوونکې شمع وګرځوي.
له خپل ګران مهربان استاد د علم او حلم پر ګاڼه سینګار شخصیت د ننګرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د پښتو څانګې استاد پوهندوی محمد ابراهیم همکارصیب نه د زړه له تله مننډوی یم، چې د خپلو زیاتو پوهنیزو

بوختیاوو سره سره یې د جنتیانو له نړۍ نه د ایماني، علمي او ادبي پاټوس په رڼا کې لیدنه وکړي، د خپلې خوږې ژبې مانیز خواږه یې د سحر د پرخې په څېر پر (جنت) وپاشل، الله تعالی دې ګران قدره استاد د (جنة الفردوس) په مېلمستون کې پر مېلمستیا ونازوي او هم دې یې د زړه رابښکونکو نېکو اخلاقو د پانګې سربېره د علم خزانه هومره پیاوړې او غوښنه شي، چې د هېواد له سرحد نه اخوا په نړۍ واله کچه یاد او وستایل شي.

له خپلې کورنۍ، عبیدالله فاروقي، لور رقیه فاروقي څخه خوښ او منندوی یم، چې د خپلو کورنیو او ښوونیزو بوختیاوو سره سره یې راته د مرستې لاسونه غځولي دي، د کوچنۍ اسیه فاروقي دې د ژوند پسرلي وغوړېږي، چې د احسن الکلام تفسیر نه د ژباړې اخیستنې پرمهال به یې په معصومو او تنکیو ګوتو راسره همکاري کوله.

د ګودر خپرندویې ټولنې مشر قاري قدرت الله تائب دې جنة الفردوس کې د لوړې ودانۍ څښتن شي، چې د (جنت) کتاب د چاپ ټولو چارو ته یې په مینه او پراخه تندې هر کلي او مثبت ځواب ووایه.

ګران صادق الله صادق دې جنتي شي، چې په سړه سینه یې (جنت) کمپوز او د ښتې ودانۍ جوړه، رنګینه او سینګار کړه.

په مینه او درنښت

مولوي محمد غني فاروقي

۱۸-۸-۱۳۹۱ ل.

مسجد مېنه - جلالکوټ

# دعا

اللهم لک الحمد ربنا کما تحب وترضی.

اللهم لا احصی ثناء علیک انت کما اثنیت علی نفسک.

اللهم صل علی محمد وعلی آل محمد کما صلیت علی آل ابراهیم انک حمید، مجید.

اللهم بارک علی محمد علی آل محمد کما بارکت علی آل ابراهیم انک حمید، مجید.

★★★

ای الله تعالی!
ستا د اسم اعظم، اسماءالحسنی او لوړو صفتونو په وسیله له تانه سوال کوم، چې زما دا عمل خلص د خپلې رضا لپاره وګرځوې پر دې باندې ما ته، هغه چا ته چې دا لولي یا یې اوري، یا یې خپروي او نورو ته یې رسوي، ګټه ورسوې.

ته د دعا د قبلولو لایق یې او پر هر شیز باندې قدرت والا یې.

# لیکلړ

موضوع | مخ

سریزه ........ ۱

## لومړی څپرکی

د جنت یاد ........ ۲
د جنت شتون ........ ۱۳
جنت چېرته دی؟ ........ ۲۳
جنت د سدرة المنتهی په څنګ کې دی ........ ۲۴

## دویم څپرکی

د جنت پلنوالی ........ ۲۵
د جنت نومونه ........ ۳۱
د جنتونو شمېر ........ ۴۰
ځینې جنتونه الله تعالی پخپل لاس جوړ کړي ........ ۴۳
د جنت لاره ........ ۴۵
جنت تلپاتې او نه پناه کېږي ........ ۵۰
د جنت د دروازو شمېر ........ ۵۴
د جنت د دروازو پراخوالی ........ ۵۷
د ادم علیه السلام د استوګنې جنت پر ځمکه، که په اسمان کې و؟ ........ ۵۸

## درېیم څپرکی

د جنتیانو ژبه ........ ۶۲
د جنت خبرې ........ ۶۳
د جنتیانو ترمنځ خبرې اترې ........ ۶۵
د جنت او دوزخ جګړه ........ ۶۹
د جنت کونجې ........ ۷۰
د جنت درجې ........ ۷۵
د جنت ترټولو لویه درجه ........ ۷۹
د زوی په دعا د درجو اوچتوالی ........ ۸۱

## خلورم څپرکی

د الله تعالی او د بنده ګانو ترمنځ تړون ........ ۸۲
د جنت دعا ........ ۸۶
تر ټولو لومړی امت چې جنت ته به ننوځي ........ ۸۸
د رسول الله ص له امت څخه جنت ته وړاندې تلونکي کسان ........ ۹۰
جنت ته انسان په څه ننوزي؟ ........ ۹۳
فقیران به له شتمنو مخکې جنت ته ځي ........ ۹۴
جنت ته لومړی ننوتونکی به څوک وي؟ ........ ۹۵
د رسول الله ص د امت لپاره د جنت ځانګړې دروازه ........ ۹۶
د جنت د څوکیدارانو مشر ........ ۹۷
لومړی به د جنت دروازه څوک ټکوي؟ ........ ۹۸
د جنتیانو هغه ډلې چې د ننوتلو قرآني تضمین ورکړل شوی ........ ۱۰۱
د جنت زیاتره استوګن به د محمد صلی الله علیه وسلم امت وي ........ ۱۰۵
ښځینه به په جنت او دوزخ دواړو کې تر نارینه وو زیاتې وي ........ ۱۰۶
له دې امت څخه جنت ته بې حسابه تلونکي کسان او د هغوی صفتونه ........ ۱۱۰
تر ټولو وروستی کس چې جنت ته ننوځي ........ ۱۱۳
جنت ته تلونکي کسان ........ ۱۱۷
کوم عمل خلک جنت ته ننباسي او کوم عمل خلک دوزخ ته: ........ ۱۱۷
جنت ته د ننوتلو ضامن او دوزخ نه د نجات براءت لیک: ........ ۱۱۷
پردی حق د جهنم اور واجبوي: ........ ۱۱۹
معاهد وژونکی به د جنت له خوشبو نه محروم وي: ........ ۱۲۰
پر چغل خور جنت حرام دی: ........ ۱۲۰
جنت ته نه ننوتونکي خلک: ........ ۱۲۰
ګاونډي ته ضرر رسوونکی به جنت ته نه ننوځي: ........ ۱۲۱
پر نسب بدلوونکي جنت حرام دی: ........ ۱۲۱
د جنت تضمین لیکونه ........ ۱۲۲

## پنځم څپرکی

د جنتیانو ډالۍ...... ۱۳۲
دري لیپې...... ۱۳۷
دري کرښې...... ۱۳۸
د جنت رڼا او سپینوالی...... ۱۳۹
د جنت خوشبويي...... ۱۴۰
جنت کې اعلان...... ۱۴۲
د جنت خاوره او ختیه...... ۱۴۳
د جنت لوړې ودانۍ او ښکلې بنګلې...... ۱۴۲
د جنت د استوګنې ځایونه...... ۱۵۰
د جنت ونې او سیوري...... ۱۵۴
د جنت باغونه...... ۱۵۹
د جنت مېوې...... ۱۲۱
د جنت د مېوو ډولونه...... ۱۲۳
د جنت او دنیا د مېوو ترمنځ اړیکه...... ۱۲۴
د جنت فصل...... ۱۲۷

## شپږم څپرکی

د جنت نهرونه...... ۱۲۹
تر ټولو لوی نهر...... ۱۸۴
د جنت چینې...... ۱۹۰
د جنتیانو خوراک...... ۱۹۴
د جنتیانو لوښي...... ۱۹۹
د جنتي لوښو ماده؟...... ۲۰۲
نبوي سنتو کې د جنت د لوښو ماده...... ۲۰۴
د جنتیانو ګاڼه...... ۲۰۵
د جنتیانو لباس...... ۲۰۹
جنتي قالینې (فرشونه)...... ۲۱۴
د جنت خېمې...... ۲۱۷
د جنت پالنګونه...... ۲۱۹
د جنت تختونه...... ۲۲۱

## اووم څپرکی

د جنت حورې ........ ۲۲۳
په قرآن کريم کې د جنتي حورو ځانګړنې ........ ۲۲۶
حورې له څه سره تشبيه دي؟ ........ ۲۳۵
د حورو ترانې او سندرې ........ ۲۳۸
د حورو غيرت ........ ۲۴۰
جنت کې د واده حکمت ........ ۲۴۱
حورې غوره دي، که دنياوي مېرمنې؟ ........ ۲۴۳
جنت کې حمل او زېږون (ولادت) شته که نه؟ ........ ۲۴۵

## اتم څپرکی

د جنت پاچاهي ........ ۲۵۰
د جنت بازار ........ ۲۵۲
د جنت زېرې ........ ۲۵۴
د جنت آسونه او اوښان ........ ۲۶۰

## نهم څپرکی

د الله تعالی ليدل ........ ۲۶۱
د جنت غلمان ........ ۲۷۶

## لسم څپرکی

د اعراف والاو مقام جنت ته تر ننوتلو وړاندې ........ ۲۸۱
اعراف والا څوک دي؟ ........ ۲۸۳
د جنتيانو وروستۍ دعا ........ ۲۸۷
سرچينې ........ ۲۸۹

# سریزه

د جنت موضوع د مؤمن په عقیده کې ځانګړی او له اهمیت نه ډک د اخرت د نعمتونو او نېکمرغیو تضمینوونکی رول لري.

دا یوه داسې عقیده نه ده، چې په فاني نړۍ پورې تړاو لري او له اخرت سره یې اړیکه شلېدلې ده؛ بلکې دا عقیده د انسان ژوند په دنیا کې له اخرت سره تړي او انسان ته د اخرت په شتون د بدلو او د نعمتونو د ورکړې ژمنتیا ته رابولي.

پر جنت تصدیق د ایمان له اصولو نه یو اصل دی، له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه چې کله د ایمان په اړه پوښتنه وشوه، هغه وویل: دا چې الله تعالی، ملایکو، کتابونو، پیغمبرانو، د اخرت په ورځ او د خیر او شر پر اندازه باندې ایمان ولرې.

ایمان پر اخرت پر غیبو باندې د تصدیق په مانا دی او جنت هم له دې لړۍ څخه دی.

په داسې حال کې چې موږ جنت په سترګو لیدلی نه دی او نه مو پر لاسونو لمس کړی.

مګر بشپړ ایمان پرې لرو او زموږ لپاره دلیل قرآن کریم او سنت دی، ځکه په لومړي ځل د جنت شتون، هغې کې د نعمتونو شتون او د هغه د اوسېدونکو لپاره د رنګا رنګ نعمتونو تیاری او د هغوی پېژندګلوي قرآن کریم کړې ده.

او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنتو کې بیا د هغه خلکو په اړه خبر ورکړل شوی چې جنت ته به ننوځي.

پر جنت د تصديق او باور اثار ډېر ځلې د سپېڅلو مؤمنانو د ژوند په تاريخ کې څرګند شوي دي.

دا هم د دې عقيدې اغېز دی، چې انسان خپل نفس د الله تعالی په لار کې قرباني او نذرانه کوي، د جنت د عقيدې شتون و، چې د بدر د غزا پرمهال جليل القدر صحابي سعدبن خيثمة رضی الله تعالی عنه ته خپل پلار خيثمة بن الحارث وويل: زويه! زه به غزا ته لاړ شم ته کور کې له ښځو سره ايسار شه. هغه انکار وکړ، ويې ويل: که له جنت نه پرته بل شی وي. بيا به مې ستاسې خبره منلی وای. د شخړې د پای ته رسېدلو په موخه يې قرعه کشي (پچه اچونه) وکړه، په پچه اچونه کې د سعد رضی الله تعالی عنه نوم راووت.

سعد رضی الله تعالی عنه له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره د بدر غزا ته لاړ او هلته شهيد شو.

عمرو بن الجموح رضی الله تعالی عنه سپين ږيری صحابي و، په پښه ګوډ و د أحد د غزا پرمهال هغه غوښتل چې غزا کې ګډون وکړي، مګر زامنو هغه ددې له امله منع کاوه، چې هغه معذور و: خو عمرو بن الجموح رضی الله تعالی عنه انکار وکړ، ويې ويل: په الله قسم! زه به پر دې ګوډه پښه باندې جنت کې د خوشالۍ نه ټوپونه وهم.

هغه خپل هوډ پوره کړ، غزا کې يې ګډون وکړ تر دې چې شهيد شو. همدا راز د ياسر رضی الله تعالی عنه کورنۍ (ياسر، سمية او عمار رضی الله تعالی عنهم) ته سخت عذابونه ورکول کېدل، خو هغوی پر دې ټولو کړاوونو باندې صبر کاوه. ددې کړاوونو بدل

کې رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی ته د کوم دنیاوي محسوس شي وعده نه ورکوله؛ بلکې د جنت وعده به یې ورکوله. دې مجاهدې او مبارزې کوونکې کورنۍ ته به عذاب ورکول کېده، رسول الله صلی الله علیه وسلم به پر هغوی تېرېده او ویل به یې: د یاسر کورنۍ! صبر کوئ، ستاسې ځای جنت دی.

داسې ډېرې بېلګې شته، چې پر جنت د مسلمانانو له عقیدې څخه دا اغېز هم سرچینه اخلي، چې اسلامي پوځونه د صبر، ثبات او همت پر ګاڼه باندې سینګار وي، تر دې چې جنتي عقیده په ډېرو سختو شېبو کې مسلمانا روزي د احد غزا کې ناڅاپه خبر خپور شو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ووژلی شو، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خدمتګار انس بن مالک رضی الله تعالی عنه تره انس بن نضر رضی الله تعالی عنه د صحابه و پر یوې ډلې ورتېر شو، ورته یې وویل: څه لپاره ناست یئ؟

هغوی وویل: رسول الله صلی الله علیه وسلم شهید شو.

انس بن نضر رضی الله تعالی عنه ځواب ورکړ: بیا نو په ژوند څه کوئ پاځېږئ، وجنګېږئ، تر څو په هغه عقیده مړه شئ پر کومه عقیده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وژلی شوی دی.

سعد بن معاذ رضی الله تعالی عنه مخې ته ورغی، انس بن نضر رضی الله تعالی عنه ورته وویل: سعده! پر الله تعالی قسم! چې د جنت خوشبویې د أحد د غره له لورې راځي... انس بن نضر رضی الله تعالی عنه تر هغې وجنګېده چې شهید شو. د هغه وراره وایي: کله مو چې هغه د شهیدانو کتار کې وموند، نو د هغه پر بدن مو څه دپاسه اتیا د تورو، غشو او نېزو ګوزارونه ولیدل... د هغه بدن

یوازې د هغه خور رُبیع بنت نضر رضی الله تعالی عنها د ګوتو له بندونو وپېژندله.

جنت باندې د هغه ایمان هغه لره دومره ثابت او کلک کړ، چې د جنګې عقیدې په قوت یې د ځمکې پرمخ د جنت د خوشبویي احساس کاوه.

د همداسې اسلامي او اخلاقي سپېڅلو زرینو تاریخي ارزښتونو پر بنسټ جنت د هر مؤمن انساني فطرتي غوښتنه ده، د فطرت د بنسټیزو شرعي، معیاري او اخلاقي اړتیاوو په پام کې نیولو سره مؤمنان د ایماني روحیې اغېز له امله هیله لري. چې د دنیا د لنډ او تنګ ژوند چاپېریال کې د خپلې سینې په محل کې د توحید سپېڅلی پانوس روښانه کړي. تر هغې د عقیدې د دې پانوس د رنګینو، مانیزو او د ګل ورینو وړانګو په رڼا کې د قرآن او نبوي سنتو پر تله برابر، په تول پوره نېک اعمال ادا او سرته ورسوي. د ایمان له خوږو تول برخمن وګړي دا خبره عقیدتاً مني چې یوازې عمل جنت ته د ننوتلو ضامن نه دی، دا یو سبب دی خو دا سبب هله خپل ځای ثابتولای شي چې د الله تعالی فضل او رحمت ورته خپله غېږه پرانېزي، ما هم پر همدې هیله چې د مؤمن ایمان د امېد او وېرې ترمنځ دی، وغوښتل چې د امېد څښتنانو ته د قرآن کریم او سنت په مستنده ګاڼه سینګار د هغه (جنت) پېژندګلوي، فضایل او ځانګړنې په لنډ ډول ډالۍ کړم، چې د الله تعالی د فضل او رحمت په نوراني او غیبي حجابونو کې پټ او پوښلی دی.

سره له دې چې د (جنت) کتاب په لیکلو کې ما نږدې دوه کلونه

وخت تېر کړ؛ خو بیا هم خوښ یم، چې د (جنت) په څنګ کې مې خپلو مسلمانو ورونو او خوېندو ته د (سل دعاګانې) په قوت د (معراج شپه) هم د ګودر خپرندویې ټولنې په مرسته د چاپ په ګاڼه سینګار او د دوی تر لاسونو ور رسولې دي.

الله تعالی دې د خپل پراخه فضل او رحمت له مخې زما دا هڅه خالص د خپلې رضا لپاره وګرځوي، نرخو د (جنت) کتاب په لوستنه او کتنه د ایماني امېد او هیلې خاوندان د خپلو هیلو غوټیو ته د غوړېدلو شېبې وشماري او هغوی چې د دوزخ او نورو عذابونو څخه د ایماني وېرې درشل کې دي، د جنت په تمه د ایمان له ګاڼې سره د جنت بازار ته لاړ شي او الله تعالی سره د نفس او مال په بدل او ځارونې کې د جنت تړون لاسلیک کړي.

په همدې هیله
ستاسو کشری ورور
محمد غني فاروقي

# لومړی څپرکی

## د جنت یاد

د (جنت) نوم په قرآن کریم کې ډېر زیات راغلی، چې اخرت کې پر دارالنعیم دلالت کوي او دا مفرد، معرف په آل (الف لام) سره او کله بیا له الف لام نه مجرد راغلی دی، همدارازد جمع په صیغې سره معرف په آل او هم مجرد راغلی.

۱) د جنت نوم په مفرد ډول (الف لام) سره په (**۵۱**) ځایونو کې راغلی دی.

د بقرې سورت په پنځو ایاتونو کې د جنت نوم راغلی دی:

(وَقُلْنَا يَاآدَمُ ٱسْكُنْ أَنْتَ وَزَوْجُكَ ٱلْجَنَّةَ وَكُلاَ مِنْهَا رَغَداً حَيْثُ شِئْتُمَا وَلاَ تَقْرَبَا هَـٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ ٱلْظَّالِمِينَ﴿۳۵﴾ سورت البقرة ۸۲، ۱۱۱، ۲۱۴، ۲۲۱) ایاتونه.

د آل عمران سورت دوو ایاتونو کې: (۱۴۲، **۱۸۵**).

د النساء سورت یو ایت کې: (۱۲۴).

د المائدې سورت یو ایت کې: (۷۲).

د الاعراف سورت لسو ایاتونو کې:

(۱۹، ۲۲، ۲۷، ۴۰، ۴۲، ۴۳، ۴۴، ۴۶، ۴۹).
د یونس سورت یو ځای کې: (۲۶).
د هود سورت دوو ځایونو کې: (۲۳، ۱۰۸).
د الرعد سورت یوځای کې: (۳۵).
د النحل سورت یو ځای کې: (۳۲).
د مریم سورت دوو ځایونو کې: (۶۰-۶۳).
د طه سورت دوو ځایونو کې: (۱۱۷ - ۱۲۱).
د الفرقان سورت یوځای کې: (۲۴).
د الشعراء سورت یوځای کې: (۹۰).
د العنکبوت سورت یوځای کې: (۵۸).
د یٰسٓ سورت دوو ځایونو کې: (۲۶ - ۵۵).
د الزمر سورت دوه ځایونو کې: (۷۳ - ۷۴).
د غافر سورت یوځای کې: (۴۰).
د فصلت سورت یوځای کې: (۳۰).
د الشوری سورت یوځای کې: (۷).
د الزخرف سورت دوو ځایونو کې: (۷۰، ۷۲).
د الاحقاف سورت دوو ځایونو کې: (۱۴، ۱۶).
د محمد سورت دوو ځایونو کې: (۲، ۱۵).
د ق سورت یوځای کې: (۳۱).
او د الحشر سورت ۲۰ ایت کې په تکراري ډول دوه ځلې راغلی دی.
په التحریم سورت کې یوځلې راغلی: (۱۱).
د النازعات سورت یو ایت: (۴۱).

د التکویر سورت یو ایت کې یې یاد راغلی دی: (۱۳).
په یادو شویو ټولو ځایونو کې چې د جنت نوم راغلی، مراد ترې په اخرت کې دارالنعیم دی.
د سورت قلم ۱۷ ایت کې الجنة نه مراد دارالنعیم نه؛ بلکې بوستان (باغ) دی.
۲) د هغه ځایونو لنډه یادونه چې د جنت نوم پکې پرته له الف لام نه په مفرد او مجرد (نکره) ډول سره راغلی دی.
د آل عمران سورت په ۱۳۳ ایت کې:

(وَسارِعُوٓا۟ إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا ٱلسَّمَـٰوَٰتُ وَٱلْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ﴿۱۳۳﴾ سورت ال عمران).

د الحدید سورت: ۲۱.
د الحاقة سورت: ۲۲.
د الانسان سورت: ۱۲.
او د الغاشية سورت ۱۰ ایت کې راغلي دی.
په یادو شویو ځایونو کې هم جنة نه دارالنعیم د اخرت مراد دی.
۳) همداراز پرته له الف لام نه په مفرد او مجرد ډول راغلی دی؛ مګر مضاف دی. د جنت د لفظ اضافت الخلد ته په لومړي ځل له ټول قرآن کریم نه د الفرقان سورت ۱۵ ایت کې شوي، په جنة الخلد سره:

(قُلْ أَذَٰلِكَ خَيْرٌ أَمْ جَنَّةُ ٱلْخُلْدِ ٱلَّتِى وُعِدَ ٱلْمُتَّقُونَ كَانَتْ لَهُمْ جَزَآءً وَمَصِيرًا﴿۱۵﴾ سورت الفرقان).

۴) سورت الشعراء ۸۵ ایت کې او سورت الواقعة کې بیا د دې لفظ اضافة جنة النعیم او جنت نعیم ته شوی دی، همداراز سورت المعارج ۳۸ کې جنت نعیم سره راغلی دی:

(وَٱجْعَلْنِى مِن وَرَثَةِ جَنَّةِ ٱلنَّعِيمِ﴿۸۵﴾ سورت الشعراء)

(فِى جَنَّاتِ ٱلنَّعِيمِ﴿۱۲﴾ سورة الواقعة)

(أَيَطْمَعُ كُلُّ ٱمْرِىٍٕ مِّنْهُمْ أَن يُدْخَلَ جَنَّةَ نَعِيمٍ﴿۳۸﴾ سورة المعارج)

۵) سورت النجم ۱۵ ایت کې له ټول قرآن کریم نه په ځانګړي اضافت سره (جَنَّةُ ٱلْمَأْوَىٰ) یاد شوی دی:

(عِندَهَا جَنَّةُ ٱلْمَأْوَىٰ﴿۱۵﴾ سورت النجم).

۶) همداراز چې مضاف وي (ی) د متکلم ته یوځل سورت الفجر(۳۰) ایت کې راغلي:

(وَٱدْخُلِى جَنَّتِي﴿۳۰﴾ سورت الفجر).

۷) د جنت نوم له الف لام سره د جمع په صیغه د الشوری سورت ۲۲ ایت کې راغلی دی:

(تَرَى ٱلظَّالِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا كَسَبُواْ وَهُوَ وَاقِعٌ بِهِمْ وَٱلَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّالِحَاتِ فِى رَوْضَاتِ ٱلْجَنَّاتِ لَهُمْ مَّا يَشَآءُونَ عِندَ رَبِّهِمْ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَضْلُ ٱلْكَبِيرُ﴿۲۲﴾ سورت الشوری).

۸) له الف لام نه پرته د جمع په صیغه (جَنَّاتِ) ۳۶ ځایونو کې راغلی دی، د(جَنَّاتِ) لفظ د البقرة سورت ۲۵ ایت کې:

(وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلأَنْهَارُ

كُلَّمَا رُزِقُواْ مِنْهَا مِن ثَمَرَةٍ رِّزْقاً قَالُواْ هَـٰذَا ٱلَّذِى رُزِقْنَا مِن قَبْلُ وَأُتُواْ بِـهِ مُتَشَـابِهاً وَلَهُمْ فِيهَآ أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَهُمْ فِيهَا خَالِدُونَ﴿٢٥﴾ سورت البقرة ).

د آل عمران سورت ۴ ځايونو كې:(۱۵-۱۳۵-۱۹۵-۱۹۸).
د النساء سورت ۱۳ – ۵۷ او ۱۲۲ ايتونو كې.
د المائدې سورت:(۱۲-۸۵-۱۱۹).
د التوبة سورت:(۲۱-۷۲-۸۹-۱۰۰).
د ابراهيم سورت ۲۳ ايت كې.
د الحجر سورت ۴۵ ايت كې.
د الحج سورت ۲۳ ايت كې.
د الفرقان سورت ۱۰ اية.
د سورت الدخان ۵۲ اية.
د محمد سورت ۱۲ اية.
د الفتح سورت ۱۷ اية.
د الذاريات سورت ۱۵ اية.
د الطور سورت ۱۷ اية.
د القمر سورت ۵۴ ايت كې.
د المجادلة سورت ۲۲ اية.
د الصف سورت ۱۲ اية.
د التغابن سورت ۹ اية.
د الطلاق سورت ۱۱ اية.
د التحريم سورت ۸ اية.
د المعارج سورت ۳۵ اية.

د المدثر سورت ۴۰ اية.
د البروج سورت ۱۱ اية.
يادو شويو ټولو ايتونو كې د جنت نه مراد دارالنعيم دى.
۹ ) هغه ځايونه چې د (جَنَّاتِ) د لفظ اضافت النعيم ته شوى وي او دا په اوو اياتونو كې دى:
د المائدې سورت ۶۵ اية:

(وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ ٱلْكِتَابِ آمَنُواْ وَٱتَّقَوْاْ لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَلَأَدْخَلْنَاهُمْ جَنَّاتِ ٱلنَّعِيمِ﴿٦٥﴾ سورت المائده).

د يونس سورت ۹ اياتونه.
د الحج سورت ۹ اية.
د سورت لقمان ۸ اية.
د الصافات سورت ۴۳ اية.
د سورت الواقعة ۱۲ اية.
۱۰ ) هغه ځايونه چې د جَنَّاتِ اضافت او نسبت پكې عدن ته شوى او دا د قرآن كريم يوولس اياتونو كې راغلى دى:
د التوبه سورت ۷۲ اية:

(وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِى جَنَّاتِ عَدْنٍ وَرِضْوَانٌ مِّنَ ٱللَّهِ أَكْبَرُ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ﴿٧٢﴾ سورت التوبة ).

د الرعد سورت ۲۳ اية.
د النحل سورت ۳۱ اية.
د الكهف سورت ۳۱ اية.

د مریم سورت ۶۱ اية.
د طه سورت ۷۶ اية.
د فاطر سورت ۳۳ اية.
د ص سورت ۵۰ اية.
د غافر سورت ۸۰ اية.
د البينة سورت ۸ ايت کې.

۱۱) د جَنَّاتِ لفظ اضافت او نسبت الفردوس ته په قرآن کريم کې يو ځل شوی دی:

(إِنَّ ٱلَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّالِحَاتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّاتُ ٱلْفِرْدَوْسِ نُزُلاً﴿۱۰۷﴾ سورت الكهف).

۱۲) هغه ځای چې د جنات نسبت پکې الماوی ته شوی دا هم يو ځل راغلی دی:

(أَمَّا ٱلَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّالِحَاتِ فَلَهُمْ جَنَّاتُ ٱلْمَأْوَىٰ نُزُلاً بِمَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ﴿۱۹﴾ سورت السجدة)[1].

---

[1] صفة الجنة فی القرآن الكريم. عبدالحليم بن محمد نصارالسلفي. مكتبة العلوم والحكم- المدينة المنوره.

# د جنت شتون

په دې موضوع د رسول الله صلی الله علیه وسلم، صحابه، تابعین، تبع تابعین، اهل السنة والحدیث، اسلامي فقهاء، د تصوف او زهد خاوندان ټول په یوه غږ او یو نظر دي، چې جنت همدا اوس هم شته او ثابت دی. یادې شوې ډلې د جنت د اثبات او شتون لپاره قرآني او نبوي نصوص په سند او دلیل کې وړاندې کوي. همدا راز د هغو خبرونو او معلوماتو په وسیله هم د جنت د شتون دعوه پیاوړې کوي، چې د لومړیو څخه پیل تر وروستیو رسولانو او پیغمبرانو پورې په پرلپسې ډول امتونو ته بیان شوي او تر موږه رارسېدلي دي. یو شمېر ډلې د یادې عقیدې له منلو څخه سرغړونه کوي او د جنت مهالنی شتون نه مني. دوی وایي چې تر جزا وړاندې د جنت پیدا کول عبث او بې ګټې دي هغوی د خپلو فاسدو عقلونو او باطلو رایو او نظریو پر بنسټ د کائیناتو د خالق او حقیقي پالونکي له کړنو انکار کوي او د خالق تعالی کړنې له خپلو کړنو سره ورته بولي. د دې په ځواب کې د سلف عالمانو لیکلي: چې جنت او اور دواړه مخلوق او پیدا کړای شوي دي او اهل السنة والحدیث ډله د دوی مقابل کې داسې مقاله وړاندې کوي، چې دوی بیا هغې کې د اختلاف کولو لپاره وړتیا نه لري.

د همدې له امله ابوالحسن الاشعري په خپل کتاب (مقالات الاسلامیین واختلاف المصلین) کې لیکلي: د حدیث د علم

خاوندان او اهل السنة ټول د الله تعالی په يو والي، د هغه په کتابونو، رسولانو په ټولو هغو څيزونه چې د الله تعالی له لوري راغلي او هغه چې کره کسانو د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت کړي، ايمان لري او دا عقيده ساتي چې الله تعالی د بنده ګی لايق واحد، بې حاجته. نه يې ځانته ښځه او نه يې زوی نيولی دی. محمد صلی الله عليه وسلم د هغه بنده او رسول دی.

همدا راز د حديث خاوندان او اهل السنة دا عقيده ساتي او پالي چې جنت حق دی او دوزخ حق دی، قيامت راتلونکی دی او په راتګ کې يې شک نشته. همدا رنګه پر دې باندې عقيده لري، چې دويم ځلې ژوندي کېدل حق دي او الله تعالی به ټول انسانان له قبرونو څخه راپورته کړي او د محاسبې ډګر ته به غونډ کړای شي. دوی پر دې هم ايمان لري، چې الله تعالی د عرش له پاسه دی، لکه څنګه؛ چې الله تعالی د قرآن کريم د سورت طه په يو ايت کې يادونه کړې ده:

﴿الرَّحْمَٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوَىٰ ﴿٥﴾ سورت طه﴾

ژباړه:((هغه زيات مهربان پر عرش استوا وکړه)).

همدا راز دوی عقيده لري، چې الله تعالی لره بې له څرنګوالي دوه لاسونه دي لکه قرآن کريم کې راغلي:

﴿خَلَقْتُ بِيَدَيَّ أَسْتَكْبَرْتَ أَمْ كُنتَ مِنَ الْعَالِينَ ﴿٧٥﴾ سورت ص﴾

ژباړه:((ما هغه پخپلو دواړو لاسونو (علم او قدرت) سره جوړ کړيدی؟ ايا ته تکبر کوې که د لويې درجې له خاوندانو څخه يې؟))

يا د قرآن کريم دا جمله:

﴿بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ يُنفِقُ كَيْفَ يَشَاءُ﴾﴿٦٤﴾ سورت المائدة﴾

ژباړه:((د الله لاسونه ازاد دي، څنګه یې چې خوښه شي لګښت کوي.))
دوی عقیده لري، چې د الله تعالی بلاکیفه سترګې دي، لکه د قرآن کریم دا جمله:

﴿تَجْرِي بِأَعْيُنِنَا جَزَاءً لِّمَن كَانَ كُفِرَ﴾﴿١٤﴾ سورت القمر﴾

ژباړه:((چې زموږ تر نظر لاندې چلېدله. دا وه د هغه چا پخاطر بدله چې د هغه بې قدري شوې وه.))
اهل السنت په دې هم ایمان لري، چې الله تعالی مخ لري، لکه څنګه چې په سورت الرحمن کې راغلي دي:

﴿وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ﴾﴿٢٧﴾سورت الرحمن﴾

ژباړه:((او يوازې ستا درب جليل او کريم ذات باقي پاتې کېدونکی دی.))
همدارازدوی د الله تعالی لپاره نومونه ثابتوي او د الله تعالی لپاره په علم ژمن دي، لکه قرآن کریم کې راغلي دي:

﴿لَّـٰكِنِ اللَّهُ يَشْهَدُ بِمَا أَنزَلَ إِلَيْكَ أَنزَلَهُ بِعِلْمِهِ وَالْمَلَائِكَةُ يَشْهَدُونَ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا﴾﴿١٦٦﴾ سورت النساء﴾

ژباړه: (( (که خلک یې نه مني نو نه دې مني) خو الله شاهدي وهي چې څه چې هغه پر تا نازل کړيدي په خپل علم سره يې نازل کړيدي، او پر دې پرښتې هم شاهداني دي که څه هم چې د ا الله شاهد کېدل بېخي کفايت کوي.))
او په سورت فاطر کې داسې راغلي دي:

(وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنْثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِ﴿۱۱﴾ سورت الفاطر)

ژباړه:(( ښځه نه حامله کېږي او نه ماشوم زېږوي؛ مګر دا هر څه د الله په علم کې دي.))

همدا ډول دوی د الله تعالی لپاره سمع (اورېدل)، بصر (لیدل) ثابتوي او د معتزله ډلې په څېر يې له الله تعالی څخه نه نفې کوي.

اهل السنت د الله تعالی لپاره قوت ثابتوي، لکه د سورت فاطر دا ایت:

(أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللَّهَ الَّذِي خَلَقَهُمْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يَجْحَدُونَ﴿۱۵﴾سورت الفصلت)

ژباړه: ((هغوی دا فکر ونه کړ چې کوم الله تعالی چې هغوی پیدا کړي دي، هغه له دوی نه زیات زورور دی؟ هغوی زموږ له آیتونو نه انکار کاوه.))

په هر حال د پورتنیو بېلګو په څېر اهل السنت د هر خیر او شر راتلل د الله تعالی په خوښې پورې تړي او ټولو ته د قرآن کریم له ایتونو څخه د تایید بېلګې راوړي. موږ د موضوع د اوږدېدو له امله ترې راستنېږو او یوازې د جنت د شتون او ثبوت په اړه د اهل السنت والحدیث نظریه د قرآن کریم او سنتو په رڼا کې څېړو.

د قرآن کریم د نجم په سورت کې هم د یادې موضوع ثبوت شته:

(وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَىٰ﴿۱۳﴾ سورت النجم)

ژباړه:(( او په باوري ډول يو ځل بيا يې هغه وليده.))

(عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهَىٰ﴿۱٤﴾ سورت النجم)

ژباړه:(( له سدرة المنتهیٰ سره.))

(عندها جنة المأوى) (۱۵) سورت النجم

ژباړه:((چې په خوا کې يې جنت الماوی دی.))

امام بخاري او امام مسلم رحمهما الله صحيحينو کې د انس بن مالک رضي الله تعالی عنه په روايت مرفوع حديث نقل کړی دی، چې د اسراء په خوړه او زړه راښکونکي کيسه راځرخي، د هغه حديث وروستی برخه کې راغلي: بيا جبرئيل عليه السلام روان شو، تر دې چې سدرة المنتهی ته ورسېد، هلته داسې رنګونو پټه کړه، چې زه هيڅ پوه نه شوم او نه مې وپېژندل چې هغه څه دي؟

بيا جنت ته ننوتم، نو په هغې کې مې د مرغلرو جوړې ګومبزې وليدې او خاوره يې له مشکو څخه وه[1].

همدا راز صحيحينو کې د عبدالله بن عمر رضي الله تعالی عنهما په روايت مرفوع حديث کې راغلي، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: کله چې له تاسې څخه کوم کس مړ شي، نو هغه ته هر سهار او ماښام د هغه ځای ښودل کېږي.

که چېرې له جنت والاو څخه وي، نو جنت کې ورته خپل ځای ښودل کېږي، او که له اور والاو څخه وي، نو بيا دوزخ کې ورته خپل ځای ښودل کېږي او ورته ويل کېږي دا ستا ځای دی، تر دې چې الله تعالی دې د قيامت په ورځ له ځمکې پورته او ژوندی کړي.

د براء بن عازب رضي الله تعالی عنه په روايت شوي اوږد حديث کې هم راغلي چې کله مؤمن بنده قبر کې د ملايکو پوښتنو ته سم ځواب ووايي: نو د اسمان له لورې به يو اواز کوونکی غږ وکړي

---

(۱) حادي الارواح، صح ۱۲

((زما بنده رښتیا وویل ده ته د جنت فرش وغوړوئ، د جنت پوښاک ورواغوندئ او له جنت څخه د ده په لور یوه دروازه پرانېزئ)). بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: نو ده ته به د جنت له هوا ګانو څخه شمال او خوشبویي راځي.

امام بخاری او مسلم رحمهما الله د انس بن مالک رضي الله تعالی عنه په روایت مرفوع حدیث نقل کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: کله چې بنده په قبر کې کېښودل شي او د ده د کورنۍ غړي او ملګري ورڅخه ستانه شي، نو دا د هغوی د پیزار غږ اوري ده ته دوه ملایک راشي، دی په قبر کې راکښېنوي، دواړه ملایک ورته وایي: تا د دې سړي (محمد صلی الله علیه وسلم) په اړه څه عقیده لرله؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل، مؤمن به ځواب ووایي: زه ګواهي کوم چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی بنده او استازی دی.

ملایکې به ورته ووایي: وګوره ستا د استوګنې ځای دوزخ کې و، خو د دې سپېڅلې عقیدې پر اساس الله تعالی ستا ځای جنت باندې بدل کړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: دا به دواړه ځایونه ویني[1].

امام ابوداود رحمه الله د براء بن عازب رضی الله تعالی عنه په روایت اوږد صحیح مرفوع حدیث د روح اخیستلو موضوع کې نقل کړی دی، د هغه حدیث وروستۍ برخه کې راغلي: بیا به یوه

---

[1] حادي الارواح ۱۷ مخ.

دروازه له جنت څخه پرانيستل شي او بله به له دوزخ څخه بيا به د دوزخ د ځای په اړه ورته وويل شي:

دا ستا منزل او کور و، که چېرې تا د الله تعالى نافرماني کړې وای، الله تعالى درته هغه پر دې باندې بدل کړ.

دی چې کله جنت کې خپل ځای وويني، وبه وايي ای د عالم پالونکيه! قيامت ژر راولې چې خپلې کورنۍ او شتمنۍ ته ورو ګرځم. نو ده ته به وويل شي: (اوس) ارام شه.

د عبدالله بن عباس رضي الله تعالى عنهما په روايت حديث کې راغلي، چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کې د لمر خسوف وشو (تور شو)، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: لمر او سپوږمۍ د الله تعالى له نښو څخه دوه نښې دي، د چا په مرګ او ژوند خسوف نه راځي او کله مو چې داسې حالت وليد الله تعالى ياد کړئ.

صحابه کرامو وويل: يا رسول الله صلى الله عليه وسلم! موږ تاسې وليدئ چې خپل ځای کې مو څه شي پسې لاس وغځاوه، بيا مو وليدې چې بېرته وروسته شوې.

رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: جنت مې وليده او يو وانګکی[1] پسې مې لاس وغځاوه، که چېرې هغې ته رسېدلی وای، نو تاسې به ترې د دنيا تر بقا پورې خوراک کړی وای.

د دوزخ اور مې وليد، داسې نا اشنا او وېرونکې منظر مې کله نه و ليدلی او د هغه زياتره اهل ښځينه وې.

---

[1] د انګورو غوښمه يا وږی.

صحابه کرامو وویل: د څه له امله د دوزخ زیاتره اهل ښځینه وو؟
رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: د دوی د کفر له امله.
وویل شو: ایا دوی پر الله باندې کفر کوي؟
رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: دوی د خپلو مېړونو کفر (ناشکري) او همدارا د احسان کفر (ناشکري) کوي.
که چېرې له یوې ښځې سره تېوله زمانه احسان (ښه او نېکي) وکړې، بیا که له تا څخه لږ غوندې ناسم څه ووینې، نو وایي: ما له تا څخه هېڅکله خیر نه دی لیدلی.
همداراز صحیح مسلم کې راغلي داسې کوم شی نشته چې تاسې سره یې وعده کېدلای شي، مګر ما په دې لمانځه کې ولیده، د دوزخ اور زما مخې ته راوړل شو، دا هغه مهال و چې تاسې زه ولیدلم چې له دې وېرې وروسته شوم، چې چرې تاو یې ماته ونه رسېږي، تر دې چې امسا والا مې ولید، چې خپلې کولمې یې د دوزخ اور کې ځان پسې راښکلې، هغه به د حاجیانو نه په امسا باندې غلا کوله.
کله به چې څوک پرې پوه شول، بیا به یې ویل دا زما په امسا پورې نښتی و. او که سړی به خبر نه شو بیا به یې غلا کړی څیز له ځانه سره وړه.
تر دې چې هغه ښځه مې هم اور کې ولیده، کومې چې پیشو کور کې بنده ساتلې وه، نه یې خوراک-څښاک ورکاوه او نه یې دې ته پرېښودله، چې د ځمکې له نورو حشراتو نه د خوراک په توګه ګټه واخلي، تر دې چې هغه پیشو مړه شوه.
بیا جنت زما مخ ته راوړل شو. دا هغه وخت و چې زه مخکې

شوم، ما لاس اوږد کړ چې د جنت له مېوو نه تاسې ته څه راونیسم، چې تاسې هغه وګورئ، بیا زه له هغې نه منع کړای شوم.

امام مالک رحمه الله په مؤطا کې له کعب بن مالک رضي الله تعالى عنه څخه په روایت صحیح حدیث نقل کړی دی، رسول الله ویلي: یقیناً (د قیامت په ورځ) د مؤمن روح د یو مرغه په ډول د جنت ونې کې ځوړند او نښتی دی، تر هغه مهال چې الله تعالی یې د قیامت په ورځ خپل جسد ته وروګرځوي.

دا حدیث ښکاره دلیل دی، چې روح د قیامت له ورځې نه وړاندې جنت ته ننوځي.

همدې ته ورته د کعب بن مالک رضي الله تعالى عنه په روایت بل صحیح مرفوع حدیث کې راغلي دي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د شهیدانو روحونه (ارواوې) به د شنو مرغانو په ججورو کې وي، چې د جنت د ونو په څانګو یا د جنت د (ونو) مېوو پورې به نښتې وي.

صحیحینو کې د ابو هریره رضي الله تعالى عنه په روایت مرفوع حدیث کې راغلي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د جنت او اور ترمنځ ژبنۍ جګړه پېښه شوه. دوزخ وویل: ای ربه! د جنت څه حیثیت دی؟ ده ته به د خلکو کمزوري او پربوتي خلک ننوځي.

جنت وویل: ای ربه! د دوزخ څه شان او حیثیت دی؟ دې ته به زورور او کبرجن خلک ننوځي.

الله تعالی جنت ته وویل: ته زما رحمت یې، تا ته به هغه خلک در رسوم چې زما خوښ شي او دوزخ ته یې وویل: ته زما عذاب یې، تا ته به هغه څوک چې زه یې وغواړم در رسوم او ستاسې د هر یو

ډکول پرما دي.

صحیحینو کې د عبد الله بن عمر رضي الله تعالی عنهما په روایت صحیح حدیث کې راغلي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: دوزخ خپل پالونکي ذات ته شکایت وکړ، ویې ویل: ای زما پالونکیه! زما ځیني برخې ځیني نورې خوري، الله تعالی (دوزخ) ته د دوه ځلې ساه ویستلو اجازه ورکړه.

د یو ځل نفس (ساه) ویستلو په اوړي کې او د بل ځل ساه ویستلو په ژمي کې.

امام مسلم رحمه الله د جابر بن عبد الله رضي الله تعالی عنهما په روایت مرفوع حدیث نقل کړی دی، دی وایي له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې واورېدل، ویل یې: جنت ته ننوتم، په هغه کې مې یوه ښکلې بنګله او کوره ولید، ما وویل: دا بنګله د چا ده؟
راته وویل شو دا د قریشو د یو سړي لپاره ده، زما دا هیله وه چې هغه به زه یم، بیا وویل شو: دا د عمر بن الخطاب رضي الله تعالی عنه بنګله ده.
رسول الله صلی الله علیه وسلم عمر رضي الله تعالی عنه ته وویل: ابا حفصه! که ستا د غیرت خاطر نه وای، نو هغه کور ته به ننوتی وم.
جابر رضي الله تعالی عنه وایي: عمر رضي الله تعالی عنه وژړل او ویې ویل: یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ایا ستا په راتللو به خپل کور ته غیرت کوم (او خواشینی کېږم به)[1].

که څه هم چې د جنت د اوسني شتون باره کې نور ډېر احادیث هم شته، خو موږ یوازې څو بېلګې وړاندې کړې، نو په څرګنده تړې معلومېږي، چې جنت همدا مهال هم شته دی.

---

[illegible]

# جنت چېرته دی؟

﴿وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَىٰ ﴿۱۳﴾ سورت النجم﴾

ژباړه:((او په باوري ډول يو ځل بيا يې هغه وليده.))

﴿عِندَ سِدْرَةِ الْمُنتَهَىٰ ﴿۱٤﴾ سورت النجم﴾

ژباړه:((له سدرة المنتهیٰ سره.))

﴿عِندَهَا جَنَّةُ الْمَأْوَىٰ ﴿۱٥﴾ سورت النجم﴾

ژباړه:((چې په خواکې يې جنت الماوی دی.))

تفسير احسن الکلام د پورته ليکل شويو اياتونو تفسير کې ليکلي: ظاهره دا ده چې دا ظرف د رايي دی (ليدونکي)، چې (رسول الله صلی الله عليه وسلم و) د سدرة المنتهی سره و او د مريي (ليدل شوي) (جبرائل عليه السلام يا الله تعالی سره تعلق احتمال هم لري) سدرة المنتهی اضافت دی مکان ته ياني په منتهی مکان کې دغه ونه ده يا اضافت د محل دی، حال ته. ياني له وني سره منتهی ده او د دې د نومونې وجه کې ډېر اقوال دي:

۱-دا چې د ملايکو د ختلو لپاره منتهی (وروستی ځای) دی.

۲-دا چې د مؤمنانو ارواح هغه ته ورسېږي.

۳-دا چې منتهی د علمونو ده.

# جنت د سدرة المنتهی په څنګ کې دی

او د ماوردي نه نقل کړای شوی دی، چې تخصیص د ببرې د ونې یې د دې له امله کړی دی چې په هغې کې درې صفتونه دي.

۱) اوږد سیوری.

۲) ښه خوند.

۳) ښایسته بوی.

نو دارنګه په ایمان کې هم قول، عمل او نیت شامل دي، نو بوی د دې په شان د قول د ایمان دی او سیوری د دې په شان د عمل د ایمان دی او خوند د دې په شان د نیت د ایمان دی، د دې وجې نه دا محل د ارواحو د مؤمنانو دی.

عِندَهَا جَنَّةُ ٱلۡمَأۡوَىٰٓ دا تعریف د مکان د جنت دی، چې جنت اوس په اوم اسمان کې د سدرة المنتهی سره دی. که څه هم پراخوالی د جنت خو د اسمانونو او ځمکې نه لوی دی.

لکه سورت ال عمران ۱۳۳ او سورت حدید ۲۱ ایت کې ذکر دی، خو الله تعالی قادر دی، چې په لږ ځای کې لوی خیز ځای کړي، لکه په یوه سترګه کې ډېره دنیا په نظر کولو کې ځای کولی شي یانې په یوه وړه سترګه باندې بنده خومره دنیا ته کتلای شي[1].

---

[1] احسن الکلام اتم جلد ۱۸۱مخ.

# دويم څپرکی

## د جنت پلنوالی

د دې موضوع د اثبات لپاره دوه قرآني دليلونه وړاندې کوو:

د ال عمران سورت ۱۳۳ ايت کې الله تعالی مغفرت او جنت لور ته داسې بلنه ورکوي:

(وَسَارِعُوا إِلَى مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ (۱۳۳) سورت ال عمران)

ژباړه: ((پر هغه لاره په منډه منډه وځغلئ چې ستاسې د پروردګار د بښنې او د هغه جنت خواته تللې ده، چې هغه لکه د اسمانونو او ځمکې په شان پراخ دی او هغه له خدايه ويرېدونکيو خلکو له پاره تيار کړای شوی دی.))

تفسير احسن الکلام د دې ايت د دويمې برخې تفسير کې داسې ليکلي:

(عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ).

عرض پلنوالی ته ويل کېږي، چې مقابل د طول (اوږدوالی) کې راځي او پلنوالی د تل لپاره له اوږدوالي نه لږ وي، نو هر کله چې پلنوالی يې د اسمانونو او ځمکې په شان دی، نو د اوږدوالي اندازه خو موږ ته نه شي معلومېدای.

قرطبي ويلي دي دا د جمهورو قول دی.

يا عرض د يوه څيز يوازې پراخوالي ته ويل کېږي او ځمکه،

اسمانونه د قبې په شان دي او د قبې عرض او طول یو شان وي[۱].

(ٱلسَّمَاوَاتُ وَٱلأَرْضُ) په دي کې دوه قولونه دي:

لومړی قول له ابن عباس رضي الله تعالی عنه څخه نقل دی: چې دا اوه اسمانونه او ځمکې چې یو یو وغوړولی شي د یو ټوکي په شان او سرونه یې له یو بل سره یوځای شي نو د جنت به دومره پلنوالی وي نو دا تشبیه حقیقي ده.

دویم قول دا دی، چې دا تشبیه تمثیلي او مجازي ده.

یانې د انسانانو په علم کې لوی او پراخه اسمانونه او ځمکې دي نو د غسې یې د جنت د پراخۍ مثال ورکړ. تفسیر احسن الکلام د همدې موضوع د څېړنې په یوه برخه کې لیکلي: که څوک دا سوال وکړي چې د نجم سورت ۱۵ ایت کې ذکر شوي دي، چې جنت د سدرة المنتهی په خوا کې دی او حدیث معراج کې ثابته ده چې سدرة المنتهی په اووم اسمان کې ده نو جنت چې د اووه اسمانونو او ځمکې په شان دی، نو په اووم اسمان کې څنګه ځایېږي؟ ځواب یې په داسې طریقه کړی دی.

پردې باندې الله تعالی قادر دی، څرنګه یې چې زموږ په یوه وړه غوندې سترګه کې د نظر کولو په وخت کې اسمان او ځمکه او غرونه ځای کړي دي چې د سترګې نه د هغې پراخوالی په کروړونو ځلې زیات دی نو دا الله تعالی ته څه ګران کار نه دی، چې داسې پراخه جنت د سدرة المنتهی څنګ کې ځای کړي.

دویم ځواب یې دا دی: چې اوس الله تعالی جنت راغونډ کړی دی

---

(۱) تفسیر ابن کثیر

او د دويم ځلي ژوند په ورځ به يې خپور کړي او دې ته ابن فورک اشاره کړې ده، د اول ځواب تاييد هغه حديث دی، چې ابن جرير، ابن کثير، ابن عطيه، قرطبي او نورو ذکر کړی دی.

هغه روايت کې يادونه شوې ده، چې هرقل بادشاه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يو قاصد لېږلی و او خط يې ورکړی و، هغه خط رسول الله صلی الله عليه وسلم ته معاويه رضي الله تعالی عنه ولوستلو هغې کې ليکلي و، ته ما هغه جنت ته رابلې چې د هغې پراخوالی اسمانونه او ځمکه ده، نو د جهنم اور به په کوم ځای کې وي؛ رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: سبحان الله چې ورځ راشي، نو شپه چېرته لاړه شي.

دا ډول ځواب عمر رضي الله تعالی عنه يهوديانو ته هم ورکړی و، هغوی هم دا پوښتنه کړې وه.

امام ابن کثير رحمه الله ليکلي: په دې ځواب کې دوه احتمالات دي، لومړی دا سې چې موږ د شپې په وخت کې ورځ نه وينو يا د ورځې شپه نه وينو.

د دې مطلب دا نه دی، چې هغه (جنت او دوزخ) موجود نه دي، پر همدې بنسټ جنت به هغه ځای کې وي، چې الله تعالی يې وغواړي او د جنهم اور به هغه ځای کې وي چې الله تعالی يې وغواړي.

دويم احتمال دا دی، په دنيا کې ورځ يو طرف ته وي او شپه بل طرف ته وي، دارنګه جنت په اعلی عليين[1] کې دی او د جهنم اور لاندې د ځمکو په اسفل سافلين کې دی.

---

(1) د اسمانونو او ځمکې نه پورته دی. لاندې د عرش نه او پلنوالی يې د اسمانونو او ځمکې په څېر دی.

دا روايت امام رازي رحمه الله له انس رضي الله تعالى عنه څخه نقل کړی دی[۱].

د جنت د پراخوالي موضوع د الحديد سورت ۲۱ ايت کې هم ياده شوې ده او د جنت پراخوالی د ځمکې او اسمانونو له پراخوالي سره تشبيه شوی دی:

﴿سَابِقُوٓا۟ إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ أُعِدَّتْ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ ذَٰلِكَ فَضْلُ ٱللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَآءُ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٢١﴾ سورت الحديد

ژباړه:((وځغلئ او يوله بل نه دوړاندې کېدو هڅه وکړئ د خپل رب د مغفرت او دهغه جنت خواته چې دهغه پراختيا د اسمانونو او ځمکې په څېر ده چې تيار کړای شوی دی دهغو خلکو لپاره چې پر الله او دهغه پر پېغمبرانو يې ايمان راوړی وي دا د الله فضل دی چاته چې غواړي ورکوي يې، او الله دستر فضل خاوند دی.))

ياد شوي ايت کې د الله تعالی د رحمت لوی امېد دی، اشاره ده چې د ايمان سره يې بل قيد نه دی لګولی ياني په يوازې ايمان سره دا جنت حاصلېږي. دا خبره شته چې د عذاب ياد ورسره نشته هغه د الله خوښه ده چې ګناهګار مؤمن ته سزا ورکوي او که يې نه ورکوي، خو جنت به ورکوي.

---

(۱) الحسن الكلام [illegible] ۸ [illegible]

همدا راز د ایت وروستی برخه په دې دلیل دی چې جنت د الله تعالی په فضل او رحمت سره حاصلیږي، ایمان او عمل صالح الله تعالی ښکاره سبب گرځولی[۱].

وړاندې مو د قرآني ایتونو په رڼا کې د جنت د اوسني موقعیت او پراخوالي په اړه موضوعات وڅېړل اوس په لنډه ډول د موضوع په اړه د صحابه کرامو او تابعینو ویناوې رانقلوو:
عطیه د عبدالله بن عباس رضي الله تعالی عنهما وینا داسې نقل کړې ده: جنت د اووم اسمان له پاسه دی او د قیامت په ورځ چې چېرې د الله تعالی خوښه شي ځای به ورته وټاکي او جهنم په اوومه ځمکه کې دی[۲].

مجاهد رحمه الله وايي، ابن عباس رضي الله تعالی عنهما ته مې وویل: جنت چېرته دی؟
هغه وویل: د اووه اسمانونو نه پورته دی.
همدا راز صحیحینو کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم وینا ده، چې جنت سل درجې دی، د هرو دوه درجو منځ کې به دومره فاصله وي لکه څومره فاصله چې د اسمان او ځمکې ترمنځ ده.

بل روایت کې راغلي، چې په یقیني ډول جنت کې سل درجې دي، د هرو دوو درجو ترمنځ فاصله د ځمکې او اسمان ترمنځ د

---

[۱] تفسیر حسن الکلام ۸ ټوک ۲۹۹ مخ
[۲] یادونه: خبر محدثینو سره سند ضعیف بللی.

فاصلې په کچه ده، چې الله تعالی خپلې لار کې د مجاهدينو لپاره تياري کړې دي.

امام بخاري رحمه الله چې کوم صحيح حديث نقل کړی، په هغه کې هم د جنت اوسنی موقعيت او ځای ښودل شوی.
رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: کله چې تاسې له الله تعالی څخه سوال کوئ، د جنت فردوس غوښتنه ورڅخه وکړئ، ځکه فردوس د جنت منځنۍ برخه کې دی او فردوس اعلی جنت دی او د دې له پاسه د رحمن جل جلاله عرش دی او له همدې څخه د جنت نهرونه بهېږي[1].
شيخ ابوالحجاج المزي رحمه الله ويلي: غوره روايت هغه دی چې هغه کې د (فَوْقَهُ) په ځای (فَوْقُهُ) راغلی، په دې مانا چې دا اسم دی ظرف نه دی، په دې ترکيبي جوړښت کې بيا داسې مانا کېدلای شي: د جنت فردوس چت د رحمن تعالی جل جلاله عرش دی.

---

(۱) حادي الارواح ۲ مخ

# د جنت نومونه

علامه ابن القيم الجوزية رحمه الله د جنت نومونه او د هغې ماناګانې داسې څېړلي: جنت د صفتونو په اعتبار یو شمېر نومونه لري، سره له دې چې د ذات په اعتبار يې مسمی یو دی.

**لومړی) جنت:**

دا هغه عام نوم دی، چې د غه لوی کور د دې ډول نعمتونه، خوندونه، تازه ګي، خوشالي او د سترګو یخوالی په خپله غېږه کې رانغاړي. د دې لفظ اصلي اخیستنه د ستر او پرده پوښنې نه شوې ده، جنین هم له دې سره تړاو لري، ځکه هغه په ګېډه کې پټ وي. جِن (پېري) ته؛ ځکه جِن وايي، چې د خلکو له سترګو پټ وي. مجن (ډال) ته ځکه مجن وايي: چې مخ پټوي او ساتنه يې کوي. مجنون (لېوني) ته ځکه مجنون وايي: چې عقل يې د لېونتوب د پردو لاندې پټ وي. نري مار ته هم جان وايي: ځکه ډېر باریکه وي او خلک يې نه ویني. بوستان (باغ) ته جنت ځکه وايي: چې د باغ دننه ټوله ساحه په ونو پوښل شوې وي او پټه کړې يې وي.

**دویم) دارالسلام:**

الله تعالی قرآن کریم کې په دې نامه داسې نومولی دی:

(لهم دار السلام عند ربهم وهو وليهم بما كانوا يعملون) ۱۲۷ ... الأنعام

ژباړه: ((د هغوی له پاره د هغو له رب سره د سلامتیا کور دی او هغه د هغې سمې کړنچارې له امله د هغوی سرپرست دی چې هغوی غوره کړې ده.))

(وَاللَّهُ يَدْعُو إِلَىٰ دَارِ السَّلَامِ وَيَهْدِي مَن يَشَاءُ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿۲۵﴾ سورت یونس)

ژباړه:((او الله تاسې ته د سلامتیا د کور په لور بلنه درکوي. (لاربښوونه د هغه په واک کې ده) چا ته چې د هغه خوښه شي سمه لاره ورښیي.))

جنت د دې ډېر لایق دی، چې دارالسلام ونومول شي. ځکه چې دا د هر آفت، مصیبت او بدې پېښې نه د سلامتیا کور دی.

سلام هغه ذات دی چې هم یې دا کور ساتلی او هم یې د دې اهل ساتلي.

قرآن کریم کې یې داسې یادونه شوې:

(جَنَّاتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا وَمَن صَلَحَ مِنْ آبَائِهِمْ وَأَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيَّاتِهِمْ وَالْمَلَائِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِم مِّن كُلِّ بَابٍ ﴿۲۳﴾ سَلَامٌ عَلَيْكُم بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ ﴿۲۴﴾ سورت الرعد)

ژباړه:((یعنې داسې باغونه چې د هغو همیشنی استوګنځی به وي. هغوی به په خپله هم په کې ننوځي او د هغو له پلرونو نیکونو او د هغو له مېرمنو او د هغو له اولادونو څخه چې هر څوک صالحان وي هغوی به هم له هغو سره هلته لاړ شي. ملایکې به له هرې خوا نه د هغو د هر کلي له پاره راشي. او هغو ته به ووائي چې 'پر تاسې سلامتیا ده، ځنګه چې تاسې په دنیا کې له صبر څخه کار واخیست د هغه په برکت نن تاسې د دې وړ ګرځېدلي یاست' نو څه ښه دی دغه د اخرت کور!))

پالونکی ذات پرې له بره نه سلام وایي.

(لَهُمْ فِيهَا فَاكِهَةٌ وَلَهُم مَّا يَدَّعُونَ ﴿۵۷﴾ سَلَامٌ قَوْلًا مِّن رَّبٍّ رَّحِيمٍ ﴿۵۸﴾ سورت یس)

ژباړه:((د خوراک ښباک هر راز خوندور شیان هلته د هغو لپاره

موجود دي هرڅه چې هغوی وغواړي د هغو لپاره حاضر دي، د مهربان پروردګار لخوا هغو ته سلام ویل شوی دی. ))

په جنت کې به لغوه، بې ګټې، بې حیا، پوچې او باطلې خبرې نه وي، قرآن کریم د جنت دا صفت سورت مریم کې داسې بیان کړی:

﴿لا يسمعون فيها لغوا إلا سلاما ولهم رزقهم فيها بكرة وعشيا ﴿٦٢﴾﴾ سورت مریم

ژباړه:((هلته به هغوی کومه بابېزه خبره وانه وري سلام به واوري او د هغو روزي به ورته پرله پسې سهار او ماښام ورسېږي. ))

**درېیم) دارالخلد:**

په دې نامه ځکه نومول شوی، چې د جنت استوګن به له جنت څخه تل لپاره نه وځي.

قرآن کریم د جنت د دې نامه او صفت تعبیر او تفسیر په بېلابېلو جملو سره کوي، لکه:

﴿وأما الذين سعدوا ففي الجنة خالدين فيها ما دامت السماوات والأرض إلا ما شاء ربك عطاء غير مجذوذ ﴿١٠٨﴾﴾ سورت هود

ژباړه:((پاتې شول هغه کسان چې نیکمرغه ثابت شي، نو هغوی به جنت ته لاړ شي او هلته به د تل له پاره اوسېږي تر څو پورې چې اسمانونه او ځمکه برقرار دي، مګر دا چې ستا رب نور څه وغواړي. پر هغو به داسې ورکړې پېرزوینه وشي چې د هغې لړۍ به هېڅکله غوځېدونکې نه وي. ))

(إِنَّ هَـٰذَا لَرِزْقُنَا مَا لَهُ مِن نَّفَادٍ﴿٥٤﴾ سورت صٓ)

ژباړه:((دا زموږ روزي ده چې هیڅکله پای ته رسیدونکې نه ده.))

یا دا جمله:

(أُكُلُهَا دَآئِمٌ وِظِلُّهَا﴿٣٥﴾ سورت الرعد)

ژباړه:((د هغه میوې نه ختمېدونکې دي او د هغه سیوری همېشنی دی.))

یا دا جمله:

(وَمَا هُمْ مِّنْهَا بِمُخْرَجِينَ ﴿٤٨﴾سورت الحجر)

ژباړه:((او نه به له هغه ځایه وویستل شي.))

**څلورم) دارالمقامة:**

الله تعالی د جنتیانو حکایت د وحې په ژبه داسې کړی:

(وَقَالُواْ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِيٓ أَذْهَبَ عَنَّا ٱلْحَزَنَ إِنَّ رَبَّنَا لَغَفُورٌ شَكُورٌ﴿٣٤﴾ٱلَّذِيٓ أَحَلَّنَا دَارَ ٱلْمُقَامَةِ مِن فَضْلِهِ لاَ يَمَسُّنَا فِيهَا نَصَبٌ وَلاَ يَمَسُّنَا فِيهَا لُغُوبٌ﴿٣٥﴾ سورت الفاطر)

ژباړه:((او دوی به ووایي چې شکر دی د هغه الله تعالی چې له موږ نه یې غم ایسته کړ، په یقیني ډول زموږ رب بښونکی او قدردان دی. هغه ذات چې موږ یې پخپلې لورینې سره په ابدي استوګنځي کې مېشته کړو، اوس دلته نه پر موږ کړاو راځي او نه راته ستوماني رسېږي.))

**پینځم) جَنَّةُ ٱلۡمَأۡوَىٰ:**

الله تعالی ویلي:

(عندها جنة المأوى﴿١٥﴾سورت النجم)

ژباړه:((چې په خواکې یې جنت الماوی دی.))

عبدالله بن عباس رضي الله تعالی عنهما ویلي: دا هغه جنت دی، چې جبرائیل او ملایک به دې ته راځي.

مقاتل او کلبي ویلي: دا هغه جنت دی، چې د شهیدانو روحونه ورته راځي.

کعب ویلي: دا هغه جنت دی چې شنه توتیان به پکې وي او د شهیدانو روحونه پکې څربږي.

عائشې رضي الله تعالی عنها ویلي: دا له جنتونو څخه یو جنت دی.

علامه ابن القیم رحمه الله ویلي: صحیح داده چې دا د جنت له نومونو څخه یو نوم دی.

په قرآن کریم کې داسې راغلي:

(وَأَمَّا مَنۡ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ وَنَهَى ٱلنَّفۡسَ عَنِ ٱلۡهَوَىٰ﴿٤٠﴾فَإِنَّ ٱلۡجَنَّةَ هِيَ ٱلۡمَأۡوَىٰ﴿٤١﴾ سورت النازعات)

ژباړه:((او چا چې د خپل رب په مخ کې له دریدونه وېره کړې وه او نفس یې له ناوړو غوښتنو څخه ساتلی ؤ. نو جنت د هغه هستوګنځی دی.))

**شپږم) جنات عدن:**

صحیح خبره داده، چې دا د ټولو جنتونو لپاره نوم دی.

(جَنَّاتِ عَدْنٍ الَّتِي وَعَدَ الرَّحْمَٰنُ عِبَادَهُ بِالْغَيْبِ إِنَّهُ كَانَ وَعْدُهُ مَأْتِيًّا ﴿٦١﴾ سورت مریم)

ژباړه:((د هغو له پاره د دايمي استوګنې جنتونه دي، چې رحمن له خپلو بندګانو سره د هغو ناليدلي وعده کړېده او دغه وعده په باوري توګه ترسره کېدونکې ده.))

(جَنَّاتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ﴿٣٣﴾ سورت الفاطر)

ژباړه:((د تل ترتله هستوګنې جنتونه دي، چې هغوته به دوی ورننوځي. هلته به دوی د سرو زرو په بنګړيو او مرغلرو سره سينګار کړای شي، هلته به د دوی جامې د ورېښمو وي.))

(يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿١٢﴾ سورت الصف)

ژباړه:((الله به ستاسې ګناهونه دروبښي او تاسې به هغو باغونو ته ننباسي، چې تر هغو لاندې به ويالې بهېږي او د ابدي استوګنې په جنتونو کې به ډېر غوره کورونه درکړي، دا دی ستر برياليتوب.))

**اووم) دَارَ ٱلْحَيَوَان:**

(وَمَا هَـٰذِهِ ٱلْحَيَاةُ ٱلدُّنْيَا إِلاَّ لَهْوٌ وَلَعِبٌ وَإِنَّ ٱلدَّارَ ٱلآخِرَةَ لَهِيَ ٱلْحَيَوَانُ لَوْ كَانُواْ يَعْلَمُونَ﴿٦٤﴾ سورت العنكبوت)

ژباړه:((او دغه د دنيا ژوند هيڅ نه دی، مګر يوه لوبه او زړه خوښونه. د اصلي ژوندانه کور خو د اخرت کور دی. کاشکې دغه خلک پوهېدلای.))

**اتم) ٱلْفِرْدَوْس:**

(ٱلَّذِينَ يَرِثُونَ ٱلْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ﴿١١﴾ سورت المؤمنون)

ژباړه:((چې په ميراث کې به فردوس ومومي او په هغې کې به د تل لپاره هستوګن وي.))

(إِنَّ ٱلَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّالِحَاتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّاتُ ٱلْفِرْدَوْسِ نُزُلاً﴿١٠٧﴾ سورت الکهف)

ژباړه:((البته کومو کسانو چې ايمان راوړ او ښه عملونه يې وکړل د هغو مېلمستون به د فردوس باغونه وي.))

فردوس داسې نوم دی، چې ټولو جنتونو ته کارول کېږي، تر ټولو اعلی او غوره جنت ته هم کارول کېږي.

کعب ويلي: دا هغه باغ دی چې خالص انګور به پکې وي.

امام مجاهد رحمه الله ويلي، دا په رومي ژبه کې د باغ نوم دی.

زجاج هم دا قول غوره بللی او ویلي یې دي: دا د رومي ژبې نوم دی چې عربي ژبې ته رانقل شوی دی.

له همدې امله مجاهد رحمه الله ویلي: حقیقت دا دی دا هغه باغ دی، چې دې باغ کې به ټول هغه ځیزونه شتون ولري، چې په نورو باغونو کې وي.

**نهم) جَنَّاتُ ٱلنَّعِيمِ:**

الله تعالی قرآن کریم کې د جنت دا نوم داسې انځور کړی دی:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّالِحَاتِ يَهْدِيهِمْ رَبُّهُم بِإِيمَانِهِمْ تَجْرِى مِن تَحْتِهِمُ ٱلْأَنْهَارُ فِى جَنَّاتِ ٱلنَّعِيمِ﴾ (۹) سورت یونس

ژباړه: ((او دا هم حقیقت دی کومو کسانو چې ایمان راوړی دی (هغه ریښتینولی یې منلي دي چې په دې کتاب کې وړاندې کړای شوې دي) او غوره چارې یې سرته رسولي دي هغوی به د هغو رب د هغو د ایمان له امله پر سمه لاره وخوځوي. له نعمت څخه په ډکو جنتونو کې به چې تر هغوی لاندې ویالې بهېږي، (ځای ورکړی).))

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّالِحَاتِ لَهُمْ جَنَّاتُ ٱلنَّعِيمِ﴾ (۸) سورت لقمان

ژباړه: ((کوم خلک چې ایمان راوړي او ښه عملونه وکړي د هغو لپاره په نعمت پور معمور جنتونه دي.))

**لسم) المقام الامين:**

(إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٍ ﴿٥١﴾ سورت الدخان)

ژباړه:((له الله تعالی ویرېدونکي خلک به د امن په ځای کې وي ))

**یوولسم او دولسم) مقعدالصدق- قدم الصدق:**

(إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنَهَرٍ ﴿٥٤﴾ فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ عِندَ مَلِيكٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿٥٥﴾ سورت القمر)

ژباړه:((له نافرمانۍ نه ډډه کوونکي به په باوري توګه په باغونو او ویالو کې وي. د رښتیاني عزت ځای، د ډېر مقتدر باچا په وړاندې[1].))

---

[1] حادی الارواح ۸۵-۹۰ مخونه.

# د جنتونو شمېر

دا موضوع د احادیثو کتابونو کې رونبانه او خپرل شوې ده، چې جنتونه څلور دي، دوه جنتونه د سروزرو او دوه نور يې د سپينو زرو دي.

امام بخاري رحمه الله د انس بن مالک رضي الله تعالى عنه په روايت حديث نقل کړی دی، وايي ام الربيع رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغله، ويې ويل: ای د الله تعالى نبي ! د حارثه په اړه معلومات راکړه؟

څوک چې د بدر په ورځ وژل شوی و، که هغه جنت ته تللی وي (چې زه صبر وکړم) او که داسې نه وي، چې زه ډېر ورپسې وژاړم.

رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: ام حارثه ! په جنت کې ډېر او بېلابېل جنتونه دي او ستا زوی په فردوس اعلى جنت کې دی.

د ابي موسى اشعري رضي الله تعالى عنه په روايت حديث کې راغلي، رسول الله صلى الله وسلم ويلي: دوه جنتونه له سروزرو نه جوړ دي، چې د هغو لوښي، زېورات او نور هر څه له سروزرو نه جوړ دي او دوه جنتونه له سپينو زرو نه جوړ دی، چې د هغو لوښي، زېورات، همداراز هغو کې هر څيز له سپينوزرو نه جوړ دي او جنت عدن کې به د الله تعالى او جنتيانو ترمنځ د الله تعالى د کبريا او لويي له څادر پرته بله پرده او حايل نه وي.

قرآن کريم کې الله تعالى ياده موضوع داسې رونبانه کړې ده:

ولمن خاف مقام ربه جنتان (سورة الرحمن)

ژباړه: ((او د هرهغه چالپاره چې د خپل رب حضور ته له وړاندې

# د جنتونو شمېر

دا موضوع د احادیثو کتابونو کې روښانه او څرګنده شوې ده، چې جنتونه څلور دي، دوه جنتونه د سروزرو او دوه نور یې د سپینو زرو دي.

امام بخاري رحمه الله د انس بن مالک رضي الله تعالی عنه په روایت حدیث نقل کړی دی، وایي ام الربیع رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله، ویې ویل: ای د الله تعالی نبي! د حارثه په اړه معلومات راکړه؟

څوک چې د بدر په ورځ وژل شوی و، که هغه جنت ته تللی وي (چې زه صبر وکړم) او که داسې نه وي، چې زه ډېر ورپسې وژاړم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: ام حارثه! په جنت کې ډېر او بېلابېل جنتونه دي او ستا زوی په فردوس اعلی جنت کې دی.

د ابي موسی اشعري رضي الله تعالی عنه په روایت حدیث کې راغلي، رسول الله صلی الله وسلم ویلي: دوه جنتونه له سروزرو نه جوړ دي، چې د هغو لوښي، زېورات او نور هر څه له سروزرو نه جوړ دي او دوه جنتونه له سپینو زرو نه جوړ دی، چې د هغو لوښي، زېورات، همداراز هغو کې هر څیز له سپینوزرو نه جوړ دي او جنت عدن کې به د الله تعالی او جنتیانو ترمنځ د الله تعالی د کبریا او لویی له څادر پرته بله پرده او حایل نه وي.

قرآن کریم کې الله تعالی یاده موضوع داسې روښانه کړې ده:

(ولمن خاف مقام [illegible] الرحمن)

ژباړه: ((او د هرهغه چالپاره چې د خپل رب حضور ته له وړاندې

کېدو نه وېره لري، دوه باغونه دي.))

علامه عبدالسلام الرستمي د دې ایت تفسیر کې لیکلي: چې جنتونه د الله تعالی له وېرې پرته نشي حاصلېدلای او همدا خبره د ابراهیم سورت په یو ایت کې داسې شوې:

(وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ الْأَرْضَ مِنْ بَعْدِهِمْ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِي وَخَافَ وَعِيدِ)

(سورة ابراهيم)

ژباړه:((او له هغو وروسته به تاسې په ځمکه کې مېشته کړو. دا د هغه چا مکافات دي چې زما په حضور کې له ځواب ویلو نه وېره لري او زما د عذاب له اخطار نه ډارېږي.))

او همدا راز د نازعات سورت ۴۰ ایت کې یادونه شوې ده:

(وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَىٰ ﴿٤٠﴾ سورة النازعات)

ژباړه:((او چاچې د خپل رب په مخ کې له درېدونه وېره کړې وه او نفس يې له ناوړو غوښتنو څخه ساتلی ؤ.))

بیا لیکي: دا وېره د اطاعت په کولو، فرایضو په ادا کولو، گناهونو نه په ځان ساتلو، ډېر استغفار او توبې کولو سره حاصلېږي.

د (مَنْ) لفظ عام دی، جن او انس دواړو ته پکې راتلای شي. او په دې صورت کې دواړه مخاطب دي.

ابن کثیر ذکر کړي: دا دلیل دی، چې پېریان مؤمنان به هم جنت ته د انسانانو په څېر ننوځي.

بیا لیکي (جَنَّتَانِ) په دې تثنیه کې ډېر اقوال مفسرینو ذکر کړي دي، غوره دا ده، چې دا تثنیه د تکرار او د کثرت لپاره ده، یانې

ډېر جنتونه دي د يو قسم نه او دې وجې نه وروسته يې د (فِيهِنَّ) ضمير د جمعي ذکر کړی او هر يو جنت په بې شماره نعمتونو باندې مشتمل دی[1].

علامه ابن القيم الجوزية رحمه الله دې بحث کې له اوږدې څېړنې وروسته ليکلي، هر کله چې وبرېدونکي کسان دوه ډوله دي، مقربين او اصحاب يمين په همدې بنسټ د مقربينو لپاره به دوه عالي جنتونه وي او اصحاب يمين لپاره به له دې دوو جنتونو پرته لږ ښکته دوه نور جنتونه وي[2].

د مشکاة المصابيح پښتو شرح مظاهر حق بيا د حديث تشريح کې ليکلي: چې جنتونه څلور دي، د دې تاييد له هغه روايت نه کېږي، چې پکې راغلي دوه جنتونه د سروزرو د سابقينو لپاره دي او دوه د سپينو زرو د اصحاب اليمينو لپاره دي. دا هم کېدای شي، چې ايت کې (جَنَّتَانِ) کوم لفظ دی، له هغه دوه ډوله جنت مراد دي، چې يو يې د سروزرو او دويم يې د سپينو زرو دی.

حاصل دا لاسته راځي چې اصل کې جنتونه څلور دي، دوه د سروزرو چې په ځانګړي توګه مقربينو لپاره دي او دوه د سپينو زرو، چې د عامو مؤمنانو لپاره دي؛ خو دا خبره هم بايد روښانه وي، چې (جَنَّتَانِ) که څه هم د تثنيه صيغه ده، خو ځينو ځايونو کې تثنيه نه کثرت يانې تر دوو زيات شمېر مراد وي، ځکه کېدای شي، چې (جَنَّتَانِ) نه مراد څلور جنتونه وي او کاملينو ته پر دې دوه اصل جنتونو سربېره دوه دوه جنتونه نور ډالۍ وي، چې له سرو او سپينو زرو به وي[3].

---

[1] احسن الكلام ج ۷ ۲۳۷ صفحه

[2] حادي الارواح ۹۱.

[3] مظاهر حق ج ۹ ۳۳۹

# ځينې جنتونه الله تعالی پخپل لاس جوړ کړي

الله تعالی له جنتونو څخه ځينې په دې غوره کړځولي، چې د الله تعالی عرش ته يې نږدې والی او د الله تعالی په لاسونو جوړښت يې ارزښت او عزت لازياتوي. الله تعالی له هر څيز نه اعلی او غوره ځانته ټاکلي د بېلګې په توګه له ملايکو نه يې جبرائيل عليه السلام له بشر نه محمد صلی الله عليه وسلم آسمانونو نه لوړ، له مياشتو نه محرمې او عزتمنې مياشتې، له شپو نه د قدر شپه، له ورځو نه د قدر ورځ، له ټولو ورځو نه د جمعې ورځې له شپې نه د هغې منځنی برخه، له وختونو نه يې د لمانځه وختونه، غوره کړي.
سورت القصص کې الله تعالی خپل اختيار داسې انځور کړی:

﴿وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ مَا كَانَ لَهُمُ ٱلْخِيَرَةُ سُبْحَانَ ٱللَّهِ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ﴾﴿٦٨﴾ سورت القصص)

ژباړه:((ستا رب پيدا کوي هر څه چې غواړي او (هغه پخپله د خپل کار لپاره چې چاته يې خوښه شي) غوره کوي يې، دغه ټاکنه د دغو خلکو د کولو کار نه دی، الله پاک دی او ډېر لوړ دی له هغه شرک نه چې دوی يې کوي.))
انس بن مالک رضي الله تعالی عنه د حديث راوي دی رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: الله تعالی جنت فردوس، په خپل لاس جوړ کړی دی او پر هر مشرک باندې يې حرام ګرځولی دی، همدارازپه هغه چا يې حرام ګرځولی چې پر شرابو معتاد (همېشه

څښونکي) او کبرجن وي.

همدارنګه یو بل مرسل یا موقوف حدیث کې راغلي. الله تعالی درې څیزونه پخپل لاس پیدا کړي دي. ادم علیه السلام یې په خپل لاس جوړ او پیدا کړی دی. تورات یې په خپل لاس لیکلی. او فردوس جنت یې پخپل لاس جوړ کړی دی.

بیا یې ویلي: زما دې په خپل عزت او جلال قسم وي، د شرابو معتاد او دیوث به دې ته نه ننوځي.

صحابه کرامو وویل: یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! د شرابو معتاد پېژنو، خو دیوث څوک دی؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: دیوث هغه څوک دی، چې جاري کوي بدي په خپل اهل کې).

دیوث هغه چاته وایي: چې په خپل اهل او کورنۍ باندې غیرت نه لري.

د ابي سعید الخدري رضی الله تعالی عنه په روایت حدیث کې راغلي، الله تعالی د جنت دېوالونه د سرو او سپینو زرو له خښتو څخه جوړ کړی دی او هغه یې پخپل لاس جوړ کړي دي. کله یې چې جنت جوړ کړ ورته یې وویل: خبرې وکړه!

جنت وویل: مؤمنان کامیاب شول.

الله تعالی ورته وویل: خوشالي دې وي تا لره، ای د بادشاهانو کوره[1].

---

[1] حادی الارواح ۹۴-۹۵.

# د جنت لاره

دا هغه مسئله ده، چې له لومړني نبي (عليه السلام) څخه تر وروستني پيغمبر خاتم النبيين محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم پورې ټول پيغمبران پر دې متفق دي، چې د جنت لاره يوه ده.

او د دوزخ لارې دومره زياتې دي، چې له شمېر څخه وتلي دي. قرآن کريم کې د دې خبرې ثبوت لپاره دليل شته الله تعالی خپله لار يوه يادوي او د دوزخ لارې د جمع په توګه يادوي يوه رڼه بېلګه يې دا ده:

(وَأَنَّ هَٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِ ذَٰلِكُمْ وَصَّاكُم بِهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿۱۵۳﴾ سورت الانعام)

ژباړه:((دغه راز د هغه لارښوونه داده چې همدا زما سمه لاره ده، نو تاسې پر همدې لاړ شئ او په نورو لارو مه ځئ، چې هغه به تاسې له هغې لارې واړوي تيت پرک به مو کړي. دا دی هغه هدايت چې ستاسې رب درکړی دی، په کار ده چې تاسې له انحراف څخه ځان وژغورئ.))

- صراط مستقيم نه مراد قرآن (او سنت دی).

السبل نه مراد هغه ټولې طريقې او نظريې او مذهبونه دي، چې د قرآن او سنت نه خلاف دي يانې يهوديت، نصرانيت، مرزائيت (قاديانيت)، رافضيت (شعيه توب)، بدعات او دودونه په دې کې داخل دي[1].

---

[1] تفسير احسن الکلام ۴ټوک ۳۰۳مخ

حافظ محمد اسماعيل ابن کثير رحمه الله د عبد الله بن مسعود رضي الله تعالی عنه په روايت حديث نقل کړی دی، وايي رسول الله صلی الله عليه وسلم په خپل لاس باندې يو خط (کرښه) وښکله، بيا يې وويل: هذا سبيل الله (دا د الله جل جلاله لاره ده) او د دې خط ښي او چپې لور ته يې نور خطونه وښکل بيا يې وويل: دا لارې دي، نشته له دې څخه يوه لاره مګر په هغې کې شيطان ولاړ دی، چې هغې طرف ته بلنه ورکوي، بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم دا ايت ولوست:

﴿وَأَنَّ هَٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِ ذَٰلِكُمْ وَصَّاكُم بِهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾(۱۵۳ سورت الانعام)

همدارار جابر رضي الله تعالی عنه ويلي: موږ د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يوځای ناست وو، نو يو خط يې خپلې مخې ته وښکه، بيا يې وويل: دا د الله تعالی لاره ده.

او دوه خطونه يې ښي او دوه خطونه يې چپ لور ته وښکل او ويې ويل: دا د شيطان لارې دي.

بيا يې پر منځني خط باندې لاس کېښود او دا ايت يې ولوسته:

﴿وَأَنَّ هَٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِ ذَٰلِكُمْ وَصَّاكُم بِهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾(۱۵۳ سورت الانعام)

جابر رضي الله تعالی عنه ويلي موږ رسول الله صلی الله عليه وسلم سره ناست وو، رسول الله صلی الله عليه وسلم يوه نېغه کرښه راښکله او د هغې ترڅنګ يې نورې کرښې هم راښکلې ويې ويل: دا شيطاني لارې دي او د منځ په کرښه يې ګوته کېښوده او دا ايت يې ولوست:

﴿وَأَنَّ هَـٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِ ذَٰلِكُمْ وَصَّاكُم بِهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٥٣﴾ سورت الانعام)

ابن ماجه او مسند بزار کې هم دا حدیث شته ابان بن عثمان رضي الله تعالی عنهما وايي: له عبدالله بن مسعود رضي الله تعالی عنهما څخه چا پوښتنه وکړه، چې صراط مستقیم څه شی دی؟

عبدالله بن مسعود رضي الله تعالی عنه ورته وویل: پر کومه لاره، چې موږ رسول الله صلی الله علیه وسلم پرېښي يو، د دې دويم سر جنت ته رسي. د دې یوه خوا، بله خوا ډېرې لارې دي، چې پر هغه باندې خلک روان دي او نور خلک هم ځانته رابلي، څوک چې له دې لارو څخه پر یوه لاره باندې روان وي، نو هغه جهنم ته ورسېږ او کوم خلک چې په نېغه لاره لاړل، نو هغه جنت ته ورسېدل. بیا یې دا ایت ولوست:

﴿وَأَنَّ هَـٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِ ذَٰلِكُمْ وَصَّاكُم بِهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٥٣﴾ سورت الانعام)

نواس بن سمعان (رضي الله تعالی عنهما) وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي ((الله تعالی د صراط مستقیم مثال بیان کړ، د دې لارې دواړو طرفونو ته دېوالونه دي، چې په هغې کې ډېرې دروازې دي او ټولې پرانیستې دي او پردې پرې راځړول شوي دي.)) د دې نېغې لارې دروازې سره یو اواز کوونکی ولاړ دی او اواز کوي، چې ای خلکو! ټول په صراط مستقیم راځئ، په لاره کې یوه خوا، بله خوا مه خپرېږئ او یو بلونکی د دروازې د پاسه ناست دی، کله چې یو بنده په دې دروازو کې یوه لرې کول وغواړي، نو هغه ورته وايي خبردار! دا مه لرې کوه، که لرې دې کړه، نو د نېغې لارې نه به ډېر لرې

لاړ شي، نو نېغه لاره د اسلام لاره ده او دا دواړه دېوالونه د الله تعالی حدونه دي، لرې دروازې د الله تعالی حرام کړي ځيزونه دي، ناست سړی د الله تعالی کتاب دی او اواز کوونکی د الله پاک له طرفه نصيحت کوونکی دی، چې د هر مؤمن په زړه کې دی[1].

علامه ابن القيم الجوزيه رحمه الله د عبدالله بن مسعود رضي الله تعالی عنهما په روايت صحيح مرفوع حديث نقل کړی دی، وايي رسول الله صلی الله عليه وسلم د ماسخوتن لمونځ وکړ. بيا راوګرځېد زه يې له لاسه ونيولم تر دې چې بطحا (مکې) کلي لور ته يې له ځان سره بوتلم، بيا يې زه کېنولم او يو کرښه يې له ما څخه چاپېره وښکله بيا يې راته وويل له کرښې څخه دباندې حرکت مه کوه، ژر ده چې ځينې کسان به تاته راشي، نو ته له هغوی سره خبرې مه کوه، ځکه هغوی به تاسره خبرې نه کوي، بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم لاړ، چېرې يې چې خوښه وه، زه د راښکل شوې کرښې دننه ناست وم.

په دغه وخت کې ماته ځينې کسان راغلل، چې د الزط[2] ته ورته خلک وو، وېښتان او جسمونه يې داسې و، چې د هغوی بشر ترې نه ښکاره کېده، ماته به يې ځان را رسول غوښتل خو ماته نه شو رسېدلای.

بيا بېرته رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ورتلل، تر دې چې د شپې په وروستۍ برخه کې رسول الله صلی الله عليه وسلم زما څنګ ته راغی او زه ناست وم. بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم د خط دننه راننوت، زما په ورانه باندې يې سر کېښود او ويده شو. زه ناست وم،

---

[1] ابن کثير دريم جلد ۴۶ مخ تاج کتب خانه چاپ پېښور ...
[2] د يوې سيمې د خلکو نوم دی.

چې داسې کسان راغلل چې سپينې جامې يې پرتن وې، ډېر ښکلي وو، الله تعالى ته يې ښکلا ښه معلومه ده، زما څنګ ته راورسېدل، د هغوی يوه ډله د رسول الله صلى عليه وسلم سر ته کېناسته او بله ډله يې پښو ته کېناسته. بيا يې وويل: موږ داسې يو بنده نه دی ليدلی، چې هغه ته د الله تعالى له لورې داسې ډېر څه ورکړل شوي وي، لکه دې نبي ته چې ورکړل شوي دي. يقيناً د ده سترګې ويدې کېږي خو زړه يې بېدار دی، ده لپاره مثال بيان کړئ، ويې ويل: د دې مثال هغه سردار ته ورته دی، چې يوه بنګله جوړه کړي، بيا يو دعوت برابر کړي، خلک خوراک څښاک ته راوبلي، څوک چې د هغه بلنه ومني، له خوراک څښاک نه ګټه پورته کړي او څوک چې بلنه ونه مني، هغه ته عذاب ورکړي.

بيا پاڅېدل او رسول الله صلى الله عليه وسلم پر همدې شېبه راويښ شو، ويې ويل: تا د دې کسانو خبرې واورېدې او پر دې پوی شوې چې دوی څه وويل؟

ما وويل: الله تعالى او د هغه رسول صلى الله عليه وسلم ښه پوهېږي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: دا ملايکې وې، پوهېږې څه مثال يې بيان کړ؟

ما ويل: الله تعالى او د هغه رسول صلى الله عليه وسلم ښه پوهېږي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: رحمن ذات جنت جوړ کړی دی او بندګان يې د هغه لور ته بللي دي، چا چې بلنه ومنله، جنت ته به ننوځي او چا چې ونه منله، عذاب به ورکړي[1].

---

[1] حادی الارواح ۱۰۳

# جنت تلپاتې او نه پناه کېږي

د جنت ابدیت او همېشه والی د قرآن کریم د هود سورت ۱۰۸ ایت کې داسې بیان شوی دی.

(وَأَمَّا ٱلَّذِينَ سُعِدُواْ فَفِي ٱلْجَنَّةِ خَالِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ ٱلسَّمَاوَاتُ وَٱلْأَرْضُ إِلَّا مَا شَاءَ رَبُّكَ عَطَاءً غَيْرَ مَجْذُوذٍ﴿۱۰۸﴾ سورت هود)

ژباړه:((پاتې شول هغه کسان چې نېکمرغه ثابت شي، نو هغوی به جنت ته لاړ شي او هلته به د تل له پاره اوسېږي، تر څو پورې چې اسمانونه او ځمکه بر قرار دي، مګر دا چې ستا رب نور څه وغواړي. پر هغو به د داسې ورکړې پېرزوینه وشي، چې د هغې لړۍ به هېڅکله غوځېدونکې نه وي.))

یانې پورته ایت نه د قیامت اسمانونه او ځمکه مراد دي، ځکه د قیامت اسمانونه او ځمکه به همېشه او تل وي. الله تعالی وایي:

(يَوْمَ تُبَدَّلُ ٱلْأَرْضُ غَيْرَ ٱلْأَرْضِ وَٱلسَّمَاوَاتُ وَبَرَزُواْ لِلَّهِ ٱلْوَاحِدِ ٱلْقَهَّارِ﴿۴۸﴾ سورت الابراهیم)

ژباړه:((دوی له هغې ورځې نه وېروه چې کله ځمکه او اسمانونه بدل او له یو څه نه بل څه جوړ کړای شي او ټول به دیوه قهار الله تعالی په وړاندې څرګند حاضر شي.))

علامه عبدالسلام په خپل تفسیر کې لیکلي: د ځمکې او اسمانونو تبدیل کې دوه قوله دي. یو قول دا دی چې دا تبدیل ذاتي دی یانې دا اسمانونه او ځمکه به فنا شي او هر کله چې ذات او

صفت دواړه بدلېږي نو لفظ د تبديل او غير يې دواړه ذکر کړي دي او د مسلم حديث کې راغلي، چې عائشې رضي الله تعالى عنها پوښتنه وکړه: په وخت د تبديل د ځمکې کې به انسانان کوم ځای وي؟
رسول الله صلى الله عليه وسلم ځواب ورکړ: چې پل باندې وي، هر کله چې دا اسمانونه او ځمکه فنا کړای شي نو د دوی په بدل کې به نور پيدا کړای شي.
دويم قول دا دی چې دا تبديل وصفي دی يانې د اسمانونو او د ځمکې دا موجوده کيفيت (څرنګوالی) به بدل کړای شي لکه چې د جهنم والاوو څرمنې نو له سوزېدلو نه بدلولی شي[1].
عبدالله بن الامام احمد رحمه الله کتاب السنة کې د خارجة بن معصب نه نقل کړی دی، هغه ويلي: جهميه و د الله تعالى د کتاب پر دريو اياتونو باندې کفر کړی دی.
لومړی-د الله تعالى په دې قول باندې:

(أُكُلُهَا دَآئِمٌ وِظِلُّهَا﴿۳۵﴾ سورت الرعد)

ژباړه:((د هغه ميوې نه ختمېدونکې دي او د هغه سيوری همېشنی دی.))
او جهميه وايي: د جنت نعمتونه همېشه نه دي.
تفسير احسن الکلام دې ايت لاندې ليکلي، دا دليل دی چې جنت باندې فنا نه راځي.

---

[1] تفسير احسن الکلام ج۵ - ۳۷۸.

دویم الله تعالی وایي:

(إِنَّ هَـٰذَا لَرِزْقُنَا مَا لَهُ مِن نَّفَادٍ ﴿٥٤﴾ سورت ص)

ژباړه: ((دا زموږ روزي ده چې هېڅکله پای ته رسېدونکې نه ده.))
دوی وایي: هر څه به فنا کېږي، که له الله تعالی سره وي هم او الله تعالی وایي:

(مَا عِندَكُمْ يَنفَدُ وَمَا عِندَ اللَّهِ بَاقٍ... ﴿٩٦﴾ سورت النحل)

ژباړه: ((څه چې له تاسې سره دي هغه مصرف کېدونکي دي او څه چې له الله سره دي همغه باقي پاتې کېدونکي دي.))

امام مسلم رحمه الله د ابو هریره رضي الله تعالی عنه په روایت حدیث نقل کړی.
رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: یو کس بلونکی به (په جنت کې) غږ وکړي تاسې به تل روغ او صحت مند یاست، هېڅکله به هم مرض درباندې نه راځي. تل لپاره به ژوندی یاست هېڅکله به مرګ درباندې نه راځي، تاسو به تل ځوانان یاست، زړښت به درباندې نه راځي، تاسو به تل لپاره په نعمتونو کې یاست، کله به هم محتاج او نه اړ کېږئ او دا د الله تعالی د دې قول تفسیر دی.

(وَنُودُوا أَن تِلْكُمُ الْجَنَّةُ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٤٣﴾ سورت الاعراف)

ژباړه: ((څه چې له تاسې سره دي هغه مصرف کیدونکي دي او څه چې له الله سره دي همغه باقي پاتې کیدونکي دي[1].))

---

[1] حادی الارواح ۱۴۸

جابر رضي الله تعالى عنه وايي: له رسول الله څخه وپوښتل شول، جنتيان به جنت کې ويده کېږي؟
رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: نه! خوب د مرګ ورور دی، جنتيان به نه ويده کېږي[1].
او په صحيحينو کې د ابو سعيد الخدري رضي الله تعالى عنه په روايت حديث راغلی، رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: د قيامت په ورځ به مرګ د کبش[2] املح (برګ پسه[3]) په شکل کې راوستلای شي، د جنت منځ کې به ودرولای او وبه ويل شي:
ای جنت والاوو! دوی به داسې حال کې سرونه راپورته کړي او ګوري به چې وبه پېژنئ؟ دوی به ووايي
ای دوزخ والاوو! دوی به داسې حال کې سرونه پورته کړي چې خوشالېدونکي به ښکاري، بيا به وويل شي.
دا پېژنئ؟!
دوی به ووايي: هو! دا مرګ دی.
بيا به دا پسه د جنت او دوزخ ترمنځ حلال کړای شي، جنتيانو ته به وويل شي: همېشه ژوند او تلپاتې کېدل دي؛ مرګ نشته
دوزخيان به مخاطب او ورته به وويل شي: همېشه پاتې کېدل دي؛ مرګ نشته[4].

---

[1] حادي الارواح ۳۴۲
[2] کبش هغه پسه ته ويل کېږي. چې عمر يې د دوو يا څلورو کلونو وي.
[3] املح اسم تفضيل صيغه ده تور او سپين رنګ والا ته وايي-المنجد عربي- پښتو مخ ۹۷۴
[4] بخاري – فتح الباري؟

# د جنت د دروازو شمېر

قرآن کريم د سورت زمر ۷۳ايت کې د جنت دروازو ته داسې اشاره کړې:

وَسِيقَ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْاْ رَبَّهُمْ إِلَى ٱلْجَنَّةِ زُمَرًا حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا وَفُتِحَتْ أَبْوَٰبُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا سَلَٰمٌ عَلَيْكُمْ طِبْتُمْ فَٱدْخُلُوهَا خَٰلِدِينَ ﴿۷۳﴾ سورت الزمر)

ژباړه:((او کومو کسانو چې د خپل رب له نافرمانۍ نه ډډه کوله هغوی به ډلې ډلې د جنت خواته بوتلل شي. تردې پورې کله چې هغوی هلته ورسېږي او د هغه دروازې به لا دمخه پرانیستل شوې وي نو د هغه منتظمین به هغو ته ووایې چې، سلام دې وي پرتاسې، ډېر ښه راغلئ، ننوځئ په ده کې د تل لپاره.))

علامه ابن کثیر د دې ایت په تفسیر کې لیکلي: وفتحت ابوابها کې (و) الثمانیه دی یانې پردې باندې دلالت کوي چې د جنت دروازې به اته(۸) وي.

بیا یې د ابو هریرة رضي الله تعالی عنه په روایت له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه حدیث ذکر کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: څوک چې له خپل مال څخه دوه جوړې د الله په لار کې ولګوي د جنت له دروازو څخه به بللی کېږي او جنت لپاره دروازې دي څوک چې د لمانځه والاوو څخه وي، هغه به د لمانځه له دروازې څخه بلل کېږي، څوک چې د صدقې له اهل څخه وي

هغه به د صدقې له دروازې څخه بللی کېږي، څوک چې له جهاد والاو څخه وي هغه به له باب الجهاد څخه بللی کېږي او څوک چې د روژې له اهل څخه وي، هغه ته به له باب الريان څخه بلنه ورکول کېږي.

ابوبکر رضي الله تعالی عنه وويل: يا رسول الله که چېرې کوم کس له يوې دروازې څخه وبلل شي؛ نو هغه ته خو به څه تکليف نه وي او که څوک داسې وي، چې له دې ټولو دروازو څخه بلنه ورکړای شي؟[1]

رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: هو! او زه هيله لرم چې ته به له هماغو خلکو څخه يې چې له دې ټولو دروازو به بلنه درکول کېږي.

سهل بن سعد رضي الله تعالی عنه د رسول الله صلی الله عليه وسلم حديث ذکر کړی، چې د جنت اته دروازې دي، يوه دروازه يې (ريان) نومېږي چې يوازې روژتيان به پرې جنت ته ننوځي.

صحيح مسلم کې د عمربن الخطاب رضي الله تعالی عنه په روايت صحيح مرفوع حديث ذکر دی، چې له تاسې څخه څوک اودس وکړي او بيا پکې ښه کوښښ وکړي، بيا وواېي:

(أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ)

ژباړه: ((زه ګواهي کوم چې له الله تعالی پرته بل د بندګۍ لايق نشته او ګواهي کوم چې محمد صلی الله عليه وسلم د الله تعالی بنده او د هغه رسول دی.))

نو هغه ته به د جنت اته واړه دروازې پرانيستل شي په کومه دروازه يې چې زړه غواړي جنت ته به ننوځي[2].

---

[1] حادی الارواح، مخ: ۵۱.
[2] ابن کثير. ټوک: ۵، مخ: ۴۳۰.

علامه ابن القيم رحمه الله حادی الارواح په يو پنځوسم مخ کې دا حديث ذکر کړی او بيا يې ليکلي: ترمذي د شهادتينو تر کلمې ويلو وروسته دا دعا هم د رسول الله صلی الله عليه وسلم لارښوونه ښودلې چې مسلمان يې ووايي:

(اللهم اجعلنى من التوابين واجعلنى من المتطهرين.)

ژباړه:((ای الله تعالی! ما وګرځوې له توبه ويستونکو او پاکې خوښوونکو[1].))

بيا يې د ياد شوي حديث په اړه ليکلي چې امام ابوداود او امام احمد رحمه الله دا برخه هم زياته کړې ده چې: (بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم اسمان لور ته وکتل او ويې ويل).

او امام احمد رحمه الله د انس رضي الله په روايت مرفوع حديث نقل کړی چې ژباړه يې داسې ده: چا چې اودس وکړ او ښه په غور يې اودس وکړ بيا درې ځلې ووايي: اشهد ان لااله الاالله وحده لاشريک له واشهدان محمداً عبده ورسوله، نو هغه ته به د جنت اته واړه دروازې پرانيستلی شي، له کومې دروازې څخه يې چې خوښه شي جنت ته دې ننوځي.

همداراز عتبه د عبدالله السلمی زوی وايي: له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه مې واورېدل ويل يې د کوم مسلمان چې اولادونه داسې مهال مړه شي چې د بلوغ عمر ته نه وي رسېدلي، د جنت اته واړه دروازې به د ده پرمخ خلاصې وي، له کومې دروازې څخه يې چې خوښه شي جنت ته دې ننوځي[2].

[1] سل دعاګانې. مخونه ۴۱-۴۲.
[2] حادی الارواح. مخ ۵۲.

# د جنت د دروازو پراخوالی

امام بخاری رحمه الله د شفاعت اوږد حدیث نقل کړی چې د حدیث یوه برخه کې د جنت د پراختیا یادونه شوې ده.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:
پر هغه ذات باندې سوګند دی چې د محمد صلی الله علیه وسلم روح د هغه په لاس کې دی، یقیناً د جنت د دوه بازوګانو ترمنځ د مکې او هجر ترمنځ فاصله ده یا به دومره فاصله وي لکه د مکې او بصرې ترمنځ چې څومره فاصله ده[1].

عتبه بن غزوان رضي الله تعالی عنه وایي:
موږ ته دا وویل شول، چې د جنت د دروازو د دوه څنګ دریو (د دروازې له یو لوري نه بل لوري) ترمنځ د څلوېښتو کالو واټن دی او پر هغه باندې یوه ورځ داسې هم راځي، چې له خلکو څخه مالامال وي[2].

[1] حادی الارواح
یادونه: د مکې مکرمې او هجر ترمنځ فاصله (۱۱۲۰) کیلو متره او د مکې مکرمې او بصرې ترمنځ فاصله (۱۲۵۰) کیلو متره ده (حسّان).
[2] د اسلامي ژوند ننګلاره، مخ: ۱۴۱.

# د ادم علیه السلام د استوګنې جنت پر ځمکه، که په اسمان کې و؟

دې موضوع کې د اسلامي پوهانو او مفسرینو ډېر اقوال دي.
قرآن کریم د سورت بقرې ۲۵ ایت او د اعراف سورت ۱۹ ایت کې دې موضوع ته اشاره شوې ده.
الله تعالی ادم علیه السلام ته وویل:

(وَبَشِّرِ ٱلَّذِين آمَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلأَنْهَارُ كُلَّمَا رُزِقُواْ مِنْهَا مِن ثَمَرَةٍ رِّزْقاً قَالُواْ هَـٰذَا ٱلَّذِى رُزِقْنَا مِن قَبْلُ وَأُتُواْ بِهِ مُتَشَابِهاً وَلَهُمْ فِيهَآ أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَهُمْ فِيهَا خَالِدُونَ﴿۲۵﴾ سورت البقرة)

ژباړه:((او ای پېغمبره! کومو خلکو چې پر دې کتاب ایمان راوړ او (له هغه سره سم) خپل عملونه یې اصلاح کړل هغو ته زېری ورکړه چې د هغو له پاره داسې باغونه دي، چې ترې لاندې به ویالې بهېږي، د هغو باغونو مېوې به په شکل کې د دنیا مېوو ته ورته وي، کله چې کومه مېوه د خوراک له پاره هغو ته ورکړه شي، نو هغوی به وو ایي چې همدغسې مېوه له دې نه مخکې په دنیا کې موږ ته راکړه شوې وه، د هغو له پاره به هلته ډېرې سپېڅلې ښځې وي او هغوی به هلته د تل له پاره اوسېږي.))

(وَيَا آدَمُ ٱسْكُنْ أَنت وَزَوْجُكَ ٱلْجَنَّة فَكُلاَ مِنْ حَيْثُ شِئْتُما وَلاَ تَقْرَبَا هَـٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ ٱلظَّالِمِينَ﴿۱۹﴾ سورت الاعراف)

ژباړه:((او ای ادمه! ته او ستا مېرمن دواړه په دې جنت کې اوسېږئ،

هر چېرته چې هر شی ستاسې زړه غواړي خورئ يې، خو دغې ونې ته نږدې مه ورځئ، که نه نو له ظالمانو څخه به و شمېرل شئ.))

يو ډله وايي: ادم عليه السلام ته الله تعالى هغه (جنة الخلد[1]) کې استوګنه ورکړې وه، چې مؤمنان به هغه ته د قيامت په ورځ ننوځي.

ځينې نور وايي: چې دا جنت له جنة الخلد څخه پرته و، چې الله تعالى ادم عليه السلام ته استوګنه ورکړې وه.

ابو الحسن الماوردي ويلي: چې خلکو د ادم عليه السلام د استوګنې د جنت په باره کې په دوه قولونو کې اختلاف کړی دی.

لومړی قول دا دی: چې دا جنة الخلد، يانې د همېشه استوګنې جنّت دی.

دويم قول دا دی: چې د ا جنت؛ الله تعالى دوی دواړو ته تيار کړی و او د ازموينې د کور په بڼه يې ګرځولی و او دا هغه جنت نه و، چې الله تعالى د جنت الخلد په نوم د جزا کور ټاکلی.

ځينې نور بيا وايي: اختلاف په دې کې دی، چې دا جنت چېرې و؟ دې مسئله کې هم دوه قوله دي. لومړی دا دی جنت آسمان کې دی، ځکه چې الله تعالى ادم او حوا عليهم السلام له هغې څخه کوز کړي دي، دا د حسن بصری رحمه الله قول دی.

دويم قول دا دی، چې دا جنت په ځمکه کې دی، ځکه الله تعالى دوی باندې ونې ته نږدې کېدل يو امتحان ګرځولی و، د همدې له امله يې دوی له هغې څخه منع کړي و. ابن خطيب هم خپل تفسير کې د ياد شوي ايت لاندې پر همدې موضوع غږېدلی، چې دا جنت

---

[1] په نامه جنت

آسمان کې و ، که ځمکه کې؟ که آسمان کې و ، نو بیا جنة الخلد یانې دارالثواب و ، که نه بل کوم جنت و؟

ابو القاسم بلخي او ابو مسلم ویلي: دا جنت ځمکه کې و.

او اهباط (راکوزېدل) یې د ځمکې له یوې برخې نه بلې برخې ته د انتقال او لېږد په مانا تعبیر کړي دي.

دویم قول د جبائي دی، هغه ویلي: دا جنت اووم آسمان کې و.

علامه ابن القیم الجوزیة رحمه الله وایي: زموږ د جمهورو عالمانو نظر دا دی، چې دا جنت دارالثواب دی.

علامه امین الله خپل تفسیر کې د دې جنت په اړه لیکلي: چې په دې کې اختلاف دی، چې کوم جنت مراد دی. یو قول دا دی چې دنیا کې یو باغ مراد دی، بیا یې د دې لپاره دري وجې ذکر کړي، بیا لیکي چې حافظ ابن القیم رحمه الله مفتاح السعادة کې فرمایي: دا قول د ملحدینو ، فلاسفو او معتزله وو او مبتدعینو ، متکلمینو دی او د ټولو اهل السنة او سلفو خلاف قول دی.

دویم قول دا دی، چې د الجنة نه مراد دارالثواب دی، کوم ته چې به انسانان او پېریان پس د مرګ نه او په اخرت کې داخلېږي ځکه چې قرآن او حدیث کې چې (الجنة) مطلق ذکر شي، نو مراد ترې حقیقي جنت وي او که بل جنت مراد وای؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به خبر لی وای.

دویم دا چې (اهبطوا) دلیل دی، چې د حقیقي جنت نه کوزېدل مراد دي.

درېیم (ولکم فی الارض مستقر) نه معلومېږي، که دا باغ په ځمکه کې وای، نو بیا یې ولې (فی الارض) لفظ ذکر کول.

څلورم د اثارو نه هم معلومېږي چې ادم علیه السلام په

سراندهیب غر د هندوستان کې راکوز شو او حوآ، په جده کې راکوزه شوه[1].

د قرآن کریم په سورت البقره کې الله تعالی داسې وايي:

(وَقُلْنَا يَا آدَمُ اسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا هَٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ الظَّالِمِينَ﴿٣٥﴾ سورت البقرة)

ژباړه:((بیا مونږ ادم ته وویل چې 'ته او ستا مېرمن، دواړه په جنت کې اوسېږئ او دلته په پراخی سره چې څه مو زړه غواړي خورئ، خو دې ونې ته مه نژدې کېږئ، که نه نو په تېری کوونکو کې به وشمېرل شئ'.))

علامه عبدالسلام د دې ایت تفسیر کې لیکلي:

الْجَنَّةَ- د دې جنت په باره کې د عالمانو اختلاف دی، چې دا په اسمان کې و، کوم چې دارالثواب دی یا په ځمکه کې و او په دې مسئله کې د هر جانب دلیلونه ابن قیم الجوزیه حادی الارواح الی بلادالافراح کې ذکر کړي دي، خو غوره دا ده چې دا مشهور جنت(دارالثواب) دی، الف لام د عهد لپاره دی او معهود د مسلمانانو په نزد باندې جنت دارالثواب دی او دارنګه هغه نعمتونه چې سورت طه ۱۱۸-۱۱۹ایاتونو کې ذکر دي، هغه هم په دغه جنت پورې خاص دی.

او قرطبي، نسفي، ابن کثیر رحمهم الله او نورو هم ویلي:

څوک چې وایي دا باغ (جنت) په ځمکه کې و؛ نو دا قول د معتزله او قدریه وو دی[2].

---

[1] تفسیر حکمة القرآن. ټوک: ۱. مخ: ۳۸۸.

[2] احسن الکلام. ټوک: ۱، مخ: ۱۸۹.

# دریم څپرکی

## د جنتیانو ژبه

انس بن مالک رضي الله تعالی عنه د حدیث راوي دی:
رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:
د جنتیانو قدونه به د ادم علیه السلام وي، ښایست به یې د یوسف علیه السلام په څېر، عمرونه به یې د عیسی علیه السلام په څېر (۳۳ کاله) وي او ژبه به یې د محمد صلی الله علیه وسلم په څېر عربي وي، د بدن ویښته، ږیره او برېتونه به یې نه وي، سترګې به یې سرمه یې وي[1].

عبدالله بن عباس رضي الله تعالی عنهما وایي: د جنتیانو ژبه به عربي وي.

[1] حادی الارواح ۳۴۵.

# د جنت خبرې

وړاندې (د جنت او دوزخ جګړه) سرلیک لاندې هم د جنت او دوزخ د خبرو یادونه وشوه.

همدارازد لیث په روایت حدیث کې راغلي جنت هره ورځ الله تعالی ته دا سوال کوي وايي: ای زما ربه! زما مېوې ډېرې ښې دي، نهرونه مې جاري دي او خپلو دوستانو ته لېوالتیا لرم نو ماته زما اهل ژر راولې.

دوزخ وايي: زما حرارت زیات شوی دی، ژوروالی مې زیات شوی دی او د اور سکروټې مې غټې شوې دي، نو ماته زما اوسېدونکي ژر راولې[1].

اسماعیل بن ابي خالد د سعید الطائف نه نقل کړی (کله چې الله تعالی جنت پیدا کړ نو ورته یې وویل: ځان سینګار کړه، جنت سینګار شو. بیا یې ورته وویل: خبرې وکړه، نو جنت خبرې وکړې او ویې ویل: (طوبی لمن رضیت عنه) خوشالي د هغه چا په برخه ده چې ته له هغه نه راضي یې.

او قتاده وايي کله چې الله تعالی جنت پیدا کړ، د خبرو کولو امر یې ورته وکړ، جنت وویل: (طوبی للمتقین) خوشالي ده پرهېزګارو خلکو لپاره.

---

[1] حادي الارواح ۸۳ مخ

او د عبدالله بن عباس رضي الله تعالی عنهما حدیث کې راغلي کله چې الله تعالی جنت پیدا کړ او د خبرو کولو یې ورته وویل. جنت وویل: (قد افلح المؤمنین) په تحقیق سره مؤمنان کامیاب شول[1].

حدیث کې راغلي رسول الله صلی الله علیه وسلم وایي: کوم مسلمان چې ورځ کې درې ځلې له الله تعالی څخه د جنت سوال کوي، جنت وايي: ای الله! ته یې جنت ته ننباسه او کوم کس چې پر الله تعالی باندې د دوزخ د اور نه په ورځ کې درې ځلې پناه غواړي، دوزخ وایي: ای الله! له اور نه نجات ورکړې.

د ابو هریره رضی الله تعالی عنه په روایت حدیث کې راغلي دي، رسول الله صلی الله علیه وسلم وایي: کوم بنده چې ورځ کې اوه ځلې الله تعالی نه د جنت سوال کوي، جنت وايي: ای ربه! ستا فلانکی بنده ما له تا څخه غواړي، نو ته یې ماته راننباسه.

د انس رضي الله تعالی عنه په روایت حدیث کې راغلي رسول الله صلی الله علیه وسلم وایي: د قیامت په ورځ به الله تعالی ووایي زما د بنده دېوان وګورئ، د چا دېوان کې مو چې له ما څخه د جنت غوښتنه ولیده، هغه ته به جنت ورکړم او چا چې له ما نه د دوزخ له اوره پناه غوښتې وي هغه ته به د دوزخ له اور نه نجات ورکړم.

عطاء السلمي وایي: ما ته همدا بس ده چې له اور نه نجات راکړې[2].

---

[1] حادي الارواح ۳۵ : حدیث په سند کې ضعف شته

[2] حادي الارواح ۸۳

# د جنتیانو ترمنځ خبرې اترې

الله تعالی قرآن کریم کې د جنتیانو د حال خبر ورکړی دی، چې دوی به خبرې کوي او د دوی خبرې به ډول ډول وي، کله به د هغه ورځو یادونه تازه کوي، چې دوی په دنیا کې تېرې کړې دي، همداراز دنیوي نعمتونو به یادوي، د سورت الطور **۲۵-۲۸** ایتونو کې قرآن کریم د دوی د خبرو-اترو داسې حکایت کوي:

(وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ﴿۲۵﴾قَالُوا إِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِي أَهْلِنَا مُشْفِقِينَ﴿۲٦﴾فَمَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا وَوَقَانَا عَذَابَ السَّمُومِ﴿۲۷﴾إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلُ نَدْعُوهُ إِنَّهُ هُوَ الْبَرُّ الرَّحِيمُ﴿۲۸﴾ سورت الطور)

ژباړه:((دوی به مخامخ پخپلو مینځو کې یو له بله (په دنیا کې د تېر شویو حالاتو په هکله) پوښتنې کوي. دا به (هم) ووایي، چې موږ پخوا له خپلې کورنۍ سره په وېره کې ژوند تېراوه. په پای کې الله پر موږ فضل وکړ او موږ یې د سوځوونکي بادله عذاب نه وژغورلو. موږ په مخکې ژوندانه کې له همغه (الله) نه دعاوې غوښتلې، هغه په رښتیا سره ډېر لوی احسان کوونکی او رحیم دی.))

کله بیا د جنتیانو خبرې پر دوی باندې د الله تعالی د نعمتونو له امله د الله تعالی ثناء او ستاینه وي.

د فاطر سورت ۳۴-۳۵ ایتونو کې داسې یادونه شوې ده:

(وَقَالُواْ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِيٓ أَذْهَبَ عَنَّا ٱلْحَزَنَ إِنَّ رَبَّنَا لَغَفُورٌ شَكُورٌ﴿٣٤﴾ٱلَّذِيٓ أَحَلَّنَا دَارَ ٱلْمُقَامَةِ مِن فَضْلِهِۦ لَا يَمَسُّنَا فِيهَا نَصَبٌ وَلَا يَمَسُّنَا فِيهَا لُغُوبٌ﴿٣٥﴾ سورة الفاطر)

ژباړه:((او دوی به ووایي چې شکر دی، د هغه الله تعالی چې له موږ نه یې غم ایسته کړ، په یقیني ډول زموږ رب بښونکی او قدردان دی. هغه ذات چې موږ یې پخپلې لورینې سره په ابدي استوګنځي کې مېشته کړو، اوس دلته نه پر موږ کړاو راځي او نه راته ستوماني رسېږي.))

کله به بیا دا خبرې د جنتیانو خپل منځ کې کېږي، د اور والاوو ځینې خبرې به یادوي لکه د سورت الصافات ۵۰-۶۱ ایتونو کې همداسې راغلي دي.

(فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَآءَلُونَ﴿٥٠﴾قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ إِنِّي كَانَ لِي قَرِينٌ﴿٥١﴾يَقُولُ أَءِنَّكَ لَمِنَ ٱلْمُصَدِّقِينَ﴿٥٢﴾أَءِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَامًا أَءِنَّا لَمَدِينُونَ﴿٥٣﴾قَالَ هَلْ أَنتُم مُّطَّلِعُونَ﴿٥٤﴾فَٱطَّلَعَ فَرَءَاهُ فِي سَوَآءِ ٱلْجَحِيمِ﴿٥٥﴾قَالَ تَٱللَّهِ إِن كِدتَّ لَتُرْدِينِ﴿٥٦﴾وَلَوْلَا نِعْمَةُ رَبِّي لَكُنتُ مِنَ ٱلْمُحْضَرِينَ﴿٥٧﴾أَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِينَ﴿٥٨﴾إِلَّا مَوْتَتَنَا ٱلْأُولَىٰ وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ﴿٥٩﴾إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ﴿٦٠﴾لِمِثْلِ هَٰذَا فَلْيَعْمَلِ ٱلْعَٰمِلُونَ﴿٦١﴾ سورة الصافات)

ژباړه:((بیا به هغوی یو بل ته په مخ اړولو د حالاتو پوښتنه وکړي. له هغو نه یو تن به ووایي: په دنیا کې زما یو ملګری ؤ. ما ته به یې ویل ایا ته له هغو تصدیق کوونکو څخه یې؟ ایا دا رښتیا ده

چې کله موږ مړه شو، او خاورې شو او د هډوکو ډانچه شو، نو موږ ته به سزا او جزا راکړه شي؟ اوس آیا تاسې لیدل غواړئ چې هغه چېرته دی؟ له دې ویلو وروسته چې څنګه هغه لاندې وګوري، نو د دوزخ په تل کې به هغه ووینې. او هغه ته په خطاب کولو سره به ووایي (په الله تعالی قسم تا خو زما تباه کول غوښتل). که زما د رب فضل راباندې نه وای نو نن به زه هم له هغو کسانو څخه وم، چې نیول شوي راوستل شوي دي. ښه نو اوس (دا یقیني نه ده، چې) موږ له مړه کېدونکو څخه نه یو؟ کوم مرګ چې موږ ته راتلونکی و، هغه خو مخکې راغی اوس به موږ ته هېڅ عذاب نه وي؟ په یقیني ډول همدغه ستر بریالیتوب دی. د همدغسې بریالیتوب لپاره باید عمل کوونکي عمل وکړي.))

کله بیا د جنتیانو خبرې د مکالمې په ډول وي له دوزخ والاوو سره دا بیا د قرآن کریم په دریو ځایونو کې ذکر شوي دي.

**لومړی ځای**:

(وَنَادَىٰٓ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ أَصۡحَٰبَ ٱلنَّارِ أَن قَدۡ وَجَدۡنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقّٗا فَهَلۡ وَجَدتُّم مَّا وَعَدَ رَبُّكُمۡ حَقّٗاۖ قَالُواْ نَعَمۡۚ فَأَذَّنَ مُؤَذِّنُۢ بَيۡنَهُمۡ أَن لَّعۡنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾ سورت الاعراف)

ژباړه: ((بیا به دا جنتیان دوزخیانو ته اواز وکړي، وبه وایې: موږ خو هغه ټولې ژمنې بشپړې ومیندلې، چې زموږ پروردګار له موږ سره کړې وې، ایا تاسې هم هغه ژمنې پوره ومیندلې چې ستاسې رب کړې وې؟ ' هغوی به ځواب ورکړي: 'هو!' په دې

وخت کې به يو اواز کوونکی د هغوی په مینځ کې ناري کړي چې: ' د الله لعنت دې وي پر هغو ظالمانو.))

**دویم ځای**:

(وَنَادَىٰٓ أَصْحَابُ ٱلنَّارِ أَصْحَابَ ٱلْجَنَّةِ أَنْ أَفِيضُواْ عَلَيْنَا مِنَ ٱلْمَآءِ أَوْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ حَرَّمَهُمَا علي ٱلْكَافِرِينَ﴿٥٠﴾ سورت الاعراف)

ژباړه:((او دوزخيان به جنتيانو ته اواز وکړي، چې لږ غوندې اوبه پر موږ راتوی کړئ يا له هغې روزۍ څخه چې الله تاسې ته درکړې ده يو څه راوغورځوئ، هغوی به ځواب ورکړي چې: الله دا دواړه شيان د حق پر هغو منکرانو حرام کړي دي.))

**دريم ځای**:

(إِلَّآ أَصْحَابَ ٱلْيَمِينِ﴿٣٩﴾فِي جَنَّاتٍ يَتَسَآءَلُونَ﴿٤٠﴾عَنِ ٱلْمُجْرِمِينَ﴿٤١﴾مَا سَلَكَكُمْ فِي سَقَرَ﴿٤٢﴾قَالُواْ لَمْ نَكُ مِنَ ٱلْمُصَلِّينَ﴿٤٣﴾وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ ٱلْمِسْكِينَ﴿٤٤﴾وَكُنَّا نَخُوضُ مَعَ ٱلْخَآئِضِينَ﴿٤٥﴾وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ ٱلدِّينِ﴿٤٦﴾حَتَّىٰٓ أَتَانَا ٱلْيَقِينُ﴿٤٧﴾سورت المدثر)

ژباړه:((مګر د ښی لاس له کسانو څخه پرته. چې په جنتونو کې به وي هلته به هغوی پوښتنه وکړي. له مجرمانو څخه. (تاسې څه شي دوزخ ته بوتلئ؟) هغوی به ووايي. موږ له لمونځ کوونکو څخه نه وو. او مسکين ته مو خواړه نه ورکول. او د حق پر خلاف خبرو جوړونکو سره په يو ځای کېدو موږ هم خبرې جوړولې. او د جزا ورځ مو دروغ ګڼله. تر دې پورې چې موږ له هغه باوري شي سره مخامخ شو.))

# د جنت او دوزخ جګړه

د دوزخ او جنت جګړه وه، دوزخ وويل:
ماته به زورور او کبرجن خلک راځي.
جنت وويل:
ماته به کمزوري او مسکينان راځي.
الله تعالی به دوزخ ته ووايي:
ته زما عذاب يې، په تا کې به هغه چا ته عذاب ورکوم، چې زما خوښه وي.
او جنت ته به ووايي:
ته زما رحمت يې په تا کې به رحم کوم، پر هغه چا رحم کوم چې زما خوښه وي او ستاسې د هر يوه ډکول زما کار دی[1].

[1] حادی الارواح ۳۴۵مخ.

# د جنت کونجي

د جنت کونجیاني سپېڅلي اسماني کتاب قرآن کریم او نبوي احادیثو کې داسې راپېژندل شوي دي، د قرآن کریم د رحمن سورت ۶۰ ایت کې الله تعالی ویلي دي:

(هَلْ جَزَاءُ الْإِحْسَانِ إِلَّا الْإِحْسَانُ ﴿٦٠﴾ سورت الرحمن)

ژباړه:((د نېکۍ بدله له نېکۍ پرته بل څه کېدای شي؟))

حافظ ابن کثیر د دې ایت تفسیر کې د انس بن مالک رضي الله تعالی عنه په روایت حدیث نقل کړی، که څه هم په سند کې یې امام بخاري رحمه الله د نظره (کمزورې) خبره کړې ده.

انس بن مالک رضي الله تعالی عنه وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ایت ولوست، بیا یې صحابه کرامو ته وویل: ایا تاسو پوهېږئ چې ستاسې رب څه ویلي دي؟

صحابه کرامو وویل: الله تعالی او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهېږي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: الله تعالی وایي یقیناً بدله د هغه چا چې ما پرې د توحید د عقیدې لرلو انعام او پېرزوینه کړې ده، نه ده مګر جنت دی[1].

علامه عبدالسلام د دې ایت تفسیر کې لیکلي چې د ابن عباس رضي الله تعالی عنهما روایت کې راغلي دي چې نښته بدله د هغه

[1] ابن کثیر. ټوک ۶ مخ: ۷۳

چا چې لااله الاالله وايي او عمل کوي په سنت د نبي صلی الله عليه وسلم مګر جنت دی، دا حديث خطيب شربيني ذکر کړی دی.

او فراء په معالم التنزيل کې په سند سره مرفوع حديث راوړی دی، چې رسول الله دا ايت ولوست بيا يې پوښتنه وکړه تاسې پوهېږئ چې ستاسې رب څه ويلي دي؟

دوی وويل: الله تعالی او د هغه رسول صلی الله علهي وسلم ښه پوهېږي.

بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: الله تعالی ويلي دي، چې نشته بدله د هغه چا چې ما انعام کړی دی، پر هغه باندې په توحيد سره مګر جنت دی[1].

له معاذ بن جبل رضي الله تعالی عنه څخه روايت دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: د جنت کونجي د (لَا إِلَـهَ إِلَّـا اللهُ) د کلمې شهادت دی.

امام احمد رحمه الله هم خپل مسند کې حديث ذکر کړی، چې الفاظ يې دا ډول دي.

(عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَفَاتِيحُ الْجَنَّةِ شَهَادَةُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ "[2])

((له معاذ بن جبل رضی الله تعالی عنه څخه نقل دي، چې رسول ل الله صلی الله وسلم ويلي: د جنت کونجي د (لَا إِلَـهَ إِلَّـا اللهُ) ګواهي کول دي.))

[1] احسن الکلام اتم يوک ۲۴۱ مخ.
[2] مسند أحمد ط الرسالة (۳۶ ۴۱۸).

په يو بل حديث کې وايي:

(عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مِفْتَاحُ الْجَنَّةِ الصَّلَاةُ، وَمِفْتَاحُ الصَّلَاةِ الطُّهُورُ»[1])

((له جابر بن عبد الله رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د جنت کیلي لمونځ او د لمونځ کیلي پاکوالی (طهارت) دی. ))

امام بخاری رحمه الله صحیح البخاري کې نقل کړي دي، چې وهب بن منبه ته وویل شول: ایا (لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ) د جنت کونجي نه ده؟

وهب رحمه الله وویل: هو؛ د جنت کونجي ده، خو داسې کونجي نه وي چې د هغې لپاره دې غاښونه نه وي، که چېرې داسې کونجي راوړې چې هغه غاښونه ولري، د جنت دروازه به درته پرانیستل شي او که د کونجي غاښونه نه وي، نو بیا به پرې د جنت دروازه نه خلاصېږي.

انس رضي الله تعالی عنه وايي، یو کلیوال سړي له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه، چې د جنت کونجي څه شی ده؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: (لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ).

علامه ابن القیم رحمه الله د معاذ بن جبل رضي الله عنه په روایت صحیح مرفوع حدیث ذکر کړی دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم معاذ ته وویل: ایا د جنت له دروازو څخه یوه دروازه تا ته ونه ښایم؟

معاذ وايي ما وویل: هو، راته یې وښایاست.

[1] مسند أحمد مخرجا (۲۳ / ۲۹).

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: (لاحول ولاقوة الا بالله).
د حدیث له الفاظو څخه وروسته ابن القیم رحمه الله وایي د هر مطلوب او هدف لپاره الله تعالی یوه کونجي ټاکلې وي، چې هغې باندې پرانیستل کیږي، نو د لمانځه لپاره یې اودس کونجي ګرځولې ده.
لکه څرنګه چې ابوداود، ابن ماجه، ترمذي، دارمي، مسنداحمد حدیث نقل کړي رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: اودس د لمانځه کونجي ده.
احرام یې د حج کونجي ګرځولې ده، صدقه یې د نېکۍ کونجي، توحید یې د جنت کونجي، ښه پوښتنه یې د علم کونجي. صبر یې د نصر او بریالیتوب کونجي، محبت او ذکر یې د الله جل جلاله د دوستۍ کونجي، تقوا (وېره) یې د فلاح او نجات کونجي، رغبت او رهبت یې د توفیق کونجي، دعا د اجابت او دنیاوي زهد یې اخرت ته د رغبت کنجي ګرځولې ده او د تفکر وړ څیزونو کې فکر او غور کول د ایمان کونجي ده.
د زړه له تله اسلام، مینه، کینه، د یو کار کول او پرېښودل یې د الله تعالی رضا لپاره او اخلاص الله تعالی ته د نږدې کېدلو کونجي ده، قرآن کریم کې تدبر، د سهار پرمهال الله تعالی ته عاجزي او د ګناهونو پرېښودل د زړونو د ژوندي کېدلو کونجي ده.
د خالق عبادت او د مخلوق د روا ګټو لپاره خدمت د الله تعالی د رحمت او احسان کونجي ده، د استغفار او تقوا غبرګه هڅه د رزق کونجي ده.
د الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم طاعت د عزت کونجي

ده، لنډ امېد ساتل د اخرت لپاره د استعداد او تيارۍ کونجي ده، په ټوليزه ول د الله تعالی او اخرت لوري ته رغبت د هر خير کونجي ده او د دنيا مينه او اوږد امېد ساتل د هر شر کونجي ده.

الله تعالی د هر خير او شر لپاره کونجياني ګرځولي دي او داسې دروازه چې د هغې په وسيله هغه خير يا شر ته انسان ورننوځي.

وړاندې د خير د چارو خزانو ته د ننوتلو لپاره د يو شمېر کونجيانو يادونه وشوه، دلته د بېلګې په توګه د شر چارو ته د رسېدا د يو شمېر کونجيانو يادونه کوو. د دې لپاره چې مؤمن ترې ځان وژغوري.

د الله تعالی له ياد څخه غفلت، بې خبري، د ايمانياتو، الهی احکامو څخه مخ اړول، شرک او کبر د دوزخ د اور کونجي ده، د هرې ګناه کونجي شراب دي. فساد او ګمراهي (بې لارېتوب) د زنا کونجي ده.

شکلونو (انځورونو) ته ډېر ژور ليدل او نظر پرې تم کول د طلب او عشق کونجي ده، تنبلي او راحت د محروميت کنجي ده، معاصی او ګناهونه د کفر کونجي ده. دروغ د نفاق کونجي ده.

بُخل، حرص د رحم او اړيکو پرېکول، په غاصبانه او ناسمه ول مال لاسته راوړل، د بُخل کونجي ده.

په ټوليزه ول د رسول الله صلی الله عليه وسلم له شريعت او راوړي دين څخه مخ ګرځول د هر بدعت او ګمراهۍ (بې لارۍ) کونجي ده[1].

---

[1] حادی الارواح الی بلاد الافراح ۹۲ مخ.

# د جنت درجې

(لَاَّ يَسْتَوِي ٱلْقَاعِدُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُوْلِي ٱلضَّرَرِ وَٱلْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فَضَّلَ ٱللَّهُ ٱلْمُجَاهِدِينَ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ عَلَى ٱلْقَاعِدِينَ دَرَجَةً وَكُلًّا وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلْحُسْنَىٰ وَفَضَّلَ ٱللَّهُ ٱلْمُجَاهِدِينَ عَلَى ٱلْقَاعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا﴿٩٥﴾ دَرَجَاتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَرَحْمَةً وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا﴿٩٦﴾ سورت النساء)

ژباړه:((له مسلمانانو څخه هغه کسان چې بې عذره په خپلو کورونو کې ناست دي او هغه کسان چې د الله په لار کې په سر او مال جهاد کوي، د دواړو حیثیت یو شان نه دی. الله د ناستو په پرتله د هغو کسانو درجه چې په سر او مال جهاد کوي، ډېره لوړه ګرځولې ده. که څه هم له هر یوه سره الله د ښېګڼې وعده کړې ده، خو د هغه په وړاندې د مجاهدینو د خدمتونو بدله له ناستو کسانو څخه ډېره زیاته ده. د هغو لپاره د الله له خوا سترې درجې دي او ښښنه او رحمت دی او الله لوی ښښونکی او رحم کوونکی دی.))

ډېرې درجې له طرفه د الله تعالی نه او ښښنه کول او خاص رحم او دی الله تعالی ښښنه کوونکی او رحم کوونکی.

(أَفَمَنِ ٱتَّبَعَ رِضْوَانَ ٱللَّهِ كَمَنۢ بَآءَ بِسَخَطٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَمَأْوَاهُ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ﴿١٦٢﴾ هُمْ دَرَجَاتٌ عِندَ ٱللَّهِ وَٱللَّهُ بَصِيرٌۢ بِمَا يَعْمَلُونَ﴿١٦٣﴾ سورت ال عمران)

ژباړه:((ښه نو دا څنګه کېدای شي، چې یو څوک تل د الله په خوښه روان وي هغه دې د هغه چا غوندې کار وکړي، چې د الله پر غضب اخته

شوی وي او د هغه وروستی منزل دوزخ وي، چې هغه ډېر ناکاره استوګنځی دی؟ د الله په وړاندې په دې دواړو ډوله خلکو کې پر درجو توپير دی او الله د ټولو د عملونو ليدونکی دی.))

﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٢﴾ الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ ﴿٣﴾ أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا لَّهُمْ دَرَجَاتٌ عِندَ رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴿٤﴾﴾ (سورت الانفال)

ژباړه:((رښتيني مؤمنان هغه دي، چې د هغو زړونه د الله د ياد په اوريدلو لړزېږي او کله چې د هغو په وړاندې د الله ايتونه لوستل کېږي نو د هغو ايمان زياتېږي او هغوی پر خپل رب اعتماد لري. هغه کسان چې لمونځ قايموي او څه چې موږ هغو ته ورکړي دي، له هغو څخه (زموږ په لار کې) لګوي. همداسې خلک حقيقي مؤمنان دي. د هغو لپاره د هغو له رب سره لوېې درجې دي، له ګناهونو څخه تېرېدنه او ډېره غوره روزي ده.))

﴿وَمَن يَأْتِهِ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ الصَّالِحَاتِ فَأُولَٰئِكَ لَهُمُ الدَّرَجَاتُ الْعُلَىٰ ﴿٧٥﴾ جَنَّاتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَذَٰلِكَ جَزَاءُ مَن تَزَكَّىٰ ﴿٧٦﴾﴾ (سورت طه)

ژباړه:((او څوک چې د هغه حضور ته د مؤمن په حيثيت ورشي، چې ښه عملونه يې کړي وي، د دغه راز ټولو خلکو له پاره لوړې درجې دي. سمسور بې خزانه باغونه دي، چې تر هغو لاندې به ويالې بهېږي، په هغو کې به د تل له پاره هغوی اوسېږي دا د هغه چا مکافات دي، چې سپېڅلتيا يې غوره کړې.))

ابو سعید الخدری رضي الله تعالی عنه وایي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: یقیناً جنتیان به بالاخانو والا خلک هغوی چې له دوی بره دي، داسې وینې لکه څرنګه چې تاسې ځلېدونکي ستوري د ختیځ یا لوېدیځ افق (غاړو) کې وینئ. د دوی د خپل منځي او غوره والی به د مراتبو توپیر سره اړیکه لري او دا به جنتیانو کې موندل کېږي.

صحابه کرامو وویل: یا رسول الله دا خو د نبیانو کورونه دي، چې له هغوی پرته نور څوک به هغو ته نه رسېږي؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: هو، زما دې پر هغه ذات باندې قسم وي چې زما روح د هغه په لاس کې دی، هغه کسان به دې کورونو او مرتبو ته هم رسېږي، چې الله تعالی باندې یې ایمان راوړی وي او د رسولانو تصدیق او تایید یې کړی وي.

سهل بن سعد رضي الله تعالی عنهما وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: یقیناً جنتیان به جنت کې اهل الغرف (د بالاخانو والا) یو بل داسې وینې لکه څرنګه چې تاسې ځلېدونکي ستوري د اسمان غاړو کې وینئ.

ابو سعید الخدری رضي الله تعالی عنه وایي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د الله د رضا لپاره مینه کوونکي به په جنت کې خپلې بالاخانې داسې وینې لکه د ختیځ یا لوېدیځ پلو کې راختونکي ستوري، وبه ویل شي دا څوک دي؟

ځواب کې به وویل شي: دا هغه کسان دي، چې د الله تعالی په لاره کې د الله د رضا او خوښۍ لاسته راوړنې لپاره به یې خپلو

منځو کې يو بل سره مينه کوله[1].

همدا راز، د ده په روايت بل حديث کې راغلي، په جنت کې سل درجې دي که چېرې ټول مخلوق پکې رايوځای شي، نو بسنه به ورته وکړي.

معاذ بن جبل رضي الله تعالی عنه وايي له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه مې واورېدل ويل يې: څوک چې پنځه لمونځونه ادا کړي، د رمضان د مياشتې روژې ونيسي، د ده پر الله تعالی باندې دا حق دی، چې بښنه به ورته وکړي، برابره خبره ده، که هجرت يې کړی وی يا په هغه ځای کې ناست پاتې شوی وي، کوم ځای چې دی پيدا شوی وي. معاذ رضی الله تعالی عنه وايي، ما رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وويل: يا رسول الله! ايا بهر ته ونه وځم، چې دا زېرى خلکو ته ووايم؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: نه، خلک پرېږدئ، چې اعمال وکړي.

او په يقيني ډول په جنت کې سل درجې دي د هرو دوو درجو ترمنځ فاصله د ځمکې او اسمان ترمنځ د فاصلې په کچه ده.

فردوس يې تر ټولو ستره درجه ده او پردې باندې د الله تعالی عرش دی، دا د جنت منځنۍ برخه ده او له همدې څخه د جنت نهرونه بهېږي او کله چې له الله تعالی څخه سوال کوئ، نو جنت فردوس ورڅخه غواړئ[2].

---

[1] صفة الجنة في القرآن الكريم

[2] حادي الارواح ۷۰مخ صفة الجنة ۱۴۳مخ

# د جنت تر ټولو لويه درجه

عمرو بن العاص رضي الله تعالى عنهما د رسول الله صلى الله عليه وسلم حديث نقل کړی دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: کله چې تاسې له مؤذن څخه اذان واورېد، نو تاسې هم هغه کلمات چې مؤذن يې وايي ووايي، بيا پر ما باندې درود ووایاست، ځکه څوک چې پر ما باندې يو ځل درود ووايي، الله تعالى پر هغه باندې لس ځلې درود (رحمت) لېږي.

بيا زما لپاره د وسيلې غوښتنه وکړئ، وسيله په جنت کې يوه داسې درجه ده، چې مناسبه نه ده مګر يوازې د الله د بنده ګانو څخه يو بنده لپاره او زه دا هيله لرم چې هغه به زه يم، پس چا چې زما لپاره وسيله وغوښتله نو هغه لپاره زما شفاعت واجب شو.

امام احمد بن حنبل رحمه الله د ابو هريرة رضي الله تعالى عنه په روايت بل مرفوع حديث روايت کړی دی، کله چې تاسې لمونځ کوئ، نو له الله تعالى څخه زما لپاره وسيله وغواړئ.

چا پوښتنه وکړه: يا رسول الله څه ډول وسيله؟!

رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل:

د جنت تر ټولو لويه درجه چې هغې ته به يو سړی ور رسېږي او زما دا هيله ده، چې هغه به زه يم.

همدا راز مسند احمد د ابو سعيد الخدري رضي الله تعالى عنه په روايت بل حديث نقل کړی، رسول الله صلى الله عليه وسلم

ويلي: وسيله د الله تعالى په وړاندې يوه داسې درجه ده، چې د هغې پورته بله درجه نشته، نو تاسې زما لپاره الله تعالى څخه د وسيلې غوښتنه وکړئ.

عائشه رضي الله تعالى عنها وايي، يو سړى رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغى، ويې ويل: يا رسول الله صلى الله عليه وسلم پر الله تعالى سوګند کوم، چې تاسې راته له خپل ځان، له خپلې کورنۍ او له خپلو بچيانو څخه هم زيات ګران ياست، زه چې کله کور کې يم او ته راته ياد شې تر هغې چې تا ته رانشم او تا ونه وينم، صبر مې نه کېږي او کله چې خپل او ستاسې مرګ ياد کړم.

نو دا راته معلومه شي، چې تاسې به جنت ته ننوځئ او د نورو نبيانو سره به بره لاړ شئ او که زه چېرې جنت ته ننوځم، دا وېره او انديښنه راسره ده چې تاسې به ونه وينم.

رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ته ځواب ورنه کړ، تر دې چې جبرائيل عليه السلام له دې ايت سره راغى:

وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ فَأُوْلَـٰٓئِكَ مَعَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّـٰلِحِينَ وَحَسُنَ أُوْلَـٰٓئِكَ رَفِيقًا ﴿٦٩﴾ سورت النساء)

ژباړه: ((څوک چې د الله او پيغمبر اطاعت وکړي دوى به د هغو خلکو ملګري وي، چې پر هغو الله پېرزوينه کړې ده؛ يانې پيغمبران، صديقان، شهيدان او صالحان څومره ښه ده، د هغو ملګرتيا چې چا ته په برخه شي.))

# د زوی په دعا د درجو اوچتوالی

امام احمد بن حنبل رحمه الله د ابو هریره رضي الله تعالی عنه په روایت حدیث نقل کړی دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:

یقیناً الله تعالی به د خپل صالح (نېک) بنده لپاره جنت کې درجه لوړه کړي.

دی به ووایي:

دا زما درجه او مرتبه په څه لوړه شوه.

الله تعالی به ورته ووایي:

ستا د زوی له خوا نه تا لپاره د دعا او بښنې غوښتلو له امله ستا درجه او مرتبه لوړه شوه.

# خلورم څپرکی

## د الله تعالی او د بنده ګانو ترمنځ تړون

(إِنَّ ٱللَّهَ ٱشْتَرَىٰ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ ٱلْجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِى ٱلتَّوْرَاةِ وَٱلْإِنجِيلِ وَٱلْقُرْءَانِ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِۦ مِنَ ٱللَّهِ فَٱسْتَبْشِرُوا۟ بِبَيْعِكُمُ ٱلَّذِى بَايَعْتُم بِهِۦ وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿۱۱۱﴾ سورت التوبة)

ژباړه:((حقیقت دا دی، چې الله له مؤمنانو څخه د هغوی نفسونه او د هغوی مالونه د جنت په بدله کې پېرلي دي. هغوی د الله په لار کې جنګېږي، نو وژني او وژل کېږي. له هغو سره (د جنت وعده) د الله پر ذمه یوه کلکه پخه وعده ده. په تورات او په انجیل او قرآن کې او څوک دی چې له الله نه زیات د خپلې ژمنې پوره کوونکی وي. نو خوښ اوسئ په خپلې دغې سودا چې تاسې له الله تعالی سره کړې ده، همدا تر ټولو ستر بریالیتوب دی.))

ابو هریره رضي الله تعالی عنه وایي، یو کلیوال سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی، ویې ویل: یا رسول الله داسې عمل راته وښایه چې د هغه په کولو سره جنت ته د ننوتلو وړ وګرځم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: د الله تعالی بندګي کوه او له هغه سره شرک مه کوه، د لمانځه پابندي کوه او فرض زکاة

ورکوه او د رمضان د میاشتې روژې نیسه.

هغه سړي وویل: په هغه ذات سوګند کوم، چې زما روح د هغه په لاس کې دی، په دې به هېڅکله څه شیز نه زیاتوم او نه به یې ورڅخه کم کړم.

کله چې هغه سړی روان شو، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: څوک چې دا خوښ ګڼي، چې له جنتیانو څخه یو کس ته وګوري، نو دې سړي ته دې وګوري.

صحیح مسلم کې د جابر رضي الله تعالی عنه نه نقل دي وايي، نعمان د قوقل زوی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی، ویې ویل: یا رسول الله! پر دې باندې مې پوه کړه، کله چې زه فرض لمونځ ادا کړم، حرام حرام وګڼم او حلال حلال، ایا زه به جنت ته ننوځم؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: هو!

عثمان بن عفان رضي الله تعالی عنهما وايي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: څوک چې په داسې حالت کې مړ شي چې پر دې باندې پوهېږي چې له الله تعالی څخه پرته بل د بنده ګۍ لایق نشته، نو هغه به جنت ته ننوځي.

معاذ بن جبل رضي الله تعالی عنه وايي له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې اورېدلي دي، ویل یې: د چا چې وروستۍ وینا لااله الا الله وي، هغه به جنت ته ننوځي.

صحیح مسلم کې راغلي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ابوهریره رضي الله تعالی عنه ته خپلې څپلۍ ورکړې وې او ورته یې ویلي و، چې دا زما څپلۍ له ځان سره واخله او څوک چې

درسره د دې باغ د دېوال هاخوا مخامخ شي او د لااله الاالله ګواهي کوي او پردې باندې يې زړه پوره کلک او يقيني وي، نو هغه ته پر جنت باندې زيرى ورکړه.

همداراز روح بن عباده د حبيب بن الشهيد نه، هغه له حسن نه نقل کوي چې د جنت قيمت د (لااله الاالله) کلمه ده.

جابر رضي الله تعالى عنه ويلي، له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې واورېدل، ويل يې:(له تاسې نه يو کس به جنت ته د هغه عمل داخل نه کړي او نه به يې خپل عمل له اور نه وساتي او زه به هم جنت ته داخل نشم، مګر د الله تعالى د توحيد د عقيدې په لرلو ) دا خبره يو څه روښانتيا ته اړتيا لري، هغه دا چې جنت ته ننوتل د الله تعالى په رحمت سره دي.

يوازې د بنده عمل جنت ته د ننوتلو لپاره خپلواک حيثيت نه لري، که څه هم د سبب په ډول پېژندل کېږي، د همدې له امله الله تعالى جنت ته په اعمالو سره ننوتلو ته قرآن کريم کې د (بما کنتم تعملون - کلمو ) سره اشاره کړې او سببيت يې ثابتوي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيا په عملونو سره جنت ته ننوتل داسې نفې او تعبير کوي، وايي: هېڅکله به له تاسې نه څوک د خپل عمل په وسيله جنت ته لاړ نه شي.

اسلامي عالمانو ليکلي:

د دې دواړو امرونو ترمنځ ضد او منافات نشته

لومړى دا چې سفيان رحمه الله او ځينې نور په دې نظر دي، چې له اور نه نجات د الله تعالى په عفوه دى او جنت ته ننوتل د الله

تعالی په رحمت سره دي او د منازلو او درجو وېش په اعمالو سره دی او په دې باندې د ابو هريره رضي الله تعالی عنه په روايت د رسول الله صلی الله عليه وسلم حديث دلالت کوي.. چې کله جنتيان جنت ته ننوځي، نو دوی ننوتل به جنت ته ددوی په غوره اعمالو سره وي، رسول الله صلی الله عليه وسلم د دې دواړو خبرو ترمنځ پيوستون په يو حديث کې داسې کړی: برابر شئ، يو بل ته نږدې شئ، خوشاله شئ او پوه شئ چې له تاسې نه يو کس ته به د هغه عمل نجات ورنه کړي.

اصحابو وويل: تاسې ته هم؟!

رسول الله صلی الله عليه وويل:

هو! ماته هم خپل عمل نجات نه شي راکولای؛ مگر هغه مهال چې الله تعالی مې خپل رحمت کې پټ کړي[1].

---

[1] حادی الارواح ۲۷۹مخ

# د جنت دعا

قرآن کریم د آل عمران سورت کې د بنده ګانو له جملې څخه د عقلمندو کسانو د وینا حکایت داسې کوي.

(رَبَّنَآ إِنَّنَآ سَمِعْنَا مُنَادِياً يُنَادِى لِلإِيمَانِ أَنْ آمِنُواْ بِرَبِّكُمْ فَآمَنَّا رَبَّنَا فَٱغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّئَاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ ٱلأَبْرَارِ﴿١٩٣﴾رَبَّنَا وَآتِنَا مَا وَعَدتَّنَا عليٰ رُسُلِكَ وَلاَ تُخْزِنَا يَوْمَ ٱلْقِيَامَةِ إِنَّكَ لاَ تُخْلِفُ ٱلْمِيعَادَ﴿١٩٤﴾ سورت ال عمران)

ژباړه:((لويه څښتنه! موږ د يو ناري وهونکي (پيغمبر) اواز واورېده چې د ايمان لوري ته يې بلنه ورکوله او ويل يې چې خپل رب ومنئ موږ د هغه بلنه ومنله. نو اى زموږ باداره! کومه ګناه چې له موږ څخه شوې ده، له هغې نه راتېرشه. کومې بدۍ چې په موږ کې دي هغه ايسته کړه او په پاى کې راته د غوره خلکو ملګرتيا را په برخه کړه. زموږ الله تعالى! کومې وعدې چې تا د خپلو رسولانو په وسيله راسره کړې دي. هغه له موږ سره ترسره کړه او د قيامت په ورځ موږ له رسوايۍ سره مه مخامخ کوه. په دې کې شک نشته چې ته له خپلو وعدو نه مخالفت کوونکى نه يې.))

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي، څوک چې له الله تعالى نه سوال نه کوي، الله تعالى په هغه باندې په غضب کېږي.

يو شاعر هم دې موضوع ته داسې اشاره کړې ده:

الله يغضب ان تركت سؤاله　　　وبنى ادم حين يساءل يغضب

ژباړه:((الله تعالى هغه مهال په قهر کېږي چې له هغه څخه سوال

کول پرېښودل شي او بني ادم هغه مهال په قهر کېږي چې کله تري سوال کېږي.))

پر همدې بنسټ اړينه ده، چې مسلمانان دې له الله تعالی څخه ښه او ښکلي سوالونه وکړي، ځکه الله تعالی د خپلو بنده ګانو په سوالونو خوشالېږي.

انس بن مالک رضي الله تعالی عنه نه روایت دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي نشته یو مسلمان چې درې ځلې له الله تعالی نه د جنت سوال وکړي، مګر جنت وایي: ای الله تعالی دا مسلمان جنت ته ننباسې. او څوک چې له اور نه په الله باندې درې ځلې پناه وغواړي د دوزخ اور وایي: ای الله تعالی! ده ته له اور نه خلاصي ورکړه.

سوال نه کوي یو بنده د الله نه د جنت؛ په ورځ کې اوه ځلې مګر جنت وایي: ای زما ربه! ستا فلانکی بنده ما له تا څخه غواړي، نو ماته یې راننباسه!

انس رضي الله تعالی عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث نقل کړی دی. الله تعالی به (د قیامت په ورځ) وایي زما د بنده دفتر وګورئ. څوک چې مو داسې ولید چې له مانه یې د جنت غوښتنه کړې وي (هغه وښایاست) چې جنت ورکړم او چا چې پر ما باندې له اور نه پناه غوښتلې وي، چې هغه ته د دوزخ له اور نه پناه ورکړم.

# تر ټولو لومړی امت چې جنت ته به ننوځي

عمربن الخطاب رضي الله تعالی عنه د حديث راوي دی رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: جنت پر ټولو پيغمبرانو باندې تر هغه وخت پورې حرام کړای شوی دی، تر هغه چې زه ورته ننوځم او پر ټولو امتونو باندې تر هغه وخت پورې حرام دي، چې زما امت هغه ته نه وي ننوتی.

علامه ابن القيم الجوزيه رحمه الله ليکلي:

دا امت به تر ټولو امتونو مخکې له ځمکې راپورته کېږي، د حشر په ميدان کې به لوړ ځای ته تر ټولو وړاندې تلونکی امت به هم دا امت وي.

دا هم د الله تعالی د مهربانۍ او پېرزوينې ښکارندويي کوي، چې تر ټولو امتونو مخکې به د دې امت ترمنځ د فيصلو لړۍ پيلېږي.

د صراط پر پله به تر نورو امتونو وړاندې دا امت تېرېږي او تر نورو امتونو څخه به وړاندې جنت ته هم ننوځي پر همدې بنسټ جنت پر نورو نبيانو باندې تر هغه وخت پورې حرام دی، چې محمد صلی الله عليه وسلم هغه ته ننوتی نه وي او پر نورو امتونو باندې تر هغه وخت پورې حرام دی، چې د محمد صلی الله عليه وسلم امت نه وي داخل شوی.

امام ابوداود رحمه الله د ابو هريره رضي الله تعالی عنه په روايت

مرفوع حدیث نقل کړی[۱].

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: جبرائیل علیه السلام راغی زما لاس یې ونیو ماته یې د جنت هغه دروازه وښوده چې زما امت له کومې دروازې جنت ته ننوځي ابوبکر رضي الله تعالی عنه وویل: یا رسول الله! زما دا خوښېږي چې زه هم له تاسې سره وای او هغه دروازه مې لیدلی وای.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: ابوبکره! ته هغه څوک یې چې زما له امت څخه به لومړی جنت ته ننوځې.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي، موږ سابقون الاولون یانې مخکې کېدونکي ایمان ته چې لومړي یاستو، پرته له دې چې پخوانیو امتونو ته له موږ نه وړاندې کتابونه ورکړل شوي دي. او موږ ته کتاب له هغوی نه وروسته راکړل شوی دی.

یانې یوازې هغوی له موږ نه په دې قدر کې مخکې دي، چې زموږ نه وړاندې هغوی ته کتابونه ورکړل شوې دي.

همدارازصحیحینو کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث راغلی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: موږ لومړني خلک یاستو، چې جنت ته به تر ټولو امتونو وړاندې ننوځو پرته له دې چې هغوی ته کتابونه له موږ نه مخکې ورکړل شوي دي او موږ ته وروسته راکړل شوي دي[۲].

# د رسول الله صلی الله علیه وسلم له امت څخه جنت ته وراندې تلونکي کسان

د ابو هريرة رضي الله تعالی عنه په روايت د رسول الله صلی الله عليه وسلم صحيح حديث كې راغلي، لومړنۍ ډله چې جنت ته ننوځي شكلونه به يې د ښكلا او ځلا له مخې د څوارلسم د سپوږمۍ په څېر وي.
ياني د څوارلسمې شپې د سپوږمۍ په څېر به يې مخونه او څېرې روښانه ځلېږي، كوم چې له دوی نه وروسته ننوځي د هغوی مخونه به د آسمان د ستورو په څېر روښانه ځلېږي. د ټولو جنتيانو زړونه به د يو جنتي په څېر وي، د دوی ترمنځ به هېڅ اختلاف نه وي او نه به د دوی په منځ كې څه كركه او كينه وي. د هر يو جنتي لپاره به له جنتي مېرمنو څخه دوه داسې مېرمنې وي، چې د زيات حسن او ښكلا له امله به يې د غوښې تر شاه د پښو د پنډيو مغز ليدل كېږي. جنتيان به سبا او بېګاه كې د الله تعالی پاكي وايي دوی به نه ناروغه كېږي، نه به لوی او واړه بول كوي، نه به لاړې توكي او نه به پوزې سوڼ كوي. د هغوی لوښي به د سرو او سپينو زرو وي. د هغوی ږمنځې به د سروزرو وي. د هغوی د انګيټيو خشاك به اګر (يو ډول خوشبويه لرګی) وي، د هغوی خوله به د مشكو په څېر خوشبويه وي. ټول جنتيان به د يو سړي په څېر عادت، سيرت او اخلاق لري او ټول به خپل پلار آدم عليه السلام

ته ورته او شپېته ګزه اوږد قد به لري[1].

امام ترمذي د بريدة بن الحصيب په روايت حديث نقل کړی، دی وايي يوه ورځ سهار کې رسول الله صلى الله عليه وسلم بلال رضي الله تعالى عنه راوغوښت او ورته يې وويل: بلاله! په کوم عمل باندې له ما څخه جنت ته مخکې شوی يې؟ زه کله هم جنت ته نه يم ننوتی؛ مګر ستا د پښو ترپ وتروپ مې اورېدلی. نن شپه جنت ته تللی وم، له ځانه مخکې مې ستا د پښو کشار او غږ واورېده، بيا يوې مربع ډولې بنګلې ته راغلم، چې له سرو زرو نه جوړه وه، ما وويل دا بنګله د چا ده، راته وويل شو دا د عمر بن الخطاب رضي الله تعالى عنه بنګله ده.

بلال وويل: هر وخت چې ما اذان کړی دی، بيا مې دوه رکعته لمونځ کړی دی او کله چې ما ته بې اودسي پېښه شوې ده، فوراً مې اودس کړی دی او دا مې منلې چې د الله تعالى لپاره پر ما باندې دوه رکعته لمونځ لازم دی.

رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: سمه ده د همدې عمل له امله ته جنت کې تر ما مخکې يې.

د دې حديث نه مقصد دا دی، چې د بلال مخکې کېدل دا سې دي، لکه د څوکيدار او خدمتګار مخکې کېدل. دا په دې دلالت نه کوي، چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه به بل څوک جنت ته مخکې ننوځي، بلکې د بلال مخکې کېدل د رسول الله صلى الله عليه وسلم د کرامت، شرافت او غوره والي ښکارندويې کوي او

---

[1] حادى الارواح ۱۰۲مخ. مظاهر حق ۳۴۳ –ج۹.

دا مخکېوالی او داسه او جومات ته د مخکې کېدلو زېرنده او لاسته راوړنه ده.

سعید بن جبیر رضي الله تعالی عنه د عبدالله بن عباس رضي الله تعالی عنهما په روایت حدیث نقل کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: لومړني خلک چې د قیامت په ورځ به جنت ته وبلل شي، د الله تعالی حمد او ثنا ویونکي کسان به وي چې په خوشالۍ، خپګان، پراخۍ او تنګسه کې به یې د الله تعالی حمد اداکاوه.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: له خپل امت څخه راته درې هغه کسان وړاندې کړای شو، چې دوی به له نورو څخه وړاندې جنت ته ننوځي او همدا راز هغه درې کسان راته هم وښودل شو، چې له نورو څخه وړاندې جهنم ته ننوځي.

جنت ته په لومړیو ننوتونکو کې شهید، هغه غلام چې د دنیا (غلامۍ) د خپل حقیقي رب له طاعت او عبادت نه بند کړی نه وي او هغه فقیر چې د اهل و عیال څښتن وي او له سوال کولو نه ځان ساتي.

دوزخ ته لومړیو ننوتونکو کسانو کې مسلط امیر، هغه د ثروت او شتمنۍ څښتن چې د الله تعالی او فقیرانو حق ترې نه ادا کوي، همدا راز هغه فقیر چې فخور او کبرجن وي[1].

# جنت ته انسان په څه ننوزي؟

دا يو ښکاره حقيقت دی، چې جنات النعيم د الله تعالی په رحمت فضل او کرم موندل کيږي.

امام بخاري رحمه الله د رسول الله صلی الله عليه وسلم صحيح حديث نقل کړی، هغه صلی الله عليه وسلم ويلي هيڅ يو کس به د خپل عمل په مټ جنت ته داخل نه شي، صحابه کرامو وويل:

او تاسې هم يا رسول الله؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل:

هو زه هم مګر دا که الله تعالی مې په خپل فضل او رحمت کې پټ کړي.

علامه ابن حجر رحمه الله د صحيح البخاري شرح کې ليکلي:

د الله تعالی رحمت بنده ته د نيک عمل توفيق او طاعت طرف ته هدايت دی[1].

---

[1] بخاري. فتح الباري ابن حجر- باب تمني المريض للموت. صفة الجنة في القرآن الكريم. مخ ۲۹

# فقیران به له شتمنو مخکې جنت ته ځي

ابو هریره رضي الله تعالی عنه د حدیث راوي دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د مسلمانانو فقیران به جنت ته له شتمنو څخه نیمه ورځ وړاندې ننوځي. او نیمه ورځ **۵۰۰** کاله ده.

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: دوه تنه مؤمنان به د جنت دروازه کې سره یوځای او مخامخ شي. یو له دې دواړو به مؤمن شتمن او بل به یې مؤمن فقیر وي چې دا دواړه په دنیا کې و. فقیر مؤمن به جنت ته داخل شي او شتمن مؤمن به تر هغې جنت ته له ننوتلو څخه منع کړای شي تر کوم وخت پورې چې د الله تعالی خوښه وي. څه موده وروسته به جنت ته ننوځي.

او له فقیر سره به مخامخ شي فقیر به ورته ووایي: وروره! څه شي هومره ایسار کړې؟ په الله! سوګند هومره ایسار شوې چې ماته ستا په اړه اندېښنه پیدا شوه.

شتمن مؤمن به ووایي: وروره! له تانه وروسته په داسې سخت ویروونکي او نااشنا بند سره بندي او ایسار کړای شوم چې تا ته د دومره خولو له تویېدلو نه وروسته رارسېدلی یم. که چېرې زر تږي اوښان چې تېولو تروه ګیاه خوړلي وي، راغلی وای: نو له دې خولو نه به ماړه وتلی وای[1].

[1] **یادونه**: د حدیثو د علم څېنو پوهانو د دې حدیث سند کمزوری ښودلی.

## جنت ته لومړی ننوتونکی به څوک وي؟

انس بن مالک رضي الله تعالی عنه وايي. رسول الله صلی علیه وسلم ویلي: زه به لومړنی هغه څوک یم، چې د جنت د دروازې کړۍ به ونیسم او پردې باندې ویاړ نه کوم.

علي بن زيد رحمه الله له انس رضي الله تعالی عنه څخه اوږد حدیث نقل کړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: زه به د جنت د دروازې کړۍ ونیسم او وبه یې ټکوم.

علامه ابن القیم رحمه الله وايي: دا حدیث په دې مسئله صریح (څرګند) دلیل دی، چې د جنت د دروازې کړۍ به حسي وي خوځېږي به او هم به ټکېږي.

ابو هریره رضي الله تعالی عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم وینا نقل کړې. رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: زه به د جنت د دروازې کړۍ ونیسم بیا به ماته اجازه راکړی شي[1].

امام مسلم رحمه الله د انس رضي الله تعالی عنه په روایت بل حدیث نقل کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: زه به د قیامت په ورځ د جنت دروازې ته راشم د دروازې د پرانیستلو خبره به وکړم، د جنت (خازن) څوکیدار به وو ايي: ته څوک یې؟

زه به وایم زه محمد یم، هغه به وو ايي ماته حکم شوی دی چې زه به له تا څخه مخکې چاته دروازه نه پرانېزم[2].

---

[1] حادی الارواح، مخ ۵۵

[2] اسلامي ژوند تګلاره، مخ ۱۴۳

# د رسول الله صلی الله علیه وسلم د امت لپاره د جنت ځانګړې دروازه

څرنګه چې جنتونه بېلابېلې درجې لري ځینې یې د ځینو له پاسه دي، دروازې به یې هم همدا ډول وي له ټولو څخه د عالي او لوړ جنت دروازه به د هغه جنت د دروازې له پاسه وي چې د عالي جنت څخه لاندې وي څرنګه چې جنت څومره لوړېږي نو سم ورسره پراخه کېږي.

عالي جنت به له هغه جنت څخه ډېر پراخ وي، کوم چې له دې لاندې وي، د دروازو پراخوالی به هم د جنت د پراختیا په کچه وي، ځینې به له ځینو نورو لوړې او پراخې وي. او د دې امت لپاره به د نورو امتونو پرته ځانګړې دروازه وي.

امام ترمذي رحمه الله د ابن عمر رضي الله تعالی عنهما په روایت حدیث نقل کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د جنت د هغې دروازې پلنوالی چې زما امت به پرې جنت ته ننوځي د یو سپاره (سپور) شخص د درې کلونو د مزل په اندازه وي.

بیا هم د دروازې د دومره پراخوالي سره سره جنت ته ننوتونکي به د تنګۍ احساس کوي تر دې چې د هغوی اوږې به له یو بل سره جنګېږي.

همدا راز ابو هریره رضي الله تعالی عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه حدیث نقل کړی، چې ویلي یې دي: جبرئیل علیه السلام ما ته راغی او د جنت هغه دروازه یې راته وښودله، چې زما امت به له هغې څخه جنت ته ننوځي[1].

---

[1] دا حدیث حادي الارواح ۵۶مخ او مظاهر حق ټوک ۹، مخ ۳۲۲ کې، نقل کړی.

ژباړه:((او کومو کسانو چې د خپل رب له نافرمانۍ نه ډډه کوله هغوی به ډلې ډلې د جنت خواته بوتلل شي. تر دې پورې کله چې هغوی هلته ورسېږي او د هغه دروازې به لا د مخه پرانیستل شوې وي نو د هغه منتظمین به هغو ته ووایي چې، سلام دې وي پر تاسې، ډېر ښه راغلئ، ننوځئ په ده کې د تل لپاره.))

انس رضي الله تعالی عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم مرفوع حدیث نقل کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي، زه به د قیامت په ورځ د جنت دروازې ته راشم، بیا به د دروازې د ببرته کولو غوښتنه وکړم، د جنت څوکیدار به ووایي: تاسې څوک یاست؟

زه به وایم: محمد یم.

څوکیدار به ووایي: هو! ماته امر شوی چې زه به له تا وړاندې هیچا ته د جنت دروازه نه پرانېزم.

الله تعالی د جنت د څوکیدارانو مشر په (رضوان) نومولی او دا نوم د رضانه اخیستل شوی دی او د دوزخ څوکیدار په مالک نومول شوی دی او مالک د ملک نه اخیستل شوی دی، د قوة او سختۍ مانا لري.

# لومړی به د جنت دروازه څوک ټکوي؟

لکه څرنګه چې تېرو برخو کې هم دې خبرې ته اشاره شوې وه. چې د جنت دروازه به تر ټولو وړاندې جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ببرته کېږي او دا به د محمد صلی الله علیه وسلم د لوړې رتبې او ځانګړې سپېڅلې شخصیت د ثبوت او مقام د تثبیت لپاره زرین اصل وي. محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم به د همدې اصل د ثابتولو لړ کې ویل: زه به لومړی هغه کس یم. چې د جنت دروازه به پرانېزم پرته له یوې مېرمنې څخه چې هغه به تر ما وړاندې جنت ته ننوځي. زه به هغې ته ووایم تا څه کړي دي او ته څوک یې؟

هغه به وایي زه یوه داسې مېرمن یم. چې یتیمان او د هغوی پالنه زما په غاړه وه (کونډه وم).

امام ترمذي رحمه الله د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په روایت یو حدیث نقل کړی که څه هم چې ضعیف الاسناد دی.

یوه ورځ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو یوه ډله ناسته وه د محمد صلی الله علیه وسلم انتظار یې کاوه. رسول الله صلی الله علیه وسلم له کوره ووت او د هغوی څنګ ته نږدې ورسېد له هغوی څخه یې هغه خبرې واورېدلې په کومو کې چې هغوی خپل منځي مباحثې پیل کړې وې.

ځينو وويل: نا اشنا خبره ده الله تعالی له ټولو خلکو څخه ځان لپاره ابراهيم عليه السلام خليل يانې دوست غوره کړی دی.
له هغوی څخه يو بل وويل: دا خبره د تعجب وړ نه ده، موسی عليه السلام يې خپل کليم نومولی او له هغه سره يې خبرې کړې دي.
ځينو نورو وويل: له دې زيات د تعجب وړ خبره دا ده، چې عيسی عليه السلام يې د کلمة الله په امتيازي مقام نازولی او د روح نسبتي مزی يې الله تعالی خپل لور ته غځېدلی ياد کړی دی.
له ناستو کسانو ځينو ادم عليه السلام د تعجب او حيرانتيا وړ وښود، په دې مانا چې الله تعالی هغه ته غوره والی ورکړی.
رسول الله صلی الله عليه وسلم له ټولو خبرو-اترو وروسته هغوی ته ورننوتې شو. لومړی يې پر هغوی سلام واچاوه، بيا يې وويل: ((ما ستاسې خبرې واورېدې ستاسې د تعجب دا خبرې مې هم واورېدې، چې د ابراهيم، موسی، عيسی او ادم عليهم السلام په اړه مو کولې. ستاسې خبرې سمې دي، حقيقت هماغسې دی په کومو امتيازي لقبونو او نازونو چې تاسې ياد شوي پيغمبران ياد کړل. د دوی مقامونه په حقيقت کې همداسې لوړ او عزتمن دي (واورئ) خبر شئ! انا حبيب الله ولا فخر (زه د الله تعالی دوست او ملګری يم او په دې فخر نه کوم).
زه لومړی شفاعت کوونکی يم او لومړی هغه شفاعت کوونکی يم، چې شفاعت به مې د قيامت په ورځ د الله تعالی په دربار کې قبلېږي، خو په دې فخر نه کوم. زه به د قيامت په ورځ لوآءالحمد (د حمد بيرغ پورته کوم) او په دې فخر نه کوم. زه لومړی هغه څوک يم، چې د جنت د دروازې کړی به شرنګوم، بيا به د جنت دروازه

زما په وړاندې پرانیستل شي، زه به هغه ته ننوځم او له ما سره به د مؤمنانو فقیران ملګري وي او په دې فخر نه کوم. زه د لومړنیو او وروستنیو (اکرم) عزتمن یم او پردې باندې فخر نه کوم)).

همدا راز انس رضي الله تعالی عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث نقل کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:
زه به تر ټولو خلکو لومړی له ځمکې نه پورته کېږم کله چې دوی را پورته کېږي زه به د دوی خطیب ((ویاند)) یم، کله چې دوی چوپ شي، د دوی قائد او مشر به یم، کله چې دوی وفدونه برابر کړي، د دوی شفاعت کوونکی به یم، کله چې دوی بند کړای شي او زه به دوی ته زیری ورکوونکی یم، کله چې دوی نهیلي شي د حمد بیرغ به زما په لاس کې وي او د جنت کونجي ګاني به هم په دغې ورځ زما په لاس کې وي. زه به دغه ورځ د ادم علیه السلام په اولاد کې د الله تعالی په وړاندې تر ټولو عزتمن یم. زه په دې فخر نه کوم (لُؤْلُؤٌ مَّكْنُونٌ) (مرغلرو پټو ساتلی شوی ر) په څېر زر خدمتګاران به له ما څخه چاپېره ګرځي[1].

[1] حادی الارواح ۹۸ مخ

# د جنتیانو هغه ډلې چې د نړتلو قراني تضمین ورکړل شوی

(وَسَارِعُوٓاْ إِلَىٰ مَغۡفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمۡ وَجَنَّةٍ عَرۡضُهَا ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ أُعِدَّتۡ لِلۡمُتَّقِينَ﴿۱۳۳﴾ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي ٱلسَّرَّآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَٱلۡكَٰظِمِينَ ٱلۡغَيۡظَ وَٱلۡعَافِينَ عَنِ ٱلنَّاسِۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ﴿۱۳۴﴾ سورت آل عمران)

ژباړه:((پر هغه لاره په منډه منډه وځغلئ چې ستاسې د پروردګار د بښنې او د هغه جنت خواته تللې ده، چې هغه لکه د اسمانونو او ځمکې په شان پراخ دي او هغه له خدایه ویرېدونکیو خلکو له پاره تیار کړای شوی دی. دهغو لپاره چې د بډایۍ او بېوزلۍ په دواړو حالاتو کې مال مصرفوي، غوسه خوري او خلکو ته بښنه کوي او الله تعالی نېکي کوونکي خوښوي.

(وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلۡأَوَّلُونَ مِنَ ٱلۡمُهَٰجِرِينَ وَٱلۡأَنصَارِ وَٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُم بِإِحۡسَٰنٖ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُ وَأَعَدَّ لَهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي تَحۡتَهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ﴿۱۰۰﴾ سورت التوبة)

ژباړه:((هغه مهاجرین او انصار چې هغوی تر ټولو دمخه د ایمان بلنې ته په لبیک ویلو کې وړاندې شول، دغه راز هغه کسان چې وروسته له نېکۍ او رښتینولۍ سره په هغو پسې راغلل، الله له هغو نه خوښ او هغوی له الله نه خوښ شول، الله د هغو له پاره داسې باغونه تیار کړي دي چې تر هغو لاندې به ویالې بهېږي او هغوی به پکې د تل له پاره اوسېږي، همدا ډېر لوی بریالیتوب دی.))

(إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٢﴾ الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ ﴿٣﴾ أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا لَّهُمْ دَرَجَاتٌ عِندَ رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴿٤﴾ سورة الأنفال)

ژباړه:((رښتيني مؤمنان هغه دي، چې د هغو زړونه د الله د ياد په اوريدلو لړزيږي او کله چې د هغو په وړاندې د الله ايتونه لوستل کيږي نو د هغو ايمان زياتيږي او هغوی پر خپل رب اعتماد لري. هغه کسان چې لمونځ قايموي او څه چې موږ هغو ته ورکړي دي له هغو څخه (زموږ په لار کې) لګوي. همداسې خلک حقيقي مؤمنان دي. د هغو لپاره د هغو له رب سره لوېې درجې دي، له ګناهونو څخه تيريدنه او ډېره غوره روزي ده.))

امام مسلم رحمه الله د عمر بن الخطاب رضي الله تعالی عنه حديث نقل کړی دی، هغه وايي چې د حُنين په ورځ يو شمېر صحابه کرام د رسول الله صلی الله عليه وسلم مخې ته راغلل، ويې ويل: فلانکی او فلانکی شهيد دی.

تر دې چې د جنګ ميدان کې يو کس باندې تېر شو او ويې ويل: فلانکی شهيد شوی دی.

رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: داسې نه ده، هغه د يو څادر يا جنګي سامان د خيانت کولو له امله ما د دوزخ په اور کې وليد.

بيا يې عمر فاروق رضي الله تعالی عنه ته وويل: ای د خطاب زويه! لاړ شه خلکو ته دا خبره اعلان کړه چې جنت ته به له مؤمنانو څخه پرته بل څوک نه ننوځي، عمر فاروق رضي الله تعالی عنه وايي، زه خلکو ته ورغلم او په لوړ غږ مې وويل: جنت ته نه

داخلېږي؛ مګر مؤمنان.

په صحيحينو کې د ابو هريره رضي الله تعالى عنه په روايت حديث کې راغلي، رسول الله صلى الله عليه وسلم بلال رضي الله تعالى عنه ته امر وکړ، چې خلکو ته دا خبره اعلان کړي: چې جنت ته نه ننوځي مګر مسلمان نفس، ځينو طريقو کې مؤمن نفس راغلی.

حارثه بن وهب رضي الله تعالى عنه وايي، له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې واورېدل ويل يې: ايا تاسې ته جنت والاو په اړه خبر در نه کړم؟

بيا يې وويل: هر کمزوری چې د بر کمزوری ګڼل کېږي، آن تر دې که چېرې د الله تعالى په نوم سوګند ياد کړي، نو الله تعالى به يې پوره کوي.

بيا يې وويل: ايا د دوزخ والاو په اړه خبر درکړم؟

هر بد ژبی، کبرجن، جفاکار او ځان لوی ګڼونکی به (د دوزخ د اور استوګن وي).

انس بن مالک رضي الله تعالى عنه وايي: يوه ورځ يوه جنازه تېره شوه، خلکو د هغې ستاينه او ښېګڼه بيان کړه، رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: واجب شو، درې ځلې يې دا خبره وکړه بيا وروسته بله جنازه تېره شوه، خلکو د هغې بدي بيان کړه، رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: واجب شو، واجب شو، واجب شو.

عمر فاروق رضي الله تعالى عنه وويل: زما پلار او مور دې له تاسې قربان شي يوه جنازه تېره شوه د هغه ښېګڼه بيان شوه تاسې درې ځلې وويل واجب شو، او د بلې جنازې د تېرېدلو پرمهال چې خلکو د هغې بدي بيان کړه تاسې وويل: واجب شو!

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: تاسې چې د چا ښېگڼه بیان کړه هغه لپاره جنت واجب شو او د چا د شر او بدۍ بیان مو چې وکړ، هغه لپاره دوزخ واجب شو او تاسې په دې ځمکه کې د الله تعالی گواهان یاست!

همدا راز بل حدیث کې راغلي، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: نږدې ده چې تاسې جنتیان او دوزخیان وپېژنئ.

صحابه کرامو وویل: هغه څنگه؟!

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: د نېکۍ، ښې، ستاینې او بدې غندنې په وسیله[1].

**یادونه**: د دې حدیث موخه دا ده، چې مؤمنان د چا د ښېگڼو بیان کوي دا د هغه لپاره د دې ثبوت او نښه ده، چې دی د جنتیانو له ډلې څخه دی او د مؤمنانو له لورې چې د چا د شر او بدیو بیان او گواهي ورکړل شي دا د دې ښکارندويي کوي چې دا کس د دوزخیانو له ډلې څخه دی.

په هر حال په ټولیز ډول هغه جنتیان چې د جنت د تضمین سند ورکړل شوی، څلور ډلې دي، چې د قرآن کریم د نساء سورت کې داسې بیان شوي:

(وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ فَأُوْلَـٰٓئِكَ مَعَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّـٰلِحِينَ ۚ وَحَسُنَ أُوْلَـٰٓئِكَ رَفِيقًا ﴿٦٩﴾ سورت النساء)

ژباړه: ((څوک چې د الله او پیغمبر اطاعت وکړي، دوی به د هغو خلکو ملگري وي، چې پر هغو الله پېرزوینه کړې ده؛ یانې پیغمبران، صدیقان، شهیدان او صالحان څومره ښه ده، د هغو ملگرتیا چې چاته په برخه شي.))

---

[1] حادی الارواح ۱۰۹ مخ.

## د جنت زیاتره استوګن به د محمد صلی الله علیه وسلم امت وي

عبدالله بن مسعود رضي الله تعالی عنه وایي رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: تاسې په دې راضي نه یاست چې د جنت څلورمه برخه به تاسې اوسئ موږ د الله تعالی لویي ادا کړه (فکبرنا).
بیا یې وویل: ایا په دې خوښ نه یاست چې د جنت دریمه برخه به تاسې یاست موږ د الله تعالی لویي ادا کړه.
بیا یې وویل: زه امېد لرم چې تاسې به د جنت نیمایي برخه تشکیلوئ او زړه ده چې د دې په مانا مو پوه کړم.
بیا یې وویل: مسلمانان به د کافرانو په مقابل کې داسې وي، لکه سپین ویښته په تور غوییي کې، یا تور ویښته په سپین غوییي کې.
بریده د حصیب زوی وایي رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلې: د جنتیانو به ۱۲۰ صفونه وي، چې ۸۰ اتیا صفونه به د محمد صلی الله علیه وسلم امت وي.
دا حدیث د امام احمد بن حنبل رحمه الله او امام ترمذي رحمه الله په شرط صحیح دی.

# ښځينه به په جنت او دوزخ دواړو کې تر نارينه وو زياتې وي

امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله د محمد بن سيرين رحمه الله نه نقل کړي، هغه وويل: تاسې دا خبره نه يادوئ چې جنت کې به نارينه زيات وي که ښځينه؟

ابو هريره رضي الله تعالى عنه وويل: ايا ابو القاسم (محمد صلى الله عليه وسلم) ويلي نه دي؟

لومړنۍ ډله چې جنت ته ننوځي شکلونه به يې د څوارلسمې سپوږمۍ په څېر روښانه ځلېږي او هغه چې دې ته نږدې وي د هغوی شکلونه به اسمان کې د ځلېدونکو ستورو په څېر وي.

هر يو کس لپاره به له دوی ښځه دوې دوې مېرمنې وي، چې د ډېرې ښکلا له امله به يې د غوښې هاخوا د پښو د پنډيو مغز ليدل کېږي.

امام احمد بن حنبل رحمه الله د ابو هريره رضي الله تعالى عنه په روايت حديث نقل کړی رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي:

د جنتيانو د هر سړي لپاره به د غټو سترګو والا حورو څخه دوه حورې وي، هرې يوې باندې به اويا جوړې نوې جامې وي او د دې حورو د پنډيو مغز به له جامو هاخوا ليدل کېږي.

جابر رضي الله تعالى عنه ویلي: له رسول الله صلى الله علیه وسلم سره د اختر لمانځه ته لاړم، هغه وړاندې له خطبې پرته له اذان او اقامت څخه د اختر لمونځ ادا کړ، بیا یې د لمانځه وروسته خطبه ولوسته خلکو ته یې وعظ او نصیحت وکړ. بیا ښځو ته ورغی هغوی ته یې وعظ وکړ او بلال رضي الله تعالى عنه ورسره ملګری و.

ښځو ته یې د نصیحت په څنګ کې د صدقې امر وکړ، جابر رضي الله تعالى عنه وایي، په نصیحت او صدقې باندې رسول الله صلى الله علیه وسلم تر حکم کولو وروسته به هره ښځه راتله او د خپل لاس ګوتمه او داسې نور شیان به یې غورځول.

رسول الله صلى الله علیه وسلم بلال رضي الله تعالى عنه ته د ښځو له خوا د ګوتمو او نورو غورځول شویو شیانو او زیوراتو د راغونډولو حکم وکړ.

بلال رضي الله تعالى عنه هغه ټول څیزونه راټول کړل.

بیا رسول الله صلى الله علیه وسلم مېرمنو ته وویل:له تاسې نه به ډېرې لړې په جنت کې وي.

یوې مېرمنې وویل:یا رسول الله هغه ولې؟!!

رسول الله صلى الله علیه وسلم په ځواب کې وویل: تاسې لعنت ډېر کاروئ او د خپلو مېړونو ناشکري هم کوئ.

علامه ابن القیم الجوزیة رحمه الله د ځینو عالمانو قول داسې نقل کړی، چې له مخې یې په جنت کې د حورو زیاتوالی او د دنیا د ښځو کموالی ثابتېږي، پر همدې بنسټ د دنیا ښځې به د جنت

کمي استوګنې او د دوزخ په اور کې به بیا د دوی کچه زیاته وي.

په دغې برخه کې ډېر داسې صحیح احادیث شته، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پکې د جنت زیاتره استوګن فقیران او د دوزخ زیاتره استوګن شتمن او ښځې ښودلې دي.

امام مسلم د عبدالله بن عمر رضي الله تعالی عنهما په روایت صحیح حدیث نقل کړی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ښځو ته خطاب کې وویل: ای د ښځمنو ډلې! خیراتونه او صدقې وکړئ، د الله تعالی نه د خپلو ګناهونو بښنه غوښتل زیات کړئ، ما تاسې زیاتره د دوزخ اهل او استوګنې ولیدئ.

یوې ښځې وویل: یارسول الله صلی الله علیه وسلم زموږ ګناه څه ده، چې موږ به زیاتره د دوزخ او سېدونکي یاست؟!

رسول الله صلی الله علیه وسلم په ځواب کې وویل: تاسې د لعنت کلمه ډېره کاروئ او د مېړونو ناشکري کوئ، مانه دی لیدلی هېڅ ناقص عقل او ناقص دین والا، چې عقل من باندې غالب وي، ستاسو نه.

هغې مېرمنې وویل: د عقل او دین نقصان څه دی؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: د عقل نقصان دا دی، چې د دوو ښځو ګواهي یو سړي سره برابره ده. او (ښځه د ځانګړیو ناروغتیاوو پر مهال) ډېرې ورځې ناسته وي لمونځ نه کوي او روژه نه نیسي دا یې د دین نقصان دی.

دا چې د دنیا ښځې به د جنت د استوګنو کمه برخه تشکیلوي. هماغه حدیث دی، چې یوازې امام مسلم رحمه الله د مطرف د

عبدالله زوی په روایت نقل کړی، رسول الله صلی الله ویلي:(یقیناً د جنت له اوسېدونکو څخه به ډېرې لږې ښځینه وي[1].)

د عمارة بن خزیمة بن ثابت رضي الله تعالی عنه نقل دي. چې موږ د عمرو بن العاص رضي الله تعالی عنه ... په حج یا عمره کې وو، چې مرالظهران ته ورسېدو، یوه ښځه خپله کجاوه کې وه. نو هغه ناو طرف ته کوږ شو، موږ هم ورسره ناو ته ورداخل شو، ویې ویل: موږ د نبي صلی الله علیه وسلم سره دغه ځای کې وو، دلته ډېر کارغان وو، یو پکې برګ کارغه و، چې سرې پښې او سره مښوکه یې لرله.

نبي صلی الله علیه وسلم وویل:

جنت ته به ښځې نه داخلېږي، مګر دومره لکه دا کارغه په دغو کارغانو کې.

[1] حادی الارواح ۱۱۳.

کمي استوګنې او د دوزخ په اور کې به بیا د دوی کچه زیاته وي.
په دغې برخه کې ډېر داسې صحیح احادیث شته، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پکې د جنت زیاتره استوګن فقیران او د دوزخ زیاتره استوګن شتمن او ښځې ښودلې دي.

امام مسلم د عبدالله بن عمر رضي الله تعالی عنهما په روایت صحیح حدیث نقل کړی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ښځو ته خطاب کې وویل: ای د ښځمنو ډلې! خیراتونه او صدقې وکړئ، د الله تعالی نه د خپلو ګناهونو ښښنه غوښتل زیات کړئ، ما تاسې زیاتره د دوزخ اهل او استوګنې ولیدئ.
یوې ښځې وویل: یارسول الله صلی الله علیه وسلم زموږ ګناه څه ده، چې موږ به زیاتره د دوزخ اوسېدونکې یاست؟!
رسول الله صلی الله علیه وسلم په ځواب کې وویل: تاسې د لعنت کلمه ډېره کاروئ او د مېړونو ناشکري کوئ، ما نه دی لیدلی هېڅ ناقص عقل او ناقص دین والا، چې عقل من باندې غالب وي، ستاسو نه.
هغې مېرمنې وویل: د عقل او دین نقصان څه دی؟
رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: د عقل نقصان دا دی، چې د دوو ښځو ګواهي یو سړي سره برابره ده. او (ښځه د ځانګړیو ناروغتیاوو پر مهال) ډېرې ورځې ناسته وي لمونځ نه کوي او روژه نه نیسي دا یې د دین نقصان دی.
دا چې د دنیا ښځې به د جنت د استوګنو کمه برخه تشکیلوي. هماغه حدیث دی، چې یوازې امام مسلم رحمه الله د مطرف د

عبدالله زوی په روایت نقل کړی، رسول الله صلی الله ویلي:(یقیناً د جنت له اوسېدونکو څخه به ډېرې لږې ښځینه وي[1].)

د عمارة بن خزیمة بن ثابت رضي الله تعالی عنه نقل دي. چې موږ د عمرو بن العاص رضي الله تعالی عنه ... په حج یا عمره کې وو، چې مرالظهران ته ورسېدو، یوه ښځه خپله کجاوه کې وه. نو هغه ناو طرف ته کوږ شو، موږ هم ورسره ناو ته ورداخل شو، ویې ویل: موږ د نبي صلی الله علیه وسلم سره دغه ځای کې وو، دلته ډېر کارغان وو، یو پکې برګ کارغه و، چې سرې پښې او سره مښوکه یې لرله.
نبي صلی الله علیه وسلم وویل:
جنت ته به ښځې نه داخلېږي، مګر دومره لکه دا کارغه په دغو کارغانو کې.

[1] حادی الارواح ۱۱۳.

## له دې امت څخه جنت ته بې حسابه تلونكي كسان او د هغوى صفتونه

ابو هريره رضي الله تعالى عنه د حديث راوي دی رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي زما له امت څخه به جنت ته د ۷۰۰۰۰ تنو په شمېر كې يو ډله ننوځي، چې د هغوی مخونه به د څوارلسمې شپې د سپوږمۍ په څېر رڼا كوي.

عكاشه بن محصن اسدي رضي الله تعالى عنهما وويل: يا رسول الله صلى الله عليه وسلم! الله ته دعا وكړه چې ما هم له همدې ډلې نه وګرځوي، رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: ای الله! عكاشه له همدوی څخه وشمېرئ. د انصارو يو كس پاڅېد ويې ويل: يا رسول الله صلى الله عليه وسلم د الله تعالى نه ماته هم دعا وغواړه چې له همدې ډلې څخه شم.

رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: عكاشه له تا نه مخكې شو.

عبد الله بن عباس رضي الله تعالى عنهما د حديث راوي دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: ماته وړاندينې امتونه وښودل شو ومې ليدل چې ځينو نبيانو سره د خپل امت يوه ډله وه. ځينو سره بيا يو تن او يا دوه تنه، ځينې بيا داسې هم وو، چې له هغوی سره يو تن هم نه و. يوه لويه ډله راته ښكاره شوه زما ګومان و چې دا به زما امت وي، راته وويل شول دا موسى عليه السلام او د هغه قوم دی.

ما هاخوا وكتل يوه لويه ډله راته ښكاره شوه بيا راته وويل شو

دا ستا امت دی او دوی سره ۷۰۰۰۰ او یازره داسې کسان دي، چې جنت ته به بې له حساب او عذاب ځخه ننوځي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم له دې خبرو وروسته پاځېد او کور ته ننوت.

خلکو د یادو شویو ۷۰۰۰۰ کسانو په اړه خبرې اترې پیل کړې ځینو وویل: کېدای شي دا هغه کسان وي، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ملګرتیا ویاړ یې ګټلی وي. ځینو نورو وویل: کېدای شي دا هغه کسان وي چې په اسلامي عقیده زېږېدلي وي او د الله تعالی سره یې هېڅ ډول شرک نه وي کړی. داسې نور نظرونه هم یاد او ورکړل شو رسول الله صلی الله علیه وسلم له کوره راووت ویې ویل: تاسې د څه شي په اړه خبرې کولې؟ دوی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د خپل بحث په اړه خبر ورکړ.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: دا هغه کسان دي، چې نه دمونه کوي او نه له نورو څخه دمونه غواړي او نه بد فالي نیسي او پر خپل رب باندې دوی توکل او اعتماد کوي.

عکاشه رضي الله تعالی عنه ودرېد، ویې ویل: الله تعالی نه ماته وغواړه چې له همدوی څخه مې وګرځوي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: ته له دوی څخه شوې.

بیا بل سړی ودرېد ویې ویل: الله تعالی نه ماته هم دعا وغواړه چې له دوی څخه شم. رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: عکاشه له تا نه مخکې شو[۱].

---

[illegible]

علامه ابن القیم رحمه الله تر دې حدیث راوړلو وروسته لیکلي: (قال شیخنا و هوالصواب.) یانې زموږ استاد شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله ویلي: دا حق ته رسېدونکي او ښه خبره ده.

رسول الله صلی الله علیه وسلم جنت ته د دې کسانو د ننوتلو صفت او ښستیز لامل تحقیقي توحید ښودلی دی. په دې مانا چې دوی پر الله تعالی باندې د بشپړ ایمان او باور له مخې له نورو څخه د دم غوښتنه نه کوي، بدفالي نه نیسي او یوازې په خپل حقیقي پالونکي باندې توکل او اعتماد کوي دا چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم احادیثو کې د بد نظر موضوع یاده شوې او رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي، چې العین حق (د سترګو بدنظر لګېدل حق دي). له هغو څخه د ځان ساتلو په موخه له شرعي او مسنون دمونو څخه ګټه اخیستل روا دي. رسول الله صلی الله علیه وسلم په تولیزه ول د دمونو برخه کې داسې لارښوونه کړې ده (تر هغې چې دمونو کې شرکي الفاظ او شرکي روح موجود نه وي، څه باک نه لري).

په اسلام کې د مسنونو، روا دمونو اجازه شته او رسول الله صلی الله علیه وسلم هم دا کړنه ترسره کړې ده.

اصل خبره له نورو څخه د دم غوښتنه ده، چې د یاد شوي حدیث متن کې هم ورته اشاره شوې ده او له نورو څخه د دمونو غوښتنه د توحید او توکل له روحیې سره اړخ نه لګوي، دا چې یاد شوی حدیث کې د لایرقون کلمه راغلې ده له مانا څخه یې څرګند بږي دا کسان په دومره کچه د الله تعالی د توحید په عقیده ولاړ او زړونه یې هومره د توکل په ګاڼه سینګار دي، چې خپله هم له شرعي دمونو څخه ګټه نه اخلي او هرڅه د الله تعالی رضا او قضا ته سپاري.

# تر ټولو وروستی کس چې جنت ته ننوځي

امام بخاري او امام مسلم رحمهما الله د عبدالله بن مسعود رضي الله تعالی عنه په روایت مرفوع حدیث نقل کړی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:

زه هغه کس پېژنم چې تر ټولو وروسته به له دوزخ څخه راوځي او تر ټولو وروسته به جنت ته ننوځي.

هغه سړی دی چې د دوزخ له اور نه به داسې راووځي لکه کوچنی ماشوم چې د کوچنیتوب پر مهال پر ځمکه په خاپوړو روان وي.

الله تعالی به ورته ووایي: ځه لاړ شه، جنت ته ننوځه.

دا کس به جنت ته لاړ شي، خو د ده په خیال کې به داسې ښکاره شي چې جنت ډک شوی او ځای پکې نشته، بېرته به راووځي او وبه وایي:

ای الله تعالی! جنت ډک شوی، زما لپاره پکې ځای نشته.

الله تعالی به ورته ووایي: لاړ شه جنت ته ننوځه، تا لپاره د دنیا په څېر لس چنده ځای په جنت کې دی...

دی به ووایي: ای الله! ته ما پورې ټوکې کوې او ما پورې خاندې او ته پاچا یې؟

ابن مسعود رضی الله تعالی عنه وایي، رسول الله صلی الله علیه وسلم مې ولیده خندل یې تر دې چې نواجذ (د ژاملو یا جاملو) مبارک غاښونه یې ښکاره شول او ویل یې: دا تر ټولو د ادنی جنتي مقام او منزلت دی.

صحیح مسلم کې د عبدالله بن مسعود رضي الله تعالی عنه په روایت مرفوع حدیث دی وروستی کس چې جنت ته ننوځي هغه سړی دی، چې د صراط پر پله باندې تېرېږي یو ځل به غورځېږي بیا به پاڅېږي او یو ځل به یې د دوزخ د اور د لمبو تاو هم وهي کله چې تېرېږي د دوزخ د اور پلو ته به وګوري او وبه وایي: د برکتونو څښتن دی هغه ذات چې له تا څخه یې نجات راکړ.

الله تعالی ما ته داسې څیز راکړ، چې له ما څخه وړاندېنیو او وروستنیو ته یې نه دی ورکړی. ده ته به یوه ونه ښکاره شي، دی به ووایي: ای ربه هغې ونې ته مې نږدې کړه، چې سیوري ته یې د مه وکړم او د ونې لاندې اوبو نه لږې اوبه وڅښم.

الله تبارک وتعالی به ورته ووایي: که دا غوښتنه دې ومنم بیا به نور څه غواړې؟

دی به ووایي: نه، ای ربه! نور څه نه غواړم.

الله تعالی به ترې ژمنه واخلي چې نور څه به نه غواړې او الله تعالی به یې عذر ومني ځکه دی هغه څه ویني چې له هغه نه صبر بدل ورته ګران کار دی.

الله تعالی به یې هغه ونې ته نږدې کړي، د ونې له سیوري به څو شیبې ګټه واخلي او د هغه ځای اوبه به وڅښي.

بیا به ده ته بله ونه ښکاره شي چې تر لومړۍ ونې به ډېره ښایسته

وي، دی به ووايي: الله تعالی ! دې ونې ته مې نږدې کړه، چې هلته لړې او به وڅښم او سيوري ته يې کېنم، نور څه نه غواړم.
الله تعالی به ووايي: که دې ونې ته دې نږدې کړم، بيا به نور غواړې الله سره به ژمنه وکړي، چې بيا به سوال نه کوم، الله تعالی به يې عذر ځکه مني چې دی به هغه څهويني چې ده ته به له هغه څخه صبرېدل ګران وي، الله تعالی به يې د خپل ځانګړي رحم له مخې دې ونې ته هم نږدې کړي او د هغې له سيوري او اوبو به برخمن شي.
بيا به بله ونه ورته د جنت د دروازې ترڅنګ ښکاره شي چې د لومړنيو دواړو ونو نه به ډېره ښايسته وي.
دا کس به بيا ووايي: ای الله تبارک وتعالی ! دې ونې ته مې نږدې کړه چې له سيوري او اوبو يې ګټه واخلم بس؛ له دې پرته نور سوال نه کوم او نه نور څه غواړم.
الله به ووايي: ای د آدم زويه ! تا ژمنه کړې نه وه، چې بيا به سوال نه کوم؟
دی به ووايي: هو ! زما پالونکيه ! ژمنه مې کړې وه، خو له دې وروسته بل سوال نه کوم او الله تعالی به يې ځکه عذر مني چې دی هغه څه ويني چې ځان صبرولو ترې ګران کار دی. الله تعالی به يې د جنت دروازې ته څېرمه ونې ته نږدې کړي. کله چې هغې ونې ته نږدې شي له دغه ځايه به د جنتيانو غږونه واوري بيا به ووايي: ای الله تعالی ! جنت ته مې ننباسه.
الله تعالی به ورته ووايي: د آدم زويه په څه شي له ما څخه راضي کېږې ايا په دې راضي کېږې؟

چې د دنیا او د دنیا په کچه نور ځای په جنت کې درکړم؟

دی به ووایي: ای الله تعالی! ایا ته ما پورې ټوکې کوې او حال دا چې ته رب العالمین یې، عبد الله بن مسعود رضي الله تعالی عنه د دې جملې د بیانولو پرمهال وخندل، ویې ویل له مانه مو پوښتنه ونه کړه: چې ولې مې وخندل، خلکو ورته وویل: ولې مو وخندل؟

ابن مسعود رضي الله تعالی عنه وویل: رسول الله صلی الله علیه وسلم خندلي وو.

هغوی وویل: رسول الله صلی الله علیه وسلم ولې خندلي وو؟

هغه وویل: رسول الله صلی الله علیه وسلم د رب العالمین د خندا له امله خندلي و، کله چې دی ووایي: ای ربه! ته ما پورې ټوکې کوې او حال دا چې ته رب العالمین یې.

الله تبارک و تعالی به ورته ووایي: زه تا پورې ټوکې نه کوم، خو څه چې زه وغواړم کولای یې شم[1].

---

[1] صحیح مسلم - حادی الارواح ۳۴۳

# جنت ته تلونکي کسان

## کوم عمل خلک جنت ته ننباسي او کوم عمل خلک دوزخ ته:

عن أبي هريرة قال: سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم عن أكثر ما يُدخل الناس الجنة، فقال: «تقوى الله وَحُسْنُ الخُلق»، وَسُئِلَ عَنْ أَكْثَرِ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ النَّار، فقال: «الفم والفرج»[1]

ابو هريرة رضی الله تعالی عنه وايي، له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وشوه: هغه کوم عمل دی، چې ډېری خلک جنت ته ننباسي؟
رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: له الله تعالی نه وېره او ښه اخلاق.
بیا ترې وپوښتل شول: هغه کوم عمل دی، چې ډېری خلک دوزخ ته ننباسي؟
رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: ژبه او شرمګاه.

## جنت ته د ننوتلو ضامن او دوزخ نه د نجات براءت لیک:

معاذ رضی الله تعالی عنه ویلي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته مې وویل، داسې یو عمل راته وښایه چې جنت ته مې ننباسي او له دوزخ څخه مې لرې کړي.
رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: معاذه! د یو لوی کار په اړه دې پوښتنه وکړه، خو دا هغه چا لپاره اسان دی، چې الله تعالی یې ورته اسان کړي.

---

[1] سنن الترمذي ت شاكر (۴/ ۳۲۳).

بيا يې وويل: د الله تعالى بنده ګي کوه او له هغه سره شريک مه جوړوه، د لمانځه پابندي او پاملرنه کوه، زکات ورکوه، د رمضان المبارک روژې ساته او حج کوه.

بيا يې وويل: معاذه! د د خير په دروازه خبر درنه کړم؟

ويې ويل: روژه ډال دی، صدقه ګناه داسې وژني، لکه څرنګه چې اوبه اور وژني او د شپې په منځ کې لمونځ ادا کول، بيا يې دا ايت ولوست:

﴿تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفاً وَطَمَعاً وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ ﴿١٦﴾ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّا أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَآءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٧﴾ (سورة السجدة)

ژباړه: د دوی اړخونه له خپلو بسترو نه جدا وي، خپل رب له وېرې او امېد سره رابلي او څه روزي چې موږ دوی ته ورکړې ده، د هغې نه لګښت کوي، نو هېڅ نفس نه پوهېږي، پر هغه شي باندې چې د دوی د سترګو د يخوالي لپاره پټ ساتل شوي دي، دوی چې څه عملونه کړي، دا د هغې بدله ده.

بيا يې وويل: معاذه! ايا د دې ستر کار د سر پر بنسټ خبر درنه کړم؟

ما وويل: ای د الله تعالى رسوله! ولې نه؛ خبر راکړئ!

رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: د دې ستر کار سر اسلام دی، ستن يې لمونځ او لوړ کوب يې جهاد دی.

بيا يې وويل: ايا د دې ټولو پر مِلاک (تقويتي بنسټ) خبر در نه کړم؟

ومې ويل: هو کې! ای د الله تعالى ګران نبي! خبر مې کړه.

خاتم النبيين محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم خپله مبارکه ژبه ونیوله. ویې ویل:

معاذه! ژبه دې له نامناسبو خبرو-اترو وساته.

ما وویل: ای د الله تعالی ګران نبي صلی الله علیه وسلم! ایا موږ به پر خپلو ژبو نیول کېږو؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: معاذه! مور دې بوره شه، د دوزخ اور ته پر مخونو غورځېدونکي خلک هغه دي، چې پر ژبو رېبل کوي[1].

## پردی حق د جهنم اور واجبوي:

(عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنِ اقْتَطَعَ حَقَّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ بِيَمِينِهِ، فَقَدْ أَوْجَبَ اللهُ لَهُ النَّارَ، وَحَرَّمَ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ» فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ: وَإِنْ كَانَ شَيْئًا يَسِيرًا يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: «وَإِنْ قَضِيبًا مِنْ أَرَاكٍ»[2])

ابو امامة رضی الله تعالی عنه د حدیث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: څوک چې په دروغو د مسلمان حق ترلاسه کړي، هغه لپاره الله تعالی د جهنم اور واجب او جنت یې پرې حرام کړی دی.

یو کس وویل: یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! که لږ څیز وي هم؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: که څه هم د مسواک د ونې یوه څانګه وي.

---

[1] مشکاة المصابیح ۱۴

[2] صحیح مسلم (۱ / ۱۲۲)

## معاهد وژونکی به د جنت له خوشبو نه محروم وي:

عَنْ عَبْدِ اللّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللّهُ عَنْهُما، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ قَتَلَ مُعَاهَدًا لَمْ يَرِحْ رَائِحَةَ الجَنَّةِ، وَإِنَّ رِيحَهَا تُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ أَرْبَعِينَ عَامًا»[۱]

له عبدالله بن عمرو رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: څوک چې معاهد (وعده کوونکی) ووژني، هغه کس به د جنت خوشبويي ونه مومي.

## پر چغل خور جنت حرام دی:

عَنْ حُذَيْفَةَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لَا يَدْخُلُ الجَنَّةَ قَتَّاتٌ» قَالَ سُفْيَانُ: وَالقَتَّاتُ النَّمَّامُ[۲]

حذيفة رضی الله تعالی عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: چغل خور به جنت ته نه ننوځي.

## جنت ته نه ننوتونکي خلک:

عبدالله بن عمرو رضی الله تعالی عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: عاق (د مور او پلار نافرمانه) او قمار باز پر خلکو د نېکيو زبادونکي او د شرابو معتاد (روږدي) به جنت ته نه ننوځي او په يو روايت کې د قمار باز پرځای ولدالزنا (حرموني) راغلی دی.

ابی موسی الاشعري رضی الله تعالی د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: درې کسان دي، چې جنت ته به نه

---

[۱] صحیح البخاري (۴ / ۹۹).
[۲] سنن الترمذي ت شاکر (۴ / ۳۷۵).

ننوځي، د شرابو معتاد(روږدی)، د خپلولۍ پرې کوونکی او پر جادو(سحر) تصديق(باور) کوونکی.

## گاونډي ته ضرر رسوونکی به جنت ته نه ننوځي:

(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ»[1])

له ابي هريرة رضی الله تعالی څخه روايت دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: هغه کس به جنت ته نه ننوځي، چې گاونډی يې له شر او ضرر نه په امن کې نه وي.

## پر نسب بدلوونکي جنت حرام دی:

(عَنْ سَعْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «مَنِ ادَّعَى إِلَى غَيْرِ أَبِيهِ، وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّهُ غَيْرُ أَبِيهِ، فَالْجَنَّةُ عَلَيْهِ حَرَامٌ»[2])

له سعد بن ابي وقاص رضی الله تعالی عنه څخه حديث نقل شوی دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: څوک چې سره له پوهې د (کرکې) له امله خپل پلار پرېږدي او د بل چا پلار خپل پلار جوړوي (خپل نسب بدلوي) پر دغه شخص جنت حرام دی.

---

[1] صحيح مسلم(۱/ ۶۸).
[2] صحيح البخاری(۸/ ۱۵۶).

# د جنت تضمين ليكونه

## سيدالاستغفار د جنت ضمانت دي:

(عَن شَدَّاد بْنِ أَوْسٍ رضيَ اللَّهُ عَنهُ: عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ: " سَـيِّدُ الاسْتِغْفَارِ أَنْ تَقُولَ: اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لاَ إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَـا عَلَـى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَـيَّ، وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي، فَإِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ " قَالَ: «وَمَنْ قَالَهَـا مِـنَ النَّهَارِ مُوقِنًا بِهَا، فَمَاتَ مِنْ يَوْمِهِ قَبْلَ أَنْ يُمْسِيَ، فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الجَنَّةِ، وَمَنْ قَالَهَا مِـنَ اللَّيْلِ وَهُوَ مُوقِنٌ بِهَا، فَمَاتَ قَبْلَ أَنْ يُصْبِحَ، فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الجَنَّةِ[1]).

شداد بن اوس رضی الله تعالی عنه د حدیث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: سیدالاستغفار یانې تر ټولو غوره استغفار دا دی، چې ویې وایي.

## اویا زره پرښتې ورته د رحمت دعا کوي:

(عَن عَلِي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:مَا مِنْ مُسْـلِمٍ يَعُـودُ مُسْلِمًا غُدْوَةً إِلَّا صَلَّى عَلَيْهِ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ حَتَّى يُمْسِيَ، وَإِنْ عَادَهُ عَشِيَّةً إِلَّا صَلَّى عَلَيْهِ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ حَتَّى يُصْبِحَ، وَكَانَ لَهُ خَرِيفٌ فِي الجَنَّةِ[2])

علي رضی الله تعالی عنه د حدیث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:کوم مسلمان چې د ورځې په پیل کې د یو

[1] صحيح البخاري (٨ / ٢٧).
[2] سنن الترمذي ت شاكر (٣ / ٢٩٢).

ناروغ عيادت (پوښتنې) ته ورشي او يا زره پرښتې ورته تر ماښامه پورې د رحمت دعاګانې کوي او که د شپې په وروستۍ برخه کې د ناروغ پوښتنې ته ورشي، تر سبا پورې ورته پرښتې د رحمت دعاګانې کوي او هغه لپاره په جنت کې باغ جوړېږي.

(عنْ ثوْبانَ عنِ النبيِّ صلّى اللّهُ عليْهِ وسلّمَ قالَ: إنّ المُسْلِمَ إذا عادَ أخاهُ المُسْلِمَ لمْ يزلْ في خُرْفةِ الجنّةِ. قِيلَ: ما خُرْفَةُ الجنّةِ؟ قالَ: جَنَاهَا[1]).

همدا راز له ثوبان رضی الله تعالی عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: کله چې يو مسلمان د بل مسلمان ورور پوښتنې ته ورشي، د بېرته راتللو پورې به د جنت ګلبڼ او نازکيو کې بوخت وي.

پوښتنه ترې وشوه: يا رسول الله صلی الله عليه وسلم د جنت په ګلبڼ کې به څه وي؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: تازه ګلونه.

**دوه يخ لمونځونه که د جنت د ننوتلو لپاره نبوي تضمين:**

(عن أَبِي مُوسى، عَنْ أَبيه، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْه وسَلَّمَ قَالَ: مَن صَلّى البرْدَيْنِ دخلَ الجَنَّةَ[2])

له ابي موسی رضی الله تعالی عنه څخه روايت دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: څوک چې دوه يخ لمونځونه وکړي جنت له به ننوځي.

---

[1] سنن الترمذي ت شاكر (۳ / ۲۹۰)
[2] صحيح البخاري (۱ / ۱۱۹)

**یادونه**: دوه یخ لمونځونه د سهار او مازیګر لمونځونه دي، د دې یادونه په ځانګړې ډول د دې له امله شوې ده، چې د سهار وخت کې د خوب غلبه او زور زیات وي او د مازیګر د لمانځه په مهال کاروبار کې د بوختېدو له امله د مازیګر لمونځ کول ګران وي[1].

## تر هر فرض لمانځه وروسته اية الكرسي ويل، جنت ته د ننوتلو ضمانت دی:

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْحَيُّ ٱلْقَيُّومُ لَا تَأْخُذُهُۥ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ لَّهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ مَن ذَا ٱلَّذِى يَشْفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذْنِهِۦ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَىْءٍ مِّنْ عِلْمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفْظُهُمَا وَهُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْعَظِيمُ﴾[2]

ژباړه: ((الله ! نشته حقدار د بنده ګۍ پرته له هغه نه، ژوندی دی (همېشه)، انتظام کوونکی د ټول عالم، نه راځي په ده هيڅ غفلت او نه خوب، خاص د هغه په اختيار کې دي، هغه څه چې په اسمانونو او هغه څه چې په ځمکه کې دي، څوک دی هغه کس چې سفارش وکړي په نزد دده، مګر په اجازت دده، پوهېږي پر هغه څه چې مخکې د دوی دي او هغه څه چې وروسته د دوی دي او طاقت نه لري دوی د هيڅ څيز د علمونو د هغه نه؛ مګر په هغه څه چې وغواړي الله تعالی، ځای کړي دي کرسي د هغه اسمانونو او ځمکې لره او نه ستړی کوي هغه لره ساتنه ددې دواړو او دی بره دی، لوی دی.))

---

[1] مرقات.
[2] سورة البقرة. الاية ۲۵۵

علي رضی الله تعالی عنه ویلي: (ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د منبر په دې لرګو واوریدل، چې ویل یې: چا چې د هر لمانځه نه وروسته اية الکرسي ولوسته، هغه به جنت ته له ننوتلو نه پرته له مرګ نه هیڅ شی منع نه کړي او څوک چې اية الکرسي د خوب ځای ته د تللو په وخت کې ووايي، نو الله تعالی به ده ته دده په کور او د ګاونډي په کور او نور کورونه چې دده نه چاپېره دي امن ورکړي).

حافظ ابن القیم رحمه الله علیه ویلي: ځینې علماء دا حدیث صحیح ګڼي او ځینې یې ضعیف ګڼي، مګر ددې لپاره ډېر طرق دي چې ټول راجمع شي، نو دلالت کوي چې ددې حدیث لپاره اصل شته او موضوع نه دی او وایي چې شیخ الاسلام بن تیمیة رحمه الله فرمایي: چې ما آیة الکرسي د هیڅ لمانځه نه وروسته نه ده پرې ایښې.

## د ژبې او شرمګا پر ساتنه رسول الله صلی الله علیه وسلم د جنت ضمانت ورکړی:

(عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ يَضْمَنْ لِي مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ وَمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ أَضْمَنْ لَهُ الجَنَّةَ»[1])

له سهل بن سعد رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: څوک چې ما لره د خپلو دوو ځیزونو ضمانت راکړي، هغه چې د دوو جامو (جاملو) ترمنځ ده یانې ژبه او هغه چې د دوو پښو ترمنځ یانې شرمګاه ده، زه هغه لره د جنت ضمانت ورکوم.

---

(1) صحیح البخاري (۸ / ۱۰۰)

**لـه اوداسـه وروسـته د شـهادتينو كلمـه ويـل، د جنـت اتـه واړه دروازې پرانېزي:**

(عن عمر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "ما منكم من احد يتوضـأ فيبلغ - او فيسبغ - الوضوء ثم يقول: اشهد ان لا إله إلا الله وأن محمدا عبـد الله ورسوله إلا فتحت له أبواب الجنة الثمانية يدخل من أيها شاء"[1])

عمر رضى الله تعالى عنه رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: چا چې دا ذكر د اودس كولو نه وروسته ولوسته، نو د جنت اته واړه دروازې به ورته پرانيستل شي، په كومه دروازه چې دى غواړي، داخل به شي.

(أشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له وأشهد أن محمدا عبده ورسـوله، اللهم اجعلني من التوابين، واجعلني من المتطهرين[2]).

ژباړه: زه ګواهي كوم، چې د الله تعالى نه پرته، بل د بنده ګۍ لايق نشته او ګواهي كوم ددې چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله بنده او د هغه رسول دى. اى الله! ما وګرځوې له توبه ويستونكو او پاكۍ خوښوونكو نه.

---

1. صحيح مسلم (۱/۲۰۹)
2. السنن الصغرى (۱/۳۹)

## له اخلاص سورت سره په مينه جنت وګټئ!:

(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَمِعَ رَجُلًا يَقْرَأُ: قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ اللَّهُ الصَّمَدُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَجَبَتْ» . قُلْتُ: مَا وَجَبَتْ؟ قَالَ: «الجَنَّةُ»[1])

ابي هريرة رضى الله تعالى عنه د حديث راوي دى، رسول الله صلى الله عليه وسلم له يو سړي څخه واورېدل، چې (قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ اللَّهُ الصَّمَدُ) وويل، رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: واجب شو.
ما وويل: څه واجب شو؟
رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: جنت.

انس رضى الله تعالى د حديث راوي دى، دى وايي يو سړى رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل: زه له دې سورة

(قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ﴿١﴾ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ﴿٢﴾لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ﴿٣﴾وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌ﴿٤﴾ سورة الاخلاص.) سره مينه لرم.

رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: له دې سورة (قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ) مينه به تا جنت ته ننباسي[2].

---

[1] سنن الترمذي ت شاكر (٥ / ١٢٨)

[2] صحيح اخرجه الترمذى. و احمد. والدارمي.

## د جنت درې تضمین لیکونه:

(عَنْ أبي أمامة. قال: قال رسول الله صلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنَا زَعِيمٌ بِبَيْتٍ فِي ربض الْجنَّة لِمنْ ترك الْمراء وإنْ كان محقًّا، وببَيْتٍ فِي وَسَطِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الْكذب وإنْ كان مازحًا وببيت في أعْلى الْجنَّة لمنْ حَسَّنَ خُلُقَهُ»[1])

له ابي امامة رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی، رسو الله صلی الله علیه وسلم ویلي: زه هغه چا لپاره د جنت په منځ کې د کور ضامن او ذمه واریم، چې پر چا یې حق وي او بیا هم جګړه نه کوي.
د جنت په منځ کې هغه چا لپاره د جنت ضمانت ورکوم، چې د ټوکو ټکالو په توګه هم له دروغو څخه ځان ساتي او دروغ پرېږدي او د جنت په لوړه برخه کې هغه چا ته د کور ضمانت ورکوم، چې اخلاق یې ښه او ښکلي وي.

## په جنت کې ونې نیال کړئ:

(عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " مَنْ قَالَ: سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ وَبِحَمْدِهِ، غُرِسَتْ لَهُ نَخْلَةٌ فِي الجَنَّةِ[2])

له جابر رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: څوک چې یو ځل (سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ وَبِحَمْدِهِ) ووایي، هغه لپاره په جنت کې د کجورې ونه نیالېږي یانې کېنول کېږي.

---

[1] سنن أبي داود (۴ / ۲۵۳)

[2] سنن الترمذي ت شاکر (۵ / ۵۱۱)

## جومات ته تګ؛ که د جنت مېلمستیا:

(عن أبي هريرة، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «من غدا إلى المسجد وراح، أعدّ الله له نزله من الجنة كلما غدا أو راح»[1])

ابي هريرة رضی الله تعالی عنه د حدیث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: څوک چې سحر یا ماښام کې جومات ته ځي، الله تعالی هغه لپاره په جنت کې مېلمستیا تیاروي، هر سحر او ماښام چې دوی جومات ته ځي.

## زوی او لور یوشان ونازوئ!:

(عن ابن عبّاس، قال: قال رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَن كَانَتْ لَهُ أُنثَى فَلَمْ يَئِدْهَا، وَلَمْ يُهِنْهَا، وَلَمْ يُؤْثِرْ وَلَدَهُ عَلَيْهَا، قَالَ: يَعْنِي الذُّكُورَ - أَدْخَلَهُ اللَّهُ الْجَنَّةَ"[2])

له ابن عباس رضی الله تعالی عنهما څخه روایت دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: څوک چې الله تعالی پر لور نازولی وي، نه هغه ژوندۍ ښخه کړي، نه یې سپکاوی وکړي او نه نارینه اولاد ته پر هغې غوره والی ورکړي، الله تعالی به یې جنت ته ننباسي.

[1] صحيح البخاري (۱/۱۳۳)
[2] سنن أبي داود (۴/۳۳۷)

**هغو ښځینه وو ته د جنت زېری، چې د خپل خاوند اطاعت کوي:**

له ابي هريرة رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی، رسول الله صلی الله علیه ویلي:

کومه مېرمن چې پنځه وخته لمونځ ادا کوي، د رمضان د میاشتې روژې ساتي، د خپل عزت ساتنه کوي او د خپل خاوند اطاعت (خبره مني) هغې لپاره د جنت اته واړه دروازې پرانېستې دي، ورته به وویلی شي: په کومه دروازه دې چې زړه غواړي جنت ته ننوځه[1].

**د جنت خزانه:**

(لا حول ولا قوة إلا بالله[2])

ژباړه: نشته دی ګرځېدل له ګناه نه او نه قوت د نېکۍ، مګر (د الله تعالی په توفیق).

رسول الله صلی الله علیه وسلم ابی موسی اشعری رضی الله تعالی عنه ته ددې کلیماتو ښودنه کړې وه او د جنت له خزانو څخه یې یوه خزانه نومولې وه، خزانه ورته ځکه وایي چې ددې ویونکی خپل ځان او خپل کارونه الله تعالی ته حواله کوي[3].

**پر یوه کلمه د جنت کور وګټه!:**

(عَن سَالِمْ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَنْ دَخَلَ السُّوقَ، فَقَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ، وَهُوَ

---

1. رواه ابن حبان
2. مسند الشافعي ترتيب السندي (١ ٢٠٣)
3. (نيل المرام في ترجمة بلوغ المرام ج٢ ٤٦٠)

حَيٌّ لَا يَمُوتُ، بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، كَتَبَ اللَّهُ لَهُ أَلْفَ أَلْفِ حَسَنَةٍ، وَمَحَا عَنْهُ أَلْفَ أَلْفِ سَيِّئَةٍ، وَرَفَعَ لَهُ أَلْفَ أَلْفِ دَرَجَةٍ، وَبَنَى لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ[۱])

له سالم بن عبدالله رضی الله تعالی نه روایت دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: څوک چې دا دعا

(لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ، وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ، بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ)

بازار ته د ننوتلو پر مهال ووايي، نو الله تعالی به هغه لره لس لکه نېکۍ ولیکي، لس لکه ګناهونه به یې وبښل شي، لس لکه درجې به یې اوچتې شي او په جنت کې به ورته یو کور اباد کړای شي.

**وینه څښونکی جنتي:**

د احد په تاریخي غزا کې د ابو سعید الخدري رضی الله تعالی عنه پلار مالک رضی الله تعالی عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ټپ باندې خپلې شونډې کېښودلې او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ټپ وینې یې داسې وچوپلې (وڅښلې) چې ټپ یې له وینو څخه پاک کړ.

یو کس ورته وویل: دا له خولې څخه وغورځوه!

مالک رضی الله تعالی عنه ورته وویل: په الله قسم، هیڅکله به یې ونه غورځوم، بیا یې مخ وګرځاوه او روان شو.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: که څوک غواړي، چې یو جنتي ته وګوري، نو مالک رضی الله تعالی عنه ته دې وګوري[۲].

---

[۱] سنن الترمذي ت شاکر (۵ / ۴۹۱).

[۲] زاد المعاد ۳۹۸. سند یې منقطع دی.

# پنځم څپرکی

## د جنتیانو ډالۍ

ثوبان رضي الله تعالی عنه وایي: زه رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ولاړ وم، د یهودو له عالمانو څخه یو عالم راغی ویې ویل: السلام علیک یا محمد ! یوه داسې ډیکه مې ورکړه، چې نږدې وه چې پرشا ولوېږي، هغه وویل: زه دې ولې ډیکه کړم؟
ما ورته وویل:ولې یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ! نه وایې؟
هغه یهودي وویل: موږ ورته په هغه نامه غږ کوو، چې خپلې کورنۍ ورباندې ایښی دی.
رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: زما هغه نوم چې خپلې کورنۍ راباندې ایښی دی، محمد دی.
یهودي وویل: زه راغلی یم چې له تا نه پوښتنه وکړم.
رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل:که تا ته یې بیان وکړم، ایا تا ته به څه ګټه ورسوي.
هغه وویل: په غوږ به یې واورم.
رسول الله صلی الله علیه وسلم په لرګي ځمکه ګرولـه او ورته ویل یې: پوښتنه وکړه.
هغه وویل: کله چې ځمکه بله ځمکه باندې بدله شي، خلک به

چېرته وي؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: له صراط پله نه د ېخوا په تیاره کې.

هغه وویل: د قیامت په ورځ به اول چا ته اجازه ورکول کېږي؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: غریبو مهاجرینو ته.

یهودي وویل: کله چې دوی جنت ته داخل شي، د دوی تحفه به څه وي؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: د ماهي د ځیګر زیاتي برخه.

یهودي وویل: دې نه وروسته به یې خوراکه څه وي؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: د جنت غویي به ورته حلال شي او د هغه طرفونو نه به خوراک کوي.

هغه وویل: د دوی څښاک به څه وي؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: له هغه چینې نه چې سلسبیل نومېږي.

هغه وویل: تا رښتیا وویل. یهودي وویل: زه راغلی یم، تا نه د هغه شي پوښتنه کوم، چې په ځمکه کې هیچا ته معلوم نه دی، مګر نبي ته یا یو کس او دوه کسانو ته.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: که تا ته یې بیان کړم، څه ګټه به درته وکړي؟

هغه وویل: زه ستا خبرې په غوږ اورم. زیاته یې کړه: زه ستا نه د بچي په اړه پوښتنه وکړم؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: د سړي اوبه سپینې وي او د ښځې اوبه زېړې وي، کله چې دواړه یوځای شي او د سړي منې

(اوبه) د ښځې په مني (اوبو) باندې د پاسه شي، نو دواړه نران شي او که د ښځې مني د سړي مني باندې د پاسه شي، نو دواړه ښځې شي د الله تعالی په امر.

يهودي وويل: تا رښتيا وويل او ته نبي يې. بيا لاړ.

رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: ما نه يې پوښتنه وکړه او ما ته هېڅ معلومه نه و، تر دې چې الله تعالی راته پوهه راوسته.

عبدالله بن سلام د رسول الله صلی الله عليه وسلم له راتلو نه خبر شو، چې مدينې ته راغلی او ده په ځمکه کې مېوې شوکولې، رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی ويې ويل: زه له تا نه د درېو شيانو پوښتنه کوم، کوم هغه چې له نبي نه پرته بل چا ته معلوم نه دي، د قيامت لومړنی علامه څه ده؟ د جنتيانو لومړنی خوراک به څه وي؟ او څه لامل دی، چې بچی پلار يا مور ته ځي؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: جبرائل عليه السلام ما ته همدا اوس خبر راکړ.

هغه وويل: جبرايل؟!

رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: هو!

هغه وويل: دا د يهودو دښمن دی، د ملايکو نه.

رسول الله صلی الله عليه وسلم دا ايت ولوست:

(قُلْ مَن كَانَ عَدُوّاً لِّجِبْرِيلَ فَإِنَّهُ نَزَّلَهُ عليٰ قَلْبِكَ بِإِذْنِ ٱللَّهِ﴿۹۷﴾ سورت البقرة).

ژباړه: ((دوی ته ووايه څوک چې له جبرايل سره دښمني لري، هغه دې په دې وپوهېږي، چې جبرايل د الله په اجازه دا قرآن ستا زړه ته

رسولی.))

✓ هغه چې لومړنۍ علامه د قیامت ده، اور دی، چې خلک به د ختیځ نه لویدیځ ته راټولوي.

✓ او هغه چې لومړنی خوراک د جنتیانو دی، د ماهي د ځیګر زیاتي برخه ده.

✓ او کله چې د سړي اوبه ښځه باندې مخکې شي، بچی هلک وي او کله چې د ښځې اوبه سړي باندې مخکې شي نو جلۍ راځي.

هغه وویل: اشهد ان لا اله الا الله واشهد انک رسول الله. ای د الله تعالی رسوله! یهود ډېر بهتان لګوونکي خلک دي، که هغوی ستا د پوښتنې نه مخکې زما اسلام نه خبر شي، بهتان به را باندې ولګوي.

یهود راغلل، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: عبدالله تاسې کې څنګه سړی دی؟

هغوی وویل: غوره زموږ نه دی او پلار یې هم زموږ نه غوره دی، زموږ سردار دی او زموږ د سردار زوی دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: خبر راکړئ، که عبدالله اسلام راوړي؟

هغوی وویل: الله دې هغه له دې نه وساتي.

هغه شېبه عبدالله راووت، ویې ویل: اشهد ان لا اله الا الله واشهد انک رسول الله.

هغوی وویل: (عبدالله) په موږ کې ډېر شري دی او زموږ د شري زوی دی او د دې کمی یې بیان کړ.

عبدالله وویل: یا رسول الله صلی الله علیه وسلم زه له دې خبرې نه

وبربدلم.

ابو سعید الخدري رضي الله تعالی د حدیث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د قیامت په ورځ به ځمکه یوه ډوډۍ شي، نو جبار ذات به یې خپل لاس کې یو موټی کړي، جنتیانو لپاره. لکه څنګه چې یو کس ستاسې نه سفر کې ډوډۍ موټی کوي.

د یهودو یو سړی راغی، ویې ویل: الله تعالی دې پر تا باندې برکت راولېږي، یا ابو القاسم. زه تا ته د جنتیانو په مېلمستیا خبر درنکړم؟ د قیامت په ورځ.

نبي صلی الله علیه وسلم وویل: ولې نه!

دې وویل: ځمکه به یوه ډوډۍ شي، لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي و، رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته وکتل او ویې خندل، تر دې چې نواجذ غاښونه یې ښکاره شول. بیا یې زیاته کړه: ایا زه تاته د دې پورې کوونکي خبر درنه کړم؟ نو هغه وویل: پورې کوونکی بالام او ماهي وي.

هغه وویل: دا څه دي؟

نبي صلی الله علیه وسلم وویل: غویي او ماهي، چې د دې د ځیګر د زیاتي برخې نه به اویا زره کسان خوراک کوي.

الله تعالی به جنتیانو ته ووایي: د هر مېلمه لپاره اوښان حلالېږي، زه تاسو ته نن اوښان حلالوم، نو غویي او ماهي به راوړل شي، جنتیانو ته به حلال کړای شي[1].

[1] حادی الارواح ۱۴۴.

# درې لپې

ابو أمامه الباهلي رضي الله تعالی عنه وايي:
له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې اوربدلي دي، چې ويل يې: له ما سره مې رب وعده کړې ده، چې جنت ته به زما له امت څخه اويا زره کسان پرته له حسابه ننباسي، له هرو زرو کسانو سره به اويازره داسې کسان وي، چې له حساب او عذاب نه به خلاص وي او دا به درې لپې وي، زما د رب له لپو څخه.

همداراز په بل حديث کې راغلي، چې الله تعالی له ما سره وعده کړې ده، چې اويازره کسان به زما له امت څخه بې له حسابه جنت ته ننباسي، بيا هر زر کسان اويازرو کسانو لپاره شفاعت (سپارښتنه) کوي. بيا به زما رب په خپلو لپو سره درې لپې راواخلي، عمر رضي الله تعالی عنه الله اکبر وويل. او بيا يې وويل: لومړني (اويا) به د خپلو پلرونو، زامنو او قبيلو په حق کې شفاعت کوي او زه امېد لرم، چې الله به دې وروستيو لپو کې ما هم شامل کړي[1].

---

[1] حادی الارواح، مخ: ۱۲۰.

# درې کرښې

رسول الله ويلي:

جنت ته ننوتم نو د جنت په اړخونو مې د سروزرو په اوبو درې ليکل شوې کرښې وليدې.

لومړۍ کرښه کې (ليکلي وو):

(لا اله الاالله محمدرسول الله).

دويمه کرښه کې (ليکلي وو):(هغه چې مو وړاندې ولېږل د هغو بدله مو ومونده او هغه چې مو وخوړل له هغو نه مو ګټه پورته کړه او هغه چې مو وروسته پرېښودل زيان مو وکړ).

او په دريمه کرښه کې (ليکلي وو):

(امت ګناهګار دی او رب بښونکې دی)[1].

---

[1](رواه الرافعي وابن النجار، وهو حديث الصحيح الجامع الصغير انس) (وهو حديث ضعيف، كما في سلسلة الضعيفة (٣٢٩١) وضعيف الجامع الصغير(٢٩٦٢)) مرغلرې.

# د جنت رڼا او سپينوالی

عبد الله بن عباس رضي الله تعالی عنهما وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي دي: الله تعالی جنت سپين پيدا کړی دی او الله تعالی ته د ټولو رنګونو کې سپين رنګ دی، ستاسې ژوندي دې يې واغوندي او مړو ته مو ترې کفنونه ورکوئ.

بيا يې د ګډو - اوزو د څروونکو د راغونډولو حکم وکړ، کله چې شپانه راغونډ شول، رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: څوک چې په تاسو کې د تور رنګو مېږو خاوندان وي، هغو سره دې سپين رنګې مېږې يو ځای کړي.

يوه ښځه ورته راغله ويې ويل: ما تورې مېږې ساتلې، نه ډېرېږي.
رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: هغه سپينې کړه.

اسامه بن زيد رضی تعالی عنه وايي، رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: ايا څوک جنت ته بډې وهونکی شته؟ د جنت د زوال خطر نشته، د کعبې پر رب قسم دا پړقېدونکې رڼا ده، کشمالي دي خوځېدونکي، کلک تعمير، روان نهر، پخه مېوه، ښايسته ښځه، ډېرې جوړې، ځای د همېشه والي، مېوه او شينکي، تازه ګي او نعمت په لوړه او ښايسته محله کې.

اصحابو وويل: موږ بډې وهونکي يو، د جنت لپاره.

هغه ورته وويل: ان شاء الله ووايا ست.

اصحابو وويل: ان شاء الله[1].

---

[1] حادي الارواح ۱۲۷.

# د جنت خوشبويي

دغه خوشبويي به د جنتيانو د مرتبو او درجو له مخې يو له بله مختلفې وي عبدالله بن عمر رضي الله تعالى عنهما د حديث راوي دى رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: چا چې يو معاهد (ذمي) قتل کړي هغه ته به د جنت خوشبويي هم په برخه نشي حال دا دى، چې د جنت خوشبويي د څلوېښتو کلونو د لارې په اندازه هم رسېږي.

يو روايت کې دي چې د جنت خوشبويي د اتيا کلونو د لارې په اندازه رسېږي[1].

انس رضي الله تعالى عنه وايي: زما تره له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د بدر غزا ته نه و حاضر شوى او دا خبره په هغه باندې ډېره سخته تمامه شوې وه، هغه وويل: دا لومړنى ځاى چې رسول الله صلى الله عليه پکې و او زه پکې نه وم.

که چېرې بله کومه غزا منځ ته راشي؛ نو الله تعالى به ما ووينې چې زه څه کوم، انس رضي الله تعالى عنه وايي: زما تره د احد په غزا کې برخه واخيسته. دى له سعد بن معاذ رضي الله تعالى عنهما سره په لاره کې مخ شو، هغه ورته وويل: چېرې ځې؟

ويې ويل: واه واه د جنت خوشبويي د احد له غره نه راځي. دى وايي: هغه د مشرکانو کافرانو سره تر هغه وجنګېده چې شهيد

---

[1] د اسلامي ژوند ننګلاره ۱۳۲

شو، د هغه په بدن کې د تورو، نېزو او غشو څه د پاسه اتيا زخمونه وليدل شول.

خور يې وايي: ما مې خپل ورور يوازې د ګوتو له بندونو څخه وپېژانده او دا ايت نازل شو:

(مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُواْ مَا عَاهَدُواْ ٱللَّهَ عَلَيۡهِ فَمِنۡهُم مَّن قَضَىٰ نَحۡبَهُۥ وَمِنۡهُم مَّن يَنتَظِرُ وَمَا بَدَّلُواْ تَبۡدِيلٗا﴿٢٣﴾سورت الاحزاب)

ژباړه:((له مؤمنانو څخه ځينې داسې شخصيتونه شته چې هغوی له الله سره کړې ژمنه رښتيا کړې ده، له هغو نه چا خپل نذر پوره کړ او څوک د وخت راتلو ته انتظار باسي. هغوې پخپله کړنلاره کې هيڅ تبديلي رانه وستله.))

د جنت خوشبويي په دوه ډوله ده، يوه دا ده؛ چې روحونه يې په دنيا کې کله کله حس کوي، چې نور بنده ګان يې نه شي حس کولای. دويمه خوشبويي هغه ده، چې د بدن د شامې په قوت سره يې حس کوي؛ لکه څرنګه چې د ګلونو خوشبويي حس کوي او دا به د جنتيانو ترمنځ په اخرت کې مشترکه وي. د لرې او نږدې نه به يې حس کوي؛ مګر په دنيا کې يې هغه څوک حس کوي چا ته چې د الله تعالی خوښه شي لکه پيغمبران او رسولان، دا چې انس بن النضر رضي الله تعالی عنه حس کړې، کېدای شي چې له دې ډول نه وي او يا له لومړي ډول نه وي (والله اعلم)[1].

---

[1] حادی الارواح۱۷۰.

# جنت کې اعلان

حدیث کې راغلي الله تعالی به د قیامت په ورځ جنتیانو ته یوه ملایکه ولېږي، هغه ملایکه به ووایي: ای جنت والاو ایا الله تعالی تاسې سره خپله وعده پوره کړه؟

نو وبه ګوري ګاڼې، جوړې، ویالې، پاکې بیبیانې، دوی به ووایي: هو الله تعالی موږ سره خپله وعده پوره کړه، دا خبره به دوی درې ځلې وکړي، وبه ګوري په وعده کړای شویو شیانو کې به یو شی هم کم نه وي.

الله تعالی به ووایي: یو شی پاتې دی.

الله تعالی وایي:

﴿لِّلَّذِينَ أَحْسَنُواْ ٱلْحُسْنَىٰ وَزِيَادَةٌ﴿۲٦﴾ سورت یونس﴾

ژباړه:((کومو کسانو چې د ښو چارو لاره غوره کړه د هغو له پاره ښېګڼه او زیاته مهرباني ده.))

هغو کسانو ته چې نېکې یې کړې وي، په بدله کې جنت دی.[1]

په پورته ایت کې له (حسنی) څخه مراد جنت او له (زیادت) څخه مراد الله تعالی ته کتل دي.

علامه عبدالسلام رسمتي لیکلي (وَزِيَادَةٌ) د دې غوره تفسیر دیدار الهي دی په جنت کې؛ ځکه دا د مسلم په صحیح حدیث کې راغلی دی (أَحْسَنُواْ) مراد د احسان نه توحید دی په عقیده او عمل سره (ٱلْحُسْنَىٰ) ښایسته حالت دی او هغه جنت دی[2].

[1] حادی الارواح ۱۴۹ مخ.
[2] احسن الکلام ج۵-۳۰

# د جنت خاوره او خټه

امام احمد بن حنبل رحمه الله د ابو هريره رضي الله تعالی عنه په روايت مرفوع حديث نقل کړی د هغه اوږد حديث وروستی برخه کې راغلي دي:

اصحابو کرامو رضي الله تعالی عنهم د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه د جنت د ودانۍ په اړه پوښتنه وکړه، هغه وويل: ودانۍ يې له سرو او سپينو زرو نه جوړه ده، خټه يې له مشکو نه ده او لرګي يې مرغلرې سره ياقوت دي. خاوره يې زعفران ده، څوک چې هغو ته ننوځي په خوښيو او نعمتونو کې به وي، هېڅکله به غمجن او فکرمند کېږي نه، تل لپاره به ژوندي وي او نه به مړ کېږي، جامې به يې نه زړېږي، ځواني به يې نه ختمېږي. درې تنه دي چې د هغوی دعا د الله تعالی له لورې نه رد کېږي، د عادل پاچا دعا، د روژتي دعا او د مظلوم دعا له وريځو نه پورته ځي او د اسمانونو دروازې ورته پرانيستل کېږي او الله تعالی وايي: زما دې پر خپل عزت او لويۍ سوګند وي، هرومرو به ستا مرسته کوم، اګر که لږ وخت وروسته وي[1].

د انس بن مالک رضي الله تعالی عنه په روايت د ((حديث معراج)) يوه ټوټه کې راغلي رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: جنت ته چې ننوتم په هغه کې مې د مرغلرو ګومبزې وليدې او د جنت خاوره له مشکو څخه وه؟

همدا راز ابي نضره ويلي: ابن صياد له رسول الله صلی الله عليه

[1] حادی الارواح. مخ ۱۲۲

وسلم څخه د جنت د خاورې په اړه پوښتنه وکړه؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: سپینه میده خاوره ده او خالص مشک دي.

علامه ابن القیم رحمه الله د اوږدې څېړنې یوه برخه کې لیکلي: د جنت د خاورې د ډېرو ښکلو صفتونو کې خپلمنځي تعارض او ټکر نه معلومېږي، د سلفو د عالمانو یوه ډله په دې اند ده چې د جنت خاوره دوه صفتونه په خپله غېږه کې رانغاړي.

چې هغه مشک او زعفران دي، ابوبکر بن ابی شیبه په اوږد سند سره د معتب بن سمی وینا نقل کړې ده، چې (د جنت خاوره مشک او زعفران دي).

د دوه نورو ماناګانو احتمال هم لري لومړی دا چې خاوره به یې زعفران وي، خو کله چې له اوبو سره ګډه شي نو مشک به وګرځي.

د حدیث تېره جمله هم په دې دلالت کوي چې خټه به یې له مشکو څخه وي.

همدارازد علاء بن زیاد حدیث هم په دې دلالت کوي چې: خاوره یې زعفران او مشک دي.

کله چې خاوره یې ښکلې او خوشبویه وي، او به یې هم خوشبویه وي او چې یو له بل سره ګډ شي؛ نو له هغو دواړو به بله خوشبویي پیدا شي او مشک به وګرځي.

دویمه مانا دا چې د جنت خاوره به د رنګ له مخې زعفران وي او د بوی له مخې به مشک وي.

او دا تر ټولو ښه او ښکلې څیز دی چې تازه ګي او ځلا د زعفرانو رنګ وي او بوی د مشکو وي.

جابر بن عبد الله رضي الله تعالی عنهما وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يو سړی راغی.

ويې ويل: ای محمد صلی الله عليه وسلم! نن ستا ملګري کمزوري او مغلوب کړای شو.

هغه ورته وويل: په څه شي مغلوب شو؟

هغه سړي ورته وويل: يهودو ترې پوښتنه وکړه، چې د اور خزانه چيان څو مره دي؟

دوی وويل: موږ نه پوهېږو، چې له خپل نبي څخه پوښتنه ونه کړو.

رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: آيا هغه قوم مغلوبېږي، چې د هغه شي پوښتنه ترې شوي وي، چې پرې نه پوهېږي او هغوی ووايي چې موږ به له خپل نبي نه پوښتنه وکړو.

مګر دوی د الله تعالی دښمنان دي، له خپل نبي يې سوال کړی و، چې الله ورته ښکاره وښيي، دا د الله دښمنان ماته راولئ، زه ورڅخه د جنت د خاورې په اړه پوښتنه کوم او دا ميده خاوره ده.

کله چې هغوی راغلل، ويې ويل: ای ابو القاسمه! د اور د خزانه چيانو شمېر څو مره دی؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم په خپلو دواړو لاسونو اشاره وکړه، چې دو مره او دو مره او يوه ګوته يې ماته کړه يانې (۱۹) هغوی يو بل ته وکتل. ويې ويل: ډوډۍ.

رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: د ميده اوړو نه ډوډۍ ده[1].

---

[1] حادی الارواح ۱۳۳مخ.

# د جنت لوړې ودانۍ او ښکلې بنګلې

(أُوْلَـٰئِكَ يُجْزَوْنَ ٱلْغُرْفَةَ بِمَا صَبَرُواْ وَيُلَقَّوْنَ فِيهَا تَحِيَّةً وَسَلاَماً﴿۷۵﴾ سورت الفرقان)

ژباړه:((دغه دي هغه کسان چې د خپل صبر مېوه به د دنګې ماڼۍ په بڼه کې ومومي. په آدابو او سلامونو سره به هلته د هغو هرکلی کېږي.))

(لَـٰكِنِ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْاْ رَبَّهُمْ لَهُمْ غُرَفٌ مِّن فَوْقِهَا غُرَفٌ مَّبْنِيَّةٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلأَنْهَارُ وَعْدَ ٱللَّهِ لاَ يُخْلِفُ ٱللَّهُ ٱلْمِيعَادَ﴿۲۰﴾ سورت الزمر)

ژباړه:((البته کوم کسان چې له خپل رب څخه وویرېږي، د هغو لپاره لوړې ماڼۍ دي، پوړ پر پوړ جوړې شوې. چې ترهغو لاندې به ویالې بهېږي دا د الله وعده ده، الله هېڅکله له وعدې نه تخلف نه کوي.))

(وَٱلَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّالِحَاتِ لَنُبَوِّئَنَّهُمْ مِّنَ ٱلْجَنَّةِ غُرَفَاً تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا نِعْمَ أَجْرُ ٱلْعَامِلِينَ﴿۵۸﴾ سورت العنکبوت)

ژباړه:((کومو کسانو چې ایمان راوړی دی او ښه عملونه یې کړي دي، هغوی به موږ د جنت په لوړو دنګو ماڼیو کې استوګن کړو، چې ترهغو لاندې به ویالې بهېږي، هلته به هغوی د تل لپاره اوسېږي، څه غوره اجر دی د عمل کوونکو لپاره.))

(وَمَآ أَمْوَالُكُمْ وَلاَ أَوْلاَدُكُمْ بِٱلَّتِي تُقَرِّبُكُمْ عِندَنَا زُلْفَىٰ إِلاَّ مَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحاً فَأُوْلَـٰئِكَ لَهُمْ جَزَآءُ ٱلضِّعْفِ بِمَا عَمِلُواْ وَهُمْ فِي ٱلْغُرُفَاتِ آمِنُونَ﴿۳۷﴾سورت سبأ)

ژباړه:((دا ستاسې شتمني او ستاسې اولادونه هغه څه نه دي، چې تاسې موږ ته نږدې کوي. هو، خو څوک چې ایمان راوړي او ښه عمل وکړي، همدغه خلک دي چې د هغو لپاره د هغو د عمل دوچند مکافات دي او هغوی به په دنګو او هسکو ماڼیو کې په ډاډینه اوسېږي[1].))

امام ترمذي رحمه الله د علي رضي الله تعالی عنه په روایت حدیث نقل کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: بې له شکه په جنت کې داسې بالاخانې دي چې د هغې بهر طرف له دننه لوري لیدل کېږي او دننه طرف یې بهرني لور نه لیدل کېږي. یو کلیوال سړی پاڅېد ویې ویل:یا رسول الله صلی الله علیه وسلم دا بالاخانې د چا لپاره دي؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: هغه چا لپاره؛ چې ښې خبرې کوي، خلکو ته خواړه ورکوي، په روژه باندې همېشه والی کوي، د شپې په داسې مهال کې لمونځ کوي چې نور خلک ویده وي[2].

په صحیحینو کې د ابی موسی اشعری رضي الله تعالی عنه په روایت حدیث کې راغلي رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:د مؤمن لپاره په جنت کې د یوې مرغلرې څخه جوړه داسې خېمه ده چې منځ یې خالي دی او اوږدوالی یې شپېته میله دی په هغې کې به د ده د کورنۍ غړي وي. دا مؤمن به په هغوی ګرځي راګرځي د

[1] صفة الجنة فی القرآن الکریم. مخ ۱۲.
[2] صفة الجنة فی القرآن الکریم ۱۲۰

دوی ځینې به ځینې نور نه وینې.

همدارنګه صحیح حدیث کې راغلي رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي څوک چې د الله تعالی لپاره جومات جوړ کړي الله تعالی به هغه لپاره به جنت کې کور جوړ کړي.

همدارنګه په حدیث د ابو موسی رضی الله تعالی عنه کې راغلي الله تعالی د هغه چا په اړه چې د زوی د مړینې په مهال د الله تعالی حمد اداکړي، (انا لله وانااليه راجعــون) ووايي، ملايکو ته وايي: زما بنده لپاره په جنت کې کور جوړ کړئ او د بيت الحمد په نامه يې ونوموئ.

همدارنګه صحيحينو کې د عبدالله بن ابي اوفی، ابو هريره رضی الله تعالی عنه او عائشې رضي الله تعالی عنها په روايت حديث کې راغلي، جبريل عليه السلام، رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی ورته يې وويل: خديجې رضي الله تعالی عنها باندې د هغه د رب له لوري سلام وايه او الله تعالی امر کړی دی، چې خديجې رضي الله تعالی عنها ته په جنت کې د داسې کور زيری ورکړه، چې له داسې مرغلرو نه به جوړ شوی وي، چې منځونه يې تش وي او هلته به شور، ګډ-وډ غږونه، چغې او ستړيا نه وي).

ابو هريره رضي الله تعالی عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: يقيناً په جنت کې له مرغلرو جوړه يوه داسې بنګله ده، چې هغې کې به هيڅ ډول درز او سستي نه وي او الله تعالی هغه د خپل خليل (ملګري) ابراهيم عليه السلام لپاره تياره کړې ده.

انس رضي الله تعالی عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلی

الله علیه وسلم ویلي جنت ته ننوتم هلته مې لـه سرو زرو څخـه جوړه یوه بنګله ولیده، پوښتنه مې وکړه: دا بنګله د چا ده؟

ځواب کې راتـه وویـل شـو: دا د قریشـو د یـو ځـوان ده. ما ګومـان وکړ هغه به زه یم. ومې پوښتل هغه ځوان څوک دی؟

هغوی وویل: عمر بن الخطاب رضي الله تعالی عنه.

امام حسن بصري رحمه الله ویلي: د سروزرو بنګلې ته به لـه نبي، صدیق، شهید او عادل حاکم پرته بل څوک نه ننوځي.

مغیـث بـن سـمی ویلـي: پـه جنـت کـې د سـروزرو، سـپینو زرو، مرغلرو، سرو یاقوتو، زبرجدو او شنو زمرودو بنګلې دي.

مجاهد رحمه الله د عبید بن عمیر رضی الله تعالی عنـه نـه حدیث نقل کړی: چې جنت کې به د کمې مرتبې والا جنتي هغـه څوک وي، چې هغـه لپاره به لـه یـوې مرغلرې نـه داسـې کـور جوړ وي، چې د کـور دروازې او کوټې ټولې به یې له هماغې مرغلرې څخه جوړې وي[1].

---

[1] حادی الارواح ۱۳۰.

# د جنت د استوګنې ځايونه

(وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ وَرِضْوَانٌ مِّنَ ٱللَّهِ أَكْبَرُ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ﴿۷۲﴾ سورت التوبة)

ژباړه:((له (دغو) مؤمنانو نارينه وو او ښځو سره د الله وعده ده، چې دوی ته به داسې باغونه ورکړي، چې تر هغو لاندې به ويالې بهېږي او دوی به پکې د تل له پاره اوسېږي. په هغو تل ښېرازه باغونو کې به د دوی له پاره سوتره استوګنځي وي او تر هر څه زيات دا چې د الله رضا به ور په برخه وي، همدا ستر بری دی.))

(يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَارُ وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ﴿۱۲﴾ سورت الصف)

ژباړه:((الله به ستاسې ګناهونه دروبښي او تاسې به هغو باغونو ته ننباسي، چې تر هغو لاندې به ويالې بهېږي او د ابدي استوګنې په جنتونو کې به ډېر غوره کورونه درکړي، دا دی ستر برياليتوب.))

(وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا لِّلَّذِينَ آمَنُوا ٱمْرَأَةَ فِرْعَوْنَ إِذْ قَالَتْ رَبِّ ٱبْنِ لِي عِندَكَ بَيْتًا فِي ٱلْجَنَّةِ وَنَجِّنِي مِن فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهِ وَنَجِّنِي مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّالِمِينَ﴿۱۱﴾ سورت التحريم)

ژباړه:((او د مؤمنانو په باب الله د فرعون د ښځې مثال وړاندې کوي کله چې هغې دُعا وکړه چې ای زما ربه! زما لپاره له خپل ځان سره په جنت کې يو کور جوړ کړه او ما د فرعون او د هغه له عمل نه

وژغوره او له ظالم قوم نه ماته نجات راکړه.[1]))

دغه ایت کې الله تعالی د هغو کسانو مثال بیان کړی، چې د صداقت په ګاڼه سینګار دي او د الله تعالی د توحید عقیده لري. ایت کې د مثال نه څرګندېږي چې د مؤمن پیوستون کافر سره مؤمن ته څه زیان نشي رسولی په داسې حالت کې چې د هغه نه په کفر او عمل کې جلا وي. هغه مؤمن چې د الله تعالی حکم منونکی وي هغه ته د بل چا ګناه په اخرت کې زیان نه شي رسولی که څه هم دنیا کې د ځمکې والاوو باندې کوم عام افت راځي، نو هغه کې مؤمنان هم زیانمن کېږي. پر همدې بنسټ اسیه رضي الله تعالی عنها چې د فرعون مېرمن وه، له تر ټولو لوی کافر فرعون سره د هغې پیوستون اسیه رضي الله تعالی عنها ته زیان نشي رسولای. دا د الله تعالی قضا او قانون دی چې یو تن د بل په معصیت او ګناه کې نه نیسي.

د سلمان الخیر سلمان فارسي رضي الله تعالی عنه په روایت حدیث کې راغلي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د فرعون مېرمن ته به په ګرم لمر کې عذاب او کړاو ورکول کېده. بیا به چې کله دوی له هغې نه راستانه شول، نو ملایکو به پرې د خپلو وزرو سیوری خپور کړ او هغې به خپل کور په جنت کې لیده.

همداراز سیوطي او علامه الوسي رحمهما الله په صحیح سند سره د ابو هریرة رضي الله تعالی عنه نه روایت کړی: چې فرعون پر خپلې مېرمنې باندې څلور مېخونه وهلي وو، دوه یې د هغې پر

---

[1] صفة الجنة فی القرآن الکریم، مخ: ۱۲۵

لاسونو او دوه نور يې په پښو کې.

دوی به چې کله د هغې نه جدا شول نو پر اسيه رضي الله تعالى عنها باندې به ملايکو سيوری جوړ کړ (او د لمر د ګرمۍ نه به يې ژغورله) بيا به يې ويل:

(رَبِّ ٱبۡنِ لِي عِندَكَ بَيۡتٗا فِي ٱلۡجَنَّةِ ﴿۱۱﴾ سورت التحريم)

ژباړه:((ای زما ربه ! زما لپاره له خپل ځان سره په جنت کې يو کور جوړ کړه.))

د دې سره به هغې ته په جنت کې خپل کور ښکاره شو.

لکه څرنګه چې الله تعالى اسيه بنت مزاحم رضي الله تعالى عنها ته په جنت کې د کور په ورکړه کرامت او عزت ورکړی و، همداسې عزت او وياړمن مقام يې د مؤمنانو مور خديجه بنت خويلد رضي الله تعالى عنها ته هم ورکړی و او د جنت په کور يې هغې ته زېری رااستولی و.

صحيحينو کې د ابو هريره رضي الله تعالى عنه په روايت حديث کې راغلي. رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: جبرايل عليه السلام رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی ويې ويل: يا رسول الله ! دا دی خديجه رضي الله تعالى عنها تاته را روانه ده د هغې سره په يو لوښي کې اينګولی، خواړه او يا د څښلو څيز هم دی. کله چې هغه تاته راغله، نو هغې باندې د الله تعالى له لورې او زما له لورې سلام ووايه او په جنت کې له تازه او ځلېدونکو مرغلرو څخه په داسې جوړ کور باندې زېری ورکړه، چې هېڅ ډول شور، غوغا او ستړيا به پکې نه وي[1].

---

[1] صفة الجنة فی القرآن الكريم ۱۷۳مخ.

(قُلْ أَغَيْرَ ٱللَّهِ أَبْغِي رَبًّا وَهُوَ رَبُّ كُلِّ شَيْءٍ وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ إِلَّا عَلَيْهَا وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُم مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ﴿١٦٤﴾ سورت الانعام)

ژباړه:((ووايه ايا زه لـه الله نـه پرتـه کـوم بـل رب ولټـوم، پـه داسـي حال کې چې هماغه د هر څه رب دی؟ هر څوک چې څه ګټي د هغه مسوول هغه په خپله دی، هيڅ پورته کوونکی د بـل پـېټی نـه پورتـه کوي، بيا ستاسې ټولو د خپل رب لوري ته ګرځېدل دي، په هغه وخت کې به هغه ستاسې د شخړو حقيقت تاسې ته لوڅ کړي.))

(مَّنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهِ وَمَنْ أَسَاءَ فَعَلَيْهَا وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ﴿٤٦﴾ سورت فصلت يا حم السجدة)

ژباړه:((څوک چې ښه عمل وکړي د خپل ځان لپاره به ښه وکړي، څوک چې بدي وکړي د هغې وبال به پر همغه باندې وي او ستا رب د خپلو بندګانو په حق کې ظالم نه دی.))

(كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ﴿٣٨﴾ سورت المدثر)

ژباړه:((هر څوک د خپلو (ناوړه) کړنو په بدل کې ګرو دي.))

د پورتنيو ايتونو پر استناد څرګنده ده، چې اسيه رضي الله تعالی عنها به جنات النعيم کې وي او فرعون به جهنم او بئس المصير کې وي، اسيه رضي الله تعالی عنها لومړی د رب العزة قرب او نږدېکت طلب کړ.

دا د هغې په نزد د اهميت نه ډکه خبره وه بيا يې نږدېکت مکان د (في الجنة) په قول څرګند کړ، د عام قانون مطابق ګاونډي يې د کور وړاندې ځانته وټاکه الله تعالی د اسيه رضي الله تعالی عنها غوښتنه قبوله او ومنله.

# د جنت ونې او سیوري

الله تعالی اصحاب الیمین (ښي لاس والا) یا جنتیانو لپاره جنت کې د ونو سیورو اوبو او مېوو یادونه داسې کړې ده.

(وَأَصْحَابُ ٱلْيَمِينِ مَآ أَصْحَابُ ٱلْيَمِينِ﴿۲۷﴾فِى سِدْرٍ مَّخْضُودٍ﴿۲۸﴾وَطَلْحٍ مَّنضُودٍ﴿۲۹﴾وَظِلٍّ مَّمْدُودٍ﴿۳۰﴾وَفَاكِهَةٍ كَثِيرَةٍ﴿۳۲﴾لاَّ مَقْطُوعَةٍ وَلاَ مَمْنُوعَةٍ﴿۳۳﴾سورت الواقعة)

ژباړه:((او دښي لاس خاوندان، دښي لاس دخاوندانو دنېکمرغۍ به څه وایې. هغوی به په بې اغزیو بېرو کې. لاندې باندې یوه پربلې سپرو کېلو کې. او تر لرې پورې خورو شویو سیورو کې. او په هر وخت بهېدونکو اوبو کې. او په هېڅکله پای ته نه رسېدونکو. او بې سپما بې منع شویو پرېمانه میوو کې.))

(وَٱلَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّالِحَاتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَآ أَبَداً لَّهُمْ فِيهَآ أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَنُدْخِلُهُمْ ظِـلاًّ ظَلِيلاً﴿۵۷﴾ سورت النساء)

ژباړه:((او کومو خلکو چې ایمان راوړی (زموږ ایتونه یې منلي) او غوره عملونه یې کړي دي، هغوی به موږ داسې باغونو ته ننباسو چې تر هغو لاندې به ویالې بهېږي، هلته به هغوی د تل له پاره اوسېږي او هغو ته به سپېڅلې مېرمنې په برخه شي او هغو ته به موږ په ګڼو سیورو کې استوګنه ورکړو.))

(مَّثَلُ ٱلْجَنَّةِ ٱلَّتِى وُعِدَ ٱلْمُتَّقُونَ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَارُ أُكُلُهَا دَآئِمٌ وِظِلُّهَا تِلْكَ عُقْبَىٰ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَواْ وَّعُقْبَى ٱلْكَافِرِينَ ٱلنَّارُ﴿۳۵﴾ سورت الرعد)

ژباړه:((له الله نه د ويرېدونكو انسانانو له پاره چې د كوم جنت وعده شوې ده، د هغه شان دادى چې تر هغه لاندې ويالې بهېږي، د هغه مېوې نه ختمېدونكې دي او د هغه سيورې همېشنى دي. دا د متقيانو عاقبت دى. او د حق د منكرانو عاقبت دادى، چې د هغو له پاره د دوزخ اور دى.))

(إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى ظِلَالٍ وَعُيُونٍ﴿۴۱﴾ سورت المرسلات)

ژباړه:((پرهېزګاران نن په سيورو او چينو كې دى.))

(وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلَالُهَا وَذُلِّلَتْ قُطُوفُهَا تَذْلِيلاً﴿۱۴﴾ سورت الانسان يا سورة الدهر)

ژباړه:((د جنت ښانګې به پرې راټيټې شوې سيورې كوونكې وي او د هغه مېوې به هر وخت د هغوى په وس كې وي (چې ښه ګه غواړي ويې شكوي).))

امام بخاري رحمه الله د ابو سعيد رضي الله تعالى عنه په روايت له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه حديث نقل كړى دى، په جنت كې يوه ونه ده، چې د بر چټک آس سل كاله منډه ووهي، نو د هغې ونې سيورى به پاى ته ونه رسېږي.

همدا راز ابو هريره رضي الله تعالى عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم حديث نقل كړى دى، په جنت كې چې كومه ونه ده، تنه يې له سرو زرو څخه ده[1].

[1] ترمذى ۲۵۲۵- د اسلامي ژوند تګلاره ۱۵۸.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي الله تعالی وایي: خپلو صالحو بنده ګانو لپاره مې هغه څه تیار کړي دي، چې نه سترګو لیدلي، نه غوږونو اورېدلي او نه د بشر په زړه کې تېر شوي دي، که غواړئ نو ولولئ:

(فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ أُخْفِىَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ﴿۱۷﴾ سورت السجدة)

ژباړه:((نو د سترګو یخېدو کوم وسایل چې د هغو د عملونو په مکافات کې د هغو لپاره پټ کړای شوي دي هېڅ نفس پرې خبر نه دی.))

او په جنت کې یوه ونه داسې ده، که سل کاله یو سپور شخص د هغې په سیوري کې مزل وکړي پای ته به یې ونه رسوي، که غواړئ نو ولولئ:

(وَظِلٍّ مَّمْدُودٍ﴿۳۰﴾سورت الواقعة)

ژباړه:((او سیوری اوږده.))

## د سدرة المنتهی لنډ تفسیر:

(وَلَقَدْ رَءَاهُ نَزْلَةً أُخْرَىٰ﴿۱۳﴾عِندَ سِدْرَةِ ٱلْمُنتَهَىٰ﴿۱٤﴾عِندَهَا جَنَّةُ ٱلْمَأْوَىٰٓ﴿۱۵﴾إِذْ يَغْشَى ٱلسِّدْرَةَ مَا يَغْشَىٰ﴿۱٦﴾ سورت النجم)

ژباړه:((او په باوري ډول یو ځل بیا یې هغه ولیده. له سدرة المنتهیٰ سره. چې په څو اکې یې جنت الماوی دی. په هغه وخت کې پر سدره باندې غوړېدل هغه څه چې غوړېدل.))

سلیم بن عامر رضي الله تعالی عنه وایي، د رسول الله صلی الله

عليه و سلم صحابه کرامو بـه ويـل: الله تعـالى د اعرابو (کليوالـو ) د مسايلو او پوښتنو په وسيله مور ته ډېره ګټه رسوي، دى وايي يـو کليوال سړى رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راغى. ويې ويـل: يـا رسول الله ! الله تعالى په جنت کې د ضرر رسوونکې ونې ذکر کړى دى، دا زما په فکر او ګومان کې نه وو، چې جنت کې دې داسې ونـه وي، چې هغه دې جنتي ته زيان ورسوي.

رسول الله صلى الله عليـه و سلم ورتـه وويـل: ((ايـا الله تعـالى نـه دي ويلي: فِى سِدْرٍ مَّخْضُودٍ﴿۲۸﴾ سورت الواقعة ))

ژباړه: هغوى به په بې اغزيو بېرو کې.

الله تعالى به يې اغزي لرې کړي او د هر اغزي پر ځاى به مېوه ليدل کېږي.

دوه اويا (۷۲) رنګه خواړه به ورتـه برابـر رسېږي. داسې رنګينـه خواړه چې د يوه رنګ به د هغه بل رنګ سره ورته نه وي[1].

جرير بن عبد الله رضي الله تعالى عنه جليل القدر صحابي و، د سيرت د ښکلا ترڅنګ د صورت د ښکلا په ګانه هم سينګار و. آن تر دې چې امير المؤمنين عمر فاروق رضي الله تعالى عنه به ورتـه د دې امت يوسف وايه. همدا د ښکلا په ګانه سينګار جرير رضي الله تعالى عنه وايي: سلمان رضي الله تعالى راته وويـل: اى جريـره ! الله تعالى ته عاجزي کوه ځوک چې د نيا کې الله تـه عـاجزي کـوي، الله تعالى يې د قيامت په ورځ مرتبې او درجې لوړوي.

---

[1] صفة الجنة فى القرآن الكريم، مخ: ۳۵۲.

بیا یې وویل: ای جریره ! ته پوهېږې تیارې څه دي؟

ما وویل: نه پوهېږم.

سلمان رضي الله تعالی عنه وویل: په دنیا کې یو پر بل باندې د خلکو ظلم.

بیا سلمان یو د بر وړوکی لرګی په لاس کې واخیست، دومره کوچنی چې په ګوتو کې یې نه ښکارېده، ویې وویل: جریره ! که جنت کې د دې کوچني لرګي لټه وکړې، وبه یې نه مومې.

جریر رضي الله تعالی عنه وایي، ما وویل: ای ابا عبدالله ! کله چې داسې وي، نو بیا به د جنت ونې چېرې وي؟

سلمان فارسی رضي الله تعالی عنه وویل: د جنت د ونو بېخونه به له مرغلرو او سرو زرو څخه وي او په بره څانګو کې به یې مېوې وي[1].

[1] صفة الجنة فی القرآن الکریم ۳۳۲.

# د جنت باغونه

قرآن کریم کې روضة او کله بیا روضات د جمع په صیغه یاد شوی دی. روضة: د ځمکې هغې برخې ته ویل کېږي، چې د اوبو او ونو ترخنګ په ښایسته ګلونو سینګار او پوښلې وي.

همدا راز په ښکلي ښېرازه باغ یې هم اطلاق کېږي، هغه ځای ته هم روضه ویل کېږي، چې اوبه او رنګا-رنګ بوټي پکې وي.

قرآن کریم کې چې د روضة کلمه راځي، نو په روضات الجنة د (جنت باغونه) باندې دلالت کوي، د افراد په صیغه یو ځل د روم سورت ۱۵ ایت کې راغلې.

همدا راز روضة د جمع په صیغې سره سورت الشوری ۲۲ ایت کې یاده شوې ده.

(تَرَى ٱلظَّالِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا كَسَبُواْ وَهُوَ وَاقِعٌ بِهِمْ وَٱلَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّالِحَاتِ فِى رَوْضَاتِ ٱلْجَنَّاتِ لَهُمْ مَّا يَشَآءُونَ عِندَ رَبِّهِمْ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَضْلُ ٱلْكَبِيرُ ﴿٢٢﴾ سورت الشورى)

ژباړه: ته به وګورې چې دغه ظالمان به په هغه وخت کې د خپلو عملونو له عاقبت نه ویرېدونکي وي او هغه به پر دوی راشي. د دې پر خلاف کومو خلکو چې ایمان راوړی دی او نېک عملونه یې کړي دي، هغوی به د جنت په باغچو کې وي، هغوی چې هرڅه وغواړي د خپل رب په وړاندې به یې ومومي، همدغه لوی فضل دی.

صحیحو احادیثو کې راغلي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د کور او منبر ترمنځ جنت له باغونو څخه یو باغ دی.

امام مالک رحمه الله د ابو هریره او ابو سعید الخدری رضي الله تعالی عنه په سند سره حدیث نقل کړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: زما د کور او منبر ترمنځ یو باغ دی، د جنت له باغونو څخه او زما منبر زما پر حوض باندې دی.

د حدیث مانا دا ده چې کومه ټوټه ځمکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د کور او منبر ترمنځ ده په اخرت کې به د جنت له باغونو څخه یو باغ وي.

ځینې نور بیا دا په مجاز شمېري، هغه د دې له امله چې په دې ځای کې ناسته د قرآن کریم او شرعي احکامو د زده کړې لپاره وه، ځکه یې دا ځای د جنت له باغ سره تشبیه کړ.

د حدیث له متن او مفهوم نه ښکاري، چې دا ځای د جنت له باغونو څخه یو باغ دی[1].

[1] صفة الجنة فی القرآن الکریم، مخ: ۲۰۴.

# د جنت مېوې

قرآن کريم کې د جنت د مېوو ياد په بېلابېلو بڼو راغلی. ټول هغه اياتونه چې د جنتي مېوو يادونه پکې شوې ده، د دې ثبوت او ښکارندويې کوي، چې جنت کې رنګا رنګ مېوې شته دی.

لومړنی ايت چې د جنت د مېوو ياد پکې شوی د سورت بقره ۲۵ ايت دی:

﴿وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ كُلَّمَا رُزِقُواْ مِنْهَا مِن ثَمَرَةٍ رِّزْقاً قَالُواْ هَـذَا الَّذِي رُزِقْنَا مِن قَبْلُ وَأُتُواْ بِهِ مُتَشَابِهاً وَلَهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَهُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿۲۵﴾ سورت البقرة﴾

ژباړه:((او ای پېغمبره ! کومو خلکو چې پردې کتاب ايمان راوړ او (له هغه سره سم ) خپل عملونه يې اصلاح کړل هغو ته زېری ورکړه چې د هغو له پاره داسې باغونه دي، چې ترې لاندې به ويالې بهېږي، د هغو باغونو مېوې به په شکل کې د دنيا مېوو ته ورته وي، کله چې کومه مېوه د خوراک له پاره هغو ته ورکړه شي، نو هغوی به وو ايي چې همدغسې مېوه له دې نه مخکې په دنيا کې موږ ته راکړه شوې وه، د هغو له پاره به هلته ډېرې سپېڅلې ښځې وي او هغوی به هلته د تل له پاره اوسېږي. ))

قرآن کريم کې د جمع (ٱلثَّمَرَاتِ) په صيغه هم د مېوو يادونه شوې ده، ببلکه يې د محمد سورت کې داسې راغلې ده:

﴿وَلَهُمْ فِيهَا مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ ﴿۱۵﴾ سورت محمد﴾

ژباړه:((په هغه کې به د هغو لپاره هر راز ميوې وي. ))

جابر بن عبد الله رضي الله تعالی عنهما وايي، د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کې لمر تور شوی و، رسول الله صلی الله عليه وسلم

پر لمانځه ودرېد، د اوږد حديث په ترڅ کې يې وويل: بيا جنت زما مخ ته راوړل شو، دا هغه مهال و، چې تاسې زه وليدلم، چې مخکې شوم تر دې چې خپل ځای کې ودرېدم ما لاس وغځاوه ما غوښتل چې د جنت له مېوو څخه تاسې ته څه راوشکوم څو تاسې هغه ليدلې وای، بيا ماته ښکاره شوه چې دا کار ونه کړم.

جرير بن عبدالله رضي الله تعالی جليل القدر صحابي و، د سيرت د ښکلا ترڅنګ د صورت د ښکلا په ګانه هم سينګار و آن تر دې چې اميرالمؤمنين عمرفاروق رضي الله تعالی عنه به ورته د دې امت يوسف وايه. همدا د ښکلا په ګانه سينګار جريررضي الله تعالی عنه وايي: سلمان رضي الله تعالی راته وويل: ای جريره! الله تعالی ته عاجزي کوه څوک چې دنيا کې الله ته عاجزي کوي، الله تعالی يې د قيامت په ورځ مرتبې او درجې لوړوي.

بيا يې وويل: ای جريره! ته پوهېږې تيارې څه دي؟

ما وويل: نه پوهېږم.

سلمان رضي الله تعالی عنه وويل: په دنيا کې يو پر بل باندې ظلم د خلکو.

بيا سلمان يوه بره وړوکی لرګی په لاس کې واخيست، دومره کوچنی چې په ګوتو کې يې نه ښکارېده، ويې وويل: جريره! که جنت کې د دې کوچني لرګي لټه وکړې، وبه يې نه مومې.

جرير رضي الله تعالی عنه وايي، ما وويل: ای ابا عبدالله! کله چې داسې وي، نو بيا به د جنت ونې چېرې وي؟

سلمان فارسی رضي الله تعالی عنه وويل: د جنت د ونو بېخونه به له مرغلرو او سرو زرو څخه وي او په برو څانګو کې به يې مېوې وي[1].

---

[1] صفة الجنة فی القرآن الکريم ۳۳۲.

# د جنت د مېوو ډولونه

جنت کې بې شمېره مېوې دي، د قرآن کريم د ص سورت ۵۱ ايت کې يې الله تعالی داسې يادونه کړې ده.

(مُتَّكِئِينَ فِيهَا يَدْعُونَ فِيهَا بِفَاكِهَةٍ كَثِيرَةٍ وَشَرَابٍ ﴿۵۱﴾ سورت ص)

ژباړه:((هغوی به په کې تکيه وهونکي ناست وي، د ښو ښو مېوو او څښلو وړشيانو غوښتونکي به وي.))

(لَكُمْ فِيهَا فَاكِهَةٌ كَثِيرَةٌ مِّنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿۷۳﴾ سورت الزخرف)

ژباړه:((ستاسې لپاره دلته پرېمانه ښې غوره مېوې شته چې تاسې به يې خورئ.))

د جنت ټولې مېوې به يو ډول نه وي؛ بلکې په بېلا بېلو ډولونو به وي، په سورت محمد کې يې الله تعالی داسې يادونه کړې ده:

(وَلَهُمْ فِيهَا مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ ﴿۱۵﴾ سورت محمد)

ژباړه:((په هغه کې به د هغو لپاره هر راز مېوې وي.))

د بېلګې په توګه لکه خرما، انګور، منه، اينځر او داسې نورې چې دنيا کې سارى نه لري.

# د جنت او دنیا د مېوو ترمنځ اړیکه

داسې ډېر دلایل شته چې ثابتوي د جنت مېوه په هېڅ حالت د احوالو کې د دنیا د مېوې سره نه شي تشبېه کېدای د اخرت ډول د دنیا له ډول څخه مخالف او جدا دی. په دنیا کې خوراک - څښاک د صحت د ساتنې او دنیوي ژوند د ودې او بقا لپاره دی؛ خو په اخرت کې خوراک-څښاک د بقا او صحت ساتنې په موخه نه دی، ځکه جنتیان به تل لپاره جنت کې وي، بلکې اخرت کې خوراک - څښاک د نعمتونو د ترلاسه کولو او د هغو نااشنا خوندونو د لاسته راوړنې لپاره دی، چې موږ یې اوس نه پېژنو او نه یې دا وخت په حقیقت باندې پوهېږو. دا داسې مسئله ده، چې د عالم الغیب په احوالو پورې اړه لري، موږ پر هغه څه باندې ایمان لرو، چې د الله تعالی کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت کې راغلي وي او د دې کار حقیقت الله تعالی ته سپارو.

امام بخاري رحمه الله صحیح قدسي حدیث رانقل کړی دی:(الله تعالی وايي: خپلو نېکو بندهګانو لپاره مې هغه څه تیار کړي دي، چې سترګو لیدلي نه دي، غوږونو اورېدلي نه دي او د هېڅ بشر په زړه کې تېر شوي نه دي[1].

[1] صفة الجنة. مخ ۳۵۸ بیروت چاپ

یو شمېر اهل علم وایي، چې د دنیا او جنت د مېوو ترمنځ اړیکه شته او د الله تعالی په دې قول یې استدلال کړی:

ژباړه:((د هغو باغونو مېوې به په شکل کې د دنیا مېوو ته ورته وي، کله چې کومه مېوه د خوراک له پاره هغو ته ورکړه شي، نو هغوی به وو ایي چې همدغسې مېوه له دې نه مخکې په دنیا کې موږ ته راکړه شوې وه.))

د دې لپاره شاهد دا دی، چې کله جنتیانو ته په جنت کې مېوه راوړل شي نو دوی به وو ایي:(هَـٰذَا ٱلَّذِی رُزِقۡنَا مِن قَبۡلُ) د دې جملې تفسیر کې مفسرین لیکي، چې من قبل نه مراد دنیا ده او ځینې نور بیا له دې جملې څخه هغه مېوې مراد بولي چې جنت کې له دې مېوو څخه وړاندې ورکړل شوې وي او له (وَأُتُواْ بِهِۦ مُتَشَـٰبِهًا) جملې څخه مراد دا بولي چې د جنت خپلې مېوې به ځینې له ځینو نورو سره ډېر ورته والی لري. ځینې نور اهل علم بیا وایي چې تشابه او ورته والی په رنګ او لیدلو کې وي نه په خوند کې.

یحیی بن کثیر ویلي:(عشب الجنة الزعفران وکثبانها المسک) یانې د جنت شنه ګیاه زعفران او ډېرکۍ به د هغې له مشکو څخه وي.

ولدان (غلمان) به دوی ته رنګارنګ مېوې راوړي او دوی به یې خوري، بیا به د هماغه مېوو په شان نورې مېوې ورته راوړل شي، جنتیان به ورته وو ایي: دا مېوې خو موږ شېبې مخکې موږ ته

راوړې وې. خدمتګاران به ورته ووايي: رنګ يې يو دی او خوندونه يې مختلف دي او همدا د الله تعالى قول دی:

(وأتوا به متشابها).

له دې وروسته د صفة الجنة ليکوال ليکي: د دنيا مېوې او د جنت مېوې خپل منځ کې هېڅ اړيکه نه لري، يوازې په نومونې کې ورته والى لري، چې دواړه په مېوه يادېږي، ذاتونه يې جلا جلا دي.
د عبدالله بن عباس رضي الله تعالى عنهما هم دا نظر غوره بولي هغه وېلي:
نشته په جنت کې له هغه څه څخه چې په دنيا کې دي، مګر يوازې نومونه دي.
کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د سدرة المنتهى صفت بياناوه نو ويې ويل: بيا ماته سدرة المنتهى راوښودل شوه، چې پاڼې يې د فيل د غوږونو په څېر وې او بېرې يې د (هجر) منګيو په څېر وې... [1].

[1] صفة الجنة. مخ: ۳۵۷.

# د جنت فصل

د قرآن کریم د زخرف سورت کې الله تعالی د جنت د بې شمېره نعمتونو انځور داسې وړاندې کړی دی:

﴿وَفِيهَا مَا تَشْتَهِيهِ ٱلْأَنفُسُ وَتَلَذُّ ٱلْأَعْيُنُ وَأَنتُمْ فِيهَا خَالِدُونَ﴾ (۷۱) سورت الزخرف

ژباړه: ((او هرزړه خوښوونکی او سترګې خوږوونکی شی به هلته موجود وي.))

ابو هریره رضي الله تعالی عنه ویلي: یوه ورځ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د کلیوالو نه یو کس ناست و، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: د جنتیانو له جملې نه به یو سړی له خپل رب نه په جنت کې د فصل او کروندې کولو اجازه وغواړي.
الله تعالی به ورته ووایي: ایا ته په هغه څه کې نه یې څه چې ستا ارزو ده؟
دغه سړی به ووایي:
هو هر څه ده بر دي، خو زه له دې سره مینه لرم، چې کرونده وکړم.
رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: په هر حال هغه سړي ته به

اجازه ورکړای شي، په څمکه کې به تخم وشيندي د سترګو په رپ کې به زرغون شي د فصل برابرېدلو او بيا پخېدلو سره به وربېل شي او د غرونو برابر به انبار ولګي الله تعالى به هغه سړي ته ووايي: اى د ادم زويه ! وګوره ستا هيله پوره شوه خو حقيقت دا دى، چې ستا د حرص ګېډه هېڅ څيز نشي ډکولاى.

ابو هريره رضي الله تعالى عنه وايي، هغه کليوال سړى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ناست و، ويې ويل: په الله قسم هغه سړى به قريشي يا انصاري وي (جنت کې د کروندې کولو غوښتنه کوونکي به يا له مکې او يا له مدينې والاوو څخه وي)، څکه چې دا خلک د فصل او کروندې کولو سره مينه لري او موږ خو کروندې سره مينه نه لرو، رسول الله صلى الله عليه وسلم د کليوال له دې خبرې اورېدلو سره وخندل[1].

[1] (حادى الارواح)

# شپږم څپرکی

## د جنت نهرونه

قـرآن کـریم کې الله تعـالی تـر جنتونـو لانـدې د نهرونـو یادونـه پـه بیلابیلو ایاتونو کې کړې ده، چې څو بیلګې یې پـه لانـدې ایتونـو کې لیدلای شئ.

﴿وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ كُلَّمَا رُزِقُوا مِنْهَا مِن ثَمَرَةٍ رِّزْقًا قَالُوا هَٰذَا الَّذِي رُزِقْنَا مِن قَبْلُ وَأُتُوا بِهِ مُتَشَابِهًا وَلَهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَهُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٢٥﴾﴾ سورت البقرة

ژباړه:((او ای پیغمبره ! کومو خلکو چې پردې کتـاب ایمـان راوړ او (لـه هغـه سره سم) خپـل عملونـه یـې اصـلاح کـړل هغـو تـه زیـری ورکـړه، چـې د هغـو لـه پـاره داسې باغونـه دي، چـې تـرې لانـدې بـه ویالې بهیږي، د هغو باغونو میوې به په شـکل کـې د دنیـا میـوو تـه ورته وي، کله چې کومه میوه د خوراک له پاره هغـو تـه ورکـړه شـي، نو هغوی به ووایي چې همدغسې میوه له دې نه مخکې په دنیا کـې موږ ته راکړه شوې وه، د هغو له پاره به هلتـه ډیـرې سـپېڅلې ښـځې وي او هغوی به هلته د تل له پاره اوسیږي.))

(قُلْ أَؤُنَبِّئُكُم بِخَيْرٍ مِّن ذَٰلِكُمْ لِلَّذِينَ اتَّقَوْا عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَأَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللَّهِ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِالْعِبَادِ﴿۱۵﴾سورت ال عمران)

ژباړه:((وو ایه ! ایا زه درو ښیم چې له دې نه ډېر ښه شی څه دی؟ د هغو خلکو له پاره چې د پرهېزګارۍ چلن غوره کړي، د هغو له رب سره باغونه دي، چې تر هغو لاندې به ویالې بهېږي، هلته به د تل له پاره اوسېدونکي وي، سپېڅلې مېرمنې به یې ملګرې وي او د الله د رضا په ګټلو به سر لوړي وي. الله د خپلو بندګانو کړه وړه په ښه شانویني. ))

(أُوْلَٰٓئِكَ جَزَآؤُهُم مَّغْفِرَةٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَجَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَنِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ﴿۱۳۶﴾ سورت آل عمران)

ژباړه:((د داسې خلکو بدله د دوی د رب په نزد دا ده، چې هغه به دوی ته ښښنه وکړي او په داسې باغونو کې به یې ننباسي چې ترې لاندې به ویالې بهېږي او هلته به هغوی د تل له پاره اوسېږي، د نېک عمله خلکو له پاره څو مره ښه بدله ده. ))

(فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّي لَا أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ بَعْضُكُم مِّن بَعْضٍ فَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَأُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِمْ وَأُوذُوا فِي سَبِيلِي وَقَاتَلُوا وَقُتِلُوا لَأُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَلَأُدْخِلَنَّهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ثَوَابًا مِّنْ عِندِ اللَّهِ وَاللَّهُ عِندَهُ حُسْنُ الثَّوَابِ﴿۱۹۵﴾ سورت آل عمران)

ژباړه:((د هغو رب ورته په ځواب کې وایي: 'زه له تاسې نه د هېڅ یوه عمل نه ضایع کوم، که نارینه وي که ښځه، تاسې ټول څینې د ځینو همجنس یاست له دې امله کومو خلکو چې زما په خاطر خپل

وطن پرېښود او له خپلو کورونو څخه وايستل شول او زما په لار کې وځورول شول او جګړه يې وکړه او د هغو ټولې ګناوې به زه ورته وبښم او هغوی به داسې باغونو ته ننباسم، چې تر هغو لاندې به ويالې بهېږي، دا د الله په وړاندې د هغو مکافات دي او ډېره غوره جزا له همدې الله سره ده.))

(لَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ رَبَّهُمْ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِى مِنْ تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا نُزُلًا مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيْرٌ لِّلْأَبْرَارِ ﴿١٩٨﴾ سورت آل عمران)

ژباړه:((د دې پر خلاف کوم خلک چې له خپل الله تعالی نه په ويرېدو ژوند تېروي، د هغو له پاره داسې باغونه دي چې تر هغو لاندې ويالې بهېږي، په هغو باغونو کې به دوی د تل له پاره اوسېږي، دا د هغو له پاره د الله له لوري د مېلمستيا وسايل دي او څه چې له الله تعالی سره دي د غوره بندګانو له پاره هماغه ډېر غوره دي.))

د نساء سورت درېو ايتونو کې د جنت د نهرونو ياد راغلی دی.

(تِلْكَ حُدُودُ ٱللَّهِ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿١٣﴾ سورت النساء)

ژباړه:((دا د الله ټاکل شوې پولې دي، څوک چې د الله او د هغه د پيغمبر اطاعت وکړي الله به هغه داسې باغونو ته ننباسي، چې تر هغه لاندې به ويالې بهېږي او هغوی به په کې د تل له پاره استوګن وي او همدا ستر برياليتوب دی.))

(وَٱلَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّالِحَاتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَآ أَبداً لَّهُمْ فِيهَآ أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَنُدْخِلُهُمْ ظِـلاًّ ظَلِيلاً﴿٥٧﴾ سورت النساء)

ژباړه:((او کومو خلکو چې ایمان راوړی (زموږ ایتونه یې منلي) او غوره عملونه یې کړي دي، هغوی به موږ داسې باغونو ته ننباسو چې تر هغو لاندې به ویالې بهېږي، هلته به هغوی د تل له پاره اوسېږي او هغو ته به سپېڅلې مېرمنې په برخه شي او هغو ته به موږ په ګڼو سیورو کې استوګنه ورکړو.))

(وَٱلَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّالِحَاتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَآ أَبَداً وَعْدَ ٱللَّهِ حَقّاً وَمَنْ أَصْدَقُ مِنَ ٱللَّهِ قِيلاً﴿١٢٢﴾ سورت النساء)

ژباړه:((پاتې شول هغه خلک چې ایمان راوړي او ښه کارونه وکړي، نو موږ به هغوی داسې باغونو ته ننباسو چې تر هغو لاندې به ویالې بهېږي او هغوی به په کې د تل له پاره استوګن وي. دا د الله رښتینې وعده ده او له الله نه به زیات څوک په خپله خبره کې رښتینی وي.))

د المائدې سورت دربو ایاتونو کې د جنت د نهرونو یاد راغلی دی:

(وَلَقَدْ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَاقَ بَنِيۤ إِسْرَآئِيلَ وَبَعَثْنَا مِنهُمُ ٱثْنَىْ عَشَرَ نَقِيباً وَقَالَ ٱللَّهُ إِنِّى مَعَكُمْ لَئِنْ أَقَمْتُمُ ٱلصَّلاَةَ وَآتَيْتُمُ ٱلزَّكَاةَ وَآمَنتُم بِرُسُلِى وَعَزَّرْتُمُوهُمْ وَأَقْرَضْتُمُ ٱللَّهَ قَرْضاً حَسَناً لأُكَفِّرَنَّ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَلأُدْخِلَنَّكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلأَنْهَارُ فَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ﴿١٢﴾ سورت المائدة)

ژباړه:((الله له بني اسرائیلو نه پخه وعده اخیستې وه او په هغو کې موږ دولس نقیبان ټاکلي وو او هغو ته الله ویلي وو چې: 'زه له تاسې سره یم، که تاسې لمونځ وکړ، زکات مو ورکړ، زما پېغمبران مو ومنل، د

هغو ملاتړ مو وکړ او خپل الله تعالی ته مو ښه پور ورکړ؛ نو باور ولرئ، چې زه به ستاسې ګناوې له تاسې څخه ایسته کړم او تاسې به داسې باغونو ته ننباسم، چې تر هغو لاندې به ویالې بهېږي، خو له دې وروسته چې له تاسې نه چا د کفر چلن غوره کړ؛ نو په حقیقت کې هغه 'د عدل او اعتدال سمه لاره' ورکه کړه '.))

[illegible] جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَذَٰلِكَ [illegible]

[illegible]

ژباړه:((د هغوی ددې وینا له امله الله هغو ته داسې جنتونه ورکړل چې تر هغو لاندې ویالې بهېږي او هغوی به په کې د تل له پاره اوسېږي. دا د ښې کړنلارې غوره کوونکو بدله ده.))

[illegible] الصَّادِقِينَ صِدْقُهُمْ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ [illegible] عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿١١٩﴾ سورة [illegible]

ژباړه:((هلته به الله ووایي: 'دا هغه ورځ ده، چې په هغې کې رښتینو ته د هغو رښتینولي ګټه رسوي، د هغو له پاره داسې باغونه دي، چې تر هغو لاندې ویالې بهېږي، هلته به هغوی د تل له پاره اوسېږي، الله له هغو نه راضي شو او هغوی له الله نه خوښ شول، همدا ستر بریالیتوب دی '.))

[illegible] جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا [illegible] أَكْبَرُ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿٧٢﴾ [illegible]

ژباړه:((له (دغو) مؤمنانو نارینه وو او ښځو سره د الله وعده ده، چې دوی ته به داسې باغونه ورکړي، چې تر هغو لاندې به ویالي

بهېږي او دوی به پکې د تل له پاره اوسېږي. په هغو تل ښېرازه باغونو کې به د دوی له پاره سوتره استوګنځي وي او تر هر څه زيات دا چې د الله رضا به ور په برخه وي، همدا ستر بری دی.))

د الرعد سورت يوازې ۳۵ ايت کې د جنت د نهرونو ياد شوی دی:

[illegible] تجري من تحتها الأنهار أكلها دائم وظلها تلك [illegible]

[illegible] (۳۵) سورت الرعد

ژباړه:((له الله تعالی نه د وېرېدونکو انسانانو له پاره چې د کوم جنت وعده شوې ده، د هغه شان دا دی چې تر هغه لاندې ويالې بهېږي، د هغه مېوې نه ختمېدونکې دي او د هغه سيوری همېشنی دی. دا د متقيانو عاقبت دی. او د حق د منکرانو عاقبت دا دی چې د هغو له پاره د دوزخ اور دی.))

په ابراهيم سورت کې هم راغلي:

وأدخل الذين آمنوا وعملوا الصالحات جنات تجري من تحتها الأنهار خالدين

فيها بإذن ربهم تحيتهم فيها سلام (۲۳) سورت الابراهيم

ژباړه:((د دې پر خلاف کومو کسانو چې په دنيا کې ايمان راوړی دی او ښه عملونه يې کړي دي، هغوی به په داسې باغونو کې ننويستل شي، چې تر هغو لاندې به ويالې بهېږي. هلته به هغوی د خپل رب په حکم سره د تل له پاره اوسېږي او هلته به د هغو هر کلی د سلامتيا په مبارکۍ ويلو سره وشي.))

جَنَّاتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ لَهُمْ فِيهَا مَا يَشَاءُونَ كَذَٰلِكَ يَجْزِي اللَّهُ الْمُتَّقِينَ ﴿٣١﴾ سورة النحل

ژباړه:((د تل او سېډو جنتونه، چې په هغو کې به ننوځي، لاندې به ترېنه ویالې بهېږي او هر څه به هلته کېږي-مټ د هغو له هیلو سره سم وي. همدغسې الله تعالی بدله ورکوي پرهېزګارانو ته.))

أُولَٰئِكَ جَزَاؤُهُم مَّغْفِرَةٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَجَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَنِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ ﴿١٣٦﴾ سورة آل عمران

ژباړه:((سمسور بې خزانه باغونه دي، چې تر هغو لاندې به ویالې بهېږي، په هغو کې به د تل له پاره هغوی اوسېږي دا د هغه چا مکافات دي، چې سپېڅلتیا غوره کړي.))

د سورت الحج دوه ایاتونو کې یې یادونه داسې راغلې ده:

إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ ﴿١٤﴾ سورت الحج

ژباړه:(((ددې برعکس) الله هغه کسان چې ایمان یې راوړ او نېک عملونه یې وکړل، په یقیني ډول داسې جنتونو ته به یې ننباسي، چې تر هغو لاندې به ویالې روانې وي. الله کوي هغه څه چې خوښه یې شي.))

إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ﴿٢٣﴾ سورة الحج

ژباړه:(((بل پلو ته) کومو خلکو چې ایمان راوړ او نېک عملونه یې وکړل الله به هغوی داسې جنتونو ته ننباسي، چې تر هغو لاندې به ویالې

بهېږي، هلته به هغوی د سرو زرو په بنګړيو او مرغلرو سره سينګار کړای شي. او د هغو جامې به په جنت کې وريښميني وي. ))

د العنکبوت سورت ۵۸ ايت کې د نهرونو يادونه شوې ده:

(وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَنُبَوِّئَنَّهُمْ مِنَ الْجَنَّةِ غُرَفًا تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا نِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ ﴿۵۸﴾ سورت العنكبوت)

ژباړه:((کومو کسانو چې ايمان راوړی دی او ښه عملونه يې کړي دي، هغوی به موږ د جنت په لوړو دنګو ماڼيو کې استوګن کړو، چې تر هغو لاندې به ويالې بهېږي، هلته به هغوی د تل لپاره اوسېږي، څه غوره اجر دی د عمل کوونکو لپاره. ))

د الزمر سورت يو آيت کې يې داسې ياد راغلی دی:

(لَٰكِنِ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ غُرَفٌ مِنْ فَوْقِهَا غُرَفٌ مَبْنِيَّةٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ وَعْدَ اللَّهِ لَا يُخْلِفُ اللَّهُ الْمِيعَادَ ﴿۲۰﴾ سورت الزمر)

ژباړه:((البته کوم کسان چې له خپل رب څخه وېرېږي د هغو لپاره لوړې ماڼۍ دي پوړ پرپوړ جوړې شوې. چې تر هغو لاندې به ويالې بهېږي، دا د الله وعده ده، الله هېڅکله له وعدې نه تخلف نه کوي. ))

په سورت محمد کې يې هم ذکر شوی:

(مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ فِيهَا أَنْهَارٌ مِنْ مَاءٍ غَيْرِ آسِنٍ وَأَنْهَارٌ مِنْ لَبَنٍ لَمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُ وَأَنْهَارٌ مِنْ خَمْرٍ لَذَّةٍ لِلشَّارِبِينَ وَأَنْهَارٌ مِنْ عَسَلٍ مُصَفًّى ﴿۱۵﴾ سورة محمد)

ژباړه:((د پرهېزګارانو لپاره چې د کوم جنت وعده شوې ده، د هغه شان خو دا دی، چې په هغه کې به ويالې بهېږي، د صافو اوبو او ويالې به بهيدونکې وي د داسې شيدو، چې په خوند کې به يې

هېڅ تو پير نه وي راغلی، ويالې به بهېدونکې وي، د داسې شرابو چې د څښونکو لپاره به لذت بښونکي وي، ويالی به بهېدونکي وي، د صافو ربو شاتو.

د سورت الفتح په دوو اياتونو کې داسې راغلي:

[illegible] جنّات تجري من تحتها الأنهار خالدين فيها [illegible]
[illegible] فوزاً عظيماً (٥) سورت الفتح)

ژباړه:(( (هغه داکار د دې د پاره کړی دی)، چې مؤمن نارينه او ښځې د هميشه او سېدو لپاره داسې جنتونو ته ننباسي، چې تر هغو لاندې به ويالې بهېدونکې وي او د هغو بدی به له هغو نه ايسته کړي د الله په نزد دا ستر برياليتوب دی ))

[illegible] الأعمى حرج ولا على الأعرج حرج ولا على المريض حرج [illegible]
[illegible] جنّات تجري من تحتها الأنهار ومن يتولّ يعذّبه [illegible]
[illegible] ١٧ سورت الفتح)

ژباړه:(( که ړوند، ګوډ او ناروغ جهاد ته لاړ نشي، نو څه باک نشته. څوک چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړي، الله به هغه په هغو جنتونو کې داخل کړي، چې تر هغو لاندې به ويالې بهېږي او څوک چې مخ واړوي، هغه ته به درد ناکه سزا ورکړي ))

[illegible] يسعى نورهم بين أيديهم وبأيمانهم بشراكم اليوم [illegible]
[illegible] ذلك هو الفوز العظيم (١٢) سورت الحديد)

ژباړه:((په هغه ورځ چې ته به مؤمنان نارينه او مؤمناني ښځې ووينې چې د هغو رڼا به د هغو په وړاندې وړاندې او د هغو ښي

خوا ته ځلېدونکي وي (هغوته به وويل شي چې) ((نن زېرى دى ستاسې لپاره)) جنتونه به وي، چې تر هغو لاندې به ويالې بهېدونکې وي، چې هغوى به پکې تل ترتله اوسېږي. همدغه دى ستر برياليتوب.))

(لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ أُولَـٰئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ أُولَـٰئِكَ حِزْبُ اللَّهِ أَلَا إِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿٢٢﴾ (سورت المجادلة)

ژباړه:((ته به هېڅکله داسې مومن کوم خلک چې پر الله او اخرت باندې ايمان لرونکي دي، چې هغوى له هغو خلکو سره مينه کوونکي وي چې د الله او د هغه رسول مخالفت يې کړى دى، که څه هم د هغوى پلرونه وي، يا د هغو زامن وي، يا د هغو ورونه وي يا د هغو ټبر او کورنۍ وي. دا هغه کسان دي چې الله د دوى په زړونو کې ايمان ثبت کړى دى او له خپل لوري د يو روح په ورکولو سره يې دوى تقويه کړي دي. هغه به دوى داسې جنتونو ته ننباسي، چې تر هغو لاندې به ويالې بهېږي، په هغو کې به دوى د تل لپاره اوسېږي الله له دوى نه راضي شو او دوى له الله نه راضي شول، دوى د الله د ګوند خلک دي. خبر دار اوسئ، همدا د الله د ګوند کسان فلاح موندونکي دي.))

(يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلأَنْهَارُ وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِى جَنَّاتِ عَدْنٍ ذٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ﴿۱۲﴾ سورت الصف)

ژباړه:((الله به ستاسې ګناهونه دروبښي او تاسې به هغو باغونو ته ننباسي، چې تر هغو لاندې به ويالې بهېږي او د ابدي استوګنې په جنتونو کې به ډېر غوره کورونه درکړي، دا دی ستر برياليتوب.))

(رَّسُولاً يَتْلُو عَلَيْكُمْ آيَاتِ ٱللَّهِ مُبَيِّنَاتٍ لِّيُخْرِجَ ٱلَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّالِحَاتِ مِنَ ٱلظُّلُمَاتِ إِلَى ٱلنُّورِ وَمَن يُؤْمِن بِٱللَّهِ وَيَعْمَلْ صَالِحاً يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَآ أَبَداً قَدْ أَحْسَنَ ٱللَّهُ لَهُ رِزْقاً﴿۱۱﴾ سورت الطلاق)

ژباړه:((يو داسې پيغمبر چې تاسې ته د الله ښکاره څرګند هدايت درکوونکې آيتونه لولي، چې ايمان راوړونکي او نېک عمله خلک له تيارو نه رڼا ته راوباسي. او څوک چې پر الله ايمان راوړي او نېک عمل وکړي، الله به هغه داسې جنتونو ته ننباسي چې تر هغو لاندې به ويالې بهېږي. دوی به په هغو کې د تل لپاره اوسېږي. الله د غسې انسان لپاره ډېره غوره روزي ساتلې ده.))

(يٰأَيُّهَا ٱلَّذِينَ آمَنُواْ تُوبُوۤاْ إِلَى ٱللَّهِ تَوْبَةً نَّصُوحاً عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يُكَفِّرَ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلأَنْهَارُ يَوْمَ لاَ يُخْزِى ٱللَّهُ ٱلنَّبِىَّ وَٱلَّذِينَ آمَنُواْ مَعَهُ نُورُهُمْ يَسْعَىٰ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَانِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَتْمِمْ لَنَا نُورَنَا وَٱغْفِرْ لَنَآ إِنَّكَ عليٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴿۸﴾ سورت التحريم)

ژباړه:((ای مؤمنانو! الله ته توبه وباسئ، خالصه توبه، کېدای شي چې الله ستاسې بدي له تاسې نه ايسته کړي او تاسې داسې

جنتونو ته ننباسي، چې تر هغو لاندې به ویالې بهېږي دا به هغه ورځ وي، چې الله خپل پیغمبر او هغه کسان چې له هغه سره یې ایمان راوړی دی، رسوا نه کړي، د هغو رڼا به د هغو مخکې مخکې او د هغو ښی پلو ته ځغلي او هغوی به وایي چې ای زموږ ربه! زموږ رڼا زموږ لپاره بشپړه کړه او موږ ته ښښنه وکړه ته د هر څه وس واک لرې.))

(إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّالِحَاتِ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَارُ ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْكَبِيرُ ﴿۱۱﴾ سورت البروج)

ژباړه:((کوم خلکو چې ایمان راوړی دی او ښه عملونه یې کړي دي ارو-مرو د هغو له پاره د جنت باغونه دي، چې تر هغو لاندې به ویالې بهېږي دا دی ستر بریالیتوب.))

(جَزَآؤُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّاتُ عَدْنٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا رَّضِىَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُواْ عَنْهُ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِىَ رَبَّهُۥ ﴿۸﴾ سورت البينة)

ژباړه:((د هغه بدله د هغو د رب په وړاندې په همېشنیو جنتونو کې او سېدل دي، چې د هغو لاندې به ویالې بهېږي، په هغو کې به د تل له پاره ژوند کوي، الله تعالیٰ له هغو نه راضي شوی او هغوی له الله نه راضي شوي دي، دا ټول د هغه چا له پاره دي، چې هغه له خپل رب نه وېره کړې وي.))

د سورت توبه د (۱۰۰) ایت پر ته نورو ټولو ایاتونو کې د (مِن) توری راغلی.

﴿ونزعنا ما في صدورهم من غل تجري من تحتهم الأنهار وقالوا الحمد لله الذي هدانا لهذا وما كنا لنهتدي لولا أن هدانا الله لقد جاءت رسل ربنا بالحق ونودوا أن تلكم الجنة أورثتموها بما كنتم تعملون﴿۴۳﴾ سورت الاعراف﴾

ژباړه:((د هغو په زړونو کې چې د يوبل په خلاف کوم خيرى وي، هغه به موږ ايسته کړو. تر هغوى لاندې به ويالې بهېږي او هغوى به ووايي چې 'ثنا ستاينه الله ته ده، چې هغه موږ ته دا لاره ونبودله، موږ پخپله لاره نه شوه ميندلى، که الله موږ ته لاربنوونه نه واى کړې، زموږ د رب لېږل شوي پېغمبران په رښتيا سره په حقه راغلي وو 'په هغه وخت کې به اواز راشي چې 'دا جنت چې تاسې د هغه وارثان ګرځېدلي ياست تاسې ته د هغو عملونو په بدل کې درکړ شوي دي، چې تاسې کول'.))

﴿إن الذين آمنوا وعملوا الصالحات يهديهم ربهم بإيمانهم تجري من تحتهم الأنهار في جنات النعيم﴿۹﴾ سورت يونس﴾

ژباړه:((او دا هم حقيقت دى کومو کسانو چې ايمان راوړى دى (هغه رښتينولى يې منلي دي، چې په دې کتاب کې وړاندې کړاى شوي دي) او غوره چارې يې سرته رسولي دي، هغوى به د هغو رب د هغو د ايمان له امله پرسمه لاره وخوځوي، له نعمت څخه په ډکو جنتونو کې به چې تر هغوى لاندې ويالې بهېږي، (ځاى ورکړي).))

(أُوْلَـٰئِكَ لَهُمْ جَنَّاتُ عَدْنٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهِمُ ٱلأَنْهَارُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَيَلْبَسُونَ ثِيَاباً خُضْراً مِّن سُنْدُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُّتَّكِئِينَ فِيهَا علي ٱلأَرَآئِكِ نِعْمَ ٱلثَّوَابُ وَحَسُنَتْ مُرْتَفَقاً﴿۳۱﴾ سورت الكهف)

ژباړه:((د هغو له پاره تل سمسور باغونه دي، چې تر هغو لاندې به ویالې بهېږي، هلته به هغوی د سرو زرو په بنګړیو سینګار کړای شي، د نریو وربښمو، اطلسو او مخملو شنې جامې به واغوندي او هسکو بالښتونو ته به تکیه وهلې کېني، ډېر ښه اجر او د لوړې درجې هستوګنځی !))

د قرآن کریم شپږ د برش ایاتونه په جنت کې د نهرونو په وجود او شتون دلالت کوي، د دې نهرونو اوبه رواني دي او ولاړې نه دي.

په درې د برشو لومړنیو ایاتونو کې الله تعالی یادونه کړې ده، چې دا نهرونه د جنتونو لاندې بهېږي، یانې مانا یې دا ده، چې د نهرونو اوبه د جنتونو د ونو - بوټو او مېوو لاندې بهېږي، ځینې اهل علم وایي چې د جنتونو لاندې د نهرونو بهېدل مقصود او هدف نه دی یانې د جنتونو د ځمکې لاندې؛ ځکه که چېرې دا سې وي، بیا خو به په سترګو نه لیدل کېدل.

غوره خبره دا ده، چې نص په ظاهري مانا باندې جاري کړای شي، ځکه د جنتونو لاندې د نهرونو جاري کېدل او په سترګو نه لیدل کېدل څه مانع او ناشوني نه دي او دا به د جنت د نعمتونو د زیاتوالي له امله وي. قرآن کریم کې ښه بېلګه، د سبا ملکه بلقیس

لرو، کله چې هغې ته وویل شول:

(قِيلَ لَهَا ٱدْخُلِى ٱلصَّرْحَ فَلَمَّا رَأَتْهُ حَسِبَتْهُ لُجَّةً وَكَشَفَتْ عَن سَاقَيْهَا قَالَ إِنَّهُ صَرْحٌ مُّمَرَّدٌ مِّن قَوَارِيرَ ﴿٤٤﴾ سورت النمل)

ژباړه:((هغې ته وویل شول، چې بنګلې ته ننوځه. هغې چې وکتل نو ګومان یې وکړ، چې د اوبو حوض دی او د ورکوزېدو لپاره هغې خپلې پایڅې پورته کړې. سلیمان وویل دا د ښیښې روڼ هوار فرش دی.))

دا مهال هم داسې بنګلې لیدل کېږي، چې له ښیښو څخه جوړې او لاندې ترې نهرونه بهېږي، نو د جنت لاندې د اوبو جریان لپاره بیا څه شی مانع جوړېدای شي وروستیو دربو ایاتونو کې الله تعالی د (من تحتهم) په تعبیر د نهرونو جریان یاد کړی دی.

د هغه مانا دا ده، چې جنتیان به خپلو لوړو ودانیو کې پر لوړو تختونو باندې ناست وي او د دوی مخې ته به د دوی باغونو کې نهرونه بهېږي او د دوی خوشالي به لا نوره هم زیاتېږي.

# تر ټولو لوی نهر

په جنت کې تر ټولو ستر او لوی نهر د کوثر دی او پر همدې نامه قرآن کریم کې بشپړ سورت نوموړ شوی دی.
الله تعالی د سورت په پیل کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته داسې ویلي:

(إِنَّآ أَعْطَيْنَاكَ ٱلْكَوْثَرَ﴿١﴾ سورت الكوثر)

ژباړه:(( (ای پیغمبره !) ببشکه موږ تاته کوثر درکړی دی. ))
کوثر په وزن د فوعل دی، د کثرة نه دی په مانا د خیر کثیر (ډېر خیر).
امام بخاري رحمه الله د دې سورت په تفسیر کې د عبد الله بن عباس رضي الله تعالی عنهما روایت راوړی دی او هغه نهر چې په جنت کې دی هغه هم له دې خیر څخه دی.
حسن بصری رحمه الله او عکرمه رضی الله تعالی عنه ویلي: کوثر قرآن او نبوت دی.
ځینې احادیث بخاري کې نقل دي، چې دا حوض په جنت کې دی او نور صحیح حدیثونه، چې ځینې یې صحیح مسلم کې شته پرې دلالت کوي، چې دا حوض په موقف د حساب (میدان حشر) کې دی، حاصل دا دی چې په دنیا کې کوثر قرآن او نبوت دی او په اخرت کې کوثر حوض یا نهر دی، چا چې په دنیا کې له قرآن څخه خیر او هدایت حاصل کړ، نو په

اخرت کې به له هغه کوثر نه خړوبېږي.

قاضي عياض رحمه الله ويلي دي: چې احاديث د حوض صحيح دي او ايمان پر دې باندې فرض دی او دا په نزد د اهل السنة والجماعة په ظاهر باندې حمل دي تاويل پکې نشي کېدای[1].

امام احمد، مسلم، ابوداود او نسائی د انس بن مالک رضي الله تعالی عنه په روايت حديث نقل کړی دی، وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم زموږ منځ کې ناست و، چې يو ځانګړی حالت يې غوره کړ سر يې داسې ښکته کړی و، لکه چې چا باندې د خوب پر کالي راشي او سرتېټ کړي، بيا يې په داسې حالت کې سر مبارک راپورته کړ، چې پر شونډو يې موسکا خپره وه، موږ ترې پوښتنه وکړه يا رسول الله صلی الله عليه وسلم د څه له امله خوشاله ياست او خاندئ؟!

رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: همدا شېبه را باندې يو سورت نازل شو، بيا يې وويل:

(بِسْمِ اللَّهِ ٱلرَّحْمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ: إِنَّآ أَعْطَيْنَاكَ ٱلْكَوْثَرَ ﴿١﴾ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَٱنْحَرْ ﴿٢﴾ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ ٱلْأَبْتَرُ ﴿٣﴾ سورت الكوثر)

ژباړه: ((اې پېغمبره!) بېشکه موږ تا ته کوثر درکړی دی. نو ته د خپل هماغه رب له پاره لمونځ اداکړه او قرباني وکړه. ستا هماغه دښمن په خپله بې ستې (بې خيره) دی.))

انس رضي الله تعالی عنه وايي، رسول الله صلی الله عليه وسلم نه د کوثر په اړه پوښتنه وشوه، هغه وويل: دا يو نهر دی، چې الله

[1] احسن الکلام، ټوک ۹، مخ ۴۲۲.

تعالی ماته راکړی دی، یانې جنت کې.

اوبه یې له شیدو نه زیاتې سپینې او ترګبینو نه زیاتې خوږې دي. دې کې داسې مرغان دي چې څټونه یې د اوښانو د څټونو په څېر دي، عمر رضي الله تعالی عنه وویل: دا مرغان خو به ډېر ښاربه او غوښن وي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: خوړونکی به یې له هغې نه زیات قوي، غوښن او خوشاله وي.

بیا یې وویل: تاسې پوهېږئ، کوثر څه شی دی؟

موږ ځواب ورکړ: الله تعالی او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهېږي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: دا یو نهر دی، چې له ما سره یې زما رب وعده کړې ده، چې دا خیر کثیر دی او دا یو حوض دی، چې د قیامت په ورځ به زما امتیان ورته راځي، لوښي به یې د اسمان د ستورو په شمېر کې وي، ځینې کسان به ترې منع کړای شي.

زه به وو ایم: ای ربه! دا زما امتیان دي.

ځواب کې به وویل شي: تاسې ته څه پته ده، چې دوی تر تا وروسته څه کړي دي؟

له دې حدیث نه معلومېږي، چې کوثر نه مراد حوض دی او صحیح دا ده چې کوثر داخل د جنت کې نهر دی. هر چې حوض دی، نو هغه د جنت نه بهر دی او اوبه یې د جنت له داخل نه سرچینه اخلي او پردې باندې د هغه حدیث ظاهر هم دلالت کوي، چې امام مسلم رحمه الله د ثوبان رضي الله تعالی عنه په روایت نقل کړی

دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د جنت د اوبو په اړه پوښتنه وشوه، هغه وویل: د کوثر اوبه له شیدو سپینې او تر ګبینو خوږې دي.

هغې کې دوه ناوې لګېدلي چې له جنت نه سرچینه اخلي یوه یې د سرو زرو او بله یې د سپینو زرو ده.

امام بخاري رحمه الله د ابو عبیدة بن عبد الله بن مسعود رضي الله تعالی پوښتنه یاده کړې ده، ابو عبیده ویلي له عائشې رضي الله تعالی عنها څخه مې د الله تعالی د دې قول په اړه وپوښتل:

(إِنَّآ أَعْطَيْنَٰكَ ٱلْكَوْثَرَ ﴿١﴾سورت الکوثر)

هغې وویل: دا یو نهر دی، چې ستاسې نبی صلی الله علیه وسلم ته ورکړل شوی دی او د دې په غاړو هغه مرغلرې لګېدلي دي، چې منځونه به یې تش وي او د هغه لوښي د اسمان د ستورو په شپر دي.

امام احمد، بخاري، مسلم او نسائي رحمهم الله د انس بن مالک رضی لله تعالی عنه په روایت د معراج هغه اوږد حدیث چې مالک بن صعصعه بن وهب الانصاري رضي الله تعالی عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی، د حدیث په یوه برخه کې راغلي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: زه سدرة المنتهی ته پورته کړای شوم، د هغې دانې د لویو لویو منګیو په شپر وې او پاڼې یې لکه د فیلانو د غوږو په شپر وې، د هغې بېخ کې څلور نهرونه وو.

دوه نهرونه پټ او دوه ښکاره وو ما له جبرايل عليه السلام نه پوښتنه وکړه، هغه وويل: دا پټ نهرونه په جنت کې دي او دا ښکاره دواړه نيل او فرات دي.

قرآن کريم کې دا موضوع روښانه شوې نه ده، چې د جنت نهرونه له کوم ځايه رابهېږي، خو د رسول الله صلی الله عليه وسلم سنتو کې دا موضوع څرګنده ده.

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي، يقيناً په جنت کې سل درجې دي، چې الله تعالی خپله لاره کې مجاهدينو ته تياري کړي دي او د هرو دوه درجو ترمنځ د ځمکې او اسمان ترمنځ په اندازه فاصله ده.

پس کله چې تاسې له الله تعالی نه سوال کوئ، نو له هغه فردوس جنت وغواړئ، ځکه چې دا منځنی او هم تر ټولو اعلی جنت دی. راوي وايي زما داسې فکر دی، چې دا يې هم وويل، چې د هغه له پاسه د رحمن عرش دی او له جنة الفردوس نه د جنت نهرونه رابهېږي[1].

امام مسلم رحمه الله د ابو هريره رضي الله تعالی عنه په روايت حديث نقل کړی دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي:
(سيحان، جيحان، فرات او نيل ټول د جنت له نهرونو څخه دي).
سيحون هند د نهر جيحون د بلخ نهر دجله او فرات د عراق

---

[1] صفة الجنة في القرآن الكريم ص ۹۰

نهرونه دي او نیل د مصر نهر دی[1].

تېر حدیث ته ورته امام ترمذي رحمه الله د معاذ بن جبل رضي الله تعالی عنه په روایت حدیث نقل کړی، هغه حدیث کې راغلي... له فردوس جنت نه د جنت نهرونه جاري دي...

د عبادة بن الصامت رضي الله تعالی عنه په روایت شوي حدیث کې هم راغلي چې د جنت نهرونه له فردوس جنت نه سرچینه اخلي او له همدې جنت نه د جنت نهرونه جاري دي[2].

عبدالرزاق، ابن ابو شیبة او ابن ابو حاتم یو حدیث روایت کړی دی، چې د جنت نهرونه د مشکو له غره څخه بهېږي. بیهقي دا حدیث موقوف صحیح ګڼلی له ابن مسعود نه، ابن حبان هم د دې حدیث تخریج کړی دی[3].

---

[1] حادی الارواح، مخ ۱۲۷

[2] صفة الجنة فی القرآن الکریم، مخونه ۱۴۳.

[3] صفة الجنة فی القرآن الکریم، مخ ۱۹۵.

# د جنت چينې

قرآن کريم کې د عين کلمه د مفرد تثنيې او جمع په صيغو سره راغلې ده. چې د جنتيانو د شرابو په منابعو او سرچينو دلالت کوي.

د مفرد په صيغه په څلورو ځايونو کې راغلې ده.

لومړی ځای د سورت الانسان ۵-۶ ايتونو کې داسې يادونه شوې ده:

(إِنَّ الْأَبْرَارَ يَشْرَبُونَ مِن كَأْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُورًا﴿٥﴾عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا عِبَادُ اللَّهِ يُفَجِّرُونَهَا تَفْجِيرًا﴿٦﴾ سورت الانسان)

ژباړه: ښه خلک به (په جنت کې) د شرابو داسې جامونه څښي چې په هغو کې به د کافورو اوبه ګډې شوې وي. دا به يوه بهېدونکې چينه وي، چې د الله بندګان به يې اوبه څښي او کوم لوری ته يې چې زړه وي په اسانۍ سره به د هغې لختې باسي بهوي به يې.

دويم ځای سورت الانسان ۱۷-۱۸ اياتونه دي:

(وَيُسْقَوْنَ فِيهَا كَأْسًا كَانَ مِزَاجُهَا زَنجَبِيلًا﴿١٧﴾عَيْنًا فِيهَا تُسَمَّىٰ سَلْسَبِيلًا﴿١٨﴾ سورت الانسان)

ژباړه: په هغو به هلته د شرابو داسې جامونه وڅښل شي، چې

سونږ به پکې ګډه شوي وي. دا به د جنت يوه چينه وي، چې سلسبيل ورته ويل کېږي.

قرآن کريم کې د رېيم هغه ځای، چې د چينې (عين) ياد په مفرد ډول پکې راغلی دی:

(وَمِزَاجُهُ مِن تَسْنِيمٍ ﴿٢٧﴾ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا الْمُقَرَّبُونَ ﴿٢٨﴾ سورت المطففين)

ژباړه: او په دې شرابو کې به تسنيم ګډ وي. دا يوه چينه ده، چې څښل به کوي له هغې څخه الله تعالی ته نږدې خلک.
څلورم ځای، د الله تعالی دا قول دی:

(فِيهَا عَيْنٌ جَارِيَةٌ ﴿١٢﴾ سورت الغاشية)

ژباړه: ((په هغه کې به بهېدونکې چينې وي.))
په ياد شوي ايت کې (عين) اسم جنس دی، مراد يوه چينه، نه بلکې ډېرې چينې دي.
د قرآن کريم هغه اياتونه چې د عين کلمه پکې د تثنيې په صيغې سره راغلې ده.
لومړی ځای، په الرحمن سورت کې:

(فِيهِمَا عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ ﴿٥٠﴾ سورت الرحمن)

ژباړه: ((په دواړو باغونو کې دوه چينې بهېدونکې.))

ځینې مفسرینو لیکلي چې یوه چینه تسنیم او بله به یې سلسبیل وي.

دویم ځای:

(فِيهِمَا عَيْنَانِ نَضَّاخَتَانِ﴿٦٦﴾ سورت الرحمن)

ژباړه:((په دواړو باغونو کې دوه چینې د فوارو په شان جوش وهونکې.))

د الله تعالی د سپېڅلي کتاب قرآن کریم په ایتونو کې څلور هغه ببلګې، چې د عین (چینې) کلمه پکې د جمع په صیغه سره راغلې ده.

(إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ﴿٤٥﴾ سورت الحجر)

ژباړه: ددې پرخلاف پرهېزګاران به په باغونو او چینو کې وي.

دویم:

(فِى جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ﴿٥٢﴾ سورت الدخان)

ژباړه:په باغونو او چینو کې به وي.

دریېم ځای:

(إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ﴿١٥﴾ سورت الذاریات)

ژباړه: ددې پرخلاف پرهېزګاران به په باغونو او چینو کې وي.

(إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى ظِلَالٍ وَعُيُونٍ﴿٤١﴾ سورت المرسلات)

ژباړه:((پرهیزګاران نن په سیورو او چینو کې دی.))

دا هم احتمال لري چې په دې ایتونو کې د عیون (چینو) څخه هغه څه مراد وي، چې الله د محمد سورت ۱۵ ایت کې ذکر کړی دی.

(مَّثَلُ ٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي وُعِدَ ٱلۡمُتَّقُونَ فِيهَآ أَنۡهَٰرٞ مِّن مَّآءٍ غَيۡرِ ءَاسِنٖ وَأَنۡهَٰرٞ مِّن لَّبَنٖ لَّمۡ يَتَغَيَّرۡ طَعۡمُهُۥ وَأَنۡهَٰرٞ مِّنۡ خَمۡرٖ لَّذَّةٖ لِّلشَّٰرِبِينَ وَأَنۡهَٰرٞ مِّنۡ عَسَلٖ مُّصَفّٗىۖ وَلَهُمۡ فِيهَا مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ وَمَغۡفِرَةٞ مِّن رَّبِّهِمۡۖ كَمَنۡ هُوَ خَٰلِدٞ فِي ٱلنَّارِ وَسُقُواْ مَآءً حَمِيمٗا فَقَطَّعَ أَمۡعَآءَهُمۡ ﴿١٥﴾ سورت محمد)

ژباړه:((د پرهېزګارانو لپاره چې د کوم جنت وعده شوې ده، د هغه شان خو دا دی، چې په هغه کې به ویالې بهېږي د صافو اوبو او ویالې به بهېدونکې وي، د داسې شیدو چې په خوند کې به یې هېڅ توپیر نه وي راغلی، ویالې به بهېدونکې وي د داسې شرابو چې د څښونکو لپاره به لذت ښښونکي وي، ویالې به بهېدونکي وي د صافو رڼو شاتو، په هغه کې به د هغو لپاره هر راز مېوې وي او د هغو د رب لخوا بخشش (ایا هغه څوک چې د هغه په باب دغه جنت رسېدونکی دی) د هغو خلکو په څېر کېدای شي چې په دوزخ کې به تل اوسېدونکی وي او په هغو باندې به داسې ګرمې اوبه څښلی شي، چې د هغو کولمې به غوڅې غوڅې کړي؟))

# د جنتیانو خوراک

د قرآن کریم په بېلابېلو ایتونو کې الله تعالی د جنتیانو د خوراک یادونه کړې ده. سورت الطور او المرسلات کې الله تعالی جنتیانو ته داسې بلنه ورکړې ده:

﴿كُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ هَنِيٓـًٔا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ﴿١٩﴾ سورت الطور او سورت المرسلات﴿٤٣﴾﴾

ژباړه:(( (هغوته به وویل شي) خورئ او څښئ په خوند سره د خپلو هغو عملونو په بدل کې چې تاسې کول. ))

همدارازد سورت الرعد **۳۵** ایت کې الله تعالی د جنت انځور داسې وړاندې کړی دی.

﴿مَّثَلُ ٱلْجَنَّةِ ٱلَّتِى وُعِدَ ٱلْمُتَّقُونَ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَـٰرُ أُكُلُهَا دَآئِمٌ وَظِلُّهَا تِلْكَ عُقْبَى ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوا۟ وَّعُقْبَى ٱلْكَـٰفِرِينَ ٱلنَّارُ﴿٣٥﴾ سورت الرعد﴾

ژباړه:(( له الله تعالی نه د وېرېدونکو انسانانو له پاره چې د کوم جنت وعده شوې ده، د هغه شان دا دی چې تر هغه لاندې ویالې بهېږي، د هغه مېوې نه ختمېدونکې دي او د هغه سیوری همېشنی دی. دا د متقیانو عاقبت دی. او د حق د منکرانو عاقبت دا دی، چې د هغو له پاره د دوزخ اور دی. ))

د سورت ص، ۵۱ ایت کې داسې یادونه شوې ده:

(مُتَّكِئِينَ فِيهَا يَدْعُونَ فِيهَا بِفَاكِهَةٍ كَثِيرَةٍ وَشَرَابٍ﴿۵۱﴾ سورت صٓ)

ژباړه: هغوی به په کې تکیه وهونکي ناست وي، د ښو ښو مېوو او څښلو وړشیانو غوښتونکي به وي.
سورت الطور کې الله تعالی له خپلو مؤمنانو بندهګانو او د هغوی له اولادونو سره د خپلې وعدې داسې یادونه کړې ده:

(وَأَمْدَدْنَاهُم بِفَاكِهَةٍ وَلَحْمٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ﴿۲۲﴾ سورت الطور)

ژباړه:((موږ به هغوته هر راز مېوه او غوښه، هرڅه چې د هغو زړه وغواړي په ښه شان ورکوو.))
په پورتني ایت کې الله تعالی د خوراکونو د دوه سترو ډولونو یوځای یادونه کړې ده، چې لومړی یې فاکهه او دویم یې لحم دی.
همدارازد سورت الزخرف ۷۱ ایت کې د جنت د خوراک او څښاک یادونه پرته د تعین د خوراک له ډول شوې ده[1].

(يُطَافُ عَلَيْهِم بِصِحَافٍ مِّن ذَهَبٍ وَأَكْوَابٍ وَفِيهَا مَا تَشْتَهِيهِ ٱلْأَنفُسُ وَتَلَذُّ ٱلْأَعْيُنُ وَأَنتُمْ فِيهَا خَالِدُونَ﴿۷۱﴾ سورت الزخرف)

ژباړه:((د هغو په مخکې به د سرو زروګیلاسونه او جیکونه ګرځول کېږي او هرزړه خوښوونکی او سترګې خوږوونکی شی به هلته موجود وي. دوی ته به وویل شي تاسې به اوس دلته د تل لپاره اوسېږئ.))

---

[1] صفة الجنة في القرآن الكريم، مخ. ۳۲۸.

امام ترمذي رحمه الله د انس بن مالک رضي الله تعالی عنه په روایت حدیث نقل کړی دی، چې عبد الله بن سلام رضي الله تعالی عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه، چې د جنتیانو لومړنی خوراک به څه وي؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم په ځواب کې وویل: د جنتیانو لومړنی خوراک به د ماهي د ځیګر زیاتي برخه وي.

امام مسلم رحمه الله د ثوبان رضي الله تعالی عنه په روایت اوږد حدیث نقل کړی دی، چې د دې اثر (د جنتیانو تحفه) سرلیک لاندې نقل شوی دی.

د دې حدیث یوه برخه کې راغلي دي: یهودي له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه، جنتیان چې کله جنت ته ننوځي، د دوی تحفه به څه وي؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم ځواب کې وویل: د ماهي د ځیګر زیاتي برخه.

یهودي وویل: تر دې وروسته به د دوی خوراک څه وي؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم ځواب کې وویل: بیا به دوی ته د جنت یو غوییي حلال کړای شي، هغه چې د جنت په غاړو کې څرېده.

امام بخاري او مسلم رحمه الله د ابو سعید الخدري رضي الله تعالی عنه په روایت حدیث نقل کړی دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي ځمکه به د قیامت په ورځ د یوې ډوډۍ په څېر شي. الله تعالی به یې د جنتیانو د مېلمه پالنې لپاره په خپل لاس کې داسې اړوي راړوي لکه ستاسې یو کس چې په سفر کې ډوډۍ اړوي راړوي.

د يهوديانو يو كس راغى ويې ويل: ابو القاسمه! رحمن ذات دې پرتاسې بركت نازل كړي، زه تاسې ته د قيامت په ورځ د جنتيانو د مېلمه پالنې په اړه خبر درنه كړم.

رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: ونبا يا ست؟

هغه وويل: ځمكه به د يوې ډوډۍ په څېر شي لكه څرنګه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي وو.

رسول الله صلى الله عليه وسلم زموږ لور ته وكتل او ويې خندل.

بيا يې وويل: ايا د جنتيانو د كتغ په اړه خبر درنه كړم. ويې ويل: كتغ به يې بالام او نون وي.

اصحابو كرامو پوښتنه وكړه: دا څه دي؟!

يهودي وويل: (غوبي او ماهي) دومره به غټ وي، چې د دې دواړو د ځيګر سره د ترلې زياتې ټوټې څخه به اويازره كسان خوراك كوي، رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي جنتيان به جنت كې خوراك څښاك كوي مګر د خولې لاړې به نه لري، تشې بولې او قضاء حاجت به نه كوي، پوزې به يې افرازات نه لري (له پوزو څخه به يې څه نه راوځي).

اصحابو كرامو پوښتنه وكړه: دوى خو به خوراك كوي، نو د خوراك به څه حال وي؟

رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: يوازې اركمى (اركى) به وي او د مشكو په څېر د خوشبويه خولو په ډول به د جنتيانو د بدن له څرمن څخه وځي، هغوى ته به د تسبيح او تحميد الهام داسې كولاى شئ، لكه د ساه د اخيستلو چې الهام كولاى شي.

امام احمد بن حنبل رحمه الله د زيد بن ارقم رضي الله تعالى عنه په روايت حديث نقل کړی دی، يو تن يهودي رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی ويې ويل: يا رسول الله صلی الله عليه وسلم تاسې وايي چې جنتيان خوراک او څښاک کوي او خپلو ملګرو ته بې وويل، که په دې خبره يې اقرار وکړ جګړه ورسره کوم، رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: زما دې پر هغه ذات قسم وي، يو جنتي لره به په خوراک، څښاک، شهوت او جماع کې د سلو تنو نرينه و قوت ورکولای شي.

يهودي وويل: څوک چې خوراک څښاک کوي، هغه ته خو حاجت هم پيدا کېږي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: د جنتيانو حاجت به د خولو په څېر د دوی. د بدن له پوستکي څخه وځي او د مشکو په څېر خوشبويي به لري...

د پورتني حديث نه څرګندېږي، چې د جنت د خوراک او څښاک پايله به ښکلې خوشبويي وي.

# د جنتیانو لوښي

الله تعالی په جنت کې د لوښو د وجود او شتون په اړه د قرآن کریم په بېلابېلو سورتونو کې یادونه کړې ده، د لومړۍ بېلګې په توګه: سورت الانسان ۱۵ ایت کې الله تعالی ویلي:

(وَيُطَافُ عَلَيْهِم بِآنِيَةٍ مِّن فِضَّةٍ وَأَكْوَابٍ كَانَتْ قَوَارِيرَا ﴿۱۵﴾ سورت الانسان)

ژباړه:((او ګرځولی به شي پر دوی د سپینو زرو لوښي او جامونه چې هغه به د ښیښو وي.))

د جنت د لوښو یاد په زیات شمېر سره قرآن کریم کې شوی دی او نوعیت یې د تکریم او تقدیر له مخې مختلف دی او تنصیص او تصریح یې په دربو ډولونو لوښو کې شوې ده.

**لومړی ډول: صحاف**

صحاف د صحفة جمع ده او د عربو په لغت کې په قصعه (کاسې) سره پېژندل کېږي. او صحفه هغه لوښی دی، چې د عربو په اصطلاح کې پر هغې باندې پنځه کسان مړېږي.

او د صحاف (کاسو) ذکر د الله تعالی په دې قول کې داسې راغلی:

(يُطَافُ عَلَيْهِم بِصِحَافٍ مِّن ذَهَبٍ﴿۷۱﴾ سورت الزخرف)

ژباړه:((د هغو په مخکې به د سرو زرو ګیلاسونه او ګرځول کېږي.))

**دويم ډول: اکواب**

اکواب د کوب جمع ده، هغه ګيلاسونه دي چې د نيولو لپاره کړۍ ونه لري.

د اکواب ذکر د قرآن کريم په څلورو سورتونو کې راغلی دی.

(يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِصِحَافٍ مِّن ذَهَبٍ وَأَكْوَابٍ﴿٧١﴾ سورت الزخرف)

ژباړه:((د هغو په مخکې به د سرو زرو ګيلاسونه او جيکونه ګرځول کېږي.))

سورت واقعة ۱۷-۱۸ ايتونو کې الله تعالی داسې ويلي:

(يَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ﴿١٧﴾بِأَكْوَابٍ وَأَبَارِيقَ ﴿١٨﴾ سورت الواقعة)

ژباړه:((د هغو په مجلسونو کې به همېشني هلکان ګرځي راګرځي. د شرابو له بهېدونکې چينې له ډکو پيالو، سراحيانو او جامونو سره.))

همدا راز د سورت الانسان ۱۵ ايت کې داسې يادونه شوې ده:

(وَيُطَافُ عَلَيْهِمْ بِآنِيَةٍ مِّن فِضَّةٍ وَأَكْوَابٍ كَانَتْ قَوَارِيرَا﴿١٥﴾ سورت الانسان)

ژباړه:((د هغو مخې ته به د سپينو زرو لوښي او د ښيښو ګيلاسونه ګرځول کېږي.))

په الغاشية سورت کې الله تعالی د جنت د ګيلاسونو يادونه داسې کړې ده:

(وَأَكْوَابٌ مَّوْضُوعَةٌ﴿١٤﴾ سورت الغاشية)

ژباړه:((او ډکې پيالې به ايښودل شوې وي.))

يوه مانا دا ده چې تيار به د نهرونو او چينو پر غاړو باندې

کېښنودل شوې وي. دویمه دا چې دا به دوی د خوشالۍ لپاره وي[۱].

د صفة الجنة فی القرآن کریم لیکوال لیکلي:
د سورت الغاشیة ایت پر دې باندې دلالت کوي چې ګیلاسونه به تیار د روانو جنتي چینو په غاړو ایښې وي. دوی چې کله له چینو څخه د اوبو د څښلو اراده وکړي، نو ډک به یې ومومي.
دا مانا هم کېدای شي، چې له دوی سره به په بنګلو، خېمو او د جنت هر ځای کې ګیلاسونه ایښودل شوې وي.

**دریم ډول یې اباریق دي:**
اباریق د ابریق جمع ده، چې جیکونو ته وایي، د جیکونو ذکر په قرآن کریم داسې شوی:

﴿يَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُخَلَّدُونَ﴿۱۷﴾بِأَكْوَابٍ وَأَبَارِيقَ﴿۱۸﴾ سورت الواقعة﴾

ژباړه: د هغوی په مجلسونو کې به همېشني هلکان ګرځي راګرځي. د شرابو له بهېدونکې چینې له ډکو پیالو، سراحیانو او جامونو سره[۲].

---

[۱] مختصر احسن الکلام ۱۲۰۳.
[۲] صفة الجنة فی القرآن کریم ۲۵۱.

# د جنتي لوښو ماده؟

د جنت لوښي له سرو او سپينو زرو جوړ دي، قرآن کريم د جنت د لوښو ماده داسې تثبيت او څرګنده کړې ده:

(يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِصِحَافٍ مِّن ذَهَبٍ وَأَكْوَابٍ ﴿۷۱﴾ سورت الزخرف)

ژباړه:((د هغو په مخکې به د سرو زرو ګيلاسونه او جيکونه ګرځول کېږي ))

الله تعالی دا خبره روښانه کړې ده، چې د جنتيانو کاسې به د سرو زرو وي او د ايت مفهوم پر دې دلالت کوي چې د جنت ګيلاسونه به هم د سروزرو وي.

همداراز په دې هم قرآني نص راغلی چې د جنت لوښي به د سپينو زرو وي.

سورت الانسان ۱۵-۱۲ ايتونو کې الله تعالی داسې ذکر کړي دي:

(وَيُطَافُ عَلَيْهِمْ بِآنِيَةٍ مِّن فِضَّةٍ وَأَكْوَابٍ كَانَتْ قَوَارِيرَا﴿۱۵﴾قَوَارِيرَا مِن فِضَّةٍ قَدَّرُوهَا تَقْدِيرًا﴿۱۶﴾ سورت الانسان)

ژباړه: دهغو مخې ته به د سپينو زرو لوښي او دښيښو ګيلاسونه ګرځول کېږي. ښيښې هم هغه چې د سپينو زرو په ډول به وي او هغه به (د جنت منتظمينو ) په سمه اندازه برابر ډک کړي وي.

دا ايت د جنت د لوښو څخه د سرو زرو صفت او ماديت نه نفي کوي، بلکې يوازې د دې يادونه کوي.

دا ایت پر دې دلالت کوي چې د جنت ګیلاسونه به له ښیښې څخه وي. قواریر جمع ده او دا څرګنده ده چې قارورة په ځانګړې توګه له ښیښې څخه جوړ شوي لوښي ته وایي، مګر ایت پر دې تصریح کړې ده چې دا ګیلاسونه به د سپینو زرو له ښیښو څخه وي[۱].

شیخ عبدالسلام لیکلي: په یاد شوي ایت کې ځواب د (وهم) دی، هغه دا چې دا ښیښې دي، نو بیا خو به ژر ماتېږي او بل دا چې د ښیښې په اصل کې توروالی دی؟

حاصل د ځواب: دا دی چې د دې اصل له سپینو زرو څخه دی، نو توروالی پکې نشته، اګر چې شفافیت او صفایي یې د ښیښې په څېر ده یانې دوه متضاد صفتونه پکې د الله تعالی په قدرت سره جمع شوي دي[۲].

---

[۱] صفة الجنة فی القرآن الکریم، مخ: ۲۵۳.

[۲] مختصر تفسیر احسن الکلام، مخ: ۱۵۵۲.

# نبوي سنتو کې د جنت د لوښو ماده

امام بخاري او مسلم رحمه الله د عبد الله بن قيس رضي الله تعالى عنه په روايت حديث نقل کړی دی، دوه جنتونه د سپينو زور دي، چې په هغه کې د ننه ټول لوښي او ځيزونه د سپينو دي او دوه جنتونه د سروزرو دي، چې د هغه لوښي او پکې ټول سامانونه د سرو دي.

د عدن په جنت کې به د خلکو او الله تعالى ترمنځ هېڅ حايل او پرده نه وي پرته له دې، چې د الله تعالى د کبريا او لويي ځادر به د هغه پرمخ باندې خور وي.

همدا راز حذيفه رضي الله تعالى عنه، د رسول الله صلى الله عليه وسلم حديث نقل کړی دی، چې ويل يې: وربښم مه اغوندئ د سروزرو او سپينو زرو په لوښو کې ښباک مه کوئ د هغو په کاسو کې خوراک مه کوئ ځکه دا د کافرانو لپاره په دنيا کې دي او موږ لپاره په اخرت کې دي.

پورتنی حديث، جنت کې د سروزرو او سپينو زرو په وجود (شتون) دلالت کوي، همدارنګه قاطع نص دی په تحريم د دې په دنيا کې يانې دنيا کې د وربښمو کارول او د سرو او سپينو زرو لوښو کې خوراک-ښباک منع او حرام دی.

يو شمېر نور احاديث هم شته، چې په کتنه يې ثابتېږي، چې د جنت لوښي به له سپينو او سروزرو څخه وي[1].

---

[1] ... ۲۵۵

# د جنتيانو ګاڼه

الله تعالی قرآن کريم کې د جنتيانو لپاره د نورو ټولو نعمتونو په څنګ کې د جنت د حليې او ګاڼې يادونه هم کړې ده، څرنګه چې الله تعالی نور ډول ډول نعمتونه د جنتيانو لپاره تيار کړي دي همداسې يې د دوی ظاهري ښکلا لپاره د جنت ګاڼه هم د يو ځانګړي نعمت په توګه د قرآن کريم په ربښتينو او زرينو پاڼو کې داسې انځور کړې.

(أُوْلَـٰئِكَ لَهُمْ جَنَّاتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهِمُ ٱلأَنْهَارُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَيَلْبَسُونَ ثِيَاباً خُضْراً مِّن سُنْدُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُّتَّكِئِينَ فِيهَا علي ٱلأَرَآئِكِ نِعْمَ ٱلثَّوَابُ وَحَسُنَتْ مُرْتَفَقاً﴿۳۱﴾ سورت الكهف)

ژباړه:((د هغو له پاره تل سمسور باغونه دي، چې تر هغو لاندې به ويالې بهيږي، هلته به هغوی د سرو زرو په بنګړيو سينګار کړای شي، د نريو وريښمو، اطلسو او مخملو شنې جامې به واغوندي او هسکو بالښتونو ته به تکيه وهلي کښيني، ډېر ښه اجر او د لوړې درجې هستوګنځي !.))

همدا راز د حج سورت ۲۳ ايت کې مؤمنانو ته د زېرې په څنګ کې د جنتي نهرونو، جنتي لباس او د سروزرو او مرغلرو د ګاڼې

یاد داسې کوي:

(إِنَّ ٱللَّهَ يُدۡخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ يُحَلَّوۡنَ فِيهَا مِنۡ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٖ وَلُؤۡلُؤٗاۖ وَلِبَاسُهُمۡ فِيهَا حَرِيرٞ﴿۲۳﴾ سورت الحج)

ژباړه:(( (بل پلو ته) کومو خلکو چې ایمان راوړ او نېک عملونه يې وکړل، الله به هغوی داسې جنتونو ته ننباسي چې تر هغو لاندې به ویالې بهېږي، هلته به هغوی د سرو زرو په بنګړیو او مرغلرو سره سینګار کړای شي. او د هغو جامې به په جنت کې وربښمیني وي.))

د فاطر سورت ۳۳ایت کې د جنتیانو د ګاڼې او زېوراتو یادونه د وربښمین لباس ترڅنګ داسې راغلی دی.

(جَنَّٰتُ عَدۡنٖ يَدۡخُلُونَهَا يُحَلَّوۡنَ فِيهَا مِنۡ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٖ وَلُؤۡلُؤٗاۖ وَلِبَاسُهُمۡ فِيهَا حَرِيرٞ﴿۳۳﴾ سورت الفاطر)

ژباړه:((د تل ترتله هستوګنې جنتونه دي، چې هغوته به دوی ورننوځي. هلته به دوی د سرو زرو په بنګړیو او مرغلرو سره سینګار کړای شي، هلته به د دوی جامې د وربښمو وي.))

په سورت الانسان کې د جنتیانو د ګاڼو یادونه بیا په جلا (ډول) د ځانګړې مادې په توګه شوې ده:

(وَحُلُّوٓاْ أَسَاوِرَ مِن فِضَّةٖ﴿۲۱﴾ سورت الانسان)

ژباړه: ((هغو ته به د سپینو زرو بنګړي واچول شي.))

د الله تعالی د سپېڅلي کتاب قرآن کریم له یادو شویو ایاتونو څخه څرګندېږي، چې الله تعالی د ګاڼو له ټولو ډولونو څخه بنګړي ځانګړي کړل او د بنګړو ځانګړی کول د تشریف او کرامت

ثرګندوېږي کوي او د حسن او جمال په لړ کې ځانګړی ارزښت او ځانګړی ځای لري او د بنګړیو ځانګړی کول د دې د نااشنایۍ ښکارندوي هم کوي.

دا ځکه چې دنیاوي ژوند کې نرینه د دې ګاڼې د کارولو سره د شرعي ممانعت له امله بلدیت نه درلود، نو ځکه دا د جنتیانو لپاره د سروزرو او ګاڼو په لړ کې یو نااشنا او په زړه پورې ګاڼه ده، د جنتیانو بنګړي (اساور) به کله یوازې له سروزرو څخه وي او کله به یا یوازې له سپینو زرو څخه وي. د سورت کهف او سورت الانسان ایاتونه د دې خبرې تایید کوي دا هم شوني ده چې کېدای شي جنتیان به د سروزرو او سپینو زرو بنګړي یوځای کاروي یا به د سروزرو بنګړي جلا او د سپینو زرو جلا کاروي. همدا راز د جنت ګاڼه به کله بیا له مرغلرو څخه هم وي.

سعید بن جبیر رحمه الله وایي، هر یو جنتي ته به درې بنګړي اچول کېږي، یو له سپینو زرو بل له سروزرو او دریم به له مرغلرو او یاقوتو څخه وي.

د سورت حج او سورت فاطر ایاتونه پر دې خبره قرآني دلیل دی، چې د جنتیانو ګاڼه به له سروزرو، سپینو زرو او مرغلرو څخه وي.

په هر حال کله به د جنتیانو بنګړي له سروزرو او نورې ګاڼې او کالي به یې له مرغلرو څخه وي او کله به د سروزرو او مرغلرو ګډ بنګړي د دوی لاسونو ته اچول کېږي، ایت د دواړو ماناګانو احتمال لري. کله به بنګړي له سروزرو او مرغلرو دواړو یوځای وي او کله به بیا یوازې له سروزرو او یا یوازې له مرغلرو وي.

څرنګه چې نن مهال په دې نړۍ کې څرګنده ده ګاڼه خاص د

ښځینه وو لباس دی، مګر په جنت النعیم کې بیا ګانه د نرینه وو او ښځینه وو ګډ لباس دی[1].

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: شهید لپاره د الله تعالی په وړاندې شپږ ځانګړنې دي. لومړنۍ مرحله کې هغه ته ښښنه کېږي، جنت کې خپل ځای ویني او د قبر له عذاب نه خلاصی مومي، د فزع اکبر لوی هیبت نه په امن کې وي، په سر باندې ورته د وقار تاج کېښودل کېږي، چې د هغه یوه دانه یاقوت له دنیا او څه چې په دنیا کې دي غوره دی.

د ښایسته سترګو والا له حورو څخه دوه اویا (۷۲) حورې شهید ته په نکاح ورکول کېږي او د خپلو ۷۰ کسو خپلوانو په حق کې هغه شفاعت کولای شي.

امام مسلم رحمه الله د ابو هریره رضي الله تعالی عنه په روایت حدیث نقل کړی دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د مؤمن ګاڼه به (د قیامت په ورځ) تر هغه ځایه پورې رسېږي، چې تر کوم ځای پورې د اوداسه اوبه رسېږي.

ابو سعید الخدري رضي الله تعالی عنه وایي رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی دا قول ولوست:

(جَنَّاتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ﴿٣٣﴾ سورت الفاطر)

بیا یې وویل: د دوی پر سرونو باندې التیجان (تاجونه) وي، د هغې کوچنۍ مرغلره به د ختیځ او لویدیځ ترمنځ ټوله ساحه رڼا کوي[2].

---

[1] صفة الجنة فی القرآن الکریم ۲۵۹.

[2] صفة الجنة فی القرآن الکریم. مخ: ۲۷۲.

# د جنتیانو لباس

الله تعالی د خپلو نېکو بندهګانو لپاره د جنت د نورو نعمتونو په څنګ کې د ځانګړي لباس وعده هم کړې ده او بیا یې قرآن کریم کې د دې جنتي پوښاک یادونه داسې کړې ده.

﴿وَيَلْبَسُونَ ثِيَاباً خُضْراً مِّن سُنْدُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ ﴿٣١﴾ سورت الکهف﴾

ژباړه:((او اغوندي به شنې جامې د نریو او پېړو ورېښمو.))
سورت الانسان ۲۱ ایت کې هم د جنتیانو لباس ذکر شوی دی.

﴿عَالِيَهُمْ ثِيَابُ سُندُسٍ خُضْرٌ ﴿٢١﴾ سورت الانسان﴾

ژباړه:((پر هغو باندې به د نریو ورېښمو تننه جامې [illegible]
اطلس او د پربړو ورېښمو جامې به یې وی.))
همدارازد سورت الحج او فاطر په ۲۳ او ۳۳ ایتونو کې د جنتیانو لباس داسې ښودل شوی دی.

﴿جَنَّاتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤاً وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ﴿٣٣﴾ سورت الفاطر﴾

ژباړه: ((د تل ترتله هستوګنې جنتونه دي، چې هغو ته به دوی ورننوځي. هلته به دوی د سرو زرو په بنګړیو او مرغلرو سره سینګار کړای شي، هلته به د دوی جامې د ورېښمو وي.))
په لومړنیو دریو ځایونو کې دا موضوع ثابته شوې ده چې د جنتیانو لباس به سندس (نریو ورېښمو) او استبرق (غټو ورېښمو) څخه وي.

حذيفه رضي الله تعالى عنه وايي، رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي سره زر، سپين زر، حرير (وربښم) ديباج دوى لپاره په دنيا کې دي او موږ لپاره په اخرت کې دي.

صحيح بخاري او صحيح مسلم کې د عمر رضي الله تعالى عنه په روايت حديث نقل شوى دى، رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي، وربښم مه اغوندئ، ځکه څوک چې په دنيا کې وربښم واغوندي اخرت کې به هغه ته نه اغوستل کېږي.

همداراز ترمذي د ابو موسى اشعري رضي الله تعالى عنه په روايت حديث نقل کړى دى، رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي (د وربښمو او سرو زرو اغوستل او کارول زما د امت پر نرينه وو باندې حرام کړاى شوي دي او د ښځينه وو لپاره حلال دي).

دا چې شين رنګ تر ټولو رنګونو ښکلى دى، د دې له امله الله تعالى خبر ورکړى، چې د جنتيانو پوښاک به شين وي او بشري طبيعتونه هم دې رنګ ته خپله ډېره ليوالتيا ښيي.

همداراز رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي:

څوک چې خپل مؤمن ورور ته د هغه په مصيبت او غم کې ډاډګېرنه او تسلي ورکړي، الله تعالى به هغه ته شنه جوړه وروا غوندي، چې د نورو خلکو سترګې به د ده لور ته وي او هر کس به دا هيله لري، چې کاشکې د ده په څېر ښکلې جوړه ولري[1].

ځينو پوهانو ويلي دي: چې درې شيزونه خپګان او غم له منځه وړي: (اوبه، شين والى او ښکلى مخ).

---

[1] صفة الجنة، مخ: ۲۷۲.

د تحلی او ګاڼو وړاندې والی په لباس باندې د کهف، حج او فاطر سورتونو کې ذکر شوی دی، علت یې دا دی چې ګاڼه د انساني نفس په وړاندې ستر منزلت لري او زړه ته ډېر ګران دي او قیمت کې هم خورا لوړ او ګران بیه دي او پر سترګو هم ډېر خوږ لګي.
ابن عاشور ویلي دي: د ګاڼه ذکر له لباس نه مخکې راغلی دی.
لامل یې دادی، چې ګاڼې د جنتونو لپاره ابتدایي (لومړني) صفت ښودل شوی دی او د ګاڼو څرګند بدل د جنتونو لپاره تازه کوونکې ښه لري، ځکه یې نو ګاڼه مخکې او لباس وروسته ذکر کړ او د دې عکس د سورت الانسان ۲۱ ایت کې ذکر شوی دی.

(عاليهم ثياب سندس [illegible] ۲۱ د سورت الانسان)

ژباړه:((بره طرف د دوی به جامې د نریو وریښمو وي.))
په هر حال د جنت په ګاڼه او لباس کې هېڅ ارتباط-مماثلت او ورته والی نشته د کومو یادونه چې په مقابلوي توګه شوې ده، هغه یوازې په مسمی او نومونه کې ده.
وړاندې احادیثو کې تېر شول، که چېرې د جنتیانو له بنګړیو نه یو بنګړی رابښکاره شي، نو د لمر رڼا به داسې بې نوره کړای شي، لکه څرنګه چې د لمر په وړاندې د ستورو رڼا کمزورې او بې نوره ښکاري.
رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: لومړنۍ ډله چې جنت ته ننوځي مخونه به یې د څوارلسم د سپوږمۍ په څېر رڼا کوي.
د دویمې ډلې کسانو مخونه به د اسمان د ځلېدونکو ستورو په څېر ښکلي معلومېږي.
(هر یو لپاره به د ښکلو غټو سترګو والا حورو څخه دوه مېرمنې

وي، په هرې حورې به اويا جوړې پرتې وي چې د پنځويو مغز به يې له جامو او غوښو هاخوا داسې ليدل کېږي لکه څرنګه چې سره شراب په سپينه شيشه کې ليدل کېږي) امام احمد رحمه الله د ابو هريره رضي الله تعالى عنه په روايت حديث نقل کړی دی.

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: د چابک يا کوړې په اندازه ځای په جنت کې له دنيا نه دوه ځلې غوره دی.

او جنت کې ستاسې د ليندۍ (کمان) برابر ځای له دنيا دوه ځلې غوره دی.

او د جنتي مېرمنې لوپټه دوه ځلې له دنيا څخه غوره ده[1].

صحيحينو کې د براء رضي الله تعالى عنه په روايت حديث نقل شوی دی. رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د ورېښمو يوه جوړه ډالۍ کې راوړل شوه، اصحابو کرامو د هغې له نرموالي او ښکلا څخه تعجب ښکاره کړ.

دا په داسې حال کې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له ورېښمو جوړو شويو جامو څخه منع کوله.

رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: تاسې د دې ورېښمو په کتنه تعجب کوئ؟

د سعد بن معاذ رضي الله تعالى عنه لپاره د جنت د سمالونه له دې نه زيات ښايسته دي[2].

د انس بن مالک رضي الله تعالى عنه په روايت کې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دا ډالۍ چپنه ښودل شوې هغه چې د جامو له پاسه

---

(۱) حادي الارواح ۱۸۴ (مخ).
(۲) حادي الارواح ۱۸۲.

اغوستل کېږي.

امام ترمذي د ابو هريره رضي الله تعالی عنه په روايت حديث نقل کړی دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: جنتيان به پر بدن ويښتان نه لري، لغړ زني او زلموتي به وي. پرته له رنجو به يې سترګې تورې وي. د دوی ځواني به نه ختمېږي او نه به يې جامې (کالي) زړېږي[1].

امام ترمذي رحمه الله د ابو هريره رضي الله تعالی عنه په روايت حديث نقل کړی دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: د قيامت په ورځ به صاحب قرآن راوستل شي، قرآن کريم به الله تعالی ته عرض وکړي، ای الله زما دا لوستونکي سينګار کړه الله تعالی به د کرامت تاج ورپه سر کړي، قرآن کريم به بيا ووايي، ای الله ده ته يې زياته کړه ! بيا به د عزت او کرامت له جوړو ښخه جوړه ورواغوستل شي.

دريم ځل به قرآن کريم الله تعالی ته وړانديز وکړي: ای الله له ده ښخه راضي شه الله تعالی به ترې راضي شي. بيا به وويل شي لوله او پورته کېږه او ده ته به د هر ايت په لوستو يوه نېکي اضافه کېږي[2]. د حدث درجه حسن ده.

ابن ماجه کې د عبدالله بن ابو بکر بن محمد بن عمرو بن حزم په روايت حديث کې راغلي رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: کوم مؤمن (بنده) چې خپل مسلمان ورور ته په مصيبت او غم کې تعزيت او ډاډګېرنه ورکړي، الله تعالی به د قيامت په ورځ هغه ته د عزت او کرامت له جوړو ښخه جوړه ورواغوندي[3].

---

[1] ترمذي كتاب صفة الجنة باب ما جاء في صفة ثياب أهل الجنة. [illegible] ٨٦.
[illegible] ٣٦٣
[2] [illegible] ١١٩
[3] [illegible] القرآن الكريم [illegible] ٢٦١

# جنتي قالينې فرشونه

الله تعالى د جنتيانو لپاره په جنت کې د څانګړيو او ښکليو فرشونو يادونه کړې ده.

د الرحمن سورت **۵۴** ايت کې الله تعالى ويلي:

[illegible] (۵۴ سورت الرحمن)

ژباړه:((جنتيان به پرداسې فرشونو باندې تکيه کوونکي ناست وي، چې د هغو استرونه به د پرېړو وربښمو وي او د باغونو څانګې به د مېوو له زوره ښکته راکږې شوې وي.))

تفسير احسن الکلام ليکلي:

(بَطَآئِنُهَا) د دې مقابل ظهائر (ښکاره کېدونکی) دی او هغه يې ذکر نه کړ يا خو هغه د سندس نه جوړ دی لکه د سورت کهف **۳۱** ايت او د سورت دخان **۵۳** ايت کې چې ورته اشاره شوې ده.

(ويلبسون ثيابا خضرا من سندس واستبرق ۳۱ سورت الكهف)

ژباړه:((او اغوندي به شنې جامې د نريو او پېړو وربښمو.))

(يلبسون من سندس واستبرق متقابلين ۵۳ سورت الدخان)

ژباړه:((د مزيو او پرېړو وربښمو جامې په تن، يو بل ته مخامخ به ناست وي.))

يا دا چې بطائن (استرونه) عادتاً په دنيا کې د معمولي ټوکر نه جوړېږي، مګر په جنت کې به هغه له اعلى ټوټې نه وي، چې استبرق (غټ وربښم) دي، نو د ظهائرو (ښکاره طرفونو) علم له

الله تعالی سره دی هغه د انسان په علم کې اوس نشي راتلای[۱].

سورت واقعه کې الله تعالی د جنت د فرشونو انځور داسې وړاندې کوي:

ژباړه:((او په لوړو فرشونو کې به وي.))

تفسیر احسن الکلام لیکلي: مراد له دې نه فرشونه قالینې دي، (مرفوعة) اوچت به وي مکان (ځای) د هغې اګر چې په وخت د کېناستلو کې به کوزېږي. یا قدر او شان یې اوچت دی...[۲].

عبدالله بن مسعود رضي الله تعالی عنه ویلي: الله تعالی د جنت د فرشونو د استرونو په اړه خبر درکړی، څه ګومان کوئ، چې ظواهر (بهرني طرفونه یا لوري) به یې څومره ښکلي وي.

سعید بن جبیر نه د جنتي فرشونو د څرګندو بره طرفونو په اړه پوښتنه وشوه، هغه د الله تعالی په دې قول ځواب ورکړ:

ژباړه:((نو د سترګو یخېدو کوم وسایل چې د هغو د عملونو په مکافات کې د هغو لپاره پټ کړای شوي دي، هیڅ نفس پرې خبر نه دی.))

الله تعالی د جنت له فرشونو څخه څلور ډولونه په ځانګړې توګه یاد کړي دي، چې عبارت دي له: نمارق، زرابي، رفرف، عبقر.

دوه لومړني ډولونه یې په سورة الغاشیة کې، په جوړه ییز ډول

داسې ياد شوي دي:

(ونمارق مصفوفة (١٥) وزرابي مبثوثة (١٦) سورت الغاشية)

ژباړه:((پرېړ بالښتونه به قطار قطار ايښي وي او ښکلي فرشونه به غوړېدلي وي (داخلک يې نه مني).))

زرابي د زربيه جمع ده، هغو فرشونو او قالينو ته ويل کېږي، چې لمنو ته يې نري نري ځوندې لګول شوې وي.

د دوه نورو يادونه د الرحمن سورت ۷۶ايت کې شوې ده:

(متكئين على رفرف خضر وعبقري حسان (٧٦) سورت الرحمن)

ژباړه:((هغوی به پرجنتي شنو غاليو او نفيسو او نادرو فرشونو باندې تکيه وهلي ناست وي.))

(رَفْرَفٍ) په اصل کې د رف نه اخيستل شوی دی د اوچت والي او حرکت کولو په مانا دی د تازه ګی په مانا سره هم راځي.

همدا راز هغه څادرونه ترې هم مراد دي، چې پر بستره باندې غوړولی شي يا رَفْرَفٍ نه مراد د جنت باغونه، چمنونه او يا بالښتونه دي.

څلورم ډول د عبقر په نامه ياد شوی دی: عبقر ګلدار څادرونه يا بسترې دي، چې ډېرې نااشنا وي، هر کامل او بشپړ څيز چې له هغه نه بره او معياري بل څيز نه وي، برابره خبره ده که هغه انسان وي، لباس وي، يا بل څيز وي، په عبقر نومولی شي.

ابن الانباري ويلي دي: عبقر يو ځای دی، چې هغې کې ډېر پېريان وو، نو هغه ځای نااشنا ګڼل کېده، نو هر نااشنا څيز به دوی عبقر ته نسبت کاوه يا په يمن کې يو ښار و، چې په هغه کې د ټوکرونو ګلونه کېدل[1].

---

(١) احسن الكلام، تبوک، ص ۲۳۵

# د جنت خېمې

د جنت خېمې د قرآن کریم د سورت الرحمن ۷۲ ایت کې دا سې یادې شوې دي.

﴿حُورٌ مَّقْصُورَاتٌ فِي الْخِيَامِ ﴿۷۲﴾ سورت الرحمن﴾

ژباړه: ((په خېمو کې د بره شوې حورې.))
مراد له خېمو څخه د هغوی کورونه او محلونه دي.
خطیب شربیني ویلي دي: چې ثلور لرګي ودرول شي او له پاسه پرې څه ثانګې او بوټي وا چول شي، نو دې ته خېمه وایي[1].
دا ایت په جنت کې د خېمو په شتون دلالت کوي، خو صفت او څرنګوالی یې نه دی څرګند شوی.
د رسول الله صلی الله علیه وسلم احادیثو کې بیا د جنتي خېمو په اړه بشپړ بیان شوی دی.
ابو موسی اشعري رضي الله تعالی عنه حدیث نقل کړی دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:
په جنت کې د مؤمن لپاره د هغه مرغلرو جوړه یوه خېمه ده، چې منځونه یې تش وي او پلنوالی یې شپېته میله دی، په هره زاویه کې یې د مؤمن اهل او مېرمنې دي مؤمن به پرهغوی باندې چکر

---

[1] احسن الکلام، تیوک. انم. مخ ۲۴۴

وهي او نور به يې نهويني[1].

په حديث کې د ميل نه مراد غيبي امور دي او د دې زمانې مشهور ميل له ۱۸۴۸ مترو سره برابرېږي[2].

عمرفاروق رضي الله تعالى عنه، عبد الله بن مسعود رضي الله تعالى عنه او عبد الله بن عباس رضي الله تعالى عنهما وېلي: د جنت خېمې له هغو مرغلرو ځخه جوړې دي، چې منځونه يې تش وي.

ابو الدرداء رضي الله تعالى عنه وېلي: يوه خېمه يوه مرغلره ده، چې د هغې لپاره ۷۰ د مرغلرو دروازې دي.

عبد الله بن عباس رضي الله تعالى عنهما وېلي: جنتي خېمې له مرغلرو جوړ کورونه دي.

مجاهد رحمه الله وېلي: جنتي خېمه به له مرغلرو او سپينو زرو جوړه وي[3].

---

[1] صحيح البخاري او صحيح المسلم

[2] صفة الجنه في القرآن كريم

[3] صفة الجنه في القرآن كريم. مخ: ۲۸۹

# د جنت پالنګونه

د ٱلْأَرَآئِكِ کلمه د جمع په صیغه پینځه ځلې قرآن کریم کې راغلې ده.
په سورت الکهف کې د ٱلْأَرَآئِكِ یادونه، داسې راغلې:

(أُولَٰئِكَ لَهُمْ جَنَّاتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهِمُ ٱلْأَنْهَارُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَيَلْبَسُونَ ثِيَابًا خُضْرًا مِّن سُندُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُّتَّكِئِينَ فِيهَا عَلَي ٱلْأَرَآئِكِ نِعْمَ ٱلثَّوَابُ وَحَسُنَتْ مُرْتَفَقًا﴿۳۱﴾ سورت الکهف)

ژباړه:((د هغو له پاره تل سمسور باغونه دي، چې تر هغو لاندې به ویالې بهېږي، هلته به هغوی د سرو زرو په بنګړیو سینګار کړای شي، د نریو وربښمو، اطلسو او مخملو شنې جامې به واغوندي او هسکو بالښتونو ته به تکیه وهلې کښني، ډېر ښه اجر او د لوړې درجې هستوګنځی!.))

په سورت یس کې د ٱلْأَرَآئِكِ یاد، داسې شوی دی:

(إِنَّ أَصْحَابَ ٱلْجَنَّةِ ٱلْيَوْمَ فِي شُغُلٍ فَاكِهُونَ﴿۵۵﴾هُمْ وَأَزْوَاجُهُمْ فِي ظِلَالٍ عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ مُتَّكِئُونَ﴿۵۶﴾ سورت یسین)

ژباړه: ((نن جنتیان په خوند ونو اخیستلو کې بوخت دي هغوی او د هغو مېرمنې به په ګڼو سیورو کې وي، پر تختونو ناست بالښتونو ته تکیه کوونکې.))

په سورت الانسان کې هم د جنت د پالنګونو يادونه شوې ده:

(مُتَّكِئِينَ فِيهَا عَلَى الْأَرَائِكِ لَا يَرَوْنَ فِيهَا شَمْسًا وَلَا زَمْهَرِيرًا﴿١٣﴾ سورت الانسان)

ژباړه: ((هلته به هغوی پر لوړو مسندونو باندې تکيه وهلي ناست وي، نه به يې د دوبي ګرمي په تکليف کړي او نه د ژمي ساړه.))

د سورت المطففين ۲۲-۲۳ ايتونو کې د نېکانو لپاره د جنت د پالنګونو داسې يادونه شوې ده.

(إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ ﴿٢٢﴾ عَلَى الْأَرَائِكِ يَنظُرُونَ ﴿٢٣﴾ سورت المطففين)

ژباړه: ((ارومرو به نېکان په زياتو خوندونو کې وي. په هسکو کرسيو ناست ننداره کوونکي به وي.))

د ياد شوي سورت ۳۴-۳۵ ايتونو کې هم د جنت پر پالنګونو باندې د مؤمنانو او جنتيانو د ناستې داسې يادونه شوې ده.

(فَالْيَوْمَ الَّذِينَ آمَنُوا مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُونَ ﴿٣٤﴾ عَلَى الْأَرَائِكِ يَنظُرُونَ ﴿٣٥﴾ سورت المطففين)

ژباړه: ((نن مؤمنان پر کفارو خنداکوي. په تختونو ناست د هغو د حالت ننداره کوي.))

د جنتي پالنګونو حقيقت له الله تعالی پرته بل څوک نه پوهېږي، ځکه هغه داسې نعمتونه او شيزونه دي چې سترګو نه دي ليدلي او غوږونو نه دي اورېدلي او نه د چا په زړه کې تېر شوي دي، ځکه انسان د دې وړتيا نه لري چې د جنت د پالنګونو حقيقت درک کړي.

## د جنت تختونه

قرآن کريم کې د (سُرُر) کلمه راغلې او مراد په دې سره د جنت (سُـــرُر) یانې تختونه دي، په قرآن کريم کې د (سُرُرٍ) کلمه پينځه ځايه راغلې:
د سورت حجر ۴۷ ايت کې د جنت د تختونو ياد داسې شوی دی:

[illegible]

ژباړه: ((د هغو په زړونو کې که لږ ډېر د خيري رخه وي، هغه به مونږ تربنه وباسو، هغوی به په خپلو مينځو کې ورونه ورونه يو بل ته مخامخ پر تختونو کېني.))
ځينو مفسرينو د حسن بصري رحمه الله له قوله د علي کرم الله وجهه وينا نقل کړې ده، هغه به ويل: دا ايت زمونږ د بدري اصحابو په اړه نازل شوی دی.
سفيان ثوري رحمه الله د ابو صالح وينا نقل کړې ده، چې د دې ايت کې مقصد عشره مبشره صحابه کرام دي[1].

---

[illegible]

د دغه ایت په تفسیر کې مجاهد رحمه الله لیکي: دوی به مخامخ وي، چې یو بل ته یې شا نه شي.

دریم قول د الله تعالی چې د جنت د تختونو یاد پکې راغلی دا سې دی:

(علیٰ سُرُرٍ مُّتَقَابِلِينَ ﴿٤٤﴾ سورت الصافات)

ژباړه: ((یو بل ته مخامخ پر تختونو کېني.))

امام قرطبي لیکي: دا تختونه به چاپېره ګرځي، نو یو بل ته به یې شا نه ګرځي، دریم ځای چې د جنت د تختونو یادونه پکې شوې ده، د طور سورت ۲۰ ایت دی.

(مُتَّكِئِينَ عَلَىٰ سُرُرٍ مَّصْفُوفَةٍ وَزَوَّجْنَاهُم بِحُورٍ عِينٍ ﴿٢٠﴾ سورت الطور)

ژباړه: ((هغوی به مخامخ په غوړېدلیو تختونو باندې تکیه لګولي ناست وي او موږ به ښاسته سترګې لرونکې حورې هغوی ته واده کړو.))

څلورم ځای کې فرمایي:

(عَلَىٰ سُرُرٍ مَّوْضُونَةٍ ﴿١٥﴾ مُّتَّكِئِينَ عَلَيْهَا مُتَقَابِلِينَ ﴿١٦﴾ سورت الواقعة)

ژباړه: ((پر جړاو کړی شویو تختونو. تکیه وهلي به مخامخ سره ناست وي.))

پینځم ځای د الله تعالی دا قول:

(فِيهَا سُرُرٌ مَّرْفُوعَةٌ ﴿١٣﴾ سورت الغاشية)

ژباړه: په هغه کې به لوړ د ناستې تختونه وي[1].

---

۱۰) ابو عبیده عامر بن الجراح رضي الله تعالی عنه

علامه ابن کثیر رحمه الله په خپل تفسیر کې د ابو عبیده بن الجراح رضی الله تعالی عنه د نوم پر ځای د عبد الله بن مسعود رضی الله تعالی عنه نوم ذکر کړی (والله اعلم).

[1] صفة الجنة في القرآن کریم، مخ ۲۸۲.

# اووم څپرکی

## د جنت حورې

**الحور:**

د (ح) تورى په پېښ سره جمع يې حوراء ده، د حور كلمه دوه ځيزونه په خپله غېږه كې رانغاړي، د ستر ګو سپينوالى سره د قوي توروالي يانې د ستر ګو سپينوالى يې هم غالب او توروالى يې هم په خپل ځاى كې قوي او غالب وي.

ابن القيم الجوزية رحمه الله وېلي: (عِينٌ) هغه حورو ته ويل كېږي، چې د څېرې او ستر ګو له ښكلا څخه برخمنې وي.

مطلب دا دى، چې د حورو د لفظ اطلاق په هغو ځوانو، پېغلو، سپينو او ښكلو حورو باندې كېږي، چې د ښكلو، تكو تورو او غټو ستر ګو خاوندانې وي(۱).

د (حُورٌ عِينٌ) لفظ د قرآن كريم په درېو اياتونو كې راغلى.

---

(۱) حادي الارواح

**لومړی ځای:**

چې د جنت د ښایسته سترګو والا حورو یاد پکې راغلی:

ژباړه: دا به وي د هغو شان او موږ به سپینې سرې ښایسته اهو چشمې پېغلې هغو ته واده کړو.

**دویم ځای:**

ژباړه:((هغوی به مخامخ په غوړېدلیو تختونو باندې تکیه لګولي ناست وي او موږ به ښایسته سترګې لرونکې حورې هغوی ته واده کړو.))

**درېیم ځای:**

ژباړه:((او د هغو لپاره به د ښایسته سترګو خاوندانې حورې وي.))

صحیح مسلم کې د ابو سعید الخدري رضي الله تعالی عنه نه روایت شوې حدیث یوه برخه کې راغلي... چې جنت کې کله د منزلت او مرتبې په لحاظ ادنی جنتي خپل کور ته ننوځي، ده پسې به د ښایسته سترګو والا لرونکو حورو څخه دوه حورې ننوځي هغوی دواړه به ووایي، ټولې ستاینې الله لره دي، هغه ذات چې ته یې زموږ لپاره پیدا کړی یې او موږ یې تا لپاره پیدا کړي یاستو.

دا جنتي به وو ايي، دا سې حورې به هيچا ته نه وي ورکړل شوي، څرنګه چې ما ته را کړل شوي دي.
دا حديث په دې دلالت کوي، چې جنت کې به د حورو او د هغوی د خاوندانو ترمنځ زيات ه مينه وي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: شهيد لپاره د الله تعالی په وړاندې شپږ ځانګړنې دي. لومړنۍ مرحله کې هغه ته ببښنه کېږي، جنت کې خپل ځایويني او د قبر له عذاب نه خلاصی مومي، د (فزع اکبر) لوی هيبت نه په امن کې وي، په سر باندې ورته د وقار تاج کېښودل کېږي، چې د هغه يوه دانه ياقوت له دنيا او څه چې په دنيا کې دي غوره دی.
له ښايسته سترګو والا حورو څخه ۷۲ حورې شهيد ته په نکاح ورکول کېږي او د ۷۰ کسو خپلوانو په حق کې هغه شفاعت کولای شي[1].

---

[1] صفة الجنة ۲۹۳

# په قرآن کريم کې د جنتي حورو ځانګړنې

د دې ښکلو حورو لومړنی صفت د الصافات سورت ۴۸ ايت کې داسې راغلی:

(وَعِندَهُمْ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ عِينٌ ﴿٤٨﴾ سورت الصافات)

ژباړه:((او له هغو سره به د نظر ژغورونکې ښايسته سترګې لرونکې ښځې وي ))

دا د زنانه و بهترين صفت دی، په دنيا او اخرت کې چې له خاوندانو پرته بل چاته سترګې نه اړوي.

ايت کې د دوی د سترګو صفت (عين) ښودل شوی، د ښايسته سترګو والا، ياني چې غټې وي، په اندازې سره او سپين والی د هغو ښه سپين وي او تور والی د هغو ښه تور وي[1].

د الله تعالی بل قول د دې حورو د يادو شويو صفتونو جلا يو بل صفت داسې ياد کړی دی:

(وَعِندَهُمْ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ أَتْرَابٌ ﴿٥٢﴾ سورت ص)

ژباړه:((او له هغو سره به حياداري همزولې مېرمنې وي ))

**اتراب**: ياني په عمر کې او په حسن او جمال کې ټولې يو ډول دي، په روايت د ابن عباس رضي الله تعال عنهما کې راغلي دي: د ټولو عمر به درې دېرش کلونه وي، يا دا چې له خاوندانو سره هم عمره وي[2].

---

[1] احسن الكلام، ټوک اووم، مخ ۲۴۴

[2] احسن الكلام، ټوک اووم، مخ ۳۰۹

همدا راز د جنتي حورو بله ځانګړنه په قرآن کريم داسې ياده شوې:

(فِيهِنَّ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ ﴿٥٦﴾ سورت الرحمن)

ژباړه:((د دغو نعمتونو (او جنتونو) په مينځ کې به د حيادارو سترګو خاوندانې وي، چې له دغو جنتيانو مخکې به هغوی انسان يا پيري نه وي مسه کړي.))

عبدالله بن عباس رضي الله تعالى عنهما وايي: دې اياتونو کې د ښايسته سترګو والا حورو لوی صفت دا ياد شوی دی، چې دوی خپل نظرونه بند ساتي. حورې به له خپلو خاوندانو پرته بل چا ته نه ګوري، دوی به د دنيا د ښځو په څېر نه وي، چې هاخوا دې خوا ګوري.

دا د ښايسته سترګو والا د حورو په حيا باندې دلالت کوي، ځکه نظر د زړونو حرکت دی او حوره به بل لورې ته خپلې زړونه نه خوځوي او نه به له خپل خاوند پرته د بل چا په لور سر پورته کوي[1].

همدا راز د جنتي حورو په پاک لمنۍ باندې دلالت کوي، ابن کثير ليکلي: د خپلو خاوندانو سره د دوی د مينې او له نورو سره د نه لېوالتيا ښکارندويي کوي[2].

د دې لپاره صحيح مسلم کې د انس بن مالک رضي الله تعالى عنه په روايت هغه حديث دليل دی، رسول الله صلى عليه وسلم ويلي: جنت کې يو بازار دی، چې جنتيان به هره جمعه (د جمعې پر

---

[1] تفسير الكبير . مخ: ۱۲۹

[2] روح المعاني ج:۲۷ . مخ: ۱۲۸

ورځ ) هغه ته ورځي، بیا به د شمال له لورې یو باد راوالوځي کله چې د هغوی په څېرو او جامو باندې ولګېږي، نو د هغوی ښکلا او جمال به نور هم ور زیات کړي، دوی به خپلو مېرمنو ته په داسې حال کې ورو ګرځي، چې حسن او جمال به یې لا نور هم زیات شوی وي، مېرمنې به دوی ته وایي، په الله قسم له موږ څخه چې لاړئ تر هغو وروسته مو جمال او ښکلا زیاته شوې ده.

دوی به خپلو مېرمنو ته په ځواب کې وایي:

پر الله تعالی قسم زموږ تر تللو وروسته ستاسو ښایست او ښکلا نوره هم زیاته شوې ده.

دا حدیث د ټولو جنتیانو او د هغوی د مېرمنو د جمال او ښایست د زیادت شاهد دی[1].

د الرحمن سورت ۷۲ ایت کې بیا د دې حورو بله ځانګړنه بیان شوې ده.

(حُورٌ مَّقْصُورَاتٌ فِي ٱلْخِيَامِ﴿۷۲﴾ سورت الرحمن)

ژباړه: ((په خېمو کې د بره شوې حورې ))

بندې ساتل د حفاظت او د اکرام لپاره دي او ستاینه د ښځو په ستر او پردې سره کېږي خپل کور کې اوسېږي او پرته له اړتیا په لارو - کوڅو کې نه ګرځي، (فِـــي ٱلْخِيَـــامِ) مراد له دې نه د هغوی کورونه او محلونه دي.

امام مسلم رحمه الله د ابو موسی اشعري رضي الله تعالی عنه په روایت حدیث نقل کړی دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي د

---

[1] (صفة الجنة فی القرآن الکریم ۲۹۲).

مؤمن لپاره په جنت کې له ډېرې مرغلرې جوړه يوه خېمه ده، چې اوږدوالی د هغې شپېته ميله دی، د دې مؤمن اهل به په هغې کې وي چې دی به پر هغوی باندې چکر وهي او هغوی به يو بل لره نه ويني.

څرنګه چې د حورو په ځانګړنو کې وړاندې هم يادونه وشوه، چې دوی به جنت کې د خپلو خاوندانو سره هم عمره او همزولې وي، د قرآن کريم د ص سورت **۵۲** ايت کې دا خبره روښانه ده، چې دوی به له خپلو خاوندانو سره په عمر، حسن او جمال کې يو برابرې وي.

الله تعالی دا موضوع د قرآن کريم په نورو سورتونو کې هم ياده کړې ده، د سورت الواقعة **۳۵-۳۷** ايتونو کې داسې راغلي:

﴿إِنَّآ أَنشَأْنَاهُنَّ إِنشَآءً﴿۳۵﴾فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَاراً﴿۳۶﴾عُرُباً أَتْرَاباً﴿۳۷﴾ سورت الواقعة﴾

ژباړه:((د هغو مېرمنې به موږ په ځانګړي ډول بيا له سره پيدا کړو. او هغوی به پېغلې وګرځوو. د خپلو مېړونو عاشقانې او په عمر کې همزولې.))

ايت کې د انشاء (نوي پيدا ايښت) يادونه شوې ده هدف ترې دا دی، چې دنياوي صفات او اخلاق چې بد ګڼل کېږي، هغه به ترې لرې کړای شي.

**ابکار**: دا په ښځينه وو کې ډېر غوره صفت دی، له دې امله يې مستقل ذکر کړی. که څه هم په دنيا کې زړې شوې وي، د ترمذي په حديث کې راغلي دي، رسول الله صلی الله عليه وسلم د خوش طبعۍ په توګه وويل: چې زړې ښځې به جنت ته نه ننوځي، يوې بوډۍ ښځې چې دا واوريدل، په ژړا شوه.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل:ایا دې ښځې ! دا ایتونه نه دي اورېدلي:

(إِنَّآ أَنشَأْنَاهُنَّ إِنشَآءً ﴿٣٥﴾ فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا ﴿٣٦﴾ سورت الواقعة)

ژباړه: ((دهغو مېرمنې به موږ په ځانګړې ډول بیاله سره پیدا کړو. اوهغوی به پېغلې وګرځوو.))

اشاره ده چې په نصوصو کې اکثره اوصاف مقصد وي.

کله چې حدیث کې راځي جنت ته به نمام قتات (چغلګر) نه ننوځي، مراد دا دی چې په دې صفت سره به نه ننوځي، دا صفت به ترې په مغفرت د الله تعالی سره لرې شي، یا به په جهنم کې څه وخت لپاره داخل شي نو په سزا سره به دا صفت له هغه نه لرې شي[1].

دوی به ځوانې او ښکلې پېغلې وي زړې (بوډۍ) به نه وي، چې حسن یې له منځه تللی وي او نه به ډېرې اولاد راوړونکې وي، چې د جماع ځواک ونه لري؛ بلکې دوی به د درې دېرشو کلونو په عمر وي.

امام احمد بن حنبل رحمه الله د ابو هریره رضي الله تعالی عنه په روایت سره حدیث نقل کړی دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: جنتیان به په داسې حال کې جنت ته ننوځي، چې په بدن به یې وېښتان نه وي، ږیرې به یې پرمخ نه وي راټوکېدلي، له رنګه به سپین وي، ول ول ګرګوتي وېښتان به لري، سرمه یې سترګې به لري، عمرونه به یې درې دېرش کاله وي، قدونه به یې د ادم علیه السلام د قد په څېر شپېته ګزه او د بدنونو پلنوالی به یې اوه ګزه وي.

ترمذي د معاذ بن جبل رضي الله تعالی عنه په روایت چې کوم

---

[1] احسن الکلام، مخ: ۲۵۷ ج۸.

حديث نقل کړی، هغې کې د جنتيانو عمرونه د برش او درې د برش کلونه ښودل شوي دي.

د الرحمن سورت ۷۰ ايت کې الله تعالی د حورو د ښکلا په برخه کې داسې يادونه کړې ده:

(فِيهِنَّ خَيْرَاتٌ حِسَانٌ﴿۷۰﴾ سورت الرحمن)

ژباړه: ((د دغو نعمتونو په مينځ کې د ښه سيرت خاوندانې ښکلې مېرمنې.))

**خيرات**: مانا داده چې خاوندانې د خير او د ګټو دي يا په بل تعبير سره چې غوره اخلاقو او صفاتو والا دي.

**حسان**: په دې مانا چې بدنونه او مخونه به يې ډېر ښايسته وي[1].

د النباء سورت ۳۱-۳۳ ايتونو کې الله تعالی د جنت او د حورو بله ځانګړنه ياده کړې ده.

(إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازاً﴿۳۱﴾حَدَآئِقَ وَأَعْنَاباً﴿۳۲﴾وَكَوَاعِبَ أَتْرَاباً﴿۳۳﴾ سورت النباء)

ژباړه:((بېشکه د پرهېزګارانو له پاره کاميابي ده. باغونه او انګور. او نوې پېغلې همځولې نجونې.))

**حدائق**: د حديقه جمع ده، کوم باغ نه چې د بوال چاپېره وي، هغه ته حديقه ويل کېږي.

**کواعب**: د کاعب جمع ده، هغې جينۍ ته وايي، چې نوې بالغه شي او سينې يې په ځای باندې ولاړې وي، يانې چا مسح کړې نه وي، ځکه چې وروسته د مسح کولو نه هغه ښکته آويزاندې شي او

---

[1] (احسن الکلام ج۸ ۲۴۳)

دا د نورو مرضونو نه هم بچ وي[1].

قرآن کریم کې د ښایسته سترګو والا حورو بل صفت د الواقعة سورت ۳۵-۳۷ ایتونو کې داسې یادونه شوې ده:

﴿إِنَّآ أَنشَأْنَاهُنَّ إِنشَآءً ﴿٣٥﴾ فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا ﴿٣٦﴾ عُرُبًا أَتْرَابًا ﴿٣٧﴾ سورت الواقعة﴾

ژباړه: ((دهغو میرمنې به موږ په ځانګړي ډول بیا له سره پیدا کړو. او هغوی به پېغلې وګرځوو. د خپلو میړونو عاشقانې او په عمر کې همزولې.))

دې ایتونو کې ځانګړی صفت د ابکار دی، که څه هم دا موضوع د حورو د بحث په لړ کې وړاندې هم یاده شوې، د دنیا ښځې چې په دنیا کې بوډۍ شوې او زړې شوې دي خو جنت کې به نوې نجونې او پېغلې وي.

علامه ابن القیم الجوزیة رحمه الله په حادی الارواح کې لیکلي: مقصود په دې ایت کې د ښایسته سترګو لرونکې حورې دي، خو ایت د دواړو ماناګانو احتمال لري.

د الرحمن سورت ۵۲ ایت کې الله تعالی پرته له دې چې د حورو بکارت یاد کړی، د دوی صفت یې داسې کړی دی.

﴿فِيهِنَّ قَاصِرَاتُ ٱلطَّرْفِ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ ﴿٥٦﴾ سورت الرحمن﴾

ژباړه: ((د دغو نعمتونو (او جنتونو) په مینځ کې به د حیادارو سترګو خاوندانې وي، چې له دغو جنتیانو مخکې به هغوی انسان یا پیري نه وي مسه کړي.))

---

[1] احسن الکلام، ټوک ۸، مخ ۲۰۲.

علامه عبد السلام ليکلي: طمث په اصل کې هغه وينې ته ويل کېږي، چې په وخت د جماع له بکرې (پېغلې) سره ښکاره کېږي، مراد دا دی، چې دوی به بکرې وي، د دې خاوندانو نه وړاندې هېڅ پېرې او انسان له دوی سره جماع نه ده کړې او اشاره ده، چې هر وخت د جماع کولو کې به دوی بکرې وي.

او ابن کثير رحمه الله ويلي دي، دا دليل دی چې پېرِيان به هم جنت ته داخلېږي او د هغوی لپاره د جنس د هغوی نه ببيبانې دي، ځکه که د دوی جنت ته داخلېدل نه وای، نو د دوی د جماع د کولو بيا هېڅ فايده نشته.

او قرطبي رحمه الله ويلي دي: دا دلالت کوي چې جنات د انسانانو د ښځينه وو، سره هم جماع کولای شي لکه ځينې احاديث ظاهره هم په دې باندې دلالت کوي او دا صفتونه حورو د جنت او دنياوي ښځينه وو ته (چې جنت ته ننوځي) شامل دي[۱].

قرآن کريم کې د جنت د حورو او مېرمنو له ځانګړيو صفتونو څخه مينه هم هاغه صفت دی چې د الله تعالی کتاب يې شاهد دی. همدارنګه له هر ډول ناوړو ناروغيو، عادتونو، خويونو او اخلاقو څخه د جنت د حورو او مېرمنو پاکوالی او سپېڅلتيا هغه صفت دی، چې قرآن کريم کې د البقرة سورت **۲۵** ايت کې په لومړي ځل داسې ياد شوی دی:

(وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلأَنْهَارُ كُلَّمَا رُزِقُواْ مِنْهَا مِن ثَمَرَةٍ رِّزْقاً قَالُواْ هَـٰذَا ٱلَّذِى رُزِقْنَا مِن قَبْلُ وَأُتُواْ بِهِ مُتَشَابِهاً وَلَهُمْ فِيهَآ أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَهُمْ فِيهَا خَالِدُونَ﴿۲۵﴾ سورت البقرة)

ژباړه:((او ای پيغمبره ! کومو خلکو چې پردې کتاب ايمان راوړ او (له

---

[۱] (احسن الکلام ۸ج-۲۴۰)

هغه سره سم) خپل عملونه يې اصلاح کړل هغو ته زېرى وركړه، چې د هغو له پاره داسې باغونه دي، چې ترې لاندې به ويالې بهېږي، د هغو باغونو مېوې به په شكل كې د دنيا مېوو ته ورته وي، كله چې كومه مېوه د خوراک له پاره هغو ته وركړه شي، نو هغوى به وواييې چې همدغسې مېوه له دې نه مخكې په دنيا كې موږ ته راكړه شوې وه، د هغو له پاره به هلته ډېرې سپېڅلې ښځې وي او هغوى به هلته د تل له پاره اوسېږي.))

د ال عمران سورت ۱۵ او د النساء سورت ۵۷ ايتونو كې د دوى د سپېڅلتيا صفت داسې تثبيت او تضمين شوى دى:

(قُلْ أَؤُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرٍ مِّن ذَٰلِكُمْ لِلَّذِينَ اتَّقَوْا عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَأَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللَّهِ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِالْعِبَادِ﴿١٥﴾ سورت آل عمران)

ژباړه:((ووايه! ايا زه دروښيم چې له دې نه ډېر ښه شى څه دى؟ د هغو خلكو له پاره چې د پرهېزګارۍ چلن غوره كړي، د هغو له رب سره باغونه دي، چې تر هغو لاندې به ويالې بهېږي، هلته به د تل له پاره اوسېدونكي وي، سپېڅلې مېرمنې به يې ملګرې وي او د الله د رضا په ګټلو به سرلوړي وي. الله د خپلو بندګانو كړه وړه په ښه شان ويني.))

(وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا لَّهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيلًا﴿٥٧﴾ سورت النساء)

ژباړه:((او كومو خلكو چې ايمان راوړى (زموږ ايتونه يې منلي) او غوره عملونه يې كړي دي، هغوى به موږ داسې باغونو ته ننباسو چې تر هغو لاندې به ويالې بهېږي، هلته به هغوى د تل له پاره اوسېږي او هغو ته به سپېڅلې مېرمنې په برخه شي او هغو ته به موږ په ګڼو سيورو كې استوګنه وركړو.))

# حورې له څه سره تشبېه دي؟

قرآن کريم کې الله تعالی د جنت حورې په دربو ځانګړيو تشبېهاتو يادې کړې دي او د ښکلا په ګانه سينګار تشبېه ګاني يې په دې ډول دي
د قرآن کريم د الصافات سورت ۴۹ ايت کې د دوی لومړنۍ تشبېه د (بَيْضٌ مَّكْنُونٌ) سره شوې ده.

(كَأَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُونٌ ﴿٤٩﴾ سورت الصافات)

ژباړه:((دا سې نازکې لکه د هګۍ تر پوټکي لاندې پټه شوې پرده.))
عبدالله بن عباس رضي الله تعالی عنهما ويلي: (بَيْضٌ مَّكْنُونٌ) نه مراد د اللؤلؤ المكنون (مرغلرې ساتل شوې) دي د مرغلرو سره تشبېه يې په صفا والي او سپينوالي کې ده.
ابن جرير الطبري رحمه الله ليکلي چې د دې حورو د سپينوالي تشبېه د هګۍ له هغو سپينو سره شوې ده، چې د هګۍ دننه وي او دا د دې له امله په (مکنون) نومول شوی چې د هګۍ سپين هم د داسې بند پوښ او پوستکي لاندې ساتل شوې وي چې له معلوماتو وړاندې ورته د چا لاس نه وي رسېدلی[1].

---

[1] صفة الجنة. مخ ۳۰۹.

الله تعالی د الرحمن سورت کې د جنت د حورو تشبېه د یاقوت او مرجان سره کړې ده.

(فِيهِنَّ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ ﴿٥٦﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥٧﴾ كَأَنَّهُنَّ الْيَاقُوتُ وَالْمَرْجَانُ ﴿٥٨﴾ سورت الرحمن)

ژباړه:((د دغو نعمتونو (او جنتونو) په منځ کې به د حیادارو سترګو خاوندانې وي، چې له دغو جنتیانو مخکې به هغوی انسان یا پېري نه وي مسه کړې. د خپل رب کوم کوم انعامونو به تاسې درواغ وګڼئ؟ داسې ښکلې لکه یاقوت او مرجان.))

دې ایت کې الله تعالی د حورو تشبېه په صفاوالي کې له هغه یاقوت سره کړې ده، چې کوم مزي یا لړکي یاقوت پېیل شوې وي، د یاقوتو د ډېرې سپېڅلتیا او ځلا له امله به د یاقوتو مزی له ورایه ښکاري او د دوی د پنډیو مغز به د دوی د بدني ښکلا او صفاوالي له امله هم د ورایه ښکاري او د دوی د سپینوالي ښایست یې د مرجان له سپینوالي سره تشبېه کړی.

په یو حدیث کې هم راغلي، چې د هر جنتي لپاره به له ښایسته سترګو والا حورو ښځه دوه حورې وي، چې د ښکلا له امله به یې د غوښو او هډوکو هاخوا د پنډیو مغز لیدل کېږي.

عمرو بن میمون ویلي: له ښایسته سترګو والا حورو ښځه د یوې حورې پر بدن به ۷۰ جوړې وي، چې د پنډیو مغز به یې داسې لیدل کېږي، لکه سره شراب چې په سپینه شیشه کې لیدل کېږي.

الله تعالی د جنت حورې د (ٱللُّؤْلُؤِ ٱلْمَكْنُونِ)سره تشبیه کړې دي.

(وَحُورٌ عِينٌ﴿۲۲﴾كَأَمْثَالِ ٱللُّؤْلُؤِ ٱلْمَكْنُونِ﴿۲۳﴾ سورت الواقعة)

ژباړه:((او د هغو لپاره به د ښایسته سترګو خاوندانې حورې وي. داسې ښکلې لکه پټې ساتل شوې مرغلرې.))

الله تعالی د حورو صفایي، سپینوالی، حسن او جمال د ساتل شویو مرغلرو سره تشبیه کړی دی، دوی به د هغو مرغلرو په څېر ځلېږي، چې د وخت او حالاتو د ادلون-بدلون له امله پکې څه تغییر او بدلون نه ښکاري قرطبي لیکلي هغه مرغلرې چې لاسونه پرې لګېدلي نه وي او خاورې وربادې غورځېدلي نه وي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د جنتي مېرمنو د ځلا او خوشبویۍ ستاینه داسې کړې ده:

که چېرې له جنتي مېرمنو څخه یوه مېرمن ځمکې والاوو ته راښکاره شي، د ځمکې او اسمانونو ترمنځ به رڼا خپره شي او ټوله فضا به د خوشبویۍ نه ډکه شي او د هغې د سر لوپټه د دنیا او هغه څه نه چې په دنیا کې دي غوره ده[1].

---

[1] صفة الجنة ۳۱۴.

# د حورو تراني او سندرې

د الله تعالى کتاب کې ځينې اياتونه داسې شته چې د حورو په غنا (ترانو) دلالت کوي.

د الروم سورت ۱۵ ايت کې د جنت د حورو خوبني داسې ياده شوې ده.

﴿فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَهُمْ فِي رَوْضَةٍ يُحْبَرُونَ﴾ ۱۵ سورت الروم)

ژباړه: ((نو هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او عمل يې کړی په طريقه د نبي صلى الله عليه وسلم نو دوی به په باغچو کې وي، خوشالولای به شي.))

مفسرين د (يُحْبَرُونَ) درې ماناګانې کوي:

۱- عزت به ورکول کېږي.

۲- نعمتونه به ورکول کېږي.

۳- خوشالي به ورکول کېږي.

د الزخرف سورت ۷۰ ايت کې داسې راغلي.

﴿ادْخُلُوا الْجَنَّةَ أَنتُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ تُحْبَرُونَ﴾ ۷۰ سورت الزخرف)

ژباړه: ((ننوځئ جنت ته تاسې او ستاسې مېرمنې، تاسې به خوشحاله کړای شئ.))

علامه عبدالسلام ليکلي: مراد د ازواج نه هغه بيبيانې دي، چې د خاوندانو سره يې په توحيد او سنت کې موافقت کړی وي.

**حبرة**: په اصل کې مبالغه ده په اکرام په ډېر ښايسته طريقې سره نو په مانا د کرامت او د فرح (خوشالی) او ډېر نعمتونه او مزه اخيستل په غنا (په خوږ اواز) سره په جنت کې.

دي ټولو ته (تُحْبَرُونَ) شامل دی[۱].

د رسول الله صلی الله علیه وسلم سپېڅلیو سنتو کې داسې څه هم شته چې د جنت د حورو په ځانګړیو خوږو او سندریزو ترانو دلالت کوي.

له عبدالله بن عمر رضي الله تعالی عنهما څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د جنتیانو مېرمنې به هغوی ته په ډېرو ښکلیو غزلیزو خوږو غږونو کې داسې نظمونه ورانديې کوي، چې هېڅکله به چا اورېدلي نه وي، د هغو یوه برخه داسې ده:

نحن الخيرات الحسان ... ازواج قوم كرام

ينظرون بقرة اعيان ... نحن الخالدات فلا يمسه

نحن الآمنات فلا يخفنه ... نحن المقيمات فلا يظعنه

ژباړه: ((موږ د نېک سیرته، ښایسته او عزتمندو خلکو مېرمنې یاستو، موږ هغوی ګورو او خپلې سترګې یخوو، موږ له امن سره او سېدونکې یاستو، وېره راباندې نه راځي، موږ تل اوسېدونکې یاستو، موږ له دې ځای څخه تلونکې نه یاستو.))

انس بن مالک رضي الله تعالی عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه حدیث روایت کړی دی، وایي د جنت حورې به په ښکلیو غزلیزو غږونو کې داسې وایي:

نحن الحور الحسان

خلقن لازواج كرام[۱]

---

[۱] تفسیر احسن الکلام، ټوک ۷ مخ ۵۲۰

# د حورو غیرت

د جنت د حورو غیرت د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنت مطهره کې داسې انځور شوی دی، معاذ بن جبل رضي الله تعالی عنه د حدیث راوي دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:

کومه مېرمن چې په دنیا کې په وینا باندې خپل مېړه ته زیان یا تکلیف رسوي، نو له ښایسته سترګو والا حورو څخه د ده مېرمن ورته وایي:

الله تعالی دې مړه که، دی مه ځوروه.

دا خو له تا سره مېلمه دی، ژر دی چې له تانه به جدا او موږ ته به راشي.

لیکوال عبد الحلیم محمد بن نصار السلفي لیکلي: دا حدیث امام البانی رحمه الله صحیح ګڼلی[2].

---

[1] حادي الارواح، مخ: ۲۲۸.

[2] صفة الجنة فی القرآن کریم، مخ: ۳۱۵.

# جنت کې د واده حکمت

شیخ محمد سید رضا علي ویلي: د اخرت د ژوند بنه له دنیا سره توپیر لري، د اخرت ژوند ډېر اعلی او د بشپړې ښکلا په ګانه سینګار دی. موږ پوهېږو چې د واده لذت او خوند د یو ځانګړي حکمت پر بنسټ دی او هغه د ښځې او مېړه د ګډ ژوند او یو ځای والي په پایله کې منځ ته راځي. دا ځانګړی حکمت (تناسل) دی او د بشریت وده او زیاتوالی دی، دا یقیني ده چې جنت کې به د ښځې او خاوند ترمنځ ګډ ژوند کې لذت او خوند ډېر اعلی وي، موږ پر دې ایمان لرو او حقیقت کې یې بحث نه کوو، عالم الغیب په عالم الشهادة نه قیاس کوو، اخرت کې دا ځانګړی ژوند له دې خبرې سره ضد او منافي نه دی، چې اخرت کې به انسان انسان نه؛ بلکې ملایکه وي، مګر ملایکه نه بلکې انسان به وي، خو د هغه ځای د انساني ژوند لذتونه او خوندونه به د دنیا له ژوند څخه ډېر بشپړ او سالم وي.

قرآن کریم کې د جنتیانو او له هغوی سره د مېرمنو ملګرتیا د خوندونو ډک ژوند داسې انځور شوی دی:

(إِنَّ أَصْحَابَ الْجَنَّةِ الْيَوْمَ فِي شُغُلٍ فَاكِهُونَ (٥٥) هُمْ وَأَزْوَاجُهُمْ فِي ظِلَالٍ عَلَى الْأَرَائِكِ مُتَّكِئُونَ (٥٦) لَهُمْ فِيهَا فَاكِهَةٌ وَلَهُمْ مَا يَدَّعُونَ (٥٧) سَلَامٌ قَوْلًا مِّن رَّبٍّ رَّحِيمٍ (٥٨) سورت يس)

ژباړه: ((نن جنتیان په خوندونو اخیستلو کې بوخت دي. هغوی

او د هغو مېرمنې به په ګڼو سيورو کې وي پر تختونو ناست بالښتونو ته تکيه کوونکې. د خوراک-څښاک هر راز خوندور شيان هلته د هغو لپاره موجود دي، هرڅه چې هغوی وغواړي د هغو لپاره حاضر دي. د مهربان پروردګار لخوا هغو ته سلام ويل شوی دی.))

د رسول الله صلی الله عليه وسلم احاديثو کې داسې څه شته، چې جنت کې د جنتيانو لپاره خپلو مېرمنو سره جنسي مباشرت او يوځای کېدلو باندې دلالت کوي، خو په الفاظو کې يې صراحت او ښکاره والی نشته، د بېلګې په توګه هغه حديث چې امام مسلم رحمه الله د ابو موسی اشعري رضي الله تعالی په روايت نقل کړی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: د مؤمن لپاره په جنت کې د ډېرو مرغلرو جوړه يوه خېمه ده، چې د هغې اوږدوالی شپېته ميله دی، په هغې کې به د مؤمن اهل او مېرمنې وي چې دی به هغوی باندې ګرځي او چکر وهي او ځينې به د دوی ځنې نور نه ويني او سنن الترمذي کې په معاشرت جنسي باندې تصريح او څرګندونه راغلې ده.

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: مؤمن ته به جنت کې د دومره او دومره جماع (کوروالي) قوت ورکړل شي.

پوښتنه وشوه: يا رسول الله صلی الله عليه وسلم! ايا دوی به دومره طاقت ولري؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: هو! يو کس ته به د سلو کسانو قوت ورکړل شي.

# حورې غوره دي، که دنیاوي مېرمنې؟

## ښځه به له کوم خاوند سره وي؟

ام سلمه رضي الله تعالی عنها وايي: له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې د الله تعالی د دې قول (حور عين) په اړه پوښتنه وکړه، هغه وویل: سپینې حورې ښایسته او غټو سترګو والا، ام سلمه وايي بیا مې ترې د الله تعالی د دې قول:

(كَأَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَكْنُونٌ «۴۹» سورت الصافات)

په اړه پوښتنه وکړه، هغه مبارک صلی الله علیه وسلم وویل: د دوی صفا والی به د هغو مرغلرو په څېر وي، چې صدفونو کې بندې وي او د چا لاس ورته نه وي رسېدلی، ام سلمة وايي ما وویل: یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! د الله تعالی د دې قول (فیهن خیرات حسان) په اړه خبر راکړئ.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: الله تعالی به دوی مینه ناکې، عشق کوونکې پېغلې وګرځوي، له خپلو خاوندانو سره به هم عمره او همزولې وي، ام سلمه رضي الله تعالی عنها وايي، ما وویل: یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! د دنیا مېرمنې غوره دي او که د ښایسته سترګو والا حورې؟

محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: د دنیا مېرمنې له حورو نه داسې غوره دي، لکه غوره والی د یو څیز د ښکاره طرف په استر باندې.

ما وویل: یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! د دنیا مېرمنې د څه

له امله غوره دي؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: دوی د لمونځونو، روژو او د الله تعالی په عبادت او بندګۍ کولو غوره دي، الله تعالی به د دوی پر مخونو نور خپور کړي او بدنونو ته به یې وربښم وروا غوندي، ښکلي سپین رنګونه، زېړه ګاڼه به ولري، مجامر (انګیټۍ) به یې له مرغلرو او د ویښتانو ږمنځ به یې له سروزرو څخه جوړه وي. دوی به وایي موږ د همېشه لپاره یاستو، مرګ راباندې نه راځي، موږ به تل خوشاله او تازه یاستو خپګان راباندې نه راځي، موږ به همېشه او سېږو چېرته به سفر کوونکي نه یاستو، خوشالي ده هغه چا لپاره چې موږ د هغه په برخه یاستو او هغوی زموږ په برخه دي.

ام سلمه رضي الله تعالی عنها وايي: یا رسول الله صلی الله علیه وسلم له موږ څخه یوه ښځه خو کله دوه، درې یا څلورو خاوندانو سره واده کوي، بیا هغوی مړه او جنت ته ننوځي، دا ښځې هم جنت ته ننوځي، نو د دې ښځې خاوند به څوک وي؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: ای ام سلمه رضي الله تعالی عنها! دې ښځې ته به اختیار ورکړای شي، دا به له خپلو خاوندانو څخه د غوره اخلاقو خاوند غوره کړي او وبه وايي: ای ربه! دې کس له ما سره په دنیاوي ژوند کې له ښو اخلاقو او ښه سلوک څخه کار اخیستی، زما واده له ده سره وکړه. ام سلمه! د نېکو اخلاقو خاوندانو د ښو اخلاقو په مرسته د دنیا او اخرت بریالیتوبونه وګټل[1].

---

[1] د حدیث سند کې ضعف شته. حادي الارواح ۲۰۸

# جنت کې حمل او زېږون (ولادت) شته که نه؟

## دا چې جنت کې به د حمل او د هغه زېږول وي که څنګه؟

دا داسې موضوع ده چې يو شمېر خلک دا مني او وايي چې جنت کې به حمل او اولاد زېږونه وي، علامه ابن القيم الجوزية رحمه الله په حادی الارواح کې په دې اړه تفصيلي بحث کړی دی، موږ ترې يوازې د سند په لحاظ صحيح او درست احاديث او په دې برخه کې غوره او ثابته وروستۍ پرېکړه را واخلو.

ابو سعيد الخدري رضي الله تعالى عنه وايي، رسول الله صلى الله عليه وسلم نه د جنتيانو د اولاد په اړه پوښتنه وشوه، ځکه زوی د بشپړې خوشالۍ لويه نښه ده؟

رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: په هغه ذات قسم، چې د چا په لاس کې زما روح دی، دا به دومره وخت هم ونه نيسي، په څومره وخت کې چې دا جنتي ارزو کوي، يانې په ډېر کم وخت کې به حمل، رضاع (شيده ورکول) او د هغه ځواني صورت ونيسي[1].

ابي سعيد الخدري رضي الله حديث روايت کوي، رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: مؤمن که په جنت کې زوی وغواړي، نو د هغه حمل ولادت او عمر بې په يو ساعت کې بشپړ کېږي. څرنګه چې هغه وغواړي[2].

---

[1] حادی الارواح ۲۲

[2] اسلامي روند نکلاره ۱۲۳

**لومړی دلیل:**

امام ابن القیم رحمه الله د لقیط بن عامر په روایت اوږد حدیث نقل کړی دی، د حدیث په یوه برخه کې راغلي دي.

...او پاکې مېرمنې به دوی لپاره په جنت کې وي، لقیط ویلي، ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه: یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! موږ لپاره جنت کې مېرمنې یا له دوی څخه صالحات نېکانې شته؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: (الصالحات للصالحین) نېکانې د نېکانو لپاره دي.

له دوی څخه به داسې لذتونه او خوندونه اخلئ لکه تاسې چې دنیا کې له مېرمنو څخه خوندونه اخیستل دوی به هم له تاسې څخه خوندونه اخلي، پرته له دې نه چې اولادونه به نه زېږوي...[1].

هغه عالمان چې جنت کې د اولاد زېږونې نشتوالي ته ژمن دي څو وجو باندې جنت کې اولاد زېږول نفې کوي.

لومړی حدیث د ابو رزین دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: جنتیانو لپاره به په جنت کې اولاد نه وي.

**دویم دلیل:** د الله تعالی دا قول:

(وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَارُ كُلَّمَا رُزِقُواْ مِنْهَا مِن ثَمَرَةٍ رِّزْقًا قَالُواْ هَـٰذَا ٱلَّذِي رُزِقْنَا مِن قَبْلُ وَأُتُواْ بِهِ مُتَشَابِهًا وَلَهُمْ فِيهَآ أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَهُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٢٥﴾ سورت البقرة)

یانې له هر ډول انساني نقصان لکه حیض، نفاس، لوی بول،

---

[1] حادی الارواح ۲۲۳.

واړه بول، پوزه بهېدل او داسې نورو څخه به پاکې وي.

مجاهد رحمه الله وايي له منې او ولد څخه به پاکې وي.

**دريم دليل:**

د ابو امامة رضي الله تعالى عنه وينا ده، رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: جنت کې به جنتيان له خپلو مېرمنو څخه د يوځای کېدلو خوندونه اخلي؛ خو نه به نارينه منې لري او نه ښځينه.

ولد د نارينه له اوبو څخه پيدا کېږي، يا هم کله چې د نارينه او ښځينه اوبه سره ګډې شي، کله چې هلته دوی منې، مذي او نور څه نه لري، نو هلته به د بچو زېږول هم نه وي.

**څلورم دليل:**

الله تعالى حمل او ولادت له حيض او منې سره تړلی، که چېرې ښځې په جنت کې (حمل) بچی په ګېډه اخيستلای، نو بيا به د دوی حيض او د منې انزال (وتل) نه بند بدل.

**پينځم دليل:**

الله تعالى تناسل د نسل زياتوالی په دنيا کې مقرر کړی دی، ځکه مرګ يې مقرر کړی او دوی دنيا ته پېړۍ په پېړۍ راوځي او بيا يې دوی ته يو نهايي نېټه ټاکلې که چېرې تناسل نه وای، نو انساني نوع باطلېدله د همدې له امله ملايکې اولادونه نه زېږوي، ځکه هغوی د انسانانو او پېريانو په څېر نه مري کله چې د قيامت ورځ شي، الله تعالى به ټول له ځمکې نه راوباسي او دوی به د بقا (تل پاتې کېدلو) لپاره پيدا کړي نه د مرګ لپاره، نو دوی به تناسل ته اړتيا نه لري، انساني نوعه به ساتل کېږي، ځکه دا د بقا او دوام لپاره منشاء ده پر همدې بنسټ نه به جنتيان اولادونه زېږوي او نه دوزخيان.

**شپږم دليل:**

الله تعالى وايي:

(وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَا أَلَتْنَاهُمْ مِنْ عَمَلِهِمْ مِنْ شَيْءٍ كُلُّ امْرِئٍ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ) (۲۱ سورت الطور)

ژباړه: ((کومو کسانو چې ايمان راوړی دی او د هغو اولادونه هم د ايمان په کومه درجه کې د هغوی په نقش قدم روان شوي دي، د هغوی هغه اولادونه به هم موږ (په جنت کې) له هغو سره يوځای کړو او د هغو په عملونو کې به هغوی ته څه خساره ونه رسوو. هرڅوک د خپل کسب په بدل کې ګرو دی.))

علامه عبدالسلام ليکلي: په دې ايت کې زېرې دی، په نورو طريقو سره (بايمان) مراد د (ذرية) نه عام دی کوچنی بچي وي او که بالغ وي که کوچني وي، نو مراد د ايمان نه ايمان تبعي دی يانې د مور او پلار د ايمان له وجې نه دوی هم مؤمنان دي او که بالغ وي نو مراد د ايمان نه ايمان تکليفي او اختياري دی. که څه هم اولاد په عمل کولو کې تر پلرونو نه کم دی؛ مګر د پلرونو د خوشالۍ لپاره به هغوی سره په جنت کې يوځای کړای شي.

او سراج المنير کې يې ذکر کړي دي چې (ذرية) لفظ د اولاد نه عام دی. پلرونو، اولاد او تابعداري کوونکو ملګرو او شاګردانو دې ټولو ته شامل دی په دې دليل چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وايي: سړی په دنيا او اخرت کې له هغه چا سره وي چې له چا سره يې مينه وي[1].

---

(۱) مرعلري (۲۰۰) انګليسي [illegible]

دې ایت کې الله تعالی د دې خبر ورکړی دی چې د جنتیانو اکرام او عزت به له دوی سره د هغو اولادونو په یوځای کېدو سره وي چې دنیا کې د دوی اولادونه وو. ځکه د دوی د سترګو یخوالی، به پر دوی باندې وي، څرنګه چې د دنیا والاو سترګې دنیا کې خپلو بچو باندې خوښې او یخېږي.

**اووم دلیل**:

جنت کې به انسان داسې نمو او وده نه کوي، څرنګه چې په دنیا کې کوي، د جنت استوګن به د کوچنیانو په څېر نه وي، چې وده وکړي او ستر شي او نه به د سړیتوب په عمر کې وي، چې وده وکړي او پرمخ لاړ شي؛ بلکې جنتیان به د دري د برشو (۳۳) کلونو په عمر وي او له دې عمر څخه به تغییر نه کوي، که چېرې په جنت کې زېږون وای، نو بیا زېږول شوي ماشوم دې ته اړتیا لرله، تر دې چې د سړیتوب مرحلې ته ورسېږي او دا څرګندېږي چې څوک په کوچنیتوب کې مړه شوي دي، هغوی به هم پرته له نمو او ودې په تدریجي ډول د ۳۳ کلونو په عمر کې وي[1].

---

[1] حادي الارواح، مخ ۲۲۵

# اتم څپرکی

## د جنت پاچاهي

الله تعالی د سورت الانسان ۲۰ ایت کې د جنت د نعمتونو او پاچاهۍ انځور داسې وړاندې کړی:

﴿وَإِذَا رَأَيْتَ ثَمَّ رَأَيْتَ نَعِيمًا وَمُلْكًا كَبِيرًا﴾ (۲۰ سورت الانسان)

ژباړه: ((هلته چې ته هرې خواته نظر واچوې سراسر نعمتونه او د یو لوی سلطنت رنګ رونق به دې ترسترګو شي.))

دې ایت کې د جنتیانو هر لور ته د ډول ډول او نااشنا نعمتونو یادونه شوې ده، چې د بیان کولو نه بهر دي.

همداراز ایت کې (وَمُلْكًا كَبِيرًا) راغلي، د دې حد یوازې الله تعالی ته معلوم دی او ځینو مفسرینو د هغه ذکر کړی دی، سلامونه د ملایکو پر جنتیانو باندې، تاجونه پر سرونو د هغوی باندې، بې شمېره بنګلې او د الله تعالی دیدار کول، همداراز بې شمېره خدمتګاران او باغونه او نور.

ځینو مفسرینو لیکلي چې الله تعالی به جنتیانو ته ملایکې رالېږي، ملایکې چې کله راشي نو له دوی څخه به اجازه غواړي او پرته له اجازې به دوی ته نه ورځي.

ځینې اهل علمو لیکلي چې ملایکه به دوی ته د الله تعالی له لورې څه ډالۍ راوړي بیا به جنتي ته رسېدل ورته ګران وي آن تر دې چې د (حاجب) څوکیدار نه به اجازه وغواړي، ورته به ووايي: د

الله تعالی دوست ته ورځم، اجازه راکړئ؟

ځوکیدار به دویم ځوکیدار په دې خبره پوه کړي، همدراز دویم به موضوع دریيم ته ورسوي، پر همدې بنسټ دا لویه پاچاهي ده چې د الله تعالی استازي به له اجازې اخیستلو پرته د جنتي بنګلې ته نه ورځي.

د انس بن مالک رضی الله تعالی عنه په روایت مرفوع حدیث کې راغلي چې د ډېرې ټیټې درجې والا جنتي ته به لس زره غلمان (خدمتګاران) ولاړ وي.

ابو سعید رضي الله تعالی عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه حدیث نقل کړی، چې ادنی جنتي لپاره به اتیا زره خدمتګاران او (۷۲) حورې مقررې وي او د مرغلرو، یاقوتو او زبرجدو داسې ګومبزه به ورته په جنت کې ودرول شي، چې لوی والی به یې د جابیه او صنعاء ترمنځ د غځېدلې فاصلې په اندازه وي[۱].

الله تعالی د جنت ودانۍ له سرو او سپینو زرو څخه په خپل لاس جوړه کړه، څنګه چې د الله تعالی له شان سره مناسب وي، بیا یې ورته یې وویل: خبرې وکړه.

جنت وویل: (قد افلح المؤمنون) مؤمنان کامیاب شول.

ملایکې ورننوتلې ویې ویل: طوبی لک منزل الملوک (خوشالي دې وي تالره ای د پاچاهانو کوره).

همداراز د جنتیانو ګاڼه کې ذکر شو چې د جنتیانو پر سرونو باندې به (التیجان) وي او تیجان (تاجونه) عادتاً د پاچاهانو پر سرونو باندې وي[۲].

---

۱- حادي الارواح صح ۲۴۸

۲- حادي الارواح صح ۲۴۹

# د جنت بازار

د دې لپاره صحيح مسلم کې د انس بن مالک رضي الله تعالی عنه په روايت هغه حديث دليل دی، چې رسول الله صلی عليه وسلم ويلي: جنت کې يو بازار دی، چې جنتيان به هره جمعه هغه ته ورځي، بيا به د شمال له لورې يو باد راوالوځي کله چې د هغوی په څېرو او جامو باندې ولګېږي، نو د هغوی ښکلا او جمال به نور هم ورزيات کړي، دوی به خپلو مېرمنو ته په داسې حال کې وروګرځي، چې حسن او جمال به يې لا نور هم زيات شوی وي، مېرمنې به دوی ته وايي، په الله قسم زموږ څخه چې لاړئ له هغو وروسته مو جمال او ښکلا زياته شوې ده، دوی به خپلو مېرمنو ته په ځواب کې وايي: پر الله تعالی باندې قسم زموږ له تللو څخه وروسته ستاسو ښايست او ښکلا هم زياته شوې ده.

دا حديث د ټولو جنتيانو او د هغوی د مېرمنو د جمال او د ښايست د زيادت شاهد دی[1].

علامه ابن القيم رحمه الله په حادی الارواح کې د علي بن ابو طالب رضي الله تعالی عنه په روايت حديث نقل کړی دی. رسول الله

---

(1) صفة الجنة في القرآن الكريم ص ۲۹۲

صلی الله علیه وسلم ویلي: جنت کې یو بازار دی چې په هغه بازار کې به د نرینه وو او ښځینه وو له شکلونو (صور) پرته د نورو څیزونو اخیستل او خرڅول نه وي.

کله چې د یو سړي کوم شکل خوښ شي په هماغه شکل به برابرېږي[1].

جابر بن عبد الله رضي الله تعالی عنهما وایي: یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم راغی، موږ ټول یو ځای ناست وو، بیا یې وویل: ای د مسلمانانو ډلې! جنت کې داسې یو بازار دی، چې دې بازار کې به له (صور) شکلونو پرته د نورو څیزونو خرڅول او اخیستل نه وي.

کوم نرینه یا ښځینه چې له کوم (صورة) سره مینه لري، خوښېږي یې په هماغه شکل به برابرېږي[2].

---

[1] امام ترمذي: حدیث په پای کې لیکلي: دا حدیث غریب دی

[2] حادي الارواح. مخ ۲۴۱. د دې حدیث سند کې هم ضعف شته.

# د جنت زېرې

الله تبارک وتعالی خپل معجز کتاب قرآن کریم کې هغه کسان په څرګند ډول یاد کړي، چاته چې د جنت زېرې ورکړل شوی د بېلګې په توګه:

(وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ كُلَّمَا رُزِقُوا مِنْهَا مِن ثَمَرَةٍ رِّزْقًا قَالُوا هَٰذَا الَّذِي رُزِقْنَا مِن قَبْلُ وَأُتُوا بِهِ مُتَشَابِهًا وَلَهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَهُمْ فِيهَا خَالِدُونَ) (۲۵ - سورت البقره)

ژباړه: ((او ای پېغمبره! کومو خلکو چې پردې کتاب ایمان راوړ او (له هغه سره سم) خپل عملونه یې اصلاح کړل هغو ته زېرې ورکړه، چې د هغو له پاره داسې باغونه دي، چې ترې لاندې به ویالې بهېږي، د هغو باغونو مېوې به په شکل کې د دنیا مېوو ته ورته وي، کله چې کومه مېوه د خوراک له پاره هغو ته ورکړه شي، نو هغوی به ووایي چې همدغسې مېوه له دې نه مخکې په دنیا کې موږ ته راکړه شوې وه، د هغو له پاره به هلته ډېرې سپېڅلې ښځې وي او هغوی به هلته د تل له پاره اوسېږي.))

(وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ﴿۱۶۹﴾ فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا بِهِم مِّنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿۱۷۰﴾ يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿۱۷۱﴾) (سورت آل عمران)

ژباړه: ((کوم کسان چې د الله په لار کې وژل شوي دي، هغوی مړه مه ګڼئ، هغوی خو په حقیقت کې ژوندي دي، د خپل رب په

وړاندې روزي مومي. څه چې الله د خپلې لورينې له مخې هغو ته ورکړي دي، پر هغه خوښ او سوکاله دي او ډاډه خوشاله دي په دې چې کوم مؤمنان له هغو وروسته په نړۍ کې پاتې دي او لاتر اوسه پورې هلته نه دي رسېدلي د هغو له پاره هم څه وېره او کړاو نشته. هغوی د الله په لورينه او د هغه په مهربانۍ خوشاله او سوکاله دي او هغو ته څرګنده شوې ده، چې الله د مؤمنانو اجر نه ضايع کوي.))

(إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ وَمَنْ أَوْفَى بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُم بِهِ وَذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ١١١) (سورت التوبة)

ژباړه: ((حقيقت دادی چې الله له مؤمنانو څخه د هغوی نفسونه او د هغوی مالونه د جنت په بدله کې پېرلي دي. هغوی د الله په لار کې جنګېږي، نو وژني او وژل کېږي. له هغو سره (د جنت وعده) د الله پر ذمه يوه کلکه پخه وعده ده. په تورات او په انجيل او قرآن کې او څوک دی چې له الله نه زيات د خپلې ژمنې پوره کوونکی وي. نو خوښ او سئ په خپلې دغې سودا چې تاسې له الله تعالی سره کړې ده، همدا تر ټولو ستر برياليتوب دی.))

(وَلَنَبْلُوَنَّكُم بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ ١٥٥ الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُم مُّصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ١٥٦ أُولَئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ ١٥٧) (سورت البقرة)

ژباړه: ((او موږ به ارو مرو په وېره، خطر، لوږه، د سر او مال په

تاوان او د عايداتو په خساره کې په اخته کولو پر تاسې ازميښت کوو، ای پيغمبره هغو کسانو ته زيری ورکړه، چې په دې حالاتو کې صبر وکړي او د مصيبت راتلو په وخت کې ووايي چې 'موږ د الله يو او د هماغه الله لوري ته زموږ ورګرځېدل دی'. چې پر هغو به د هغو د رب زياتې پېرزوينې او رحمت وي او همدغه شان خلک پر سمه لار روان دي))

(وَأُخْرَىٰ تُحِبُّونَهَا نَصْرٌ مِّنَ اللَّهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ﴿۱۳﴾ سورت الصف)

ژباړه: ((او هغه بل شی چې تاسې يې خوښوئ، هغه به هم درکړي، د الله لخوا مرسته او ډېر نژدې په برخه کېدونکی بری. ای پيغمبره، مومنانو ته د دې زيری ورکړه.))

(إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّاتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا﴿۱۰۷﴾ سورت الكهف)

ژباړه:((البته کوم کسانو چې ايمان راوړ او ښه عملونه يې وکړل د هغو مېلمستون به د فردوس باغونه وي.))

(قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ﴿۱﴾ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ﴿۲﴾وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ﴿۳﴾وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ﴿۴﴾وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ﴿۵﴾إِلَّا عَلَىٰ أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ﴿۶﴾فَمَنِ ابْتَغَىٰ وَرَاءَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْعَادُونَ﴿۷﴾وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ﴿۸﴾وَالَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ﴿۹﴾أُولَٰئِكَ هُمُ الْوَارِثُونَ﴿۱۰﴾الَّذِينَ يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ﴿۱۱﴾ سورت المؤمنون)

ژباړه:((په باوري ډول هغو مؤمنانو بری موندلی دی چې په خپل

لمانځه کې عاجزي غوره کوي. له عبثو څخه مخ اړوونکي وي. د زکات په کړنچارې عمل کوي. د خپلو شرم ځایونو ساتنه کوي. پرته له خپلو مېرمنو او هغو بنځو څخه چې د هغو وینځې وي چې پرهغو باندې (د شرم ځایونو په نه ساتنه کې) هغوی د پاکېدو وړ نه دي. البته که څوک له هغې پرته نور څه وغواړي همغوی زیاتي کوونکي دي. د خپلو امانتونو او د خپلو ژمنو او تړونونو لحاظ ساتي. او د خپلو لمونځونو ساتنه کوي. همدغه کسان هغه وارثان دي. چې په میراث کې به فردوس ومومي او په هغې کې به د تل لپاره هستوګن وي. ))

﴿وَسَارِعُوا إِلَى مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ ﴿۱۳۳﴾ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴿۱۳۴﴾ وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللَّهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ وَمَنْ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا اللَّهُ وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَى مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿۱۳۵﴾ أُولَئِكَ جَزَاؤُهُمْ مَغْفِرَةٌ مِنْ رَبِّهِمْ وَجَنَّاتٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَنِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ ﴿۱۳۶﴾ سورت آل عمران)

ژباړه: ((پر هغه لاره په منډه منډه وځغلئ، چې ستاسې د پروردګار د بښنې او د هغه جنت خواته تللې ده، چې هغه لکه د اسمانونو او ځمکې په شان پراخ دی او هغه له الله تعالی څخه ویرېدونکیو خلکو له پاره تیار کړای شوی دي. د هغو لپاره چې د بډایۍ او بېوزلۍ په دواړو حالاتو کې مال مصرفوي، غوسه خوري او خلکو ته بښنه کوي او الله تعالی له نېکانو سره مینه کوي. او کوم کسان چې داسې دي چې کله کومه د شرم ناروا چاره

ورڅخه صادرېږي یا کله د کومې ګناه په کولو هغوی پر خپل ځان ظلم کوي؛ نو ورسره جوخت الله وریاد ېږی او له هغه څخه هغوی د خپلو ګناهونو ښښنه غواړي؛ ځکه چې له الله نه پرته بل څوک دی، چې ګناهونه وبښلی شي؟ او هغوی له پوهې او ادراک سره په خپلو کړنو ټینګار نه کوي. د داسې خلکو بدله د دوی د رب په نزد دا ده چې هغه به دوی ته ښښنه وکړي او په داسې باغونو کې به یې ننباسي چې ترې لاندې به ویالې بهېږي او هلته به هغوی د تل له پاره اوسېږي، د نېک عمله خلکو له پاره څومره ښه بدله ده. ))

(يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى تِجَارَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿١٠﴾ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١١﴾ سورت الصف)

ژباړه: ((ای مؤمنانو ! ایا زه تاسې ته داسې تجارت دروښایم، چې تاسې له دردناک عذاب څخه وساتي، پر الله او د هغه پر پیغمبر باندې ایمان راوړئ او د الله په لاره کې پخپلو مالونو او خپلو ځانونو سره جهاد وکړئ، همدغه ستاسې له پاره بهتره ده که تاسې پوهېږئ. ))

(وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ ﴿٤٦﴾ سورت الرحمن)

ژباړه: ((او د هر هغه چا لپاره چې د خپل رب حضور ته له وړاندې کېدونه وېره لري دوه باغونه دي. ))

(وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى ٱلنَّفْسَ عَنِ ٱلْهَوَىٰ﴿٤٠﴾ فَإِنَّ ٱلْجَنَّةَ هِيَ ٱلْمَأْوَىٰ﴿٤١﴾ سورت النازعات)

ژباړه: ((او چاچې د خپل رب په مخ کې له دربدونه وېره کړې وه او نفس یې له ناوړو غوښتنو څخه ساتلی ؤ. نو جنت د هغه هستوګنځی دی.))

علامه ابن القیم رحمه الله وایي: دې ته ورته ایاتونه قرآن کریم کې ډېر دي، او مدار یې په دریو قواعدو استوار دی، ایمان، تقوا، عمل خالص خاص د الله تعالی لپاره؛ خو د سنتو موافق.

پورته درې اصلونو ته ژمن کسان اهل البشری (د زېرې وړ کسان) دي او پر همدې اساساتو د قرآن او سنت زېری بنا دی. دا بیا په دوه اصلونو کې رایو ځای کېږي.

د الله په طاعت او حکم منلو کې اخلاص کول او د الله تعالی له مخلوق سره احسان کول.

او د دې ضد په هغه کسانو کې جمع کېږي، چې قرآن کریم د (یُرَآءُونَ، وَیَمْنَعُونَ ٱلْمَاعُونَ) ناوړو خویو سره یاد کړي دي او دا ټول بیا یو خصلت ته راګرځي او هغه د خپل رب سره موافقت دی د هغه په محبت کې او دې اصل او خصلت ته د رسېدلو لار یوازې په صورت او سیرت کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیروي ده.

هغه اعمال اخلاق او خویونه چې د دې اصل تفصیل او تفسیر دی، څه د پاسه ۷۰ څانګې لري، چې تر ټولو لوړه څانګه یې د لااله الاالله ویل دي او تر ټولو کوچنۍ څانګه یې له لارې نه د ضرري شیزونو لرې کول دي. دا دوه څانګې نورې ټولې څانګې په خپل منځ کې رانغاړي، هغه چې مرجع او مرکز یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم تصدیق دی په ټولو هغو اوامرو او شیزونو کې چې نبي صلی الله علیه وسلم یې خبر ورکړی.

# د جنت اسونه او اوښان

بريدة رضي الله تعالی عنه وايي: يوه سړي له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه، ويې ويل: يا رسول الله صلی الله عليه وسلم! جنت کې به آسونه وي؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: که الله تعالی تا جنت ته ننباسي او ته پر اس باندې د سپرلۍ کولو هيله ولرې، نو ته به په جنت کې د سرو ياقوتو پر اس سپور کړای شې هغه به والوځي او چېرې چې په جنت کې تلل غواړې هغه ځای ته به دې رسوي.

بل سړي پوښتنه وکړه: يا رسول الله صلی الله عليه وسلم! ايا جنت کې به اوښان وي؟

بريدة رضي الله تعالی عنه وايي، رسول الله صلی الله عليه وسلم دې سړي ته داسې ځواب ورنه کړ، لکه څرنګه ځواب يې چې د ده ملګري ته ورکړی و.

دې سړي ته يې داسې وويل: که الله تعالی تا جنت ته ننباسي، نو تا لپاره به په جنت کې هر هغه څيز درکړي، څه چې ستا زړه غواړي او ستا سترګې يې خوښوي[1].

دې موضوع کې علامه ابن القيم رحمه الله، يو شمېر نور احاديث هم په حادی الارواح کې ذکر کړي، خو د سند له مخې پرې د جرح او تعديل عالمانو بېلابېلې نيوکې کړې دي.

---

[1] حادی الارواح، مخ ۲۳۲.

# نهم څپرکی

## د الله تعالی لیدل

دا هغه ستره موضوع ده، چې هر اړخیز بحث پرې د دې کتاب تر څو پاڼو څه چې د څو کتابونو تر حوصلې هم لوړ او پورته دی.

بیا هم هڅه مو کړې، چې په لنډ ډول د دې ستر ایماني او سپېڅلي عقیدوي اصل په اړه څو کرښې ولیکو.

د اسلامي امت د اهل علمو او په ځانګړي ډول د اهل السنة والجماعة اتفاقي دریځ او پرېکړه ده، چې د قیامت په ورځ به مؤمنان په خپلو سترګو په څرګند ډول خپل ربویني، لکه څرنګه چې د څوارلسمې سپوږمۍ روښانه لیدل کېږي، دا یو داسې اصل دی چې د انبیاء کرامو، رسولانو، اصحابو کرامو، تابعینو او په پېړیو پېړیو د اسلام د سپېڅلي دین د امامانو په وړاندې په اتفاقي ډول ثابت او منلی دی.

جنتیان به له دې ستر نعمت څخه برخمن وي او اهل البدعة والضلالة او اهل الجحیم او داسې نورې بېلابېلې باطلې ډلې به د الله تعالی له لیدلو څخه منع او د هغه لوی ذات د دربار له دروازې به شړل شوې وي، قرآن کریم کې د الله تعالی لیدل په بېلابېلو یقیني دلایلو ثابت تفسیر او تعبیر شوي دي، چې څو بېلګې یې داسې دي:

## لومړی دلیل:

(وَلَمَّا جَآءَ مُوسَىٰ لِمِيقَاتِنَا وَكَلَّمَهُ رَبُّهُ قَالَ رَبِّ أَرِنِيٓ أَنظُرْ إِلَيْكَ قَالَ لَن تَرَانِي وَلَٰكِنِ انظُرْ إِلَى الْجَبَلِ فَإِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهُ فَسَوْفَ تَرَانِي فَلَمَّا تَجَلَّىٰ رَبُّهُ لِلْجَبَلِ جَعَلَهُ دَكًّا وَخَرَّ موسَىٰ صَعِقًا فَلَمَّآ أَفَاقَ قَالَ سُبْحَانَكَ تُبْتُ إِلَيْكَ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلْمُؤْمِنِينَ. ﴿۱٤۳﴾ سورت الاعراف)

ژباړه: ((کله چې هغه زموږ په ټاکلې نېټه راورسېد او د هغه رب له هغه سره خبرې وکړې، نو هغه هیله وکړه چې 'ای پروردګاره! ما ته د لیدو چانس راکړه چې زه تا وګورم' ویې فرمایل: 'ته ما نشې لیدلی. هو، لږ شان د غره لوري ته وګوره که هغه پخپل ځای ولاړ پاتې شو، نو البته ته ما لیدلی شې. 'نو کله چې د هغه رب پر غره د دیدار وړانګې وغورځولې نو هغه یې مېده مېده کړ او موسی بې هوښه پرېووت. کله چې په سد شو نو ویې ویل 'پاک دی ستا ذات، زه ستا په دربار کې توبه باسم او تر ټولو مخکې ایمان راوړونکی زه یم.))

تفسیر احسن الکلام لیکلي: د کلام د اورېدلو نه شوق د دیدن پیدا شو او دا سوال د موسی علیهم السلام د محبت له امله دی او سوال د بني اسرائیلو (ارنا الله جهرة).

د بې ادبۍ او د انکار له امله و، ځکه هغه سبب د عذاب شو او حق مسلک دا دی چې لیدل د الله تعالی په دنیا کې ممکن دي لیکن واقع نه دي او د ځینو عالمانو په نزد په دنیا کې ممتنع دی.

هغوی چې وايي ممکن دي د امکان لپاره یې دلیلونه دا دي:

۱- موسی علیه السلام د دې طلب او غوښتنه کړې ده او انبیاء

علیهم السلام ممتنع (هغه څیز چې هېڅ امکان او شونتیا نه لري) نه طلب کوي، ځکه چې طلب د ممتنع جهل دی او انبیاء د جهل نه پاک دي.

۲- لن ترانی یې ویلي دی لن أرای یې نه دی ویلی.

۳- تعلیق په استقرار د جبل پورې کړې دي او دا ممکن دی او تعلیق په ممکن پورې امکان ګڼه کوي[1].

د دریېیم دلیل مانا دا ده چې الله تعالی ویلي، فان استقر مکانهُ فسوف ترانی که غر په خپل ځای باندې ټینګ شو نو ژر ده چې وبه وینې ما لره دا یو مثال دی. چې د غر ظاهري قوت ډېر زیات دی دا چې هغه د الله تعالی د تجلی طاقت نه لري نو کمزوری وجود د انسان به یې څنګه طاقت ولري.

**دویم دلیل**:

(وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّكُم مُّلَٰقُوهُ وَبَشِّرِ ٱلْمُؤْمِنِينَ﴿۲۲۳﴾ سورت البقرة)

ژباړه: ((ښه پوه شئ چې یوه ورځ به له هغه سره یو ځای کېږئ او ای پېغمبره! خوک چې ستالارښوونې ومني هغو ته د بري او نېکمرغۍ زېری ورکړه.))

(تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهُۥ سَلَٰمٌ وَأَعَدَّ لَهُمْ أَجْرًا كَرِيمًا﴿٤٤﴾ سورت الاحزاب)

ژباړه: ((په کومه ورځ چې هغوی له الله سره یو ځای شي، د هغو هرکلی به په سلام سره وي او د هغو لپاره الله د عزت اجر برابر کړی دی.))

---

[1] احسن الکلام ج ۴- ۴۰۲مخ.

(فَمَن كَانَ يَرْجُو لِقَآءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلاً صَالِحاً وَلاَ يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدا﴿۱۱۰﴾ سورت الكهف)

ژباړه: ((څوک چې له خپل پروردګار سره د یو ځای کېدو په هیله وي، هغه ته په کار ده چې ښه عمل وکړي او په بندګۍ کې له خپل رب سره بل څوک شریک نکړي.))

**په دې موضوع کې د اهل السنة درې قوله دي:**

۱- د الله تعالی لیدل به یوازې مؤمنانو ته په نصیب کېږي.

۲- د قیامت په ورځ به ټول خلک، مؤمنان او کافران الله تعالی لیدلای شي په موقف کې، بیا به له کافرانو نه په حجاب کړای شي او وروسته له دې به یې ونه ویني.

۳- منافقین به یې پرته له کافرانو لیدلای شي.

**درېیم دلیل:**

(وَٱللَّهُ يَدْعُوٓ إِلَىٰ دَارِ ٱلسَّلَامِ وَيَهْدِى مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ﴿۲۵﴾لِّلَّذِينَ أَحْسَنُواْ ٱلْحُسْنَىٰ وَزِيَادَةٌ وَلاَ يَرْهَقُ وُجُوهَهُمْ قَتَرٌ وَلاَ ذِلَّةٌ أُوْلَـٰئِكَ أَصْحَابُ ٱلْجَنَّةِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ﴿۲٦﴾ سورت يونس)

ژباړه: ((او الله تاسې ته د سلامتیا د کور په لور بلنه درکوي. (لاربنوونه د هغه په واک کې ده) چا ته چې د هغه خوښه شي سمه لاره ورښیي. کومو کسانو چې د ښو چارو لاره غوره کړه د هغو له پاره ښېګڼه ده او زیاته مهرباني، د هغو پر مخونو به توروالی او خواري خوره نشي. هغوی د جنت مستحق دي. هلته به هغوی د تل له پاره او سېږي.))

دارالسلام دا دجنت له نومونو څخه یو نوم دی، ځکه چې په هغه

کې سلامونه دي او دا خبره د یونس سورت ۱۰ ایت کې داسې ثابته شوې ده:

﴿دَعْوَاهُمْ فِيهَا سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلاَمٌ وَآخِرُ دَعْوَاهُمْ أَنِ الْحَمْدُ لِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴿۱۰﴾ سورت یونس

ژباړه: ((هلته به د هغوی وېناوې دا وي چې 'پاک يې ته ای الله! ' د هغوی دعابه دا وي چې 'سلامتيا دې وي ' او د هغوی هره وينا به په دې سره پای ته ورسېږي چې 'ټوله ثنا ستاينه يوازې د الله رب العلمين له پاره ده '.))

د يونس سورت ۲۶ ايت کې د ﴿الْحُسْنَىٰ﴾ نه مراد جنت او زيادة نه مراد رؤيت د الله تعالی دی.

﴿وَزِيَادَةٌ﴾ د دې غوره تفسير ديدار الهی دی په جنت کې ځکه دا په صحيح حديث د مسلم کې راغلي دي.

﴿أَحْسَنُواْ﴾ مراد له احسان نه توحيد دی په عقيدې او عمل سره.

﴿الْحُسْنَىٰ﴾ ښايسته حالت دی او هغه جنت دی.

﴿وَزِيَادَةٌ﴾ ټولو مفسرينو اهل السنة والجماعة د دې تفسير په رؤيت د الله تعالی سره نقل کړی دی او معتزله د دې مانا نه انکار کوي او صحيح حديث رد کوي لکه صاحب کشاف چې ذکر کړی دی. امام رازي او خازن د هغوی د شبهاتو ځوابونه کړي دي[1].

---

[1] تفسير احسن الکلام. ټوک: ۵. مخ: ۳۰.

**څلورم دليل:**

﴿ كَلَّآ إِنَّهُمْ عَن رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوبُونَ﴿١٥﴾ سورت المطففين)

ژباړه: ((هېڅکله نه، اړو مرو به په هغه ورځ دوی د خپل رب له ليدو څخه بې برخې وي.))

(لَّمَحْجُوبُونَ) خاوندان د حجاب به وي، دا دليل دی چې د الله تعالی ليدن کېدای شي ځکه چې لمحْجُوبُونَ د الله تعالی صفت نه دی، بلکې د کافرانو صفت دی او دارنګه د دې ايت د مفهوم نه امام مالک او امام شافعي رحمه الله دليل نيولی دی چې مؤمنان به په قيامت کې د الله تعالی ليدن کوي، ځکه چې که مؤمنان هم محجوب وي نو د کافرانو د تخصيص لپاره څه وجه نشته.[1]

طبراني د امام شافعي رحمه الله وينا نقل کړې چې ويل به يې دا ايت په دې دليل دی چې د الله تعالی دوستان به د قيامت په ورځ خپل رب ويني.

**پينځم دليل:**

(لَهُم مَّا يَشَآءُونَ فِيهَا وَلَدَيْنَا مَزِيدٌ﴿٣٥﴾ سورت ق)

ژباړه: ((هلته به د هغو لپاره هر هغه څه وي، چې هغوی يې وغواړي، او له موږ سره له دې نه هم زيات څه د هغو لپاره شته.))

(وَلَدَيْنَا مَزِيدٌ) په مانا د زيادت دی، لفظ (وَلَدَيْنَا) دليل دی چې دا جنتيان په هغه نعمتونو باندې د وړاندې نه خبر نه دي. ځکه هغه خاص د الله تعالی سره دي.

---

[1] تفسير احسن الكلام، ټوک: ۹، مخ: ۲۲۱.

(مَزِيدٌ) په مانا د زيادت دی ياني هغه ځيز چې زياتي کېږي به د دوی پر هيلو باندې، مراد ترې هغه نعمتونه دي چې د دوی په زړه کې هم نه وي تېر شوي او هغه ليدن د الله تعالی دی په ډېر اکرام او عزت سره.

**شپږم دليل:**

(لاَّ تُدْرِكُهُ ٱلأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ ٱلأَبْصَارَ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلْخَبِيرُ﴿۱۰۳﴾سورت الانعام).

ژباړه:((کتنې هغه نه شي موندلای او هغه کتنې ميندلی شي هغه ډېر زيات باريک بين او باخبره دی.))

ليدل د الله تعالی يو په دنيا کې دي، دويم په اخرت کې دي په دنيا کې د الله تعالی ليدلو په اړه د اهل حق په منځ کې اختلاف دی، چې ممکن دي او که نه دي؟ د اکثر اهل علمو په نزد باندې ممکن دي او هر چې مسئله د ليدلو د الله تعالی ده په اخرت کې مؤمنانو لپاره هغه په قرآن، سنت، تواتر او اجماع سره ثابته ده.

**اووم دليل:**

(وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ﴿۲۲﴾إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ﴿۲۳﴾سورت القيامة)

ژباړه: ((په هغه ورځ به ځينې مخونه خوشاله ښېرازه وي. د خپل رب لوري ته به کتونکي وي.))

مخونه يې ځکه ذکر کړي چې د نضارت او تازه ګۍ اثر لومړی په مخ باندې ښکاره کېږي، نو دا ذکر د جز اشرف دی مراد ترې ټول بدن دی، ايت کې د (إِلَىٰ رَبِّهَا) تقديم دې لپاره دی چې د دوی لوی هدف يوازې د الله تعالی ليدل دي.

دا اياتونه صريح دليل دی چې په جنت کې به مؤمنان د الله تعالی

لیدل کوي او درانګه محدثینو د سورت المطففین ۱۵ ایت نه استدلال کړی دی. او ابن کثیر لیکلي دي چې دا مسئله په صحیح احادیثو کې په متواترو طریقو سره ثابته ده چې د هغو ځواب او انکار ممکن نه دی او د بحث په پای کې یې ویلي دي: چې پر دې د صحابه کرامو، تابعینو، سلف صالحینو او د اسلام ائمه وو اجماع شوې ده. د زیات تفصیل لپاره تفسیر احسن الکلام وګورئ[1].

وړاندې د قرآن کریم څخه هغه ایاتونه ذکر شول، چې قیامت کې مؤمنانو لپاره د الله تعالی په لیدن (لیدلو) باندې دلالت کوي.

اوس په لنډ ډول سره د نبي صلی الله علیه وسلم له احادیثو څخه ځو بېلګې وړاندې کوو، چې د الله تعالی په لیدن باندې دلالت کوي، دا مسئله د رسول الله صلی الله علیه وسلم احادیثو کې په تواتر سره ثابته ده، دا متواتر احادیث له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ابوبکر الصدیق، ابو هریرة، ابو سعید الخدري، جریر بن عبد الله البجلي، صهیب بن سنان الرومي، عبد الله بن مسعود الهذلي، علي بن ابو طالب، ابو موسی الاشعري، عدي بن حاتم الطائي، انس بن مالک الانصاري، بریدة بن الحصیب الاسلمي، ابو رزین العقلي، جابر بن عبد الله الانصاري، ابو امامة الباهلي، زید بن ثابت، عمار بن یاسر، ام المؤمنین عائشه، عبد الله بن عمر، عمارة بن رویبة، سلمان الفارسي، حذیفه بن الیمان، عبد الله بن عباس، عبد الله بن عمرو بن العاص، ابن کعب، کعب بن عجرة، فضالة بن عبیدة رضي الله تعالی عنهم نقل کړي دي.

---

[1] ج ۴ صح ۲۰.

جرير بن عبد الله رضي الله تعالى عنه وايي: موږ له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ناست وو، چې د څوارلسم سپوږمۍ ته يې وکتل، نو ويې ويل: په تحقيق سره تاسې به ژر په جنت کې ستاسې رب په سترګو باندې داسې ووينئ لکه څرنګه چې دغې سپوږمۍ ته همدا اوس تاسې ګورئ او په ليدلو کې يې هيڅ تکليف او خنډ نه انګېرئ.

مطلب دا چې دا هغه نعمت دی، چې هيڅ سيال نه لري او په قدسي حديث کې دي، چې خپلو صالحو بنده ګانو لپاره مې داسې نعمتونه تيار کړي دي، چې سترګو ليدلي نه دي، غوږونو اورېدلي نه دي او د بشر په زړه کې ورتېر شوي نه دي.

او همدغه د الله تعالى بلا کيف ليدن دی په جنت کې[1].

صحيح حديث دی، ابو هريره رضي الله تعالى عنه وايي: ځينو خلکو له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه، چې موږ به د قيامت په ورځ خپل رب وينو؟

رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: د څوارلسم سپوږمۍ په ليدلو کې تاسې ته څه تکليف محسوسېږي؟

هغوی وويل: نه!

بيا يې وويل: کله چې په اسمان کې وريځ نه وي تاسې ته د لمر په ليدلو کې څه تکليف محسوسېږي؟

هغوی وويل: نه!

رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: يقيناً تاسې به همدغه ډول

[1] د حديث الفاظ بخاري او مسلم کې دي حادي الارواح ۲۷۰- غوره عقيده ۴۹۹.

خپل رب ووینئ.

امام مسلم د صهیب الرومي په روایت حدیث نقل کړی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: کله چې جنتیان جنت ته لاړ شي. الله تعالی به ووایي ایا تاسې نور زیاتي څه غواړئ؟

جنتیان به ووایي: ای الله! ایا تا زموږ مخونه او څېرې روښانه کړې نه دي؟ ایا تا موږ جنت ته داخل نه کړو او له دوزخ څخه دې ونه ژغورلو؟ (نو له دې پرته به موږ ته نوره د څه څیز اړتیا وي؟).

بیا به پرده پورته کړای شي کله چې دوی خپل رب ووینې، نو د الله تعالی لیدل به دوی ته تر ټولو ورکړل شویو نعمتونو او څیزونو غوره او خوښ وي.

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ایت ولوست:

(لِّلَّذِينَ أَحْسَنُوا۟ ٱلْحُسْنَىٰ وَزِيَادَةٌ ﴿٢٦﴾ سورت یونس)

ژباړه: ((کومو کسانو چې د ښو چارو لاره غوره کړه، د هغو له پاره ښېګنه ده او زیاته مهرباني[1].))

د حجاب پورته کول به د جنتیانو د حیرانۍ او تعجب نه د وتلو لپاره وي یانې هغه مهال به جنتیان د تعجب او حیرانتیا حالت کې وي کوم نعمت به پاتې وي، چې الله تعالی موږ ته راکړی نه وي او الله تعالی به په دې سره دوی پوه کړي، چې دا لوی نعمت ستاسو له اصل بدلې نه زیات دی، الله تعالی د حجاب نه پاک دی، داسې نه ده چې الله تعالی په پرده کې پټ دی او جنتیانو ته د دیدار په وخت به د هغه له مخ نه نقاب لرې کېږي.

---

[1] حادی الارواح، مخ: ۲۷۱

د دې مطلب دا دی، چې د لیدونکو د سترګو نه به هغه حجاب لرې کړای شي، نو هغوی به د خپل رب په لیدن سره مشرف شي[۱].

جابر بن عبدالله رضي الله تعالی عنهما د حدیث راوي دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د قیامت په ورځ به الله تعالی مؤمنانو ته تجلی، د نور جلوه ښکاره کړي دوی به د الله تعالی مخ ته ګوري، دوی به الله تعالی ته په سجده پرېوځي، الله تعالی به ووایي له سجدې نه سرونه پورته کړئ، دا د عبادت ورځ نه ده[۲].

ترمذي کې د جابر رضي الله تعالی عنه په روایت حدیث کې راغلي، کله چې د احد تاریخي غزا د هجرت په دریم کال کې رامنځ ته شوه، د نورو شهیدانو په څېر د جابر رضي الله تعالی عنه پلار عبدالله بن عمرو بن حرام رضي الله تعالی عنه هم د شهادت جام وڅښه، له دې وروسته د جابر رضي الله تعالی عنه په زړه باندې د پلار د جدایي غمونه او اندېښنې ډېرې خپرې وې، رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې پوښتنه وکړه: جابره ولې دومره اندېښمن یې؟

جابر رضي الله تعالی عنه وویل: یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! پلار مې شهید شو، ډېر اولادونه او پورونه یې راته پرېښي دي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم جابر رضي الله تعالی عنه ته وویل: جابره! په هغه څه دې خبر کړم، چې الله تعالی ستا پلار ته څه ویلي؟

جابر رضي الله تعالی عنه وویل: هو! یا رسول الله صلی الله علیه

---

[۱] مظاهر حق پښتو. ټوک: ۹. مخ ۳۸۸

[۲] د دې حدیث سند ضعیف دی.

وسلم خبر مې کړه.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: الله تعالی له هیچا سره بې حجابه خبرې نه دي کړي، خو ستا پلار سره يې له حجاب پرته خبرې وکړې، ستا پلار يې خپل حضور ته وغوښت، ورته يې وويل:(زما بنده څه غواړې ووايه چې در يې کړم؟)

هغه عرض وکړ: ای زما ربه! ما بېرته دنیا ته ولېږه چې یو ځل بیا ستا له دښمنانو سره وجنګېږم او شهید شم.

الله تعالی وویل: دا زما پرېکړه ده چې څوک له دنيا نه راشي هغه بېرته دنيا ته نه لېږل کېږي.

عبد الله عرض وکړ: ای ربه! زما له حالت نه زما اړوند کسان او وارثان خبر کړه. د هغه دا هیله ومنل شوه او الله تعالی دا ایاتونه نازل کړه:

(وَلاَ تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَاتاً بَلْ أَحْيَاءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ﴿١٦٩﴾فَرِحِينَ بِمَآ آتَاهُمُ ٱللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِٱلَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُواْ بِهِمْ مِّنْ خَلْفِهِمْ أَلاَّ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ﴿١٧٠﴾ سورت آل عمران)

ژباړه:((کوم کسان چې د الله په لار کې وژل شوي دي، هغوی مړه مه ګڼئ، هغوی خو په حقیقت کې ژوندي دي، د خپل رب په وړاندې روزي مومي. څه چې الله د خپلې لورینې له مخې هغو ته ورکړي دي، پر هغه خوښ او سوکاله دي او ډاډه خوشاله دي، په دې چې کوم مؤمنان له هغو وروسته په نړۍ کې پاتې دي او لا تر اوسه پورې هلته نه دي رسېدلي د هغو له پاره هم څه وېره او کړاو

نشته[۱].))

ثرنگه چې اخرت کې مؤمنانو لپاره د الله تعالی د لیدلو مسئله د قرآن کریم، نبوي سنتو، اصحابو کرامو، تابعینو، تبع تابعینو څخه په مستند ډول ثابته ده او ایمان لرل پرې واجب دي.

ځلورو امامانو څخه هم په یاده موضوع کې مستند اقوال ثابت دي.

لومړی قول د دارالهجرة د امام مالک بن انس رحمه الله دی، دی وایي خلک به د قیامت په ورځ خپل رب ته د سر په سترګو ګوري، امام مالک رحمه الله ته وویل شو: دلته ځینې خلک داسې عقیده لري او وایي چې د الله تعالی لیدن نشته.

مالک رحمه الله وویل: د دوی لپاره توره په کار ده، همداراز طبري د ده وینا نقل کړې، چې نوموړي به ویل: ثوک چې دا ونه وایي چې قرآن د الله تعالی کلام دی او الله تعالی په جنت کې لیدل کېږي نو دا جهمي دی.

همداراز ابن ابو حاتم له ده څخه نقل کړي، چې جهمي پسې لمونځ په کار نه دی او جهمي هغه ثوک دی چې قیامت کې مؤمنانو لپاره د الله تعالی لیدل نفې کوي او وایي چې مؤمنان الله تعالی نه شي لیدلای.

عبدالله بن مبارک رحمه الله وایي: د الله تعالی له لیدن څخه به یوازې په عذاب اخته کسان په حجاب کې وي، بیا یې دا ایاتونه ولوستل:

---

[۱] حادی الارواح ۲۸۲ حقپالونکی صحابه او صحابیات ۲۳۵.
امام ترمذي د حدیث په پای کې لیکلي دا حدیث حسن غریب دی. علامه ابن القیم الجوزیة په حادی الارواح د حدیث اخر کې لیکلي. زه وایم سند یې صحیح دی حاکم په خپل صحیح کې روایت کړی دی.

(كَلاَّ إِنَّهُمْ عَن رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوبُونَ﴿١٥﴾ثُمَّ إِنَّهُمْ لَصَالُو الْجَحِيمِ﴿١٦﴾ثُم يُقَالُ هَـٰذَا الَّذِى كُنتُمْ بِهِ تُكَذِّبُونَ﴿١٧﴾ سورت المطففين)

ژباړه: هېڅکله نه، ارومرو به په هغه ورځ دوی د خپل رب له لیدو څخه بې برخې وي. بیا به دوی په دوزخ کې واچول شي. بیا به دوی ته وویل شي، چې دا هماغه څه دي چې تاسې دروغ ګڼلي وو.

وکیع بن الجراح رحمه الله به ویل: مؤمنان به په جنت کې د الله تعالی لیدن کوي.

د امام محمد بن ادریس الشافعي رحمه الله قول وړاندې بحث کې ذکر شوی، هغه به ویل: که د محمد بن ادریس یقین د الله تعالی په لیدلو نه وای نو د هغه بندګي به یې نه وای کړې.

امام السنة احمد بن حنبل رحمه الله ته وویل شول، آیا جنتیان به د خپل رب لیدن نه کوي؟آیا تاسې همدا احادیث نه وایاست؟

هغه وویل: دا احادیث صحیح دي؛ مګر هر بدعتي او د کمزورې رایې څښتن یې نه پرېږدي.

ابو داود رحمه الله ویلي: امام احمد بن حنبل رحمه الله ته وویل شول، دلته یو کس دی هغه وایي، چې اخرت کې مؤمنانو لپاره د الله تعالی لیدل نشته. امام احمد رحمه الله وویل: په هغه چا دې د الله تعالی لعنت وي چې دا مهال دا حدیث (خبره) بیانوي، بیا یې وویل: الله تعالی دې دا سړی رسوا کړي، همدا راز ویل به یې چې څوک اخرت کې د الله تعالی په لیدلو ایمان نه لري، دا جهمي دی او جهمي کافر دی.

الله تعالی قرآن کریم کې مؤمنانو سره د خپل ملاقات یادونه داسې کړې ده:

(هُوَ الَّذِى يُصَلِّى عَلَيْكُمْ وَمَلاَئِكَتُهُ لِيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِينَ رَحِيماً﴿٤٣﴾تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهُ سَلاَمٌ وَأَعَدَّ لَهُمْ أَجْراً كَرِيماً﴿٤٤﴾ سورت الاحزاب)

ژباړه: ((هماغه ذات دی، چې پرتاسې رحمت کوي او د هغه پرښتې ستاسې لپاره د رحمت دُعا کوي، ترڅو چې هغه تاسې له تیارو نه رڼا ته راوباسي، هغه پر مؤمنانو ډېر مهربان دی. په کومه ورځ چې هغوی له الله سره یوځای شي د هغو هرکلی به په سلام سره وي او د هغو لپاره الله د عزت اجر برابر کړی دی.))

اهل لغت وایي، لِقــاء په دې ځای کې د معاینې او سترګو باندې د لیدلو په مانا دی، لقاء د قرآن کریم په قطعي نص سره ثابته ده. همدا راز د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په تواتر باندې ثابته ده، د الله تعالی د لقاء ټول احادیث صحیح دي.

همدا راز د عُبادة، عائشې، ابو هریره او ابن مسعود رضي الله تعالی عنهم په روایت حدیث کې راغلي: ((من احب لقاء الله احب الله لِقاءُ.))

ژباړه: هغه څوک چې د الله تعالی ملاقات خوښوي، الله تعالی د ده ملاقات خوښوي.

همدا راز د ابو ذر رضی الله تعالی عنه په روایت حدیث کې راغلي، الله تعالی وایي: که ته له ما سره د ځمکې په اندازه له ګناهونو سره مخامخ شې او بیا داسې حالت کې مخامخ شې، چې له ما سره دې شرک نه وي کړی، نو زه به تا سره د ځمکې د لوی والي او پراختیا په اندازه له بښنې سره مخامخ شم.

د ابو موسی په روایت حدیث کې دي: څوک چې د الله تعالی سره په داسې حالت کې ملاقات وکړي، چې شرک یې نه وي کړی، الله تعالی به یې جنت ته ننباسي[1].

---

[1] حادی الارواح، مخ: ۳۰۱.

# د جنت غلمان

دا خبره خو د قرآن کريم او نبوي متواترو احاديثو په رڼا کې ثابته ده چې جنت کې ستړيا، شور او غوغا نشته پر دې سربېره بيا هم الله تعالى خبر ورکړى چې د جنتيانو لپاره به ځانګړي خدمتګاران وي او دا د نعمتونو د انتها په مانا ده. جنت کې د خدمتګارانو ياد په څرګنده توګه د الله تعالى د کتاب په درېوو ځايونو کې داسې راغلي:

**لومړى:**

(وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ كَأَنَّهُمْ لُؤْلُؤٌ مَّكْنُونٌ﴿٢٤﴾ سورت الطور)

ژباړه: ((او د هغو په خدمت کې به هغه هلکان په منډه منډه اوړي را اړوي، چې د هغو لپاره به خاص وي، داسې ښايسته لکه پټې ساتل شوې مرغلرې.))

**دويم:**

(يَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ﴿١٧﴾ سورت الواقعة)

ژباړه: د هغو په مجلسونو کې به همېشني هلکان ګرځي راګرځي.

**د ولدان طواف:**

تلل راتلل به يوازې د جنتيانو د خدمت لپاره وي.

قتاده ويلي: د دوى همېشه والى په دې مانا دى، چې نه به مړه کېږي.

مجاهد رحمه الله ويلي: په خپل حال باقي پاتې کېدل په دې مانا چې نه به زړېږي. دوى به په يو عمر وي د زمانې او ورځو شپو په

تېربدلو سره به يکې څه بدلون نه راځي دوی به يوازې د بقا لپاره پيدا شوي دي.

حسن بصري رحمه الله وايي: دا ولدان به د دنيا والاو بچي وي، دوی به ګناهونه نه لري، چې پرې عذاب ورکړل شي او نه به نېکيانې لري، چې بدلې ورکړل شي د دې له امله دوی په دغه دنده ګومارل شوي دي.

**درېيم:**

(وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ إِذَا رَأَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤاً مَّنثُوراً﴿۱۹﴾ سورت الانسان)

ژباړه: ((او دهغوی د خدمت لپاره به داسې هلکان ګرځي راګرځي، چې تل به په هلکولۍ کې وي، که ته هغوی ووينې؛ نو ګومان به وکړې چې مرغلرې دي چې خورې کړای شوې دي.))

د انس بن مالک رضي الله تعالی عنه په روايت مرفوع حديث کې راغلي چې له ټولو جنتيانو څخه د ښکتې درجې والا جنتي ته به لس زره خدمتګاران ولاړ وي[۱].

ابو سعيد رضي الله تعالی عنه له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه حديث نقل کړی، چې ادنی جنتي لپاره به اتيا زره خدمتګاران او دوه اويا (۷۲) حورې مقررې وي او د مرغلرو، ياقوتو او زبرجدو داسې ګومبزه به ورته په جنت کې ودرول شي، چې لوی والی به يې د جابيه او صنعاء ترمنځ د غځېدلې فاصلې په اندازه وي[۲].

---

[۱] حادی الارواح، مخ: ۲۴۸.

[۲] حادی الارواح، مخ: ۲۴۸.

اهل علم په دې مسئله کې په بېلا بېلو نظرونو ويشل شوي دي چې ايا دا غلمان د دنيا والاو له بچيو څخه دي که څنګه؟

يو شمېر مفسرين او محدثين په دې اند دي چې د جنتيانو دا خدمتګاران د جنتيانو هغه کوچنی بچيان دي چې له خپلو پلارانو څخه وړاندې مړه شوي دي د دوی نه نېکۍ او نه بدۍ شته الله تعالی د دې لپاره چې د دوی سترګې د خپلو اولادونو په ليدلو يخې او خوښې شي د جنت غلمان وګرځول.

خو پر دې خبره باندې دليل نشته ځکه حديثو کې داسې راغلي، چې پر دې باندې دلالت کوي چې د جنتيانو اولادونه کله په دنيا کې مړه شي دوی ته به وويل شي: جنت ته ننوځئ!

دوی به تر هغه پورې نه ننوځي، چې پلرونه يې جنت ته ننوتي نه وي.

امام احمد بن حنبل رحمه الله د ابو هريرة رضي الله تعالی عنه په روايت حديث نقل کړی: رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: نشته داسې دوه مسلمانان (مور او پلار) چې د هغوی درې بچيې داسې مهال کې مړه شي چې بلوغ ته نه وي رسېدلي؛ مګر الله تعالی دا دواړه ماشومان او د هغوی مور او پلار په خپل زياتي رحمت سره جنت ته ننباسي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم وايي: دوی ته به وويل شي جنت ته ننوځئ!

دوی به وو ايي: (هغه وخت ننوځو) چې زموږ مور و پلار راشي.

دوی ته به درې ځلې وويل شي او دوی به هر ځل وايي: هغه مهال ننوځو چې زموږ مور و پلار هم راشي.

بيا به ورته وويل شي: تاسې او پلار و مور مو ټول يو ځای جنت

ته ننوځئ.

همدارا ز عتبه بن عبد رضي الله تعالی عنه وايي، د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه مې واورېدل، ويل يې: نشته داسې يو مسلمان سړی چې د هغه درې بچې د بلوغ نه وړاندې مړه شي مګر د جنت اته واړه دروازو سره به مخامخ شي له کومې نه يې چې زړه غواړي جنت ته دې ننوځي.

دا دواړه حديثونه پردې باندې دلالت کوي چې د مسلمانانو کوم ماشومان په کوچنيتوب کې مړه شي د الله تعالی د فضل او رحمت په اساس هغوی جنتيان دي.

ځيني وايي دا (ولدان) هلکان به د دنيا والاو د نورو کسانو له اولاد څخه وي چې الله تعالی به يې د جنتيانو خدمتګاران جوړ کړي لکه د مشرکانو اولادونه چې د جنتيانو خدمتګاران به وي.

دې قول ته هم اصل نشته د مشرکانو د اولادونو په اړه توقف پکار دی، لکه څرنګه چې امام احمد بن حنبل رحمه الله او داسې نورو ويلي: بخاري او مسلم کې صحيح حديث دی.

له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه د مشرکانو د بچيو په اړه پوښتنه وشوه، هغه وويل: الله تعالی د دوی په اعمالو ښه پوهېږي.

د شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله په شمول د عالمانو يوه ډله وايي: چې دا غلمان به د جنتي مخلوق يوه برخه وي، چې الله تعالی به يې جنت کې پيدا کړي دوی به د دنيا والاو زامن نه وي، بلکې د دنيا والاو زامن چې کله جنت ته ننويستل شي د خلقت بشپړوالی به يې د جنت والاو په څېر د ادم عليه السلام په شکل باندې وکړای شي او دا هغه خبره ده چې د قرآن کريم ياد شوي درې اياتونه پرې

هم دلالت کوي او د دې تایید د مقداد رضي الله تعالی عنه په روایت د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث هم کوي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: نشته داسې څوک چې د سقط (زیان شوی ماشوم) او یا زړښت په عمر او حالت کې مړي او یقیناً خلک د همدې دوه حالتونو ترمنځ دي مګر د قیامت په ورځ به یې الله تعالی د درې د برش کلن په عمر کې راژوندي کوي، که چېرې له جنتیانو څخه وي د ادم علیه السلام په قد، د یوسف علیه السلام په شکل، د ایوب علیه السلام پر زړه باندې به وي او څوک چې له دوزخ والاوو څخه وي، هغوی به د غرونو په څېر غټ کړای شي.

نو د جنتیانو خدمتګاران به د الله تعالی له مخلوق څخه ځانګړی مخلوق وي، چې الله تعالی به یې جنات النعیم کې د ملایکو په څېر پیدا کوي. دا به هم جنتیانو لپاره د یو نعمت په ډول وي، الله تعالی دې موږ هم په خپل فضل او رحمت سره جنتیانو ګرځوي[1].

[1] صفة الجنة فی القرآن الکریم، مخ: ۴۵۸-۴۲۸.

# لسم څپرکی

## د اعراف والاو مقام جنت ته تر ننوتلو وړاندې

اعراف د عرف جمع ده هر لوړ او پورته ځای ته ویل کېږي.
د الاعراف سورت ایتونو کې الله تعالی د اعراف والاو یاد داسې کړی دی:

(وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌ وَعلي ٱلأَعْرَافِ رِجَالٌ يَعْرِفُونَ كُلاًّ بِسِيمَاهُمْ وَنَادَوْاْ أَصْحَابَ ٱلْجَنَّةِ أَن سَلاَمٌ عَلَيْكُمْ لَمْ يَدْخُلُوهَا وَهُمْ يَطْمَعُونَ﴿٤٦﴾وَإِذَا صُرِفَتْ أَبْصَارُهُمْ تِلْقَآءَ أَصْحَابِ ٱلنَّارِ قَالُواْ رَبَّنَا لاَ تَجْعَلْنَا مَعَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّالِمِينَ﴿٤٧﴾وَنَادَىٰ أَصْحَابُ ٱلأَعْرَافِ رِجَالاً يَعْرِفُونَهُمْ بِسِيمَاهُمْ قَالُواْ مَآ أَغْنَىٰ عَنكُمْ جَمْعُكُمْ وَمَا كُنتُمْ تَسْتَكْبِرُونَ﴿٤٨﴾أَهَـٰؤُلاۤءِ ٱلَّذِينَ أَقْسَمْتُمْ لاَ يَنَالُهُمُ ٱللَّهُ بِرَحْمَةٍ ٱدْخُلُواْ ٱلْجَنَّةَ لاَ خَوْفٌ عَلَيْكُمْ وَلاَ أَنتُمْ تَحْزَنُونَ﴿٤٩﴾ سورت الاعراف)

ژباړه: ((ددې دواړو ډلو ترمینځ به یوه پرده (برید ) وي، چې د هغې د پاسه پر اعراف 'به څه نور کسان وي. دوی به هره ډله د هغې له څېرې نه پېژني او جنتیانو ته به اواز وکړي وبه وایي چې سلامتي دې وي پرتاسې دا خلک به په جنت کې ننوتلي نه وي، خو د هغه هیله من به وي. او کله چې د هغوی سترګې د دوزخیانو لوري ته واوړي، نو وبه وایي: 'ای پروردګاره ! موږ ددې ظالمانو ملګري کوه مه'. بیا به دا د اعراف خلک څو تنه غټ غټ دوزخیان د هغو په نښو نښانو سره وپېژني ورته به اواز وکړي چې 'تاسې

ولیدل، نن نه ستاسې ډلې ټېلې ستاسې څه درد دوا کړ نه مو هغه وسایل په کار شول، چې تاسې لوی شیان ګڼل. او ایا د اجنتیان همغه خلک نه دي چې د هغو په باب تاسې په قسمونو خوړلو ویل چې دوی ته خو به الله تعالی له خپل رحمت څخه هېڅ شی هم ورنه کړي؟ نن همغوی ته وویل شول چې ننوځئ جنت ته، نه به در باندې وېره وي نه کړاو '.))

د الحدید سورت کې په ۱۳ ایت کې بیا د حجاب تعبیر په (سُور) سره شوی دی.

﴿يَوْمَ يَقُولُ ٱلْمُنَافِقُونَ وَٱلْمُنَافِقَاتُ لِلَّذِينَ آمَنُواْ ٱنظُرُونَا نَقْتَبِسْ مِن نُّورِكُمْ قِيلَ ٱرْجِعُواْ وَرَآءَكُمْ فَٱلْتَمِسُواْ نُوراً فَضُرِبَ بَيْنَهُم بِسُورٍ لَّهُ بَابٌ بَاطِنُهُ فِيهِ ٱلرَّحْمَةُ وَظَاهِرُهُ مِن قِبَلِهِ ٱلْعَذَابُ﴿۱۳﴾ سورت الحدید)

ژباړه: په دغه ورځ به منافقان او منافقانې مؤمنانو ته ووایي، لږ موږ ته انتظار وکړئ، چې موږ هم ستاسې له رڼا څخه ګټه واخلو، هغوی ته به وویل شي: چې بېرته لاړ شئ او رڼا ولټوئ، بیا به د هغوی ترمنځ یو دېوال حائل شي، چې دروازه به لري، په دننه کې به يې رحمت او په بهر کې به يې عذاب وي.

ځینې مفسرینو لیکلي:

اعراف نه له جنت او نه له دوزخ نه دی، بلکې دا هغه (سور) دی چې په دواړو به پورته وي د دې دېوال د پاسه خلک به د جنتیانو او دوزخیانو حال ویني.

# اعراف والا څوک دي؟

په دې موضوع کې د اهل علمو اختلاف دی.

ځینې وايي دا هغه کسان دي چې حسنات (نېکۍ) او سیئات (بدۍ) يې برابر وي. نېکیانو له دوزخ نه راتېر کړي وي او بدیو له جنت نه منع کړي وي، دې ځای کې به د الله تعالی د پرېکړې پورې وځنډول شي، بیا به يې الله تعالی په خپل فضل جنت ته ننباسي.

دا هغه نظر دی، چې د صحابه کرامو له ډلې حذیفه، ابن عباس، ابن مسعود رضي الله تعالی عنهم او ځینې نور له سلفو او خلفو په دې نظر دي.

ځینې وايي: صالحین، نېکان، فقهاء او علماء دي.

ځینې وايي: پیغمبران دي.

ځینې وايي: شهیدان دي.

ځینې وايي: دا د مؤمنانو نه (فضلاً) غوره کسان دي، چې د خپلو شخصي کارونو نه يې ځانونه فارغ کړې وي او د نورو خلکو د حالاتو مطالعه او کتنه کوي.

ځینې وايي: دا د هر امت نه هغه (عدول) عادلان کسان دي، چې د قیامت په ورځ به د خلکو پر اعمالو باندې ګواهي کوي.

ځینې وايي: دوی به هغه ماشومان وي، چې د زنا له لارې زېږول شوي وي.

ایت دلالت کوي، چې اعراف والا د جنتیانو له جملې نه هغه کسان دي چې جنت ته ننوتل به يې څه وخت لپاره ځنډول کېږي.

جمهورو عالمانو دا خبره راجح او غوره ګڼلې چې اعراف والا هغه کسان دي چې حسنات (نېکۍ) او سئيات (بدۍ) يې برابر وي، دومره نېکۍ يې نه وي کړي، چې په وسيله يې جنت ته ننوځي او بدۍ يې هم دومره نه وي چې دوی يې اور ته ننويستلی وای؛ نو دوی به په اعراف کې تر هغه مهال پورې وي، چې د الله تعالی خوښه وي.

د صفة الجنة فی القران الکريم ليکوال ليکلي:

دا خبره صحيح ده ځکه محقق تفسير الطبري د عمرو بن جرير رضي الله تعالی عنه په روايت خبر مرسل حسن يا مرسل حسن نقل کړی، رسول الله صلی الله عليه وسلم نه د اعراف والاو په اړه پوښتنه وشوه.

رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: دا به د الله په بنده ګانو کې وروستي هغه څوک وي، چې د دوی په هکله به پرېکړه کېږي کله چې الله تعالی د بنده ګانو مينځ کې د پرېکړو وزګار شي:

وبه وايي تاسې هغه خلک يئ چې خپلو نېکيانو له دوزخ نه راويستلي يئ او جنت ته يې ننويستلي نه يئ.

تاسې زما له لورې ازاد کړای شوی يئ. ځئ لاړ شئ جنت کې ځرېږئ چېرې مو چې خوښه وي.

همدا راز ايت کې د اعراف والاو ذکر شوی، دعا دا خبره تاييدوي، چې دا حال د هغه کسانو دی، چې نېکۍ او بدۍ يې يوشان وي، دوی په انتظار کې ولاړ وي او د ورتللو ځای يې ناڅرګند وي، پر همدې بنسټ دا مسئله څرګندېږي چې اعراف والا هغه خلک دي، چې نېکۍ او بدۍ يې سره برابرې او يو شان وي.

الله تعالی اعراف والا په داسې ځای کې دي لپاره ساتلي چې جنتیان او دوزخیان په علاماتو او نښو سره وپېژني، نو جنتیان به د سپينو مخونو، ښکلا او پر دوی باندې د الله تعالی له لورې د شویو نعمتونو په وسیله پېژني.

او دوزخیان به د تورو بد رنګو مخونو او شنو سترګو په وسیله وپېژني، دا علامې عبد الله بن عباس رضي الله تعالی عنهما، مجاهد او حسن بصری رحمه الله ښودلي دي او الله تعالی د خپل کتاب قرآن کریم په څو ځایونو کې د جنتیانو او دوزخیانو علامې او نښې بیان کړې دي.

ځینې بېلګې یې داسې دي:

(یَوْمَ تَبْیَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ﴿۱۰۶﴾ سورت ال عمران)

ژباړه: ((په هغه ورځ چې هلته به څه خلک سرخرویه وي او څه تورمخي.))

یا دا:

(كَأَنَّمَا أُغْشِيَتْ وُجُوهُهُمْ قِطَعاً مِّنَ اللَّيْلِ مُظْلِماً﴿۲۷﴾ سورت یونس)

ژباړه: ((د هغو پر مخونو به داسې تروږمی خوره شوې وي، لکه چې د شپې تورې پردې پرې غوړېدلې وي.))

یا د الله تعالی دا وینا:

(وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ﴿۲۲﴾إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ﴿۲۳﴾وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ بَاسِرَةٌ﴿۲۴﴾تَظُنُّ أَن يُفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ﴿۲۵﴾ سورت القیامة)

ژباړه: ((په هغه ورځ به ځینې مخونه خوشاله ښېرازه وي د خپل

رب لوري ته به کتونکي وي او ځينې مخونه به بدرنګه وي او انګېري به چې له هغو سره ملاماتوونکی چلند کېدونکي دي ))

﴿وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُسْفِرَةٌ ﴿٣٨﴾ ضَاحِكَةٌ مُسْتَبْشِرَةٌ ﴿٣٩﴾ وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ ﴿٤٠﴾ تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ ﴿٤١﴾ سورت عبس﴾

ژباړه: ((ځينې مخونه به په دې ورځ رانه ځلېږي. ورين خندان او خوښ او تازه به وي او په ځينو څېرو به په دې ورځ خاورې دوړېږي او سوي سکور به اوښتي وي ))

او يا يې داوينا:

• ﴿تَعْرِفُ فِي وُجُوهِهِمْ نَضْرَةَ النَّعِيمِ ﴿٢٤﴾ سورت المطففين﴾

ژباړه: ((د هغو په څېرو کې به ته د خوښۍ نښې ليدای شې[1] ))

د اعراف سورت ۴۶ ايت کې الله تعالی خبر ورکړی، چې اعراف والا به جنت ته د ننوتلو تمه لري.

﴿لَمْ يَدْخُلُوهَا وَهُمْ يَطْمَعُونَ ﴿٤٦﴾ سورت الاعراف﴾

ژباړه: ((داخلک به په جنت کې ننوتلي نه وي، خو د هغه هيله من به وي ))

بيا به الله تعالی اعراف والاو ته د جنت د ننوتلو امر وکړي، د الله تعالی د پراخ رحمت په وسيله به دوی جنت ته ننوځي.

---

[1] صفة الجنة في القرآن الكريم، مخونه: ۴۲۹-۴۸۲.

# د جنتیانو وروستۍ دعا

الله تعالی وايي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّالِحَاتِ يَهْدِيهِمْ رَبُّهُمْ بِإِيمَانِهِمْ تَجْرِي مِن تَحْتِهِمُ ٱلأَنْهَارُ فِي جَنَّاتِ ٱلنَّعِيمِ﴿٩﴾ دَعْوَاهُمْ فِيهَا سُبْحَانَكَ ٱللَّهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلاَمٌ وَآخِرُ دَعْوَاهُمْ أَنِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَالَمِينَ﴿١٠﴾ سورت يونس)

ژباړه: ((او دا هم حقیقت دی کومو کسانو چې ایمان راوړی دی (هغه رښتینولۍ یې منلي دي، چې په دې کتاب کې وړاندې کړای شوي دي) او غوره چارې یې سرته رسولي دي، هغوی به د هغو رب د هغو د ایمان له امله پرسمه لاره وخوځوي، له نعمت څخه په ډکو جنتونو کې به چې تر هغوی لاندې ویالې بهېږي، (ځای ورکړي). هلته به د هغوی ویناوې دا وي چې 'پاک یې ته ای الله!' د هغوی دعا به دا وي چې 'سلامتیا دې وي' او د هغوی هره وینا به په دې سره پای ته ورسېږي چې 'ټوله ثنا ستاینه یوازې د الله رب العلمین له پاره ده'.))

د ایت نه مطلب دا دی، کله چې دوی څه شی غواړي د جنت د نعمتونو نه نو غږ به وکړي په سبحانک اللهم سره او کله چې ختم کړي خوړل او څښل نو وايي به الحمد لله. یا مراد دا دی چې هر وخت کلام د دوی به پیل کېږي، په سبحانک اللهم سره او ختمېږي به په الحمد لله سره.

الله تبارک وتعالی د جنتیانو د لومړۍ او وروستۍ بلنې څخه خبر ورکړی، چې لومړۍ بلنه به یې تسبیح او وروستۍ به یې حمد وي او ایت هم په دې باندې دلالت کوي.

# والله اعلم

(أَلآ إِنَّ أَوْلِيَآءَ ٱللَّهِ لاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ﴿۶۲﴾ٱلَّذِينَ آمَنُواْ وَكَـانُواْ يَتَّقُونَ﴿۶۳﴾لَهُمُ ٱلْبُشْرَىٰ فِى ٱلْحَيَاةِ ٱلدُّنْيَا وَفِى ٱلاخرت لاَ تَبْدِيلَ لِكَلِمَـاتِ ٱللَّـهِ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ﴿۶۴﴾ سورت یونس)

و اخر دعوانا ان الحمدلله رب العلمین وصلی الله وسلم وبارک علی نبینا محمد و آل بیته الطاهرین و صحابته اجمعین.

## پای

## ۱۶-۸-۱۳۹۱ ل.

# سرچيني


۱)   القرآن الكريم.

۲)   تفسير ابن كثير (تفسير القرآن الكريم). حافظ عمادالدين اسماعيل بن عمر بن كثير الدمشقي، بيروت چاپ.

۳)   تفسير روح المعاني فى تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني. بغدادالعلامة ابو الفضل شهاب الدين السيد محمود الالوسى البغدادي، بيروت چاپ.

۴)   التفسير الكبير للامام الفخر الرازي، بيروت چاپ.

۵)   تفسير احسن الكلام. للشيخ ابو زكريا عبدالسلام الرستمي حفظه الله، المكتبة المحمديه، پېښور.

۶)   تفسير القرآن كريم (مختصر احسن الكلام). للشيخ ابو زكريا عبدالسلام الرستمي حفظه الله، دارالسلام كتاب وسنت كي اشاعت كا عالمي اداره.

۷)   حكمة القرآن. فضيلة الشيخ ابومحمد امين الله البشاورى، المكتبة المحمدية. پېښور.

۸)   صحيح البخارى. للامام المحدثين ابوعبدالله محمد بن اسماعيل البخارى رحمه الله.

۹)   صحيح مسلم. للامام الحسين مسلم بن الحجاج بن مسلم القشيرى النيسابُورى رحمه الله.

۱۰)   سنن الترمذى. للامام العلامه ابو عيسى محمد بن عيسى بن سورة الترمذى رحمه الله.

۱۱)   سنن ابن ماجه. للشيخ عبدالغنى المجددى الدهلوى المدنى رحمه الله.

۱۲)   سنن النسائى. الحافظ جلال الدين السيوطي رحمه الله.

۱۳) مشكاة المصابيح. للامام ولى الدين محمد بن عبدالله الخطيب البغدادى رحمه الله.
۱۴) مسند احمد. للامام احمد بن محمد بن حنبل رحمه الله.
۱۵) حادى الارواح الى بلاد الافراح. للام ابن القيم الجوزية رحمه الله
۱۶) صفة الجنة فى القرآن الكريم. عبدالحليم بن محمد نصار السلفى. مكتبة العلوم والحكم - المدينة المنوره.
۱۷) مظاهر حق پښتو شرح د مشكاة. علامه نواب محمد قطب الدين خان دهلوى رحمه الله.
۱۸) المعجم الوسيط (مجمع اللغة العربية). مكتبة نعمانية - پېښور.
۱۹) المنجد فى الغة (عربي-پښتو). بېروت چاپ.
۲۰) المنجد (عربي - پښتو). تاج كمپني لميټډ. پېښور.
۲۱) حقپالونكي صحابه او صحابيات. مولوي قيام الدين كشاف. ګودر خپرندويه ټولنه، جلال اباد.
۲۲) غوره عقيده. زاهدي احمدزى، امير كروړ كتابتون، پېښور.
۲۳) سل دعاګانې. مولوي محمد غني فاروقي، ګودر خپرندويه ټولنه، جلال اباد.
۲۴) د اسلامي ژوند تګلاره. ميهن خپرندويه ټولنه، پېښور.
۲۵) مرغلرې (۲۰۰ انګليسي - پښتو نبوي مرغلرې). مولوي محمد غني فاروقي، ګودر خپرندويه ټولنه، جلال اباد.